ع۲۰۷۳

شمشاد

د خوشحال فرهنگي ټولني شپږ مياشتنۍ خپرونه

د محمد هوتك خاصه گڼه

فهرست

گڼه	مضمون	لیکوال	مخ
۱	دشمشاد سرېزه	محمد اسمعیل یون	۱
۲	افتتاحي خبرې	سیدصابرشاه صابر	۵
۳	بې ځایه خېږ	پوهاندعبدالشکوررشاد	۹
٤	پټه خزانه في المیزان ...	کاندیداکاډمیسین محمدصدیق روهي	۲۹
۵	اینکرانیزم	همیش خلیل	۵٤
٦	پټه خزانه او دسرحد پښتانه	زلمی هیوادمل	٦۵
۷	دمحمدهوتك پټه خزانه ...	سرمحقق عبدالله بختاني	۱۹۸
۸	ولې پټه خزانه ...	کاندیداکاډمیسین محمدابراهیم عطایي	۲۱۵
۹	محمدهوتك	پروفیسرصاحبزاده حمیدالله	۲۲۵
۱۰	دپټې خزانې زیات	پوهاندډوکتورمجاوراحمدزیار	۲۳۵
۱۱	پټه خزانه حقه ده	دوکتورهدایت الله نعیم	۲٤۸
۱۲	دپټې خزانې فني اړخونه	حنیف خلیل	۲۵۲
۱۳	پټه خزانه اوپټ نیتونه	حبیب الله رفیع	۲۸۱
۱٤	په پټه خزانه دجدیدیت الزام	عبدالکریم بریالی	۲۹۵
۱۵	د(غ)توري تاریخي پس منظر	محمدمعصوم هوتك	۳۱۷
۱٦	پټه خزانه دعظیم ادب ...	مرتضیٰ شاهین	۳۲۷
۱۷	په پټه خزانه یوڅوخبرې	څېړنمل محمددین ژواك	۳٤۱
۱۸	پټه خزانه	گل محمد بیتاب	۳٤۷
۱۹	پټې شاعرانې	دوکتورمیاسهیل انشاء	۳۵۸
۲۰	پټه خزانه	لیاقت سیماب	۳۷۷
۲۱	وروستۍ خبرې	شیراحمد خلیل	۳۸٤

شمشاد

دخوشحال دفرهنګي ټولنې شپږمیاشتنۍ خپرونه

د ۱۳۷۵ هش کال دویمه ګڼه، تله - کب

بسم الله الرحمن الرحیم

دشمشاد سریزه

لکه څنګه چې څرګنده ده خوشحال فرهنګي ټولنه د هېواد د فرهنګ یوه خدمتګاره ټولنه ده او له هیڅ کوم سیاسي ګوند، ډلې ټپلې او حرکت سره تړاو نه لري خو دا پر دې مانا نه ده چې خوشحال فرهنګي ټولنه دې د هېواد د لویو ګټو، فرهنګ او پر هغو د یرغل او تحریف په وړاندې بې تفاوته او ګوښې پاتې شي.

په تېرو څو کلونو کې چې د هېواد پر فرهنګ کوم توپان راغلی دی او یا د افغاني ادب او تاریخ د تحریف

او تخریب له پاره کومې هڅې شوې خوشحال فرهنګي ټولنې هغه ټولې د خپلو ځانګړو څېړونو په تېره بیا د (شمشاد) مجلې له لارې غندلې او د هغو وړ ځوابونه یې لوستونکو ته وړاندې کړي دي . دغه راز ټولنې د خپل تېر تاریخ او فرهنګ پر تیارو ګوټونو رڼا اچولې او د خپل ځوان کهول د ذهنونو د روښانولو له پاره یې تر خپله وسه هاند او هڅې کړې دي .

محمّد هوتک د داوُد خان هوتک زوی د هوتکیانو د ملي افغاني حکومت د دوره هغه پوخ لیکوال، تذکره لیکونکی او شاعر دی چې د پښتو ادب ډېره قیمتي او ارزښتناکه پانګه یې په خپله تذکره (پټه خزانه) کې ساتلې او د وخت له سیلابونو یې ژغورلې ده .

د پټې خزانې په زرینو پاڼو کې د پښتو ادب د نامتو شاعر او د پښتو د اوسپنیز مشر امیر کروړ جهان پهلوان چې پر یو تن به له سلو جنګاورانو سره جنګېده، یو ویاړنه (حماسي شعر) هم خوندي دی . د دې شعر په وجه د پښتو ادب د شعر معلوم او لاس ته راغلی تاریخ ۱۳۹ هـ ق کال ته رسېږي . د دې شعر په وجه د پښتو ژبې د لاس ته راغلي شاعرۍ تاریخ د همځنګو

او ګاونډیو ژبو څخه د مخه ځي ، په ځانګړې ډول له پارسي شاعرۍ څخه د پښتو شاعرۍ تاریخ تقریبًا (۱۵۰) کاله د مخه کېږي .

له دې امله د پټې خزانې موجودیت د ځینو لنډ فکرو، تنګ نظرو او کینه ګرو د ذهنونو تارونه وسوځول او دهغې پرضد یې په لیکلې او نا لیکلې ډول خپلې هلې ځلې پیل کړې . په دې ډله کې ځینې کوږې کسان او یو لږ شمېر بهرنیان هم شامل شول او وروسته بیا یو ډېر لږ شمېر په اصطلاح پښتانه چې په ډاګه یې له پردیو سره ذهني تړون درلود ، د محمد هوتک د دې قیمتي تذکرې پرضد خپل قهرجن او کینه ګر قلمونه راپورته کړل . خو حقیقت حقیقت دی ، لمر کله په دوو ګوتو نه پټېږي .

په کابل او په ځینو نورو سیمو کې د محمد هوتک او پټې خزانې د ځینو مهمو راغلو شاعرانو د ژوند او آثارو په باب وخت په وخت سیمینارونه وشول او دهغو په باب ځانګړې کتابونه چاپ شول او دا دود لا دوام لري .

د ۱۹۹۵ع کال د اپریل ۲۳ نېټه په پېښور کې د خلیل اولسي

ادبي جرګې او د هغې نوښتګر او هڅاند صدر ښاغلي صابرشاه صابر په همت د محمّد هوتک د زوکړې د (۳۳۰) کال په درنښت یوه درنه علمي او ادبي غونډه جوړه شوې وه. په دې سیمینار کې ګڼ لیکوالو، پوهانو او شاعرانو ګډون کړی و. په غونډه کې د محمد هوتک د ژوند، شخصیت او د ده د ادبي خدمتونو او هڅو په باب ګټورې لیکنې ولوستل شوې.

د (شمشاد) مجلې ادارې د دې له پاره چې د دې سیمینار مقالې ګټورې او د هېواد د دې نامتو لیکوال او تذکره لیکونکي محمّد هوتک د ژوند بېلا بېلو اړخونو څرګندونکې دي او هم د هېواد د تاریخ د یوه وياړلي پېر (هوتکي دور) په باب ګټور معلومات لري، د هېواد د ځوان پښت د ذهنونو په روښانولو کې مرسته کولای شي، وپتیله چې د ځانګړې مجموعې په ډول د شمشاد په مجله کې چاپ کړي.

هیله ده دا مقالې د هېواد د فرهنګ د ساتنې او پالنې په برخه او د ځوان پښت د ذهنونو او اندونو په روښانولو کې لا مرسته وکړي.

په درنښت

پوهیالی محمد اسمعیل یون
د شمشاد مجلې مسوول مدیر

سید صابر شاه صابر
صدر خلیل اولسي ادبي جرګه پېښور

افتتاحي خبرې

په دېرشم د اګست ۱۹۹۳ کښې چې خلیل اولسي ادبي جرګې د پېښور پوهنتون په ایریا سټډي سنټر کښې د لوی او لوړې افغانستان د باني او صاحب دیوان شاعر حضرت احمد شاه ابدالي بابا «رح» د دوه سوه شلم ،۲۲۰، تلین په مناسبت او ویاړ کوم یو ورځنی سیمینار جوړ کړے وو د هغې په اخر کښې د جرګې لخوا دا اعلان وشو چې انشاء الله اینده کښې به د جرګې تر سیورې لاندې د پټې خزانې د مؤلف اړوابناد محمد هوتک بن داؤد په یاد کښې، لکه د احمد شاه بابا په رنګ یو عظیم الشان سیمینار کولی شي، د دغه اعلان په اورېدو د سیمینار ګډون کوونکیو خوښي او خوشالي وکړه او خپلې جذبې او احساسات یې څرګند کړل، خو چونکې دا یوه ګرانه او علمي موضوع وه؛ دویم د افغانستان کورني حالات هم ګډوډ پراته وو او بې له افغانانو د مالي او معنوي مرستو سیمینار کولم

ممکن نهٔ وو، پهٔ دې سبب مونږ مجبور شو چې تر هغې سیمینار وځنډوو. ترکومې چې د سیمینار لپاره د سیمینار د شرایطو مطابق مقالې، پیغامونه وغیره را نهٔ شي. ګرانو درنو راغلیو ښاغلیو ته به معلوم وي چې د داسې یو علمي سیمینار لپاره مقالې راټولول څومره د ګرانو او ستړو نه ډک کار دی، خو د جرګې ملګري د ماه نهٔ شول او د ذکر لاندې سیمینار د ترتیباتو نیولو سره سره یې د خپلو نورو ادبي فعالیتونو لړۍ خوره وساتله، چې پهٔ نتیجه کښې یې هم د برې خاوندې دي و د برلوړه چې وزیر محمد ګل خان مومند او شمس العلماء میر احمد شاه رضواني غوندې په وتلو لوېو سیمینار رونق ورکړل، هرکله چې دې سیمینار ته د سیمینار د شان مطابق لارې برابرې او حالات ښهٔ شول نو د سیمینار نیټه مو وټاکله، د دې سیمینار پهٔ راټولولو کښې مونږ سره ځنې ملګریو ډېرې ډېرې منډې وهلې دي، مالي مرستې یې راسره کړې دي، چې د هغو ټولو ذکر دلته په دې لنډ تنګ وخت کښې کول ممکن نهٔ دی. هرکله چې د دې سیمینار د مقالو وغیره کتاب چاپ کېږي نو لکه د احمد شاه بابا د سیمینار د کتاب غوندې به یې پهٔ دې کتاب کښې هم فهرست ورکړې شي البته دلته د

هغو ملګرو ذکر ضرور کوم چې موږ سره يې -
غټه مالي، معنوي مرسته کړېده او په دوی کښې ورومبی
د خان لالا محمد افضل خان د وفاقي وزير براى -
کشمير، شکر ګذار يم چې د رضوانې د سيمينار
په موقعه يې د دې سيمينار لپاره موږ ته د لسو زرو -
روپو اعلان د سرکار له خوا وکړو، د پير عفسود -
رسول امين هم ډېر منندر کوم چې د سيمينار لپاره
يې نه صرف څلور زره روپۍ راکړې بلکې د سيمينار ګډون
کوونکيو لپاره يې سل کاپۍ "خپلواکۍ" مجله هم راپېرزو
کړه، د غني د مستانه ګل شهزاد، پرېشان داوړزی
غلام حيدر حيدر، عظمت حيات خان، رياض خټک او
ممتاز بنګښ هم ممنون يو چې په څه نا څه شکل يې موږ
سره لاس وسکړى دى.

اوس په آخره کښې د دې سيمينار د يو لوی کردار ذکر
هم کوم او دا کردار ډېر خاورېږ تکړه چې نوملی هيوادمل دی
د هيوادمل صاحب د سيمينار لپاره د قربانيو منندر ځکه
نه کوم چې هيوادمل صاحب د دې سيمينار په جوړولو
کښې موږ سره په څومره اخلاص مله او هغه هغې ته
يې صرف "مننه، يشکريه" ځان خلاصول د هغوى
په قربانيو خاورې اړول دي، ځکه چې هم هيوادمل
صاحب راقم الحروف دې ته بيا بيا هڅولو چې

هغه اعلان کوم چې د احمد شاه بابا د سیمینار په موقعه شوی وو عملي کړی شي.

هم دې هیوادمل صاحب موږ ته څه څلور نیم زره روپۍ پوره چانده راغونډه کړه هم دې زلمي په یوه شننه منډه د ښاغلي صمیم په مرسته د ننګرهار پوهنتون نه د ده په قلم لیکل شوی کتاب «د محمد هوتک ژوند او مزار» راوړو، هم دې هیوادمل صاحب د دې سیمینار ته پاتې مقالې راټولې کړې دي او هم دې هیوادمل صاحب ته او رفیع صاحب دې ته ولمسولو چې زموږ تر ادارت لاندې وتونکې مجله «پلوشه» دې د محمد هوتک نوم ته وقف کړو چې په کابل کښې هم د دوی په ټینګو اکثر سیمینارونه جوړېده او د خپل عادت مطابق دلته هم د خپل دغه لېونتوب نه وانه وړېده، زما دعا ده چې خدای پاک دې د ده عادت هم د غسې پوخ لرې چې هم د ده غوندې د نورو لویو مرادونو پر عیاس کېږي.

* * *

پوهاند عبدالشکور "رشاد"

عروضي څېړنه

بې ځایه خج

(*Improper Stress*)

د کندهار د جلدک اوسېدونکے شیخ محمد صالح الکوزے (رح) د یوولسمې هجري صدۍ په لومړنیو کلونو کې د سیمې نامتو بزرګ و، له عرفان او سلوک سره یې پښتو شاعري هم کوله. محمد هوتک په پټه خزانه کې دده دوې غزلې راوړې او په دوهم غزله کې یې دریم بیت داسې کښلے دے:

مگر الله چې حبیب دے هم طبیب دے
کارسازی کا د خوارانو رنځورانو

(پټه خزانه، لومړے چاپ ۱۰۱)

ښاغلی قلندرخان مومند په (پټه خزانه فی المیزان)

(۱۹۲) مخ کې د پورتنی بیت لومړے نیم بیتی لهٔ وزنه خارج بللے او د تول پارسنگ بناغلی مؤلف د غه اعتراض ته داسې ځواب ورکړے دے:

"پاتې شو د شاعر (شیخ محمد صالح) د غزل په شعر کې د وزن اعتراض۔ نو دا سطحی اعتراض پهٔ دې دے چې کهٔ د رحمان بابا (رح) او کوم بل لرغونی شاعر د شعرونو مختلفې نسخې وڅېړلی شی نو د کاتب لهٔ برکته داسې پهٔ سلگونو شعرونه به پهٔ کې پیداشی۔" (۱)

بناغلی همېش خلیل خو د وزن د ورانئې پړه پر نقلوونکی اچولې ده، خو زه وایم کېدے سی دا د بناغلی قلندرخان پهٔ اصطلاح له وزنه وتل د "اللّٰه" کلمې د څنج د بې ځایه کېدلو پهٔ سبب پېښ وی۔ دا راز عروضی سوېیدنې پهٔ پښتو نظم کې نور مثالونه هم لری۔ لهٔ دې امله نو زه لازمه گڼم چې تر تولو دمخه د تر بحث لاندې بیت عروضی اړخ څېړم:

پورتنے بیت دوولس څپه ییز دے هر نیم بیتے یې پر دریمه، اوومه او یوولسمه څپه څنج لری۔ د وزن پوهنې لهٔ مخې د دغه وزن عروضی بڼه داسې ده:

‖ U - U U | U - U U | U - U U

---

(۱) وگ۔ تول پارسنگ ۱۸۹ مخ

اوتر بحث لاندې بيت له عروضي لحاظه داسې سکښتل کېږي :

∪ ∪ – ∪	∪ ∪ – ∪	∪ ∪ – ∪
مګر الله	چې حبيب دے	هم طبيب دے
کارسازی کا	دخوارانو	رنځورانو

موږ وينو چې د پورتني تقطيع سوي بيت په صدر کې دوې کلمې (*Magar + Allah*) ځای سوے دے.(۲) هره کلمه دوه څپه يېزه ده او د دواړو کلمو خج پر وروستيو څپو دے. په ژبپوهنه کې هغه کلمې چې خج يې پر وروستۍ څپه وي (*Oxytonic*) بولي. «مګر» او «الله» کلمې دواړې (*Oxytonic*) دي.

په يوه رکن کې چې دوې خج لرونکې څپې راشي يو خج د هغه يل (چې په وزن پوهنه کې يې عروضي خج بولي) تابع کېږي او هغه يو غښتلے عروضي خج په رکن کې پاته کېږي. د دغې قاعدې له مخې د پورتني بيت په صدر کې راغلی (ma-gar مګر) خپل خج باېللے دے او د الله کلمې خج چې د عمومي او عادي تلفظ له مخې بايد پر دوهمه وروستۍ څپه (Lah) وای - لومړۍ څپې (Al) ته د عروضي اړتيا/ په‌تکم اوښتے او

---

(۲) په عروضي اصطلاح د بيت لومړے رکن «صدر» بلل کېږي.

له الله کلي ښخه (praoxytonic) جوړسویده(۳)، دغې عملیې ته پهٔ وزن پوهنه کې دخج بې ځایه کېدل وایي او زما پهٔ خیال پورتنۍ بیت پهٔ صدر کې دغه عروضي عیب پېښ دی . د داسې تصنعي (غیرطبیعي) خجونو څومثاله د لویو شاعرانو په دیوانونو کې دادی :

دولت لواڼی دریوولسمې هجری سدی شاعر) ویلی دی :

ں ں - ں | ں ں - ں ||
ته راغلې سوداګر یې
اوس مه ځه بې تجارته

(د چاپي دیوان ۱۱)

ددغه بیت په ابتداء رکن کې مه (mə́) دوهمه او ځه (ǰă) دریمه څپه ده (۴)، ددغه وزن عروضي غوښتنه داده چې دابتداء رکن لومړۍ، دوهمه اوڅلورمه څپه باید بې خجه وي او فقط یوه دریمه څپه باید خج ولري . ددولت لواڼی د بیت پهٔ ابتدکې چې «مه ځه» má ǰ̆a ناهیه صیغه د «مه» او «ځه» له یوځای کېدلو جوړه ده د عادت اورواجي اداله مخې غوښتلې خج باید پر «مه» وي او د «ځه» خج ایسته کېږي

---

(۳) (phanology) پهٔ ږغپوهنه کې (praoxytonie) هغه کلمه چې تر وروستۍ څپې (هجا) پر دغې څپې خج ولري .

خو ځکه چې د دولت د بیت په ابتداء کې «ځه» د غښتلی عروضی خج لرونکې څپې پر برابرې راغلې دی نو د دغې عروضی اړتیا له مخې باید د دغه رکن په لوستلو کې د «مه» خج ایسته او د «ځه» خج غښتلے کړه شي - که نه نو د بنا غلی قلندرخان په وینا نیم بیتی له ټاکلي وزنه وزي .

— — — — — —

د دغې قصیدې په یو بل بیت کې هم د خج د بې ځایه کیدلو عیب سته ، هغه بیت دا دے :

آخرت بې بې میرمن ده
دنیا کمینه سورتیه

په عادی او مروج لوست کې *Kamīná* کلمې خج پر وروستی هجا (*ná*) دے - خو د دولت په دغه بیت کې د کمینه کلمې خج لومړی څپې (*Ká*) ته اوښتے دے . دغه عروضی اړتیا که د بیت په لوست کې مراعت نهٔ سی ، نو موزون (دغه نیم بیتے) هم له ټاکلی عروضی وزنه وزی .

— — — — —

د دولت لوانی په یوه بل بیت کې مزه (*mazá*) کلمه د قافیې د کلمې په توگه راغلې ده - مزه کلمه (*oxytonic*) ده ، خو په دغه بیت کې مزه کلمه

(د خوند پهٔ معنا) praoxytonie شوېده او خج يې
لومړۍ څپې ته او بنسټے دے . د مزے بيت له مطلعه سره
دا دے :

هغه کس دې وېره کاندی له پرغزه
چې يې دم پهٔ يادکې نه وزی له پزه
نعمتونه د ښتن څو څو الوان دي
معرفت غونډې بل هېڅ نه لري مزه
(د دولت چاپي ديوان ۱۲۳)

* * *

د مرزا خان اورمړ (۱۰۴۰ هـ ، ق مړ) د يوی غزلي د قافيې کلمې جهر (Jáhar) دهر (dáhar) قهر (Káhar) زهر (Záhar) سهر (Sáhar) نهر (náhar) مهر (máhar) دی چې لومړی هجاوې يې خج لري * خو پهٔ مقطع کې يې بهر (Báhar) کلمه دورچنی او دباندې پهٔ معنا راغلی ده . oxytonie کلمه د غزلي د نورو قافيوی کلمو پهٔ تقليد بايد پهٔ دغه مقطع کې (Praoxytonic) وويله شی ، که نه نو د بناغلی معترض پهٔ وينا له (ټاکلی) وزنه وزی . د دغې غزلي مطلع او مقطع دا دی :

---

* پهٔ دغو کلمو کې diasyllabism پېښ دے يعني له يوې هجا څخه دوی هجاوې جوړې سوې دي .

زهٔ نن څهٔ وایم پهٔ جهر
بې وفا دے فانی دهر
میرزا خلاص دے له نفاقه
خدای درون وینی هم بهر (٥)
(دلاهور چاپ دیوان ٧٤)

د نو موړی میرزا خان او رمې دیوې بلې غزلې د قافیې کلمې گرم (تود) نرم، شرم، برم (bá ram) چرم (څرمن) د ی چې Diasyllabis ور پېښ دی - دا ټولې کلمې د ښغیږنې له مخې Praoxytonic کلمې دی یعنې خج یې تر وروستۍ څپې پر دغو څپو واقع دی .

د دغې غزلې د قافیې پهٔ کلمو کې لرم (واحد متکلم صیغه، د پارسی او اردو «رکهتا هوں» دارم پهٔ معنا) او کرم (واحد متکلم، د اردو «بوتا هوں» او د پارسی «می کارم» پهٔ معنا هم راغلی دی چې (Oxytonic) کلمې دی او وروستۍ څپې یې خج لری - د دغې غزلې څو بیته دا دی .

زهٔ که یوځل پهٔ اخلاص تاته درېږم (٦)

---

(٥) پهٔ دې نیم بیتی کې «درون» او «بهر» ترمنځ طباق صنعت شته بهر او باهر پهٔ هندی ژبه کې هم دغه معنا لری .
(٦) dávamu = ودرېږم (مطلقه صیغه)، یا «درېږم (استمراری صیغه) خود (یوځل) معنی پهٔ دا اطلاق یې کیږي.

دا اخلاص به تر با وره پورې ورم (۷)
دغه وهم چې د شک په ساړه کلک دے
په اخر به د توحید په اورشي گرم
لکه نمر د معرفت په جهان وخوت
دغه یخ مې د اوبو په دود شی نرم
دغه هسې رنگ نیستي زما هستي ده
کنه بل هنر مې نشته ، نهٔ یې لرم
گه گهی بهار خزان ، خزان بهار شی
دغه یو کینت گهی ریم گهی کرم

(پېښور چاپ دیوان ۱۴۰)

د میرزا خان انصار په لاهور چاپ دیوان (۵۵ مخ) کې راغلی دي :

⏑ ⏑ – ⏑	⏑ ⏑ – ⏑	⏑ ⏑ ⏑ – ⏑
له دې خپلې	رضا هسې	رنگ فانی شوم

چې نفي معنا یې راوړه ته اثبا ته (۸)

د دغه بیت په ابتدا رکن کې راغلی «نفي» کلمه باید (oxytonic) و اوسنله سی یعنې خج به یې پر وروستي څپه «في» وی . خو عادتاً دا کلمه (náfyi)

---

(۷) (wáram) = یووړم ، یوسم (مطلق) یا وړم (استمراری)
(۸) په دغه نیم بیتي کې راغلی «ته» د «تر» معنا لري (تخفیف reduction)
د مرزا په دیوان کې پر راغلی دي .

لوستله کېږي چې لومړی هجا یې خج لري.

د مغول پاچا اورنګزیب (۱۰۶۸-۱۱۱۸) هـ، ق د زمانې شاعر خواجه محمد بنګښ د پښتو ژبې له پیاوړو ـ شاعرانو څخه دے. د ده په چاپي دیوان (۹۸ مخ) کې یوه یې مطلعه غزله کښلې ده، «وکه» یې ردیف دے د قافیې کلمې یې لاره (lára) ګفتاره (Guftára)[(۹)] دی. چې خج یې تر وروستۍ څپې پر د مخه (ماقبل آخر) څپه باندې واقع دے. په دغه غزله کې د یوه بیت د قافیې کلمه (نداره) راغلې ده، چې خج یې معمولاً پر وروستۍ څپه دے، د نندارې بیت دا دے:

که یې سر له تنې درومي وابه نه وړی
مګر ستا د سینه دیدن نداره وکه

دلته د بیت د عروضي غوښتنې له مخې او د نورو قافیوی کلمو سره د فشاري موافقت له امله باید نداره کلمه (praoxytonic) و لوستله سي. یعنې خج یې باید په تصنعي ډول تر وروستۍ څپې د مخه څپې ته راواړول سي (۱۰). مګر د خواجه په بله غزله کې بیا نداره کلمه (oxytonic) راغلې ده چې د کلمې خج پر وروستۍ څپه دی. د خواجه محمد هغه بیت دا دے:

---

(۹) په دغه بیت کې "لاره" کلمه د پارسي "راه" او اردو "راسته" معنا لري.
(۱۰) متوزاخان زورمنی چې د احمداد په ویرنه کې کومه قصیده ویلې ده د هغې په مقطع کې هم نداره کلمه "praoxyton" راغلې ده.

هرچې پرې مین شی ځان جهان یې واړه هېرشی
درستې فانی شوی د سپین مخ پهٔ ننداره دی

(چاپی دیوان ۱۲۷)

"ننداره" کلمه یوازې خواجه محمد بنگشpraoxytonie نه ده راوړې بلکه د خوشحال خان ختک غوندې ستر شاعر پهٔ دیوان کې هم د ننداری کلمې د دغه عیب ننداره کولای شو ، د خوشال خان بیتونه دا دی :

لاس پهٔ لاس مو سره وکړلې خهٔ چارې
چې پرون مو تون منگول وژی پهٔ لارې
زهٔ کوم که ته کنځل کړې لا خوشال شم
چې کومه ستا د مخ زیبا ننداری(۱)

(مرغلرې ۱۱۸ مخ)

دخوشال ختک مشر زوی اشرف خان هجری(۱۱۰۶ ه،ق مړ)، ویلی دی :

⏑ ⏑ – ⏑	⏑ ⏑ – ⏑	⏑ ⏑ – ⏑
چې فرهاد پهٔ	پهٔ دا غمگین	قول خبرشه
سریې دوه پا	رې د تبشو	پهٔ گوزارکه

(دچاپی دیوان ۱۲۴ مخ)

---

(۱) پهٔ دغه غزله کې شاعر زښت وزیبا صنعت راوړے دے ، دغه دوه بیته یې مطلع او مقطع دی . دقافیې نورې کلمې پهٔ دغه غزله کې پا یزاری خاری (پهٔ ندایی حالت کې) ویزاری ، تاریهٔ تاری ، نگاری ، خونخواری دی .

تېشه (teša) کلمه د پښتو او پارسي وانانو پهٔ وېناکې (oxytonic) یعنې خج یې پر وروستۍ څپه دے خو دلته شاعر د بیت د دوهم نیم بیتي پهٔ حشو کې د تېشې خج لومړۍ څپې ته اړولے او تېشه یې (praoxytonie) ده. (۱۲) لوستونکی دې ته اړ دی چې تېشه کلمه پهٔ دغه بیت کې (téša) ولولي. که نه نو دوهم نیم بیتے (له کلي) وزنه وزي: (۱۳)

او ارزاني خېشکي هم پهٔ خپله یوه غزله کې تېشه او اندېښه کلمې چې اصلاً oxytonic دي praoxtionic راوړې دي، د هغې غزلې څو بیته دا دي:

راشه و نغوږه درویشه

اے درویشه پهٔ زړهٔ ریشه

کهٔ دې خېسر تر چا یه کړ

ته به ځان غوڅ کړې پهٔ تېشه

د فقیر خبرې پند کړه

ته پهٔ ځان وکړه اندېښه

---

(۱۲) د ونډ پوهنې پهٔ اصطلاح په لومړي نیم بیتي کې (صدر او عروض ترمنځ او پهٔ دوهم نیم بیتي کې د ابتدا او ضرب ترمنځ) رکنونه حشوه بلل کېږي.

(۱۳) د خواجه محمد بنګښ پهٔ دې بیت کې د تېشه (tešá) کلمې خج له عمومي تلفظ سره سم پر وروستۍ څپه دے:

زهٔ فرهاد یم له شیرینې به وانهٔ وړم
که تندے مې ځوک دوه نیمه پهٔ تېشه کا
(د چاپي دیوان ۹۸ مخ)

د نوموړی اشرف خان هجری د يوې قصيدې مطلع داده :

◡ ◡ - ◡ ◡	◡ ◡ - ◡ ◡	◡ - ◡ ◡ ◡
غمه ليرې	په گريزدرو	مه له مانه
کهٔ نه اوس به	دې سرغوڅ شي	تر زمانه

(چاپي ديوان ۱۵۳مخ)

د دې قصيدې په يوه بيت کې د قافيې کلمه افسانه (Afsaná) راغلې ده چې وروستی څپه يې خجلری ـ خو د قصيدې د نورو ټولو بيتونو د قافيې کلمې (praoxytonic) دے يعنې خجونه يې تر وروستی څپې پر د مخه څپه واقع دی، د افسانې بيت دادے :

چې زما د	عشق له حاله	څوک خبر شه
د فرهاد قصه	هغهٔ ته	شي افسانه (۱۴)

(د چاپي ديوان ۱۵۶مخ)

اشرف خان هجری چې د مرجانې پهٔ وينه کې کومه قصيده ويلې ده، د هغې مطلع داسې ده :

◡ ◡ - ◡	◡ ◡ - ◡ ◡	◡ ◡ - ◡ ◡
نکې سرو	هه په لاسو	له دورانه
دا مذکورېې	هويدا کړه	بې زبانه

(دچاپي ديوان ۱۴۱مخ)

---

(۱۴) ديوانی پهٔ دې بيت کې افسانه کلمه (oxytonic) راغلې ده.

دوړ د فرهاد و شيرين تېر په وراندې وخت شو
پاتې يې قصه ده په عالم کې افسانه لا

(دچاپي ديوان ۹۰مخ)

د دغې قصیدې یو بیت داسې دے:

ما وی کومه | فتنه وزو | وه له چرخه
چې اوس غمز | ده تا و ینــ | ــمه گریانه

په دوهم نیم بیتی کې راغلی «غمزه» (ɣamzadá) کلمه درې څپه ییزه کلمه ده، وروستی څپه (dá) یې خج لری - دلته مونږ وینو چې شاعر د غمزده کلمې خج لومړی څپه (ɣam) ته اړولی دے او تر بحث لاندې کلمه باید (ɣámzada) ولوستله شی، که نه وزن ورانیږی.

د اشرف خان هجری د چاپی دیوان په (۵٦۹) مخ کې راغلی دی:

ٮ ٮ ـ ٮ | ٮ ٮ ـ ٮ | ٮ ٮ ٮ ـ ٮ
نیک بده چاره د دهر گنهه تېره
تېره چار بې نهایت کا خالق هېره
د دنیا مثال پاسی د قمان بازو(۱۵)
هره چاره یې گهی تینږ شی گهی تېره

د دې څلوریځې د قافیې کلمې تېره téra (د تېر - مؤنث صفت) هېره د héra (د هېر مؤنث صفت) او تېره terá (په اردو ژبه کې د دیرلس په معنا دی - دوې

---

(۱۵) پاسه د جوارۍ دانې یا مهرو ته ویل کېږي.

لومړنۍ د قافیې کلمې Praoxytoonic دے ـ یعنې خج یې پر لومړیو څپو واقع دے ـ خو ښېره (د دیرلس) پهٔ معنا oxytonic کلمه ده ـ یعنې داردو پهٔ مروج تلفظ کې یې خج پر وروستۍ څپه دے .

دیونس دچاپي دیوان پهٔ ۳۶ مخ کې دیوې غزلې ردیف «رقیب» دے او د قافیې کلمې یې و ینې ، ینې ښینې ، مینې ، نیازمنې ، سپینې راغلې دی چې د ږغیومنې له مخې praoxytonic کلمې دی ـ خو د دغو کلمو پهٔ څنګ کې مینې او سینې هم د کلمو پهٔ دو د لید لے کېږی چې oxytonic کلمې دی ـ د دغې غزلې مطلع او مقطع او د یې ځایه څنځونو بیتونه دادی :

یوځلې مې وښکاوی د زړهٔ و ینې د رقیب
غوښې مې پهٔ تېغ کړای دواړه ینې د رقیب
دریغه سر میده کړای بیا چا و ویلای ماته
سر دے میده شوے که یې منې د رقیب
غشی لاجوردی وای د پولادو یې تورې وای
پوزې وړی یستی (وای) تر سینې د رقیب
چېرې کهٔ خیرات د یونس ستا پهٔ درقبلېږی
اینې مې پهٔ اور وای تورې سپینې د رقیب

د قلندر پهٔ یو بیت کې ژړا zara کلمه چې oxytonic

ده - دوزن دسموں لپاره باید *praoxytoiric* ولوستله شی ، هغه بیت دادے :

∪ ∪ ∪ - ∪ || ∪ ∪ ∪ - ∪ ||
دسحرژړا   رابانذی بنه   لـ[ګی]
قلندرځکه   پهٔ زړهٔ رنځور یم

(ادبی ستوری ۱/۳۷۳)

دادبی ستوری پهٔ دغه مخ کې د نومونې قلندر یو بل شعر لیکلے دے چې پهٔ هغهٔ کې د جګر *oxytonic* کلمه *praoxytonic* راغلې ده هغه بیت دادے :

مخ دې چراغ دے ظلمت دې هجر
عاشق پرې سپانده - دے جلیا جګر

پهٔ ادبی ستوری (۱/۱۰ مخ) کې چې داخوند میا دادکومه غزله راغلې ده ، دقافیې کلمې یې لبریزې ، خونریزې نوخیزې ، انګریزې او ... راغلی دی چې د ږغیوهنې لهٔ مخې *praoxytonic* کلمې دی . ددغو کلمو پهٔ څنګ کې دسنګریزې کلمې هم سته چې *oxytonic* ده - هغه بیت دادے :

دځلوروِ حوینډو وریوره ، ته وشرعې ته وګوره
پهٔ یوه حقه خبره ، پهٔ منصور ولې سنګریزې

دنجیب ددیوان پهٔ ۱۰۷ مخ کې یوه غزله راغلې ده چې دقافیې کلمې یې جانانه ، پروانه ، بیګانه ، کانه ، افسانه .

مستانه، ديوانه، شانه دی - د دغو oxytonic کلمو پهٔ څنګ کې "خوبانه" کلمه هم راغلې چې praoxytonic ده، هغه بيت دادے :

د حباب لهٔ فوارې نه بقا غواړی
چې لهٔ تا دی څوک د وصل جويانه

دپښتو ژبې ستر شاعر خوشال خان خټك ويلي دی:

⏑ ⏑ – ⏑	⏑ ⏑ – ⏑	⏑ ⏑ –	
کله مارو	کا حمله پهٔ	سمساره	
ترې پيداشی	ماربچړی په	انځاره	(١٦)
ولې نهٔ يې	مارمهره وی	نهٔ يې زهر	(١٧)
نهٔ يې توان د	نمر د باد نه	د واوره	(١٨)

ددغې غزلې نورې دقافيې کلمې تيارهٔ (tyárá) سپارهٔ Spará سوارهٔ Swára دی چې د (سمساره) او (انځاره) پهٔ ګډون oxytonic دی او خج يې

---

(١٦) پهٔ ارتباطي حالت کې (indir-ca) انځور کلمه انځاره ويله کېږی انځور ونقش اوتصوير معنالري.

(١٧) دانا قافيه لرونکی نيم بيتي دوولس څپه ييز دے - خودغزلې تول قافيه لرونکی نيم بيتي يوولس څپه ييز دی.

(١٨) واوره د فارسي برف معنالري - نمر اوباد يې د دغې معنا قرينې دی.

په وروستیو څپو دے .

په دغه غزل کې فقط د واوړه Wáwrá قافیوی کلمه praoxytonic ده چې په مروج تلفظ کې یې خج تر وروستۍ څپې پر دمخه څپه واقع دے او د خوشال خان په دغه غزله کې د عروضي ضرورت له مخې باید oxytonic ولوستله سی - یعني خج یې باید له لومړی هجا څخه په تصنعي ډول وروستۍ هجا ته واوړی،

د خوشال خان خټک په یوه بیت کې د اعوندی کلې خج چې عادتاً په مروج تلفظ کې پر لومړی څپه "اَ" دے د موزون د ساتلو په خاطر دوهمې څپې "غون" ته اړول سوے دے، هغه بیت دا دے :

که تن سوک په تن اعوندی حلواخوری
خو آخر د مرګ سړے یې وبه مری

د پښتو نامتو شاعر رحمان باباؒ ویلی دی :

ں ں - ں | ں ں - ں | ں ں - ں

ستاله مخه مې په مخ باندې ولې دی
لږ مې و پوښته له حاله چې ولې دی؟(۱۹)

---

(۱۹) د رحمن بابا څلور چاپي او دوه خطي دیوانونه زما په کتابتون کې سته - په یوه خطي نسخه کې دا غزله نه وه - په نورو پنځو نسخو کې پورتنے بیت داسې کښلے دے (پاتې په (یل) مخ کې)

د دغه مطلع د لومړي نيم بيتي د قافيې کلمه ولې ده (Walé) چې د والهٔ (وياله) کلمې جمعه ده.[20] د ږغپوهنې له مخې Oxytonic ده، يعنې خج يې پر وروستي څپه دے. د غزلې د نورو بيتونو قافيې کلمې مصلې مسئلې ګلې (يا- غلې)، ليلې، تسلې او دلې دی او ټولې Oxytonic دی. د مطلع د دوهم نيم بيتي د قافيې کلمه ولي Wali يا Wale ده چې په ږغپوهنه کې Praoxytonic بولي. يعنې خج يې تر وروستي څپې پر دمخه څپه (ماقبل آخر) باندې واقع دے.

«ولې» په پښتو ژبه کې د استفهام کلمه ده، دا چې ياء يې معروفه ده که مجهوله، جلا بحث دے او دا يوه تهجوي مسأله ده.[21] خو زما په خيال پر لومړۍ څپه باندې د خج راتلل په ټولو پښتو کې

---

(19) پاتې برخه: (وګ- د کابل دوهم چاپ ۲۲۱- د پېښور د پښتو اکاډمۍ چاپ ۲۲۵ لاهور چاپ ۲۰۶- پېښور چاپ ۱۲۴- زما د کتب خانې دوهمه خطي نسخه ۱۳۲مخ) د رحمن بابا د ديوان هغه نسخه چې د پېښور پښتو اکاډمۍ د اردو ترجمې سره چاپ کړې ده- د هغې نسخې په B ۲۲۵ مخ کې د دغه بيت اردو ترجمه داسې راغلې ده.

ہے ترے غم سے مرے رخ پہ آتشک کا باران
کبھی تو حال میرے دل کا پوچھے ای جان

(20) وګ- ظفر اللغات (۱۷۵ مخ)، پښتو قاموس (۹۶۹مخ)

(21) په ظفر اللغات کې استفهامي "ولې" په مجهوله ياء کښل شوې دی- د ډاکټر بيليو په پښتو انګرېزي ډکشنري کې يې هم ټرانسکرپشن Wale راغلی دے- خو په پښتو قاموس (۹۶۹ مخ)، د اسلانوف په پښتو روسي سلوار (۹۵۶ مخ) د کابل چاپ پښتو انګرېزي ډکشنري (۵۶۵ مخ) کې د استفهامي «ولې» ياء معروفه ښودل شوې ده.

(هره لحظه چې وی) باب دی. (۲۲)

دا خبره باید هېره نهٔ کړو چې پهٔ نظم کې د بې ځایه عروضی خج عیب چې د قافیې پهٔ کلمو کې راسی، لا پسې عتهېږی. دغسې ښويېدنې ته یواځې عروضی عیب نهٔ سو ویلای. بلکه د قافیې عیب یې هم باید وبولو.

د شیخ صالح پهٔ تر بحث لاندې بیت کې زما پهٔ خیال یواځې عروضی عیب پېښ دے.

د پښتو ادب څېړونکو ته دې دا خبره معلومه وی چې دا سې ښويېدنې یواځې پهٔ پښتو نظم پورې اړه نهٔ لری. هغه ژبې چې د نظم پهٔ رغاو کې یې خج زیاته اغېزه لری، پهٔ نظم کې یې د دا سې

---

(۲۲) وګورئ پښتو قاموس ۹۶۹- پښتو انګریزی دکشنری ۵۶۵ مخ کابل چاپ ۱۳۵۸ ش - د زودین پښتو روسی سلور ۵۳۲ مخ د ۱۹۵۰ع چاپ د اسلانوف پښتو روسی سلور ۹۵۶ مخ د ۱۹۶۶ع چاپ - د Coneist English Alghan Dictonary ۲۴۸ مخ دکویټې چاپ.

د ارواښاد مولوی صالح محمد هوتک (۱۳۳۷ش مړ) د یوې غزلې ردیف "ولې" دے لومړۍ څپه یې خج لری. د هغې غزلې مطلع دا ده:

ټوله ویښ سوه ته بیدهٔ یې اغاولې؟
ګرده کښیناسته ته پروت یې لالا ولې؟

د "سعید" دیوه بیت پهٔ صدر کن کې ولې کلمه دا سې راغلې ده - چې لومړۍ څپه یې خج لری او دوهمه وروستۍ څپه یې بې خجه ده، هغه بیت دا دے:

ں ں ـ ں	ں ں ـ ں	ں ں ـ ں
نهٔ دې وَ لې	پهٔ ګوګل کې	سنګین کېنې ایښې؟
چې مې اوښیو	دو پهٔ مخ کې	رنګین کښې ایښ

(چاپي دیوان ۸۷ مخ)

ښوېدنې امکانات شته ۔ د مثال په توګه د اردو ژبې دا بیت ولولئ چې د دل محمد صاحب د سکهمنی په اردو ترجمه (۲۷۶) مخ کې راغلی دی:

سچ ہی کا بیوپار کرو، اگر تو سچے بیوپاری ہو
پھر درگاہ میں رب کے پیارے ساری کھیپ تمھاری ہو

ددې بیت د قافیې کلمې «بیوپاری» او «تمهاری» دي د بیوپاری کلمې څج پر وروستي څپه (rá) دے، خو د «تمهاری» څج پر منځنۍ څپه (há) باندې دے ۔ ددې بیت لوستونکی اړ دي د وزن د سمولو لپاره د «تمهاری» کلمې اصلي څج وروستي څپې ته واوړي او oxytonic ځني جوړ کړي ۔

* * *

کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي

(پته خزانه في المیزان)

د کره کتنې په تله کې

پس منظر:

د شلمې پېړۍ په دریمه لسیزه کې د نشنلزم څپې د نړۍ گوټ، گوټ ته ورسېدې. نشنلزم مثبت او منفي اړخونه درلودل. دلته د مثبت او منفي یو یو مثال وړاندې کوم. د مثبت اړخ مثال یې دادی چې نشنلزم په قومونو کې د کهترۍ احساس (*inferiority complex*) له منځه یووړ او هغوی یې له استعمار سره د مقابلې او د خپلو فرهنگي مواریثو د راژوندي کولو د پاره چمتو کړل. منفي اړخ یې داوچې

دقومي تفوق او امتياز غوښتنې دپاره يې ځمکه هواره کړه .

افغانستان هم له دغې منفي اغېزې څخه بې برخې پاتې نه شو، خو د افغانستان په لويديځ کاونډي هېواد کې افراطي تفوق غوښتنه له پراختيا غوښتنې سره ملګرې شوه . دپراختيا غوښتنې د سياست لامله ددغه وروستي هېواد خلکو د خپل هېواد نوم ددې دپاره بدل کړ (١٩٣٥ع کال) چې د يوه بل هېواد پر خاوره، تاريخ، ژبې او ثقافت باندې غېږه راوګرځوي . هغوی پهٔ پښتو دا هم نه لوړېدهٔ چې پهٔ خپله ژبه ليک او لوست وکړي . نوکله چې (پټه خزانه) رابرسېره شوه . دوی د هغې پر ضد د تبليغاتو خزانه پهٔ کار واچوله او هغه يې يوجعلي اثر وبالهٔ .

دوی هېڅ سند نه درلود، ځکه چې هغوی نه پهٔ پښتو پوهېدل او نه يې د پښتو ادب پهٔ باره کې معلومات درلودل .

د هغوی د تبليغاتو محرک يو ړوند اتنوسنټريزم (*ethnocentrism*) و . خو دا هم بايد ووېل شي چې ددوی پرله پسې تبليغات دزيات تکرارېدلو

په وجه بې اغېزې پاتې نهٔ شول او د هغو خلکو پهٔ مغزو کې يې د شک تخمونه وکرل چې د بې سنده او بې دليله تبليغاتو تر اغېزې لاندې راځي. سره له دې، د اکثرو پښتنو دا خيال و، چې د توموړی کتاب پر ضد پروپيګنډه د پښتو د مخالفانو کار دے، پښتانهٔ فرهنګيان د «پټې خزانې» د صحت او اصالت پهٔ باره کې شک نهٔ لري.

پهٔ ۱۹۷۶ع کال يو پښتون ليکوال د پښتو اکيډيمۍ پهٔ مياشتنۍ مجله کې يوه مقاله خپره کړه او پهٔ هغهٔ کې يې د «پټې خزانې» د صحت او اصالت پهٔ باب شکوک ښکاره کړل.

د تعجب خبره ده چې د دغې مقالې پهٔ باره کې چا کومه تبصره ونهٔ کړه. زهٔ چې پهٔ هغه وخت کې د پښتو ټولنې رئيس وم، د توموړې مقالې لهٔ خپرېدو څخه خبر نهٔ شوم. پهٔ ۱۹۷۹ع کې هاغه ليکوال پهٔ هماغه سلسله کې يوه بله مقاله هم نشر کړه. پهٔ دغه وخت کې د افغانستان فضا د سياسي بحران پهٔ تورو لړو پټه شوې وه او د فرهنګي اختناق پهٔ وجه اکثر فرهنګي شخصيتونه د دغې مقالې له خپرېدو څخه ناخبره پاتې شول. د پښتو ادب دوو يا درېو تنو محققانو

چې د(پټې خزانې) په باب يې د ښاغلي قلندر مومند مقالې لوستې وي. د علمي سيمينارونو په جوړولو سره يې په غير مستقيم ډول د نوموړي اعتراضونو ته ځوابونه ورکړل. بنا يې دا پوښتنه وشي چې ولې غير مستقيم ځوابونه ورکړل شول؟.

لومړے دليل دا دے چې تقريباً پنځوس کاله پښتو اديبانو او محققانو له (پټې خزانې) څخه د پښتو د دښمنانو په وړاندې دفاع کړې ده او دغه کتاب پښتو فرهنګيانو ته د ملي وثيقې او ملی وياړ حيثيت غوره کړے دے. هيڅوک نه غواړي چې د خپلو مقدساتو او يا افتخاراتو په باره کې د چا اعتراضونو ته هرکلی ووايي او يا ورباندې زيات بحث وکړي. دا البته منطقي دليل نه دے، بلکه سايکالوجيک يا روحياتي دليل دے.

دوهم دليل دا دے چې په کابل کې هغه وخت موجوده حکومت په پښتو پسې راخيستې وه، پښتانه روښان فکران يې ځورول او بدنامول؛ د پښتو پرضد يې داسې کتابونه چاپ کړل چې په هغو کې پښتانه د افغانستان په اشغال متهم شوی وو،

پښتانه يې د افغانستان اصلي اوسېدونکي نهٔ ګڼل دوی يې بې فرهنګه بلل، او پښتنو ته سختې کنځلې پهٔ کې شوې وې.

کهٔ پرچمیان د ښاغلي قلندر مومند مقالو ته متوجه شوي وای نو هغه مقالې به يې د لکونو پهٔ تيراژ چاپ کړې وای او ترجمې به يې همسايه ملکونو ته استولې وای.

هدف:

د (پټه خزانه في الميزان) ليکونکی زيار ايستلی دی چې دا خبره ثابته کړي چې (پټه خزانه) د ارواښاد پوهاند عبدالحی حبيبي تاليف دی.

زما د مقالې هدف دا دی چې د محترم قلندر مومند د (پټه خزانه في الميزان) د نقد او تحقيق اسلوب وڅېړم چې آيا دهٔ خبره د شک نه ايستلې ده که نه؟. زما پهٔ نظر، د علمي تحقيقاتو پهٔ نړۍ کې هر څوک د شک کولو حق لري، خو شک کول د ثبوت معنا نهٔ لري.

لومړی انسان شک کوي، لهٔ شک نه وروسته يوه فرضيه (*hypothesis*) جوړ وي، د فرضيې د اثبات د پاره کافي مواد (*data*) برابر وي لهٔ ازموينې وروسته د خپلې فرضيې پهٔ صحت

او سقم پوهېږي.

کهٔ د سیاسي تبلیغ خبره وي نو د خلکو پهٔ اذهانو کې شک پیدا کول ډېره مؤثره وسیله ده. کهٔ د عقیدې خبره وي نو دین یا عقیده هیڅ‌چاته د شک کولو حق نهٔ ورکوي. خو کله چې د علمي تحقیقاتو خبره وي هلته شک د علم دپاره ضرور دے. خو لکه مخکې چې اشاره ورته وشوه شک کول د ثبوت معنا نهٔ لري.

د دې خبرې د توضیح دپاره به یو مثال راوړم: بناغلي غني بناغلی قلندر بنهٔ نهٔ پېژني او ددهٔ له علمي تحقیقاتو څخه ناخبره دے، خو کله چې بناغلے غني د بناغلی قلندر (پټه خزانه فی المیزان) لولي نو تعجب کوي چې دهٔ دا دومره معلومات له کوم ځایه پیدا کړي دي.

پهٔ پای کې بناغلے غني شک کوي چې (پټه خزانه فی المیزان) به د بناغلی قلندر د څېړنو او پلټنو محصول وي. لیکن د بناغلی غني شک د ثبوت دپاره کفایت نهٔ کوي، هغه باید داسې فاکټونه او معلومات راغونډ کړي چې ددهٔ د شک د ثابتولو دپاره کافي وي.

دلته دا هم باید وویل شي چې د بناغلی غني

شک پهٔ عمل کې چنداني ارزښت نهٔ لري ځکه چې دا دیوه شخص د پوهې پهٔ باره کې دی. خو کله چې (پټه خزانه) مجعول او له ځانه جوړ شوے اثر وګڼل شی هلته دیوه ملت د فرهنګی خزانې د مینځه تللو مسأله مطرح کېږی.

بناغلی محقق قلندر مومند د (پټه خزانه فی المیزان) لومړی مخ کې لیکی: ((زما پهٔ افغانستان کې چې کومو ورونو سره پهٔ دې سلسله کې د بحث کوشش کړے دے، د هغو اصرار داؤ چې د دې کتاب د صحت پهٔ هکله شکوک ښکاره کول د قومی مصلحتونو سره سمون نهٔ خوري. ددوی پهٔ ځواب کې زما موقف تل داو چې هغه قومی مصلحت چې د انتقاد نه اوچت وګڼلے شي، پهٔ حقیقت کې د قومی مفاداتو خلاف وي.))

زهٔ پخپله هم پهٔ دې عقیده یم چې موږ باید د خپل فرهنګ بنسټ پهٔ دروغو او جعلیاتو بنا نهٔ کړو خو د دې ترڅنګ دا خبره هم باید هېره نهٔ کړو چې د شهرت او ځان ښودلو پهٔ خاطر د خپل قوم پهٔ افتخاراتو لوبې کول د قومی مفاداتو خلاف عمل ګڼل کېږی.

د متني کره کتني میتود : متني کره کتنه

(Textual Criticism) د نړۍ د فرهنګ پهٔ تاریخ کې اوږده سابقه لري . له ادبي کره‌کتنې سره د متني کره‌کتنې توپیر دادے چې ادبي کره کتنه د یوهٔ اثر هنري ارزښت څېړي، پهٔ داسې حال کې چې د متن کره‌کتنه د یوه اثر اصالت او صحت، او د اعتبار یا وثوق اندازه معلوموي . کله چې د یوه اثر لومړۍ نسخه پهٔ لاس کې نهٔ وي، متني کره کتنه د اصلي (original) نسخې د احیاء کولو دپاره هم زیار باسي .

پهٔ اجتماعی علومو (Social Sciences) کې ډېر ځله لهٔ احصائیوی قانون نه کټه اخستل کېږي او د یوې فرضیې د احتمال درجه اهمیت پیدا کوي، خو پهٔ متني کره کتنه کې د یوه اثر د صحت او اصالت د تثبیتولو دپاره کله کله فقط یو مهم دلیل د برهان قاطع درجې ته پورته کېږي . سره له دې، پهٔ اجتماعی علومو کې د برهان قاطع پیدا کول ډېر مشکل کار دے .

اجازه راکړئ دا خبره د یوهٔ مثال پهٔ ترڅ کې بیان کړم :

(پټه خزانه فی المیزان) پهٔ (۱۷۰-۱۷۲) مخونو

کې یکی : «پوهاند رشاد وایي : د (ځ) اوسنی مروج شکل چې د (ح) پر سر همزه (ء) کښلی دی د وزیر محمدګل خان مومند ایجاد دے چې وروسته عام شو او پهٔ لروبر پښتونخوا کې رواج وموند (۲۸)

دفاضل پوهاند دا تحقیق پهٔ دې لحاظ ډېر اهم دے چې دوی پهٔ کوم کتاب کې دا تحقیق کړے دے، دهغه پهٔ تألیف کې ورسره پهٔ مشرانو کې مرحوم حبیبي او مرحوم بېنوا هم شامل دی او تر اوسه ددې مشرانو لهٔخوا ددې مقالې ددې حصې واضح تردید نهٔ دے شوے. ځکه نو مونږ مجبور یو چې دفاضل پوهاند رشاد دا تحقیق د یک دود پهٔ باره کې د افغانستان متفقه موقف وګڼو.

کهٔ د (ځ) دا تورے د وزیر محمدګل خان مومند ایجاد وی نو د (پټې خزانې) د حقانیت او قدامت د حامیانو پهٔ خدمت کې زهٔ دا حقیقت پیش کول غواړم چې وزیر محمدګل خان مومند عین پهٔ هغه کال پیدا شوے دے، پهٔ کوم کال (۱۳۰۳هـ) چې د پټې خزانې دوهم کاتب "محمدعباس کاسي» خپل کار «باستعجال تمام» خلاص کړی ... نو د پټې خزانې پهٔ املا کې د (ځ) استعمال ددې

نه بغیر بله هېڅ تشریح نشي کېدای چې (پټه خزانه) د محمد ګل مومند د سن شعور ته د رسېدو نه پس ته دورکې لیکلے شوے کتاب دے او ځکه نو دا سروپ دروغ دی چې دا کتاب په (۱۳۰۳) کې لیکلے شوے دے.

د خیرالبیان په چاپ کې برخه اخستونکي مهربانان .... دکتاب د چاپ کیدونه پس تراوسه یعنی تر ۱۹۸۶ء د فاضل پوهاند رشاد په تحقیق خاموشه پاتې شوي دي او ځکه د خپلې خاموشۍ په وجه یې دا ثابته کړې ده چې دوی ورسره متفق دي ... د فاضل رشاد دا بیان د «سلطانی ګواه» د بیان حیثیت لری.

د دغه اوږده اقتباس نه څرګندېږی چې د بناغلي قلندر مومند «سلطانی ګواه» هاغه برهان قاطع دے یعنې دده په عقیده همدغه یو دلیل کافی دے چې پټه خزانه یو جعلی اثر وګڼل شي.

ماوویل چې د «سلطانی ګواه» موندل ډېر مشکل کار دے. په پورتني مثال کې دغه پوښتنې راولاړېږی.

۱- فاضل استاد پوهاند رشاد په رښتیا لوی عالم او ستر محقق دے. آیا دا ناممکنه ده چې یو لوی

عالم دې هم کله اشتباه وکړي؟.

ما د (وفا) په جريده کې ولوستل چې استاذ خپله خبره تېروتنه ګڼلې ده. يو رښتونی محقق ته نهٔ ښايي چې د مشهورو عالمانو خبره «دکانۍ کرښه» وبولي، حتیٰ دکانۍ کرښه هم وېجاړېږي.

۲- ښايي اروا ښاد محمدګل مومند د (ځ) ليکدود خپل ايجاد بللې وي، خو وروسته داسې آثار لاس ته راغلل چې د وزير محمدګل خان له زېږېدو نه مخکې ليکل شوي وو، او (ځ) يې په همدغه بڼه ليکلي وُ. د دې خبرې معنا دا نهٔ ده چې اروا ښاد وزير صاحب به هغه آثار ليدلي وي، کېدے شي دغه يو توارد وي.

۳- د دې موضوع په باب څهٔ نهٔ ليکل او خاموشه پاتې کېدل د اتفاق معنا نهٔ لري. د پښتو ځينو مشرانو لکه خان عبدالصمد خان اڅکزے او وزير محمدګل خان مومند پر ليکدود باندې ما پخپله کوم انتقاد نهٔ دے ليدلے خو د دې خبرې معنا دا نهٔ ده چې پوهانو د هغوی ليکدود و نه منلی دی. بنا علیٰ قلندر مومند وايي: «نو مونږ مجبور يوو چې د فاضل پوهاند رشاد دا تحقيق د ليکدود په باره کې د افغانستان متفقه موقف وګڼو».

تاسي مجبور نهٔ يې چې دا د افغانستان متفقه موقف وګڼئ.

۴ـ د (پټه خزانه في الميزان) ليکونکے «سلطاني ګواه» غلط ثابت شو، اوس بايد بل «سلطاني ګواه» پيدا کړي. ۱۰

د اصلي او جعلي اثر د تشخيص دپاره بايد ټول کتاب پهٔ مجموع کې د زمان او مکان سره پهٔ ارتباط کې وڅېړل شي. کهٔ څهٔ هم پهٔ دې برخه کې ځينې اصول او موازين شته، خو د نقاد لياقت او فراست د تشخيص پهٔ برخه کې مهم رول لوبوي. دکتاب نوم، رنګ او کاغذ، املاء، ژبه (لغات، ترکيبونه دجملو جوړښت، سبک *style*)، محتوا او مضمون (مفکورې، ارزښتونه، عقايد، د تمدن سطح) دخپل وخت او چاپيريال له متداولو معيارونو سره سمون خوري؟ دا ټول پوښتنې مهمې دي، بايد ميخانيکي شکل هم ونهٔ لري.

د مثال پهٔ توګه خوشحال خټک ځينې ډېرې لوړې مفکورې درلودې چې دده د عصر نه اوچتې وې. نو کهٔ څوک د خوشحال بابا (سوات نامه) يا (دستارنامه) دخپل عصر له معيارونو سره وڅېړي نو کيدے شي چې ليکونکي نوے سبک ايجاد کړے

وی، یایې لهٔ ځانه جوړکړی لغتونه استعمال کړی وی .

(پټه خزانه فی المیزان) دکره کتنې په تله کې :

کله چې یوکتاب د چالاس ته ورشي، نو لومړے دکتاب نوم اود مؤلف نوم لهٔ نظره تېروی اغلب احتمال دادے چې ورپسې به دموضوعاتو فهرست ګوری . غوښهٔ دې و پوهېږی چې کتاب لهٔ څهٔ شی نه بحث کوی اودلوستونکی اړتیاووته ځواب ویلی شی کهٔ نه ؟ . اکثرو لوستونکوته دکتاب دچاپېدو نېټه اودچاپ ځای هم ارزښت لری خو زه پر دغې موضوع بحث نهٔ اوږدوم .

لومړی پوښتنه دکتاب لهٔ عنوان نه پیل کوم، دکتاب نوم دے : "پټه خزانه فی المیزان" پهٔ دغه نامه کې (پټه خزانه) خاص اسم دے چې لیکوونکی دغه نوم ته تغیر نهٔ شو ورکولای . د دغه ټکی پهٔ پام کې نیولو سره ، ویلای شو چې (پټه خزانه فی المیزان) دعربی ژبې ترکیب دی . کهٔ چېرې پهٔ راتلونکې زمانه کې دغه عربی نوم دیوهٔ ادبی مؤرخ لهٔ نظره تېر شی ، نو هرو مرو به له هغهٔ سره دا پوښتنه پیدا شی چې آیا دغه نوم دطنز او

ملنډو د پاره انتخاب شوي دي او کهٔ پهٔ دغه وخت کې د پښتو کتابو د پاره دغه ډول نوموونه مروج وو؟ کهٔ دا کار د طنز د پاره شوي وي، نو بیا خود مؤلف دغه خبره سمه نهٔ ده چې وايي:

«کهٔ زما پهٔ نیت څوک حمله کوی یا زما خبره بې دلیله ګڼی، نو دا به له ما سره ډېره لویه بې انصافي وی.» د یوهٔ سړي نیت خو د دهٔ د عمل نه معلومېږي دا خبره به یوې خوا ته پرېږدو چې مؤلف نوموړي کتاب پهٔ څهٔ نیت لیکلی دی. خو دهٔ دغه ادعا چې هېڅوک باید د دهٔ خبره بې دلیله ونهٔ ګڼي، د تحقیق لهٔ اصولو سره سمون نهٔ خوری. یو محقق هېڅکله پهٔ دغې الفاظو لهٔ ځانه دفاع نهٔ کوی چې ځان «عقل کل» وبولی.

بله خبره دا ده کهٔ د کتاب عنوان د طنز د پاره نهٔ وی انتخاب شوی نو بیا دا نوم غریب شانته ښکاري.

اوس به راشو د کتاب فهرست ته. د کتاب لهٔ فهرس (!) نه پهٔ لومړي نظر دا څرګندېږي چې د لیکلو ډیزاین منطقي تسلسل نهٔ لري او لهٔ فهرس نه د کتاب محتوا هم پهٔ روښانه توګه نهٔ معلومېږي.

فهرست پهٔ دې ډول ترتیب شوی دی:

وړومبۍ خبرې، ابتدايي معروضات، د يونس د ديوان شهادت، بېلګې، تاريخي پس منظر، جديت د پټې خزانې مأخذ، د پټې خزانې راويان، فني اړخونه، اُينکرانېزم، متفرقات، ضميمه الف، ضميمه ب، اشاريه ا، نوموونه، اشاريه ب، کتابونه.

په دغه فهرست کې (وړومبۍ خبرې) په خپل اصلي ځای کې راغلې دی. (ابتدايي معروضات) په خپل مفهوم کې هماغه (وړومبۍ) خبرې دي، خو مونږ به يې د پېژندګلوۍ (Introduction) په مفهوم تسليم کړو. که داسې وي نو د مؤلف اساسي اعتراضونه تقريباً په مقدمه يا پېژندګلوۍ کې ختم شوی دی. (د يونس د ديوان شهادت) په عنوان پسې (بېلګې) راغلی دی. خو دا نه ښکاري چې د څه شی بېلګې؟ ورپسې (تاريخي پس منظر) راغلی دے چې بالکل په نا مناسب ځای کې کېنول شوے دے او د تحقيق له ميتود سره سمون نه خوري.

(پټه خزانه في الميزان) له ټولو ضمايمو سره په (۳۷۲) مخونو کې چاپ شوې ده، په داسې حال کې چې (تاريخي پس منظر) له (۱۴۴) مخ نه شروع کېږي.

د تيسيس (Thesis) ليکنې يوه معمولي قاعده

داسې ده چې (ورومبۍ خبرې preface) زیاتره تشریفاتي جنبه لري. په هغهٔ کې لیکوال لهٔ رهنما استاذ، ټایپست، خطاط او داسې نورو څخه مننه کوي. ورپسې د ریسرچ پرابلم یا د څېړنې موضوع او هدف بیانېږي. بیا د پرابلم تاریخي پس منظر څېړل کېږي.

ځینې محققان داغوره ګڼي چې د تحقیق د موضوع او هدف نه مخکې د لیکنې د موضوع یا پرابلم تاریخي پس منظر ولیکي پهٔ هغه کې د پرابلم د حل کولو د پاره پخواني کوششونه، او اوسنے ضرورت او د موضوع اهمیت شرح شي. ورپسې د تحقیق موضوع او هدف بیان شي. لهٔ هغې وروسته د تحقیق اسلوب باندې رڼا اچوله کېږي.

د (پټه خزانه في المیزان) د تحقیق ډیزاین ځینې ځرګندې نیمګړتیاوې لري. کیداى شوه چې فهرست پهٔ دې لاندې توګه ترتیب شوے واى:

فهرست

ورومبۍ خبرې
تاریخي پس منظر
دکتاب د لیکلو ضرورت، هدف، او د تحقیق میتود
لومړے فصل: د (پټې خزانې) متني کره کتنه

۱- د (پټې خزانې) نوم
۲- د (پټې خزانې) لیک دود او املاء
۳- د (پټې خزانې) لغتونه او ترکیبونه
۴- د (پټې خزانې) شعرونه
۵- د (پټې خزانې) سبک او ژبه

دوهم فصل: د (پټې خزانې) پرضد تاریخي شواهد

۱- د یونس د دیوان شهادت
۲- د (پټې خزانې) مأخذ
۳- د (پټې خزانې) راویان
۴- متفرقات

دریم فصل: لنډیز او نتیجه

ضمیمه الف

ضمیمه ب

د نومونو فهرست

د کتابونو فهرست

ښايي د (پټه خزانه فی المیزان) لیکوونکی ووایي چې د دهٔ کتاب عمده برخه هغه دوې مقالې دی چې پخوا نشر شوې وې او دهٔ نهٔ شو کولای چې ډیزاین ته بېخي تغیر ورکړي.

تردې ځایه د ریسرچ پر شکلی اړخ خبرې وشوې شکلي اړخ د تحقیق د کامیابی د پاره ضرور دے.

اوس به د انتقاد پهٔ څرنګوالی بحث وکړو - د کار د آسانتیا دپاره به له تصنیف (*lassification*) نه کار واخلو. پهٔ عمومی ډول (پټه خزانه فی المیزان) انتقادونه دوه ډوله دی:

لومړی ډول یې هغه انتقادونه دی چې له هدف سره ارتباط لری پهٔ ښه ډول طرح شوی دی، خو جامع او مانع نهٔ دئ او له هغی لامله هدف ته نهٔ رسیږی.

دوهم ډول یې هغه انتقادونه دی چې له موضوع سره اړه نهٔ لری - یعنې د کتاب د اصالت او صحت له مسألی سره اړخ نهٔ لګوی. د مثال پهٔ توګه، د (پټه خزانه فی المیزان) لیکونکی پهٔ (پټه خزانه) کې د سیدال خان ناصر پر بدله انتقاد کوی او وایې چې پهٔ دغه بدله کې د وزن او بحر مراعات نهٔ دی شوی. د ښاغلی قلندر مومند الفاظ داسې دی:

«... د سیدال خان ناصر دا بدله د بې بحری او بې وزنۍ د صنعت یو شهکار دے.» (۳۰۴ مخ) دا خبره د (پټې خزانې) د جعلیت دپاره سند نهٔ شی کیدای. کهٔ د ښاغلی مومند مقصد دا وی چې دا شعر پوهاند حبیبی جوړ کړے ځکه چې هغه په وزن او بحر نهٔ پوهېده. نو دا خبره هم سمه نه

ده، ځکه چې لوی استاذ حبیبي پخپله هم د دغې بدلې بحر او وزن ته متوجه وُ او په دې هکله یې داسې لیکلي دي :

«این بدله که از طرف یک نفر سپه سالار معروف و دلاور سروده شده از حیث بحر و عروض از نوادر آثار ادبی زبان ملی است و بحر مخصوصی دارد که در بین اشعار پښتو که اکنون در دست است کمتر دیده شده وحفظ این ودیعهٔ ادبی از غنایم این کتابست.(۲۴)

(د پټه خزانه فی المیزان ؛ په حواله ، مخ ۳۰۲).

وکوریځ بناغلے محقق قلندر مومند وایي چې د سیدالخان ناصر بدله وزن او بحر نهٔ لري. استاذ حبیبي وایي چې نادر بحر او عروض لري. د استاد خبره سمه ده. د (پټه خزانه فی المیزان) د (فني ارزښت) تر عنوان لاندې چې څهٔ لیکل شوي دي، هغه اکثر د کتاب د صحت له مسألې سره تعلق نهٔ لري.

هغه انتقادونه چې په لومړیه کټیګوری کې راځي او د لیکوال د هدف سره ارتباط لري په ډېر مهارت طرح شوي دي او چاته چې اصلي حقیقت نهٔ وي معلوم، ډېر ژر د دغو اعتراضونو او انتقادونو تر اغیزې لاندې راځي. کهٔ منتقد پهٔ صادقانه ډول خپل اعتراضونه بیان کړي وي، داد دهٔ مسلم حق دئ

اوزه پهٔ خپله د غښې صداقت ته د قدر پهٔ سترګو ګورم. خو کهٔ د غښې انتقادونه عالماً او عامداً د اذهانو د تېر ایستلو د پاره شوی وی نو د بخښنې وړ نهٔ دے. د تحقیق اسلوب ته چې وکتل شی نو د غه وروستی مفکوره پهٔ ذهن کې قوت پیدا کوی ځکه ډېرځله مؤلف یو کلی حکم صادر وی په داسې حال کې چې د دغه حکم د صادرولو د پاره ده ټول فاکتونه (facts) او د تحقیق مواد (data) نهٔ وی کتلی. کهٔ کوم خاص غرض پهٔ منځ کې نهٔ وی نو هغه ځهٔ مجبوریت لری چې د نیمګړو معلوماتو پر استناد یوه کلیه قایمه کړی او کلی حکم صادر کړی.

د مثال پهٔ توګه، د (هېواد) کلمه درواخله. بناغلے مومند وایي چې بناغلے حبیبی د (هېواد) پهٔ معنا غلط پوهېدلے دے او فکر یې کړے دے چې (هېواد) وطن ته وایی نو بیا یې د (پټې خزانې) د لیکلو پهٔ وخت کې هم دغه پهٔ غلطه معنا (هېواد) پهٔ هغه کتاب کې راوړے دے. د مومند صیب پهٔ شان یو ذهین شخص کهٔ د چا د غولولو نیت نهٔ لری پهٔ خپله ځان ته قناعت ورکولے شی. لومړے پهٔ دې دلیل چې پښتانه ډېرې زیاتې لهجې لری کیدای شی چې هماغه لغت پهٔ مختلفو سیمو کې بېلې، بېلې معناوې ولري. د مثال پهٔ توګه

د پخوانی پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د پاچهی په وخت کې دلرې پښتونخوا یوه پروفیسر د کابل په یوهٔ کنفرانس کې ځوانانو ته توصیه وکړه چې د جمهوریت د پاره کار وکړی. د کنفرانس ګډون کوونکی حیران شول چې د حکومت مبلمه پروفیسر څنګه د شاهی نظام د ختمولو خبرې کوي. وروسته یو چا وویل چې پهٔ لره پښتونخوا کې جمهوریت، دموکراسی ته ویل کیږی. پهٔ دې خبره غلط فهمی لهٔ منځه ولاړه.

دوهم دا چې منتقد پخپله اعتراف کوی چې (هېواد) دوطن پهٔ معنا هم راځی، لکه شمس الدین کاکړ چې وايي:

پهٔ هوا مې دکشمیر د تورو سترګو
لهٔ زړهٔ و یا سته نیازمن دخپل هېواد

په دې مقاله کې ددې ګنجایش نشته چې دغه بحث اوږد کړم. خو اصلی خبره دا ده چې بناغلی قلندر مومند پر نیمګړو معلوماتو (*data*) استناد کوی، نو ځکه د دهٔ تضمیم (*Generalisation*) د تحقیق له اصولو سره تطابق نه کوی. څوک چې له حقیقت نه خبر نهٔ وی ډېر ژر د کلی حکمونو تر تاثیر لاندې راځی.

د کلی حکمونو یو څو مثالونه دا دی: بناغلی منتقد وايي چې د (پټې خزانې) د وړومبی خزانې پهٔ ۲۲ شاعرانو کې د اسمعیل، خرښبون، شیخ بوستان بړېڅ

شیخ متی، علی سرور لودهی، حمید لودی، عیسی مشواني
سلطان بهلول لودی رح، خوشحال بابا او رحمن بابا احوال
لهٔ هیچا نه پټ نهٔ وو. ښاغلی منتقد استدلال کوی
چې په دې حساب د (پټې خزانې) نوم صحیح نه دے.
تاسو وګورئ "له هیچا نه پټ نهٔ وو" څومره عام حکم دے
او څومره پهٔ غرور او بې پروایۍ صادر شوی دی.
د ښاغلی منتقد پهٔ نظر، ټول خلک د پښتو ادبي
تاریخ پوهان او متخصصان دی کهٔ څهٔ؟ حتیٰ کهٔ
ټول خلک د پښتو ادب متخصصان هم وی نو د
(پټې خزانې) لهٔ چاپیدو نه مخکې خو د نوموړو ټولو
شاعرانو له شعرونو سره آشنا نهٔ وو. کهٔ فرض
محال دا هم ومنو نو بیا خو د (۲۲) تنو شاعرانو
لهٔ جملې نه یوازې د سو تنو شاعرانو احوال به معلوم
و، د دولس تنو شاعرانو احوال چا ته نهٔ و ښکاره
یعنې له اکثرو څخه بې خلک ناخبره وو. د دې
اکثریت پهٔ لحاظ هم مؤلف حق درلود چې خپل
کتاب (پټه خزانه) وبولي.

ښاغلی منتقد ورپسې لیکی: "د محمد هوتک پهٔ
زمانه کې هره قلمی نسخه (پټه خزانه) وه ځکه چې
هغه وخت چاپخانې نهٔ وې." (مخ ۳) دلته بیا عام
حکم پهٔ ډېرې بې پروایې صادر شوے دے. کهٔ دا

خبره سمه وګڼله شي نو د حضرت سعدي ګلستان او بوستان، د حافظ شیرازي دیوان، د رحمن بابا دیوان به هم د پټې خزانې په لړ کې راشي. محمد هوتک د خپل کتاب د پاره د هر مناسب نوم اختیار کړ ځکه چې د پښتو بنه زیات اکثریت له خپلو ادبي مشاهیرو څخه نه وو خبر. د تعجب ځای دی چې د غسې مناسب او معقول نوم ولې د (پټې خزانې) د صحت مسأله راپورته کړه ؟.

که ښاغلی منتقد د تحقیق له میتود (اسلوب) سره آشنا وای نو ده به د غسې ادعاګانې کولې، کومې قلمي نسخې چې ما کتلې دي په هغو کې (ځ) نښته یا دا چې: کومې نسخې چې د پېښور د پښتو اکیډیمۍ په کتابخانه او پلانۍ پلانۍ کتابخانه کې ما پلټلې دي په هغو کې پېره ګرافونه نښته لیکن ښاغلي منتقد داسې حکم کوي: „د پېراګرافونو اهتمام خو د شلمې صدۍ جدت دی او شاید چې د انګریزۍ د روایت په تتبع کې د دنیا ټولو ادبونو ته راننوتی دی‟. که ښاغلی منتقد د پښتو، فارسي او عربي ټولې قلمي نسخې نه وي کتلې (او دا کار که ناممکن نه وي نو سخت مشکل خو دی) په دې صورت کې به ده داسې ویلي وای:

ترکوم ځایه چې ماته معلومه ده د پښتو په هغه قلمي نسخو کې چې له شلمې صدی نه مخکې لیکل شوی دی د پیراګراف استعمال نه و مروج .

ورپسې بیا عام حکم کوی او وایی : „ د عربی ، فارسی او پښتو قلمی کتابونو یو عام روایت دا هم دے چې په صفحاتو په هندسو کې شمېر نشي لیکلے کیدے" دلته ده بیا د نیمګړو معلوماتو په اساس کلي حکم صادر کړے دے .

ځوان محقق زلمی هېوادمل د ده دغه ادعا سمه نه ده ګڼلې او سند یې ورته ښودلے دے .

ورپسې بیا کلي حکم صادروی او داسې لیکي : „ د پښتو قلمي نسخو کې (د) ، (دا) „ ده " یو شان „ د " لیکلے شي ." د پښتو ادب محققانو ثابته کړې ده چې دا دعوه هم بې ځایه ده .

ښاغلے منتقد پر محمد هوتک یا په اصل کې پر استاد حبیبی اعتراض کوی چې ولې یې غلط ترکیبونه ، جملې او لغتونه استعمال کړی دی، لکه د „ حمد وثنا ده هغه خدای لره " په ځای یې „ حمد و ثنا ده هغه خدای ته " یا „ د انسان زړه انشراح پرې مومی " په ځای „ د انسان زړه انشراح په مومی " او د (کښنم) په ځای „ کابرم " او داسې نور.

دلته ښاغلي منتقد د خپل انتقاد مقام ډېر را ټیټ کړی دی ځکه هغه فکر کوي چې د دهٔ خپله لهجه د پښتو معیاري ژبه ده او استاد حبیبي غلطه پښتو وایي.

هسې خو د ښاغلي منتقد پر ټولو اعتراضونو بحث کول پهٔ یوه مقاله کې نهٔ ځایږی. زهٔ غواړم د مقالې لنډیز وړاندې کړم: د ښاغلي قلندر مومند (رېښه خزانه فی المیزان) د تحقیق د اسلوب له نظره غټې نیمګړتیاوې لری. د کتاب د تحقیق ډیزاین سم نهٔ دے. د مضمون پهٔ لحاظ د کتاب ځینې برخې د لیکوال د اصلی هدف سره سمون نهٔ لری کومې برخې چې لهٔ اصلی هدف سره ارتباط لری د هغو معلومات نیمګړي دي، لهٔ واقعیت سره تطابق نهٔ کوي او لهٔ دې لامله د کتاب تعمیمونه (Generalizations) علمی اعتبار او تحقیقی ارزښت نهٔ لری.

پهٔ درناوی

همیش خلیل

اینکرانیزم

(Anachranism)

د اینکرانیزم (سهوه زماني - غلط زماني) د موضوع لاندې پهٔ «پټه خزانه» د عدم یقین پهٔ بحث کې د ښکارندوی د قصیدې د هغو دوه شعرونو چې پهٔ کې د «اټک» کلمه استعمال شوې ده پهٔ بنیاد د ځینو تاریخي شواهدو پهٔ رڼا کې د دې خبرې یو حل بیا د مقصد تر لاسه کولو د پاره دا هڅه شوې ده، چې چونکې ښکارندوی د سلطان شهاب الدین غوری (۵۶۹ هـ - ۶۰۲ هـ) همعصر شاعر و - او دغه زمانه کې د «اټک د نوم هیڅ تاریخي ثبوت نشته. ځکه چې دا نوم جلال الدین اکبر (۹۶۳ هـ ۱۰۱۴ هـ) د سلطان شهاب الدین غوری نه اتکلاً څلورسوْ کاله پس کال ۹۸۹ هـ کې پهٔ سیلاب یا سند ساگر (موجوده اباسین) د یوې قلاء جوړولو پهٔ وخت د هغه دور د حکومت د نمرختیزو صوبو د یوې قلاء

«کټک بنارس» د نوم سره د قافیې د سمون او د دواړو قلاګانو ترمینځه د فرق په ګوته کولو په خیال «اټک-بنارس» ایښودلې ؤ.

د بحث په نتیجه کې په دغه سهوه (د معترض په خیال) دا اعتراض شوی دی، چې هرکله د شهاب الدین غوري او د هغهٔ د همعصره شاعر ښکارندوی په دور د «اټک» په نامهٔ ادو د سره کومه علاقه یا سیند نهٔ ؤ، نو څنګه بیا د نیلاب یا سندهٔ ساکن د پاره ښکارندوی د «اټک» نوم وپکارولو؟

خو په «پټه خزانه» د اعتراضونو د ځنځیر دا هم یو داسې کړۍ ده، چې د حقیقت په میزان کې هیڅ څهٔ وزن نهٔ لري، ځکه چې د "اټک" په نامهٔ یوه علاقه کم نه کم د لوی شیرشاه سوري د مرګ (۱۱/ربیع الاول ۹۵۲ هـ) نه پس د هغهٔ د زوی سلیم شاه په دور کې د «اټک» په نامهٔ یوه علاقه تاریخ مونږ ته داسې په ګوته کوي:

«د دغو واقعاتو نه پس سلیم شاه د خپلې دارالخلافې ګوالیار نه واپس شو او کله چې ډیلي ته ورسېدو، نو خبر شو چې همایون د هندوستان په اراده "اټک" ته رسېدلې دی.»

(منتخب التواریخ ص ۲۷۷ اردو ترجمه)

د پورته اقتباس له مخې د «اټک»، په نامه يو ځای علاقه يا ښار د اکبر باد شاه د اټک قلاء نه کم از کم (۳۷) کاله وړاندې هم موښ ته د اټک د تاريخي ثبوت حقيقت په ګوته کړے دے او دا د بنګالندوی د قصيدې وټيلو نه وړاندې هغه تاريخي ثبوت دے چې معترض ته د منتخب التواريخ د حوالو ورکولو باوجود بيا هم په نظر نهٔ دے ورغلے، چې په "پټه خزانه" په پټو سترګو د اعتراضونو په بهير کې يو ځل بيا په موصوف د تدليس الزام ثابتوی .

د «اټک» په حقله د ذکر شوی تاريخي ثبوت نه علاوه هم دا حقيقت موښ نهٔ شو په شا کولے، چې هره تاريخي قلاء تراوسه په کومه علاقه تعمير شوې ده - هم د هغې علاقې په نوم بللې شوې ده، لکه د شاګی قلا، د جهلم قلا، د لاهور باد شاهي قلا، او د کالنجر قلا وغيره . دا ټولې قلاګانې په دغه حقيقت ګواهي لی، چې د دغو قلاګانو د تعمير نه وړاندې د شاګی، جهلم، لاهور او کالنجر په نومونو په دغو علاقو له وړومبيه کوم کلی يا ښهرېې موجودې وې چې وروستو بيا دغه قلاګانې هم د دغو ځايونو يا ښهرونو په نامو يادې شوې ـ او که دا حقيقت وی، نو بيا ولې دې د اټک قلا د جوړولو وړاندې دلته هم د

«اټک» په نامه کوم ځای یا ښهر نه وی آباد.

اوس هر کله چې د تاریخ له مخه د اټک قلا د جوړولو نه وړاندې هم دلته د اټک په نامه دیو ښهر موجودګی ثابته شوه، نو دا هم یو حقیقت دے چې کوم سیند له کومې علاقې تېرېږی - یا په کومه علاقه کې بهېږی هم د هغه علاقې په نامه یادېږی - لکه د میچنې سیند به وأخلو - دا سیند په بروغل کې «د بروغل سیند» وادی یارخون کې «د یارخون سیند» مستوج کې «د مستوج سیند» چترال کې «د چترال سیند» کونړ رافغانستان کې «د کوتړ سیند» او میچنې (پېښور) په علاقه «د میچنې سیند» په نومونو یادېږی.

دغه شان د اټک سیند چې د اټک له سیمې تېرېږی، نو د خپلو نورو نومونو سره پخوا هم د اټک سیند یا اټک دریاب په نامه یادېدو - او نن هم د اباسین سره د اټک سیند یا اټک دریاب په نامه یادېږی - او ددې ثبوت دا دے چې د اکبر بادشاه درباری شاعر فیضی دا سیند د اټک دریاب په نامه هم یاد کړے دے، وائي:

نامه نوشتم به خان ختک را
که پل بندی کنید به دریای اټک را

چونکې اکبر بادشاه د مرزا حکیم په تعاقب کې د

اټک قلا د تعمیر نه وړاندې دغه علاقې ته راغلي وُ چې خانِ ختک یعنې ملک اکوړی ته یې د بادشاهی لارې د حفاظت په بدله د خیرآباد نه تر نوښاره پورې علاقه په طور د جاګیر ورکولو نه علاوه په بادشاهی لار د ښاروو په ټګ راټګ د محصول وصولولو اختیار هم ورکړے وُ، او یقیناً چې ذکر شوے شعر به فیضی اټک ته په وړومبی وار د اکبر بادشاه د راټګ او بیا دار الخلافې ته د واپسۍ نه پس د بادشاه په هدایت ویلے وی ـ ځکه چې د اټک قلا بند بنا اکبر بادشاه په ۹۸۹ھ کې دغه علاقې ته د راتلو په موقع شومې وه.

مطلب دا دے چې د اټک قلا د جوړولو نه وړاندې فیضی په خپل شعر کې سند ساګر یا نیلاب د اټک په نامهٔ هم یاد کړے دے ـ ځکه نو دا مفروضه غلطه شوه چې ګنې د "اټک" کلمه د اکبر بادشاه د ذهن اختراع وه.

بیا "پټه خزانه" کې د بسکارندوی د هغو دوو شعرونو په حقله چې په کې دوه ځلې د اټک کلمه راغلې ده داسې اعتراض شوے دے.

"دیو د واړو شعرونو کې "اټک" د اباسین په معنو کې استعمال شوے دے" ـ دغه اعتراض کې د دې

خبرې ثابتولو کوشش شوی دی، چې کنی "اټک" په پښتو کې لاتر اوسه چا د اباسین په معنو کې نهٔ دی پکار وړلی. د دې اعتراض وضاحت داسې کولی شی:

"اټک په پښتو کې هېچرې د اباسین د پاره نهٔ دی استعمال شوی، او کهٔ چا ترې د ا معنیٰ وښکلې ده نو "اټک" نه بلکې "اټک سیند" یې یاد کړی دی."

د اشرف خان هجری پهٔ دغه شعر کې کهٔ د "اټک"، نه څوک د اټک سیند معنیٰ نهٔ اخلی. نو دا د هغهٔ خپله خوښه. البته لوستونکی دې ولولی او خپله دې فیصله وکړی چې د دې شعر کې د اټک معنیٰ د اټک سیند ده او که نه؟.

ما هاله ماتم د ځان وکړو پهٔ وینو
چې اټک و ته مې شاکړه پهٔ ژړا شوم

او کهٔ څوک دا ف وایی چې د د ې مقصد د اټک غرونه هم کېدلی شی، خو دا به صحیح ځکه نهٔ وی چې یو بل ځای کې هجری وایی:

لوی فلک لهٔ خندا شین شو لهٔ هوسه
چې هو ډی جبل پهٔ مخ زهٔ ورته شا شوم

او هم پهٔ اټک د پورې وتلو غوندې چې د

نربدا په دریاب پورې وتو، نو وئیلي یې وو:

د هوس په ښکر برات د وصل مخ شه
چې راپورې په ندۍ د نربدا شوم

خو بیا هم که څوک د اشرف خان هجري په ورومبي ذکر شوي شعر کې د "اټک" له کلمې د "اټک سیند" په معنیٰ کې د شک گنجایش ته ځای ورکوي۔ نو د خوشال بابا د دغه شعر په حقله به آخر څه دلیل پیش کړے شي؟۔

مروّت یاري ترې مه غواړه خوشحاله!
هر سړے چې اوبه وڅښي له اټکه

زما په خیال د خوشحال بابا دا ډیر واضحه شعر د دې اعتراض چې "اټک به پښتو کې هېڅرې د اباسین د پاره نه دے استعمال شوے۔"

یو داسې واضحه تردید دے۔ چې د دغه ضمن کې د نورو ټول بحث دروازې یې بندې کړې بیا هسې هم که څوک دا وایي چې فلانے په اټک پورې وتو۔ نو آیا مانه به د دې پوښتنې اجازه وی چې دلته به د "اټک" نه د اټک سیند مطلب وی او که نه؟۔

بیا د ښکلاندوي یو شعر کې د "سال" د کلمې په جمع

«سالونه» داسې اعتراض کړی:

« پټه خزانه » یې یو ځل جمع «سالو» او بل ځای «سالونه» بیانوی ـ پښتو کې د کال جمع هم کله کله پهٔ مغیره حالت کې پهٔ « کالو » او معمولاً «کالونه» کېږی ـ خو هر کله چې د «نه» جمع معمولاً هغه اسماً کې راځي چې شمېرلے نهٔ شي ـ ځکه نو د سال (شکله) جمع پهٔ دې قاعده « سالونه » صحیح نهٔ ده ـ»

دپورته اقتباس د اعتراض پهٔ جواب کې د خوشحال بابا دا شعرونه باید لږ پهٔ غور ولوستلے شي.

څود ملک وارث ونهٔ وهی سرونه
هومره چېری قراربږی سمې غرونه

* * *

ننګ یواځې څهٔ پهٔ ما راغلے نهٔ دے
پښتانهٔ ډېر دی پهٔ غرونه پهٔ سمونه

* * *

خیل خانه مې شوه په غرونو
پرې کارونه پېښ عجب شول

* * *

مونږه د بادشاه یو وقدیمی دولت خواهان
یو مې نام بدبږی بل ستېږی افغانان

* * *

زهٔ خوشحال خټک هغه یم قدر نهٔ شته
دا مې واړه لهٔ افغانو نه افغان شی

دغه شعرونو کې د «غر» جمع «غرونه» او «غرونو» د «سمه» جمع «سمې» او «سمونه» او «افغان» جمع «افغانان» او «افغانو» شوې ده - خصوصاً بیا د «سمه» او «افغان» جمعې پر له پسې «سمونه» او «افغانو» نهٔ خو پهٔ مغیره حالت کې او نهٔ معمولاً شوې دی - بلکې د شعری ضرورت لهٔ مخه شوې دی - او پهٔ دغه شعری ضرورت نهٔ صرف پښتو شاعرۍ کې بلکې د فارسۍ او اردو ژبو د پیرو لویو شاعرانو هم عمل کړے دے.

بیا د خوشحال بابا دا شعر؛

چې د شعر فکر ورشی پهٔ خواږه شی
سپینې وریژې پهٔ مزه شی ورته کال

«کال» پهٔ فارسۍ کې «غُبست» ته وایی - او «کال» هم پهٔ هغو اسماؤ کې راځی چې شمېرلے نهٔ شی.

. آیا زهٔ اوس دا پوښتنه کولے شم چې د «کال» جمع به پهٔ مغیره حالت کې «کالو» صحیح وی او کهٔ معمولاً به یې جمع «کالونه» سمه وی؟ او کهٔ «کالونه» صحیح وی - نو بیا د «سال» پهٔ جمع «سالونه» آخر د اعتراض پهٔ کومه جذبه شوے دے؟.

د اینګرانېزم بل مثال د بي بي حلیمه حافظه په باره کې دے. ددې اعتراض نه مقصد داد ے چې هرکله د حضرت مجدد الف ثانيؒ مکتوبات د هغوی په ژوند (۱۴ شوال ۹۷۱ھ ۲۹ صفر ۱۰۳۴ھ) د درېو بیلو، بیلو دفترونو په ځان ځانله نومونو لکه درّ المعرفت، نور الخلایق او معرفت الخلایق یادېده؛ چې وروستو بیا کال ۱۲۷۵ھ یا دې نه پس دغه درې واړه جلدونه د «مکتوبات امام رباني» په نامه د رائے بهادر منشي نول کشور بهارګوا په مطبع کې چاپ شول. دا اعتراض په دغو الفاظو شوے دے.

«په دې لحاظ هرکله چې د نول کشور مطبوعات په دیارلسمه صدۍ کې شروع شوي دي. نو موږ به په یقین سره دا وویلے شو چې «مکتوبات امام رباني» تاریخي نوم دے او ځکه د حلیمه حافظه د پاره دا هډو ممکنه نهٔ وه چې د خپله مرګه دوه سوه کاله پس د «مکتوبات امام رباني» مشکلات حل کړي ځکه چې حضرت مجددؒ مکتوبات په دغه زمانه د حلیمه حافظه لهٔ مرګه پس په دیارلسمه صدۍ کې مرتب او چاپ شویدي.»

دا اعتراض هم لکه د تېرو ټولو اعتراضونو هېڅ

ارزښت نهٔ لري ـ ځکه چې د اسلامیه کالج پېښور پهٔ لائبریرۍ کې د « مکتوبات امام ربانی » پهٔ نامهٔ د فارسی کومه اصلی قلمی نسخه د « عدد مسلسل ۹۳۹ » پهٔ نمبر موجوده ده ـ د دې قلمي نسخې پهٔ فهرست د کتاب نوم پهٔ دغه الفاظو درج دے ۰

« فهرس جلد اول مکتوبات امام ربانی مجدد الف ثانی رضی الله تعالیٰ عنهٔ »

جلد اول نه مقصد « دُر المعرفت » دے چې د حضرت مجدد الف ثانیؒ خلیفه مولانا یار محمد الجدید البدخشی الطاقانی پهٔ کال ۱۰۲۵ هـ کې جمع کړے دے او د اهل بدر د شمېر مطابق پهٔ درې سوه دیارلس (۳۱۳) خطونو مشتمل دے ۰

ذکر شوې خطي نسخه پهٔ ۹ / رمضان المبارک ۱۰۸۳ هـ کې لیکل شوې ده ـ او صرف وړومبی جلد ته پهٔ کې « مکتوبات امام ربانی » ویُلی شویدی ۰

د دې قلمي نسخې حقیقت د دې دعوې تردید کوي چې ګڼي « مکتوبات امام ربانی » د هغو دریو دفترو مجموعې ته وایي ، کوم چې پهٔ دیارلسمې صدۍ کې مرتب او چاپ شوي دي او د ډېره ممکنه ده چې هم ذکر شوې خطي نسخه یا د دې کوم نقل د بي بي حلیمه حافظه د مطالعې لاندې راغلے وي ۰

زلمی هېوادمل

پټه خزانه

او د سرحد پښتانه

پټه خزانه د پښتو شاعرانو یوه تذکره ده چې د ۱۱۴۱ـ ۱۱۴۲ هـ کلونو ترمنځ په کندهار کې لیکل شوې او متاخره (دریمه) نسخه یې د سهېلي پښتونخوا (بلوچستان) په مرکز کوټه کې پیدا شوې او په لومړي ځل په ۱۳۲۲ هـ، ش ـ ۱۹۴۴ ع کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

پر پټه خزانه تحشیې او تعلیقات د افغانستان او سیمې لوی عالم علامه پوهاند عبدالحی حبیبي کښلي دي.

پټه خزانه له ۱۳۲۳ هـ، ش نه تر اوسه څلور ځله په کابل کې، یو ځل په پېښور کې او یو ځل په جرمنی کې د میشت افغان ښاغلی امام الدین صافي

په همت چاپ شوې ده ، درې لومړني چاپونه يې دري (فارسي) ترجمه هم ورسره لري ، په دريم چاپ کې يې د خطي نسخې عکسي متن هم ورسره چاپ شوی دی . اما په څلورم او پنځم چاپ کې فارسي ترجمه ورسره نه ده چاپ شوې .

ددې خزانې ځانګړې : انګريزي ، روسي او آلماني ترجمې هم د پښتو څېړنو بين المللي مرکز خپرې کړې دي ، فرانسوي او عربي ترجمې يې هم د بشپړېدو په حال کې وې چې افغانان او افغانستان له اوسني ناورين سره مخامخ شول ، فرهنګي او علمي مؤسسې يې تالا شوې او دا ترجمې هم بشپړې نه شوې .

د پټې خزانې د لومړۍ او دريمې خزانې اکثر مطالب په وارو ، وارو په اردو ژبه هم ترجمه شوي دي او د سرحد د سيمو او پاکستان د پوهانو له خوا د پښتو ادبياتو په ارتباط ليکل شويو څېړنيزو آثارو کې چاپ دي .

کله چې دا قيمتي خزانه کشف او خلکو ته وړاندې شوه ، د هغه وخت د عکس العملونو څخه خپله نه يم خبر . ځکه زه لا هغه وخت زوکړې نه وم . خو کله چې سړی د دې کتاب په ارتباط وروستي

څېړني ګوري، نو ښکاري چې ددې کتاب پیداکېدو او کشف او بیا چاپ د پښتو او پښتنو د دښمنانو په کور عظیمه زلزله راولستې او ځینو بیا ددې کتاب او ددې اثر د پیدا کوونکي او فاضل محشي د بې اعتبار کولو لپاره مذبوحانه تلاښونه لاس اچولي دي.

هغه لیکنې چې د ځینو کسانو له خوا دلته او هلته د یوه او بل له خوا پر دې کتاب شوي، زیاتره یې داسې لیکنې او یادونې دي چې د یوه خاص سیاسي ذهنیت او د پښتو او پښتون ولس په مقابل کې له مخاصمانه ذهنیت نه رازیږیدلي بوغ ویې دي چې نه علمي اساس لري او نه په منل شویو علمي پرنسیپونو ولاړ دي.

زموږ په پښتونخوا کې د سرحد پښتنو ته هم دا کتاب تر چاپ وروسته په بیلا بیلو مواقعو کې ور رسیدلی دی. هغه څه چې ددې کتاب په باب ددې سیمې د ځینو ښاغلیو له خوا لیکل شوي او یا څه د یو او بل له خولې اورېدل کېږي، ددې ټولو لیکنو او اوریدنو له مطالعې او ارزیابۍ سره دې نتیجې ته رسېږي چې په دې سیمه کې زموږ د پښتنو ورونو برداشتونه له دې کتابه مختلف دي.

زما په پوهه د سرحد د پښتنو په علمي او فرهنګي حلقو کې د پټې خزانې په باب څلور ډلې یا څلور ډوله

نظرونه سرېږې مطالعه کړلې او ليدلای شي - زهٔ په دې ليکنه کې دغه څلور سره ډلې ښيم او د دوی په نظرياتو د موجوده اسنادو، دلايلو او شواهدو په رڼا کې خبرې کوم.

(۱) ددې سيمې په پښتنوکې يوه هغه ډله ده چې دا کتاب يې د پښتو ديو کتاب په توګه منلے دے او د عام علمي ذهنيت تر اغيز لاندې - چې کهٔ يو کتاب ديوې ژبې د ويونکو په هره جغرافيايي ساحه او فرهنګي حوزه کې ليکلی شوی وي پرته له هر ډول سياسي، سيمه ييز او قبيله يي تمايله دهغې ژبې مال ګڼل کېږي او په ټولو ويونکو يې اړه لري - دوی هم دا کتاب دخپلې ژبې مال ګڼلے او په ټول پښتون قوم پورې يې مربوط بللے دے نو ځکه يې پر کتاب او محشي تورونه نهٔ دي لګولي؛ بلکه د زياتره افغانانو غوندې يې لهٔ دې کتابه دخپلو ادبي څېړنو په بشپړاينه کې استفاده کړې ده.

ددې ډلې تعداد لږ نهٔ دے. بلکه ښايسته زياتو پښتنو څېړونکيو او پوهانو ددې کتاب له چاپ وروسته دې سيمې ته لهٔ رسېدو سره سم تر ننه پورې ښهٔ د مزې استفاده ترې کړې ده او د پښتو ادب دتارېخ ستنې يې ددې کتاب پر محتوياتو او په دې کتاب کې راغليو پاړکو ودرولي دي.

(۲) د لوړې منونکې ډلې تر څنګه موږ وینو چې زموږ په دې فرهنګي حوزه کې ځینې داسې شخصیتونه هم وو چې علمي پرنسیپونو ته په پاملرنه، کله چې یې له دې کتابه په خپلو آثارو کې استفاده کړې ده، نو یې دغه اثر ته په انتقادي نظر کتلي دي او د دې اثر له نقده وروسته یې له دې کتابه استفاده کړې ده.

د علمي معیارونو په نظر کې نیولو سره چې چا له دې کتابه استفاده کړې ده هغه ارواښاد دوست محمد خان کامل مومند (۱۹۱۵- ۱۹۸۱ع) دے. دوی چې په خپلو دوو کتابونو: خوشحال خان خټک او رحمان بابا او هدارنګه په خپلو نورو لیکنو کې له پټې خزانې استفاده کړې ده، نو یې انتقادي روش په پام کې ساتلے دے.

ارواښاد استاد کامل د تحقیق په میتودونو د پوره عالم په توګه، چې کله خپل کتاب خوشحال خان لیکه، نو یې د خپلو نورو ماخذونو د معرفۍ او ارزیابۍ په ترڅ کې پټه خزانه هم د خپلو ماخذونو په ۱۵مه نومره معرفي او بیا ارزیابي کړې ده، زه د پټې خزانې په باب د دوی هغه نظریات دلته راوړم:

ترجمه: «پټه خزانه: د محمد هوتک تألیف، د جناب

عبدالحی خان حبیبی له فارسی ترجمې حواشیو او تعلیقاتو سره د ۱۳۲۳ شمسی ۱۹۴۴ع کال، د کابل چاپ.

په دې کتاب کې له لرغوني زمانې (کابو ۱۲۰۰-کاله پخوا) نیولے ان د مؤلف تر زمانې پورې د ځینو پښتنو شاعرانو مختصر احوال د دوی د کلام له نمونو سره راوړل شوی دی، چې په دې ډله کې خوشحال خان، د دهٔ زوی عبدالقادر او د دهٔ یوه لور حلیمه حافظ هم شامل دی.

دا کتاب مؤلف د ۱۱۴۱هـ، ق کال د جمادی الاخر په ۱۶مه د (۱۷۲۹ع جنوری) پیل کړے او د ۱۱۴۲هـق کال د شوال په ۲۷مه د (۱۷۳۰ع کال په می) کې یې پاے ته رسولے دے.

دا کتاب په مجموعی ډول یو مهم کتاب دے، خو په دې کتاب کې ځینې اړوبدلې روایات هم راوړل شوی او ځاے په ځاے ځینې تاریخی غلطۍ هم په دې کتاب کې شته.

ترکومه ځایه چې په خوشحال خان پورې اړه لری، دا کتاب زموږ په معلوماتو کې اضافه نشی کولاے، خو د عبدالقادر خان او حلیمه حافظ پورې مربوط مونږ ته څو نوې خبرې له دې کتابه په لاس راځي او دا کتاب تر دې حده ضرور د

خوشحال خان پر احوالو اضافي رڼا اچولې شي ...» (۱)

دا لوړ نقد سره له دي چې ډېر لنډ دی، خو د دې تر څنګه کلي او د کتاب ښېګڼو او بدګڼو دواړو ته اشارې لري او زما د معلوماتو له مخې په خپل ذات کې لومړنی سالم نقد دی.

ارواښاد استاد کامل د پټې خزانې په باب خپل دغه نظر د ژوند تر پایه نه و اړولی، خو دا چې ځینې کسان وايي چې استاد کامل هم دا خزانه نه منله دا خبره سمه نه ده، ځکه استاد د پټې خزانې په باب خپل لوړ نظر د ژوند تر پایه نه رد کړی او نه ترمیم کړی دی. دوی په خپلو مخامخ بحثونو کې هم د پټې خزانې په باب دغه نظر درلود او دا به یې ویل:
«جعلي کېدی خو نه شي اما غلطیانې ضرور لري»

(۳) د دې سیمې له فرهنګیانو څخه یوه بله ډله هغه ده چې زه یې باید په دې تصنیف کې منکران وبولم، دا ځکه چې دوی د پټې خزانې قدیم وجود نه مني او دا کتاب د شلمې پېړۍ مولود ګڼي.

زما د مطالعې له مخې د منکرانو ډله بیا په خپلو کې په دوو ډلو وېشل کېدای شي:

الف: هغه ډله چې د ځینو مستشرقانو په زیاته د اسلامي انسایکلوپیډیا په دوهم چاپ (۱۹۶۰ع) کې د

پټې خزانې پۀ باب د فقید پروفیسر مارګنسټیرن (۱۸۹۲-
۱۹۷۸ع) د مشکوکو خبرو تر اغېز لاندې راغلي او یا
د ځینو ځانګړو ذهني ګرایشونو پۀ اساس له دې کتابه
منکر شوي دي ؛ پۀ هغوی کې یو هم اروا ښاد دوکتور
خیال بخاري (۱۹۹۰ع مړ) دے ، چې لنډ ګنډ یې یو
ځاے نیم داویلي دي چې زۀ داکتاب نۀ منم.

ترکومه ځایه چې زما مطالعه ده ، د دې کتاب د نه منلو
پۀ باب دۀ خپل مفصل نظریات نۀ دي نشر کړي ، کۀ
د دوی نۀ منل د مستشرقانو د نظریاتو تر اغېز لاندې
وي ، نو د دغه مرحوم منکر پۀ ځواب کې باید ولیکل
شي ، چې ختیځ پوهان (مستشرقان) لکه موږ غوندې
نۀ دي چې کله د یوې موضوع پۀ باب کوم ذهنیت
پیدا کړو ، کۀ دا ذهنیت ناسم هم وي پرې ټینګ
ولاړ یو . . مستشرقان مطالعه کوي - د مطالعې او نویو
حقایقو پۀ کشفولو او د نویو اسنادو پۀ رامنځ ته کېدلو
سره پۀ خپلو نظریاتو کې ترمیم راولي او پۀ دې توګه
د علم او څېړنې لۀ پرمختګ سره مرسته کوي. اما
فقید مارګنسټیرن چې پۀ ۱۹۶۰ع کال کې یې د پټې خزانې
پۀ باب څۀ مشکوکې خبرې بیان کړې وې ، هغه یې
پۀ خپل هغه لیک کې چې یې پروفیسر بوساني ته
استولے و ، بنې پسې سپینې او توضیح کړې . بوساني

دا لیک په خپل کتاب د پاکستان او افغانستان ادبیات د (۱۹۶۷ع) کال چاپ) کې خپور کړے دے.

دا لیک فقید پروفیسر مارګنسټیرن د پټې خزانې په باب له خپلو ۲۳ کلنو څېړنو وروسته کښلے ؤ. د دې لیک ځینې خبرې دا دی:

«پټه خزانه په رښتینه هغه نادره او مغتنمه ګنجینه ده چې د پښتو ژبې او ادب یوه نه اټکلېدونکې ګرانبیه پانګه یې له ورکې ژغورلې" او د تاریخ حافظې ته یې سپارلې ده» (۲)

زموږ هغه پښتانه تعلیمیافته چې دغسې ناآګاهانه د نورو په خبرو پسې تللي، که اصلي منبع (چې دوی یې بې لارې کړي دي) له خپلې خبرې واوري دوی بیا هم په خپله نامه خبره ټینګ وي.

زموږ په افغانی کلیوالي فرهنګ کې یو متل دے چې «مدعي له خپلې دعوې تېر شو، خو شاهد له خپلې شاهدۍ نه نه تېرېږي» دغو د ناحقې شاهدانو ته په کار وو، چې دوی د نورو په خبرو پسې نه واے ګرځېدلی، بلکه خپله یې دا کتاب په ژوره مطالعه کړے واے او بیا یې د خپلې مطالعې په نتیجه کې خپله رایه قایمه کړې واے.

زه په دې باور یم چې د دې سیمې د زیاتړو

پښتنو پهٔ څېر اروا ښاد بخاري هم دا کتاب نهٔ ولوستے. دغو ښاغليو چې د پټې خزانې پهٔ باب يې تش شکوک اظهار کړي او اروا ښاد خيال بخاري يې سړے نماينده بللے شي. کهٔ د ځينو مستشرقانو د ځينو مشکوکو خبرو تر اغېز لاندې او يا هم د ځينو نورو عواملو او ذهني پرېشانيو پهٔ وجه دا کتاب نهٔ دے منلے، خو څنګه چې يې خپل نظريات د نهٔ منلې پهٔ اړه مشرح نهٔ دي خپاره کړي، نو ځکه زيات بحث پرې نهٔ شي کېدلے.

ب، د منکرانو بله ډله هغه ده چې د پټې خزانې پهٔ باب يې څهٔ نشر کړي او د خپلې نه منلې دلايل يې ښودلي دي. له دې ډلې سره زموږ څهٔ مشکل نهٔ شته، ځکه خپل دلايل يې ويلي دي. د خپلو دلايلو پهٔ وړاندې به د نورو دلايل هم اوري د علم، څېړنې او تنقيد تقاضا وې او غوښتنې هم دا دي چې د دواړو خواوو دلايل بايد واورېدل شي. پهٔ دې ډله کې قديم سړے اروا ښاد سرفراز خان عقاب خټک (۱۹۱۱ - ۱۹۸۴ع) دے چې د پټې خزانې د نهٔ منلې پهٔ ارتباط يې خپل نظر څرګند کړے دے. زهٔ به لومړے د پټې خزانې د نهٔ منلې پهٔ باب له دهٔ نظريات راوړم او بيا به د دوی د نظرياتو پهٔ شا وخوا

کې خبرې وکړم چې څهٔ یې د منښې دي او څهٔ یې د نهٔ منښې.

نوموړي اروا ښاد د خپل اثر (رحمان بابا) د کتابګوټي د لومړي مخ پهٔ حاشیه کې د پټې خزانې پهٔ باب کښلي دي: « دا فرضي کتاب د محمد بن داؤد خان قندهاري پهٔ نوم جوړ کړے شوے دے او پهٔ ۱۹۴۴ع کې عبدالحی خان حبیبي صاحب سره د ایراني ترجمې او حواشي د کابل نه چاپ کړے دے. د کتاب د سن تصنیف ۱۱۴۲ھ نه دا تذکره د رحمان بابا پهٔ ژوند باندې د غونډې نه او لئے کتاب ښکاري، خو في الواقعه دا کتاب د مبینه تاریخ تصنیف نه تقریبًا دوه سوه او درویشت کاله وروستو لیکلے شوے دے.

د کتاب د مستند ښکاره کولو لپاره د پېژندلیو شاعرانو د ژوندون صرف هغه حالات پهٔ کې بیان کړے شوي دي، کوم چې پهٔ بله ذریعه هم ثابت کړے شوي دي. د رحمان بابا د زېږېدلو او مړېدلو دواړه تاریخونه غلط ورکړے شوي دي.

یونس خان شاعر ته د رحمٰن بابا شاګرد ویلے شوے دے، ګویا چې رحمٰن بابا د شاعرۍ مکتب هم خلاص وو. د کتاب د پاره د داسې زمانې انتخاب کړے شوے دے، چې د پښتو د ټولو نه مقبولو شاعرانو

خوشحال خان خټک او رحمان بابا ذکر پهٔ کې راشي» ددې کتاب د جعلي ثابتولو دا موقعه نهٔ ده ، ما پهٔ خپل کتاب کې د پټې خزانې نه یو سند هم نهٔ دے اخستے»(۳)

ددې نظر نه اته کاله وروسته دهٔ پهٔ خپله یله مقاله (د رحمان بابا د وفات تاریخ) کې چې یې د بانګ حرم اخبار د ۱۹۶۷ ع کال د نومبر د ۲۸ مې نېټې پهٔ ګڼه کې خپره کړې هم دې کتاب ته جعلي ویلے دے ۔ د دهٔ وروستۍ مقاله چې یې تر مرګ یو کال وړو سته پهٔ خوشحال ریویو کې خپره شوې ده ۔ د پټې خزانې پهٔ ارتباط پهٔ دې مقاله کې هم بې مورده څهٔ یادونې ور اضافه کړې دي ، بې مورده مې ځکه ورته وویل چې د مقالې عنوان دے «کابلے دیوان خوشحال» اما اروا ښا د عقاب د خپلې ذهني غوښتنې لهٔ امله پهٔ دې مقاله کې هم د پټې خزانې سندونه بیا تکرار کړې ده . زهٔ اړیم چې د دوی دغه خبرې هم دلته راوړم .

اروا ښاد عقاب لیکلی دی :

« د پاکستان او افغانستان د څنو عالمانو او د بهارت روس ، برېتانیا او امریکه د څنو مستشرقینو غوندې هیچمدان راقم الحروف هم پټه خزانه ته پهٔ خپل یوهٔ تألیف رحمٰن بابا ژبنتو مطبوعه پېښور ۱۳۷۸ — ۱۹۵۹ مخ (۱ څخه ۵) او پهٔ خپل یوه مضمون په "د رحمان بابا د وفات تاریخ"

(مطبوعه اخبار بانگ حرم پېښور مورخه ۲۸-۱۱- ۱۹۶۷ع) کې جعلي کتاب بللے دے. د دغو اعتراضونو پهٔ سبب - پوهاند حبیبي، پهٔ چا چې د «پټه خزانه» د جعلي الزام دے. د دغه کتاب پهٔ دریمه طبع (۱۳۵۴هـ) کې د کتاب د اصلیت پهٔ دفاع کې د څلورڅلوښتو مخونو دیباچه ولیکله چې هسې پهٔ تیارې کې یې کاڼے ویشتلے، خو موږ ته پهٔ هغې د بحث کولو حاجت نشته.

د «پټه خزانه» د دریم اشاعت نه تقریباً یو کال بعد ښاغلي حبیب الرحمٰن مومند قلندر «پټه خزانه پهٔ جعلیت یو مضمون پهٔ میاشتنۍ پښتو رسالې «پښتو- پېښور» مارچ ۱۹۷۶ع شایع کړې وُ چې عنوان یې وُ «پټه خزانه في المیزان» خو متعجبانه پهٔ خپل مضمون کې یې د «پټه خزانه» د دیباچې دریم چاپ دیباچې ته هیڅ اشاره نهٔ وکړه.

او د متذکره بالا مضمون د چاپ کېدلو نه تقریباً دوه کاله بعد چې پوهاند حبیبي «پټه خزانه» څلورم اشاعت (معرا، ۱۳۵۶ش) چاپ کهٔ، پهٔ هغهٔ کې یې د ښاغلي قلندر د مضمون هیڅ ذکر نهٔ وکهٔ.

د پوهاند حبیبي پهٔ پټه خزانه (څلورم ځل) کې بیا د نن ورځې پورې د ښاغلي قلندر د مضمون د ځواب نهٔ کولو مطلب د دې نه بغیر بل څهٔ نشي کېدلے، چې

د ښاغلي قلندر درست اعتراضات دُرست دي او
پوهاند حبيبي يې د ځواب کولو مخه نهٔ ونيوه-
اګرکهٔ د ښاغلي قلندر اکثر اعتراضونه بالکل
پهٔ ځای دي.

د هغو دواړو ښاغليو د ليکلو نه قطع نظر، د دغې
حقيقت به څهٔ ځواب کېږي. چې پټه خزانه في-
الحقيقت څهٔ څنګه کتاب نهٔ دے، ويلي چې
دا پهٔ مبينه طور پهٔ ١١۴١هـ/ ١٧٦٢ کې ليکلے شوے دے.
خو سره د دومره څهٔ کوم چې د پټه خزانه د جعليت
پهٔ باره کې اوليکل شول څُنه خلک پهٔ پټو سترګو
د "پټه خزانه" نه حوالې اخلي او د خپله لوريه د
هېڅه قسم تحقيق يا تدقيق نه پهٔ کې کوي او پهٔ
داسې کولو او د راتلونکو کارکوونکو پهٔ ليار کې کوهے
کندي. ويلے چې دا متاخرين خو به د "پټه خزانه"
هغه مندرجات بلا حيل و حجت قبلوي کوم چې د
دوی سابقينو دُرست منلي دي او بلا تعرض
يې پرېښلي دي او کومو ته چې د وخت پهٔ تېرېدلو
نوره تبرک هم حاصل شوے دے.

مونږ پهٔ کابل کې د پوهاند حبيبي سره د خپل ذکر
شوي ملاقات پهٔ دوران کې د هغهٔ نه پهٔ پټه-
خزانه کې د واقع شويو څُنو غلطيانو پهٔ باره کې

پوښتل غوښتل .

(۱) مصنف د کتاب پهٔ لیکلو د پیل کولو ورځ د دریم پهٔ ځای جمعه لیکلې ده .

(۲) د خان علیین مکان د رنتهمبور نه د خپل کورته د راتلو کوم بیان چې د فارسي کتاب «تاریخ خورشید- جهان» نه بلا اعتراف اخسته شوه ده ، هغه د «تاریخ مرصع» د هم دغې واقعې د مذکور نه خلاف او غلط دے ، هرکله چې «تاریخ مرصع» یو معاصر او د خان علیین مکان د یوهٔ لمسی تالیف دے .

(۳) د خلیفه عبدالقادر نقشبندی شهید د پیدائښت تاریخ یې د ۲۵-۱۲-۱۰۶۳ پهٔ ځای ۲۳-۶-۱۰۶۱ راوړی .

(۴) د عبدالرحمن مومند د مړینې تاریخ یې د ۱۱۲۳ (یا ۱۱۲۵) پهٔ ځای ۱۱۱۸ ورکړه .(۴) تم کلامهم .

مخکې تردې چې د ارواښاد عقاب خټک د دغو یادونو پهٔ خصوص کې څهٔ عرض کړم ؛ غواړم لهٔ دوی سره د خپلې یوې لیدنې لنډ گزارش دلته ولیکم ، دا لیدنه له دې موضوع سره هم څهٔ اړه لري .

د ۱۹۷۹ع کال پهٔ مئی کې موږ (گران مشر رفیع- او ما) د ژوب له لیارې کوټې ته د تللو اراده درلوده . د ژوب گاډي د شپې له خوا له سبو حرکت کاوه . گران

مشر ښاغلی همېش خلیل او استاد طاهر کلاچوی ته زموږ د ورتګ خبر له مخه پهٔ ټلفون کې ورکړې و. موږ پهٔ ټاکلې ورځ بنو ته ولاړو؛ بنو ته لهٔ رسیدو سره سم راساً د مرحوم کلاچوی قومي دواخانې ته ورغلو. پهٔ دې دواخانه کې مو لهٔ درانهٔ مشر او استاد عقاب خټک سره هم ملاقات وشو. دهغه ملاقات او دهٔ د درانهٔ پښتانهٔ او عالمانه شخصیت اغېزې وې ـ چې زهٔ یې، دهٔ تر مړینې وروسته د دهٔ د مقالو دېرې مجموعې چاپ ته آماده کولو ته اړ ایستلم. دا مجموعه پهٔ ۱۳۶۵هـ، ش کال پهٔ کال کې چاپ شوه.

پهٔ دې ملاقات کې موږ د پښتو ادبیاتو پهٔ بېلابېلو مسایلو خبرې وکړې، د دې خبرو پهٔ ترځ کې پر پټه خزانه هم بحث وشو. دهٔ هلته هم وویل چې پټه خزانه جعلي کتاب دے؟ څنګه چې وخت ډېر نهٔ و، نو ما لهٔ دهٔ څخه ډېر تفصیلات و نهٔ غوښتل، صرف دومره مې ورته وویل:

تاسې پټه خزانه لوستې؟ دهٔ هم رښتیانې ځواب راکړ او دروغ یې ونهٔ ویل پهٔ ښغه یې راته وویل چې ما ګرد سره لیدلې نهٔ ده.

دهٔ د دې ځواب سره سم ما ته پهٔ ذهن کې

وګوځېدل چې چا یو کتاب لیدلے نهٔ وي نو څنګه یې د جعلیت حکم کولاے شي. اما د دوی د مشرتابه د احترام د ساتنې پهٔ خاطر مې اضافي څهٔ ونهٔ ویل خو ګران رفیع صاحب ته مې وکتل او بیا مې د مجلس د نزاکت د ساتلو پهٔ خاطر دوی ته مخ راواړوه، چې پټه خزانه څلورم ځل هم مونږ پهٔ کابل کې چاپ کړې ده- چې مونږ پهٔ خیر کابل ته لاړ شو تاسې ته به یې یوه نسخه ورواستوم.

هماغه وُ، چې کله پهٔ ۱۹۸۱ع کال کې ښاغلے دوکتور فضل الرحیم مروت کابل ته راغے، نو دهٔ ته مې د څلورم چاپ یوه نسخه ورواستوله، لهٔ دې بیان څخه مقصد دا وُ چې ارواښاد عقاب تر دې وخته پټه خزانه لوستې لا څهٔ چې حتیٰ لیدلې هم نهٔ وه.

ارواښاد عقاب چې کله کابلے دیوان خوشحال نومې مقاله کښلې او هلته یې هم پر پټه خزانه ټکونه کړي دي. دا وخت د پټې خزانې څلورم چاپ لهٔ دهٔ سره وُ، اما متاسفانه چې دې یادونه کې هم دهٔ پر دې کتاب عالمانه نقد، لکه څنګه چې د عقاب غوندې یو عالم نه یې امید کېده، نهٔ دے کړے او لهٔ خپل هغه پخوانی چوکاټ نه چې یې پهٔ خپل ذهن کې د پټې خزانې لپاره تعین کړے وُ، نهٔ دے

وتلې. کاشکې دغه اوس ژوندی وای چې دده داعتراضونو (۱) په باب مو خبرې ورسره کړې وای خیر دی اوس مړ دی، الله تعالیٰ دې وبخښي خو موږ خپل فرهنګ ته د مسؤلیت لرلو په احساس اړیو چې د دوی په دې شکوکو او په اصطلاح اعتراضونو هم خبرې وکړو.

الف، رحمن بابا نومي کتاب کې د اروا ښاد عقاب داعتراضونو په ارتباط توضیحات:

(۱) اروا ښاد عقاب چې په خپل دغه کتاب ګوټي کې د پښتو خزانې په باب کوم یادښت لیکلی دی د یادښت په پیل کې یې په قاطعیت سره ویلي دي چې دا کتاب د مبینه تاریخ تصنیف نه دوه سوه درویشت کاله وروسته لیکل شوی دی. د دې خبرې معنیٰ دا ده چې دا کتاب زوړ نه دی او نوے لیکل شوی دی.

په اصولو اګاه هر لوستونکی چې د اروا ښاد عقاب دا نظریه وګوري. وار له واره پوهېږي چې ښاغلي لیکوال د دلایلو له ارایې مخکې خپله عقیده څرګنده کړې ده او که له دې خبرې وروسته هر څو مره دلایل را هم وړي. نقادان پرې باور نه کوي او دا ځکه چې نقاد د اثر په باب تر نقد او

ارزیابۍ د مخه خپل نظریات څرګند کړي دي.

د نقد او تحقیق په رموزو پوه لیکوال او فرهنګ ته متعهد نقاد د اثر په باب خپل شواهد، دلایل او په موضوع کې د بیلابیلو څانګو د محققینو د تحقیق نتایج وړاندې کوي او بیا د هغو دلایلو شواهدو او نتایجو پر بنا خپله نظریه قایموي.

د ارواښاد عقاب دا ادعا دې ته پاتې کېږي چې سړے ووایي ـ دستارنامه په ۱۰۷۶ هـ ق کې نه ده لیکل شوې، بلکه د دې کتاب د اول چاپ په وخت کې ۱۳۷۰ هـ ق شاوخوا لیکل شوې ده.

(۲) په پټه خزانه کې د رحمان بابا د زوکړې او مړینې د راغلیو سنو د غلطۍ په باب چې دوی په کوم قاطعیت خبره کړې ده، دا هم له اصولو مخالف کار دے. البته دا خبره به و منو چې د پټې خزانې په موجوده خطي نسخه کې چې د رحمان بابا د مړینې کوم تاریخ ضبط دے، دا نېټه د بابا د دیوان د داخلي شهادتونو سره په تناقض کې واقع ده فلهذا ناسمه ده اما د زوکړې هغې یې هېڅوک په قطعي ډول غلطه ثابتولای نه شي. مګر دا چې قاطع داخلي او یا د هغه وخت بل خارجي سند پیدا شي او د پټې خزانې سند مات کړي. دا چې

اوسنيو ځينو لهٔ خپل ذوق سره سم رحمان بابا ته د زوکړې سنې جوړې کړې دي او پهٔ خپل زعم يې ورته دلايل تراشلي دي. لهٔ موجودو واقعيتونو سره سمون نهٔ لري.

ځينو بيا د بابا پهٔ ديوان کې د يوه بيت پهٔ استناد ده ته د زوکړې سنه جوړه کړې ده. مګر دغو ښاغليو دې ته پام نه دے شوے، چې پهٔ دې بيت کې بابا د خپلې زېږيدنې د ښوولو لپاره يوه عامه خبره کړې چې اوس هم عام پښتانهٔ د خپل زړښت او د عمر زياتوالي د ښوولو لپاره د غسې عامې خبرې کوي: لکه لهٔ پنځوسو تېر شوم يا لهٔ شپېتو تېر شوم. د بابا دعنه پهٔ استناد نيول شوى بيت کې هم پهٔ قاطع ډول نهٔ دى ويل شوي چې زهٔ اوس څو کلن يم او د بلې خوا د دې بيت بڼه پهٔ ټولو نسخو کې يو ډول نهٔ ده، نو پهٔ دې حساب پهٔ دې بيت استناد د منبع پوهنې د اصولو لهٔ نظره سم نهٔ دے، ځکه اصلي او واقعي بڼه يې هم مشکوکه ده. همدا علت به وُ چې کامل صاحب غوندې لوى محقق پهٔ واز کومې وويل چې پهٔ پټه خزانه کې د رحمان بابا د زوکړې تاريخ کهٔ مشتبه هم وي، مګر د غلطه ثابتولو لپاره يې موږ سره کوم دليل نهٔ شته (٥).

له دې تول بحث سربېره په تاريخي کتبو او تذکرو کې د سنو د غلطيو په باب زه يو بل توضيحي عرض هم لرم چې زه به يې په همدې بحث کې د ارواښاد عقاب د دوهم يادښت د ځواب په ترڅ کې وړاندې کړم.

(۳) په همدې يادښت کې راغلي دي چې په پټه خزانه د پېژندليو شاعرانو صرف هغه احوال راغلي دي، چې په نورو ذريعو ثابت وو. له دې خبرو ښکاري چې ارواښاد عقاب خټک به يا پښتو ادبي څېړنې نه وي لوستي او يا يې هم پټه خزانه، ځکه که چا پټه خزانه لوستې وي او ورسره د پښتو نورې څېړنې هم ور معلومې وي. نو هغه هېڅ کله داسې هوايي ډزې نه کوي.

په پټه خزانه کې ځينې شاعران داسې دي چې احوال يې په نورو منابعو کې هم شته، خو زه به له هغو شاعرانو څخه د نمونې لپاره دلته د عبدالقادر خټک يادونه وکړم.

د پټې خزانې تر کشف او چاپ د مخه د عبدالقادر لږ و ډېر احوال او د ده په باب يادونې په ځينو پوهانو کې" راورټي" د پښتو آثارو" د منتخباتو انګرېزي ترجمه (۶) کې راوړې دي او د بلو مهارت په فهرست

کې هم راغلی دی (۷) او په پښتو کې ارواښاد استاد عبدالحی حبیبي (۱۳۲۸ - ۱۴۰۴ هـ، ق) په تاریخچهٔ - شعر پښتو (۱۳۱۴ هـ، ش د کندهار چاپ) د عبدالقادر د دیوان مقدمه (۱۳۱۸ هـ، ش د کندهار چاپ) تاریخچهٔ سبکهای اشعار پښتو (د ۱۳۱۹ هـ، ش کال د - کابل چاپ) پښتانهٔ شعراء (د ۱۳۲۰ هـ، ش کال د کابل - چاپ) کې راوړې دی.

کهٔ هر منصف او اصولو ته پابند نقاد په دغو ټولو منابعو کې د عبدالقادر احوال او دده یادونې وګوري، هغه داسې نهٔ دی چې ګویا په پټه خزانه کې د عبدالقادر له احوالو سره یو شی دی. ومثال یې ړول د عبدالقادر د زوکړې کال راوړي ۱۰۶۳ هـ، ق ښودلے دے او دهٔ به په دې برخه کې له تاریخ مرصع استفاده کړې وي، مګر لوی استاد پوهاند حبیبي بیا دده د یوسف، زلیخا دیوهٔ داخلي سند په اتکاء دده د زوکړې کال ۱۰۶۲ هـ، ق ښودلے دے، حال دا چې په پټه خزانه کې ۱۰۶۱ هـ، ق راغلے دے (کهٔ - څهٔ هم چې غلط دے).

دغه راز دده په آثارو کې راوړي د ګلستان تر څنګه د سعدي د بوستان د ترجمې یادونه هم کړې ده او آدم خان درخانۍ یې هم دده په آثارو کې شمیرلې ده - حال دا چې په پټه خزانه کې نهٔ د بوستان

یادونه شته او نهٔ د آدم درخانی .

پټې خزانې دا ویلی دی چې دے د شیخ سعدی لاهوری خلیفه ؤ . دا خبره نورو پښتنو منابعو لکه: د قاسم غزلو ، د نجیب غزلو او هم د احمدی صاحبزاده پهٔ آثارو او ځینو نورو منابعو کې تایید شوه ، خو دا آثار هغه وخت چې پټه خزانه میدان ته راووته، نهٔ وو کشف شوي .

(۴) بیا ارواښاد عقاب ویلی دی چې پهٔ دې کتاب کې محمد یونس خان ته د رحمان بابا شاگرد ویل شوے دے گویا چې رحمان بابا د شاعرۍ مکتب خلاصی وو» .

ما چې د ارواښاد عقاب د علمیت پهٔ باب کوم فکر درلود ، هغه اوس هم راسره دے ، خو دا ډول خبره د داسې یو عالم له خولې ښه نهٔ برېښي ، ځکه کهٔ څوک لهٔ شرقي او اسلامي فرهنگ او بیا پهٔ زیاته له پښتني فرهنگه خبروي ، نو بیا د شاعرانو ترمنځ د دغسې فرهنگي روابطو پهٔ باب شک نهٔ کوي .

ارواښاد ددې اعتراض پهٔ وړاندې زما معروضات دادي:

۱- هر هغه څوک چې له فرهنگ او ادب سره پهٔ یو ډول نه یو ډول ارتباط لري هغه پهٔ دې پوهېږي

چې لهٔ پښتو نه تر اوسه پهٔ یوه سیمه ، ښاریه او یا یو کلي کې نوي، تازه کار او کشران شاعران له مشرانو شاعرانو اصلاح اخلي - نوي شاعران خپل شعر مشر شاعر ته وروښیي ، هغه پهٔ کې سمونې کوي او نوي شاعر ته لارښوونې کوي - دغه کشران د دې مشر شاگردان یادېږي ، حال دا چې مشر شاعر د شاعرۍ مکتب نهٔ وي خلاص ، بلکه د دهٔ د تجربې شهرت او شاعرۍ پهٔ وجه خلک رجوع ورته کوي .

۲- زموږ پهٔ پښتني فرهنگ کې د دغسې استادۍ او شاگردۍ مثالونه شته ، اشرف خان هجري (۱۰۴۴-۱۱۰۶ هـ ق) یوه خپله قصیده کې خپل پلار خوشحال بابا (۱۰۲۲-۱۱۰۰ هـ ق) استاد او خپل ورونه یې د دهٔ شاگردان بللي دي ، لکه:

اولاً یه د استاد له حاله وایم
چې شعر عالمگیر لکهٔ د قمر دے

لهٔ دې سربېره پهٔ دې برخه کې بل مثال د ابراهیم خان کاکړ دے چې د پیر محمد کاکړ شاگرد ؤ، دهٔ ویلي دي :

زما استاد ملا پیر محمد ؤ
چې پر لار د پاک احد ؤ

۳- کهٔ د فارسي شاعرانو تذکرې او هم دا رنگه د

اردو تذکرې چا لوستې وي، نو په دې تذکرو کې هغه د چا خبره پانه په پانه دا خبرې مونډلے شي چې فلانے شاعر د فلانی شاعر شاګرد ؤ، په دې برخه کې څو مثالونو ته توجه وکړئ:

الف، امیرخسرو دهلوی (۶۵۱-۷۲۵ هـ ق) د هند په نیمه وچه کې داو سیدلی قصیده سرا شاعر شهاب مهمره شاګرد ؤ. د خپل غرة الکمال نومی دیوان (۶۹۳ هـ ق) په مقدمه کې یې د خپل استاد ستاینه په ډېرو لوړو الفاظو کې کړې ده.

دامیرخسرو پنځه مشهورې مثنویانې شهاب اصلاح کړې وې، لکه چې خسرو خپله ویلی دی:

من بدو عرض کرده نامهٔ خویش
او به اصلاح رانده خامهٔ خویش
یارب او چون ز پنج نامهٔ من
برده بیرون خطای خامهٔ من
شمع من یافته ضیا از وی
مس من گشته کیمیا از وی (۸)

ب، د مولانا حالی پانی پتي (۱۸۲۷-۱۹۱۴ ع) شرح حال که چا لوستے وي نو هغه ته به ښکاره وي چې حالی د مرزا اسد الله غالب (۱۷۹۶-۱۸۶۹ ع) شاګرد ؤ.

ج ، یوه تذکره چې ګلدسته نازنینان و طبقات الشعراء نومېږي او په ۱۲۶۰ هـ ، ق کې کریم الدین تألیف کړې ده ، په درېیمه طبقه کې هغه شاعران راغلي دي ، چې د همدې تذکرې په دوهمه طبقه کې د راغلیو شاعرانو شاګردان وو .

۴ - د شرقي فرهنګ په بېلابېلو ژبو پورې مربوطو ادبي تاریخونو او د سبک پوهنې په شاوخوا کې لیکل شویو آثارو له مطالعې په صفا ډګه کې ښکاري چې په یو سبک پورې تړلي شاعران ټول د سبک د باني په شاګردانو او پیروانو کې حسابېږي .

که چا د یونس خیبري دیوان لوستی وي ، نو له هغه سره به دا شک نه وي چې دده د وینا سبک د رحمان بابا له سبک نه څومره متأثر دے ، نو که یونس د رحمان بابا شاګرد وي ، نو په دې کې د تعجب او یا د رواغو داسې څه چې ، دې کتاب د جعلیت اسباب دې برابر کړي ماته نه ښکاري .

۵ - په دې یادښت کې د ارواښاد عقاب وروستي اعتراض دادے چې د تذکرې لپاره داسې وخت انتخاب شوے دے ، چې د ټولو نه د مقبولو شاعرانو خوشحال خټک او رحمان بابا احوال په کې راشي .

ددې اعتراض په لوستو ماته خندا راغله او د

فارسي دا متل را یاد شو: «ده درکجا و درختها درکجا»
ددې خبرې دکتاب له جعلي تابه سره څهٔ اړه ده. کهٔ فرض کړو چې د دغو دواړو بابا گانو شرح پهٔ کې نهٔ وای، نو دکتاب پر اصلیت او جعلیت او یا دځینو لهٔ خوا د نهٔ منلو د درجې پهٔ زیاتېدو یا لږېدو به یې څهٔ اثر پرېښې وای؟

کهٔ دا تذکره، لکه څنگه چې دارواښاد عقاب خیال وُ، پهٔ شلمه پېړۍ کې جوړه شوې وای، نو به ځینې داسې غلطۍ پهٔ کې نهٔ وای چې اوس عقاب او ځینې نورو ورته گوته نیسي او همدا غلطۍ ددې کتاب د جعلي تابه سبب بولي.

بله خبره دا چې د ځینو داسې شاعرانو احوال به پهٔ کې راغلي وای، چې احوال یې ښکاره وو او آثار یې پهٔ لاس کې وو، کیدای شول دغه شاعران گرده د برې پښتونخوا د سیمو وای یا حتی یوازې دکندهار او شاوخوا سیمو وای - د خوشحال، او رحمن بابا او عبدالقادر احوال پهٔ کې گرد سره راغلي نهٔ وای، دغسې سیمه ییزې تذکرې هم پهٔ شرقي فرهنگ کې نمونې او ساري لري.

ب، دارواښاد عقاب بله مقاله، چې هلته یې هم د پټې خزانې د جعلي تابه خبرې کړې دي.

په ۱۹۶۷ ع کال په بانګ حرم نومې اخبار کې نشر شوې ده. دده دا مقاله «د رحمٰن بابا د وفات تاریخ» نومېږی، په دې مقالې پسې مې د بانګ حرم کلکسیون ځکه ونهٔ لټاوه - چې له یوې خوا دا مقاله هم د رحمان بابا د وفات د تاریخ په باب وه او دده د رحمٰن بابا نومې ځانګړی اثر لهٔ یادونې ښایی زیات څهٔ ونهٔ لری او بله خبره په کې دا وه، چې دده په زعم د پټې خزانې د جعلي ثابته (۱) په باب چې لهٔ دهٔ سره څومره دلایل وو هغه یې په خپله بله مقاله کې خپاره کړې دي، زهٔ اوس دده دا بله مقاله دلته راسپړم.

ج، کابلې دیوانِ خوشحال نومې مقاله کې په پټه خزانه اعتراضونه:

۱- په دې مقاله کې چې ارواښاد عقاب د پټې خزانې په باب څهٔ کښلی دی، په هغې کې یې ویلی دی، چې دهٔ (عقاب) هم د پاکستان او افغانستان د ځینو عالمانو او د بهارت، روس، برېتانیه او امریکه د ځینو مستشرقینو (۱) غوندې دا کتاب (پټه خزانه) جعلي بللې دے.

په دې برخه کې د ارواښاد مشر عقاب لیکنې دوې غلطۍ لرې:

۱- دده له خبرو دا هم ښکاری چې دهٔ د نورو په تقلید دا کتاب جعلي بللې دے، دا چې نورو دا کتاب جعلي

بللې دے زما هم دا تور ه کړې ده ، زهٔ لهٔ نورو څخهٔ کم یم.

۲- دهٔ چې د دغو ملکونو د عالمانو یاد پهٔ اجمالي ډول کاوه ، پهٔ کار خو دا وه چې دا یې ویلي وای چې د فلاني ملک فلاني عالم پهٔ خپل فلاني اثر کې دغه کتاب جعلي بللې دے .

اصلي خبره دا ده ، چې مرحوم لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي چې د پټې خزانې دریم چاپ پهٔ مقدمه کې د ځینو داخلي او خارجي شکاکانو نومونه اخیستي دي ، دهٔ پهٔ خپل زعم هغه شکاکان د دغو دهٔ یادو کړیو هیوادو ته منسوب کړي دي .

استاد حبیبي چې پخپله مقدمه کې کوم خارجي شکاکان ښودلي دي پهٔ هغو کې فقید مارګنسټیرن (۱۹۷۸ع مړ) لوبي دوپری او ویلبر شامل دي چې لومړنی د ناروې او دوه نور د امریکې دي . بل خارجي شکاک چې یاد شوے دے هغه ایرانے دے .

حال دا چې دهٔ پهٔ خپله اعتراضیه کې د ناروې او ایران یادونه نه ده کړې ، بلکه روس ، برېتانیه او بهارت یې ښودلي دي .

زهٔ نهٔ پوهېږم چې د برېتانیه کوم پښتو پوهېدونکي او یا ښه پوه پټه خزانه رد کړې ده او یا یې جعلي بللې ده ؟ د روس یا پخواني شوروي د استشراق له

حلقو چې د پښتو ادب په خصوص کې کوم آثار نشر دي او د ځينو پښتو ترجمې شوې او خپرې دي په هغو کې څو د پټې خزانې تاييد شوے دے او استناد پرې شوے دے لکه :

الف ، فقيد ګيورګ فيودو رو ويچ ګيرس (۱۹۳۰-۱۹۹۴ع) پخپل اثر پښتو هنري نثر کې د پټې خزانې يادونه کړې ، خو دا يې نهٔ دی ويلی چې دا کتاب جعلي يا مشکوک دے (۹) .

ب ، د پښتو غزل د انکشاف په باب د پخوانی شوروی د مستشرقينو له ډلې چا مقاله ليکلې ده ، په دې مقاله کې د پټې خزانې پر متونو استناد شوے دے . دا مقاله سرمحقق معتمد شنواري په پښتو ترجمه کړې ! په کابل او آريانا نومو مجلو کې دوه ځله چاپ شوې ده .(۱۰)

ج ، دوکتور عارف عثمان په خپل اثر خوشحال خان او د دهٔ ادبي مکتب کې پر حليمې او د دې پر غزل بحث کړے دے ، دا خبره هرچاته ښکاره ده چې د حليمې شرح حال او د دې غزل په پټه خزانه کې راغلي دي .

د تاجکستان د علومو اکاډمۍ يو غړي دامير کروړ سوري (۱۵۴ ه ق مړ) د مړينې د دولس سوه پنځوسم

تلین په نړیوال سمینار کې د تاجکستان د علومو اکاډمي پیغام ولوست او د پټې خزانې ټول متن یې تایید کړ. (۱۱)

رابه شو هندوستان ته، د هندوستان پښتو پوهیدونکی، که هغه پښتانه دی او که هندوان هغوی پټه خزانه منی او په خپلو آثارو کې د ضرورت په وخت کې پردي کتاب او د کتاب په محتویاتو تکیه کوی.

د پټې خزانې د چاپ نه دوه کاله وروسته د داشی د(چند پښتو شاعرات) تر عنوان لاندې یوه مقاله ولیکله چې ټوله محتوی یې لکه پټې خزانې په دریمه خزانه متکي ده. دا مقاله د آجکل مجلې د ۱۹۴۶ع کال د جولای په ګڼه کې چاپ شوې ده.

کشوری لال تلوار د امیر کروړ په معرفی یوه مقاله کښلې، دا مقاله د آل انډیا راډیو دهلی له پښتو څانګې نشر ده او متن یې د آل انډیا راډیو دهلی په پښتو څانګه کې موجود دے.

منوهر سنګه بتره د امیر کروړ سوری ویاړته په انګریزی ژباړلې ده. دا ترجمه په کابل او هند کې چاپ شوې ده. (۱۲)

مولوی ابرار حسین په خپل کتاب مرقع افغان

کې چې د ملتان په لودهي شاهي خاندان کوم
بحث کړے دے، استناد یې پر پټه خزانه دے.
دا کتاب په ۱۹۵۳ هـ، ق کال د انجمن ترقی اردو هند
علیګړه نه چاپ شوے دے.

د لکهنو او سېدونکی پښتانه ډاکټر خان محمد
عاطف د خپل اثر "پټهان شاعرات کا تذکره" په مقدمه
کې د پټې خزانې پر پښتو شاعرانو بحث کړے دے
دا مقاله په ۱۹۸۳ع کال په لکهنو کې چاپ دے.

د جواهر لال نهرو پوهنتون سپین ږیرے استاد
پروفیسور رام راهول دا میرکروړ سوري په بین-
المللی سیمینار کې برخه واخسته او یوه اوږده مقاله
یې واورولہ، د پښتو ژبې او ادب لرغونوالے
یې تایید کړ.

له هنده چې تېر شو، نو به را وګرځو پاکستان ته،
په پاکستان کې له لاهوره د خپرېدونکې تحقیقی
اورنټیل کالج میګزین (۱۹۴۹ع) کال په ګڼو (۱۳)
کې درې قسطه د "ملتان کا لودهی شاهی خاندان" مقالې
خپرېدل، له پنجاب یونیورسټی نه د تاریخ ادبیات
مسلمانان پاکستان و هند د خپرې شوې سلسلې په
دیارلسم جلد کې د پښتو ادب د خپرنې په بحثونو
کې پر پټې خزانې استناد او همدارنګه له هندې

یونیورسټۍ نه د خپور شوی اردو دایرة المعارف
اسلامیه پهٔ بېلا بېلو جلدونو کې (۱۴) پر پټې خزانې
تکیه او پهٔ دې دایرة المعارف کې پهٔ دې خزانه کې
دراغلیو شخصیتونو معرفي خپله پهٔ دې دلالت
کوی چې پهٔ پاکستان کې د دې کتاب پهٔ مورد کې
کومه خاصه خبره نشته ، پاتې شوه پهٔ سرحد کې
پهٔ دې کتاب د ځینو کسانو نیوکې ، پر هغو پهٔ دې
حاضره مقاله کې خبرې کېږی .

داچې ځینو مستشرقینو پهٔ دې کتاب څهٔ ویلي
دي ، د هغو ځواب لوی استاد د پټې خزانې د دریم
چاپ پهٔ مقدمه کې ویلې دے (۱۵) چې پښتو ترجمه
یې د څلورم چاپ پهٔ مقدمه کې هم راغلې ده . ځینو
مستشرقانو بیا خپل نظریات واړول چې ما دمخه پهٔ هغې
مقاله کې خبرې باندې کړې دي .

۲/ بیا یې ویلي چې د دریم چاپ پهٔ مقدمه کې
چې استاد حبیبي د کتاب د اصلیت پهٔ دفاع کې څهٔ
ویلي دی . هسې پهٔ تیارې کې یې کاڼي ویشتلي دي .

د پټې خزانې د عکسي چاپ د مقدمې پهٔ باب د غني
خبرې کول ، زما پهٔ عقیده د عقاب غوندې یو عالم سړي
لهٔ خولې ښې نهٔ ښکاري . ځکه کهٔ یو بې مسؤلیته او
علمي موازینو ته نهٔ پابند سړے د غني خبرې وکړي

نو ورسره ښايي. که نه وي د هغې مقدمې په باب دا ډول خبرې په دې دلالت کوي چې یا خو اروا ښاد عقاب هغه مقدمه ګرد سره لوستې نه ده او که يې لوستې نو پرې پوه شوی نه دی، ځکه که هر با انصاف او با مسؤليته نقاد هغه مقدمه ولولي نو پوهېږي چې استاد ټولو شکاکانو ته د هغوی د شکونو او اعتراضونو مطابق ځوابونه ورکړي دي او هغه د اروا ښاد عقاب په قول په تيارو کې يې کاڼي نه دي ويشتي.

٣/ بله خبره په دې ارتباط ده دا کړې ده، چې کله ښاغلي قلندر مومند خپله مقاله پټه خزانه في الميزان د پښتو مجلې ١٩٧٦ع کال د مارچ په ګڼه کې خپروله، نو هغه وخت پټه خزانه دريم ځل چاپ وه او د استاد حبيبي هغه ديباچه هم ورسره راغلې وه چې يې په کې د شکاکانو ځوابونه ويلي، خو ښاغلي قلندر مومند دې چاپ او ديباچې ته څه اشاره نه ده کړې او همدا راز د دغه مضمون له چاپ نه دوه کاله وروسته د ده په قول حبيبي پټه خزانه څلورم ځل چاپ کړه خو د ښاغلي قلندر د مقالې يادونه يې ونه کړه.

د دغو خبرو په ارتباط بايد عرض کړم چې:

الف، که ښاغلي قلندر په خپله مقاله کې د دريم

چاپ د مقدمې یادونه نهٔ ده کړې. بنایي هغهٔ وخت د پټې خزانې دا چاپ نهٔ وو رسېدلے. ځکه لهٔ ۱۹۴۷ع کال نه وروسته د افغانستان او سرحد د پښتنو ترمنځ د کتابو راکړه ورکړه او فرهنگي روابط ډېر سست وو او پښتانهٔ سره بېل سائل کېدل.

پهٔ سرحد او بلوچستان کې ډېر چاپ شوي کتابونه افغانستان ته نهٔ دي رسېدلي او د افغانستان دې سیموته نهٔ دي راغلي، زما پهٔ عقیده دا یوه فرهنگي المیه ده.

ب، ارواښاد عقاب دې خدائے (ج) وبخښي، سره لهٔ دې چې ما د پټې خزانې څلورم چاپ ور استولے هم وُ، خو د هغهٔ لکه چې پام نهٔ دے ور اوښتے چې پټه خزانه دا ځل حبیبي صاحب نهٔ ده چاپ کړې. بلکه زما پهٔ زیار چاپ شوې ده. د چاپ هدف یې دا وچې یوازې پښتو متن یې چاپ شي، لهٔ مرحوم استاد څخه موږ غوښتل چې یوه لنډه سریزه پر ولیکي، د دریم چاپ مقدمه مو پهٔ پښتو ترجمه کړه او هغه مو ورسره چاپ کړه. د ښاغلي مومند د مقالې پهٔ باب د استاد برعکس العمل بهٔ زهٔ وروسته خبرې وکړم.

۴/ دوی ویلي دي چې د پټې خزانې د څلورم چاپ نه بیا ترنن ورځې (۱۹۸۵ع)، د ښاغلي قلندر د مضمون

د نهٔ ځواب کولو معنیٰ داده، چې حبيبي د ښاغلی قلندر د مضمون د ځواب مخه نهٔ وينی او بله دا چې د ښاغلی قلندر اکثر اعتراضونه بالکل سم دی؟

د دې خبرو په ارتباط بايد وويل شی چې:

الف: د ښاغلی نقاد قلندر مومند صاحب لومړنۍ مقاله موږ ته تر نشر څهٔ د پاسه لس مياشتې وروسته د ۱۹۷۷ع کال په اوايلو کې راورسيده، هغه هم د کوټې له لارې.

د پښتو مجلې د ۱۹۷۶ع کال د مارچ د ګڼې تر رسيد و وروسته دا مقاله اول ښاغلی رفيع صاحب ولوسته او بيا يې ماته راکړه، زما تر لوست وروسته د واړو دا ګڼه استاد حبيبي ته يوړه، يوه هفته وروسته بيا رفيع صاحب او زهٔ ورغلو. مجله يې بيرته راکړه! د ښاغلی قلندر د مقالې پر ځينو اعتراضونو يې د مقالې په حاشيه کې ليکنې هم کړې وې.

موږ ورته وويل چې استاده! تاسې څهٔ نظر لرئ، د ښاغلی قلندر ځواب ضروري دے، تاسې يې ځواب ورکوئ او که څنګه؟

دهٔ وويل: «زهٔ د دې کتاب مدافع نهٔ يم. ما د خپلو فرهنګی فعاليتونو په لړکې دا کتاب وموند، لهٔ خپلې وسې او د هغه وخت لهٔ شرايطو سره برابر مې چاپ ته آماده کړ او خپلو خلکو ته مې وړاندې کړ، دا زما وظيفه وه، چې

د پښتو پر یو نادر کتاب باید خلک خبر سي، ما داوکړل نور نو دچا خوښه که مني یې، که یې نه مني، خدای(ج) دې وکا چې خوشحال له خپل ټول عظمته سره څوک و نه مني.» لږ دمه غونډې شو، په خبره کې یې د تأثر نخښې څرګندې شوې، بیا موږ ته متوجه شو او په آرامه لهجه یې وویل: «بیا هم چې تاسې څه وایاست زه حاضر یم، خو خپلې ناجوړتیا ته به ګورم چې څه کولای سم که یه؟».

د استاد تر خبرو وروسته رفیع صاحب او ما په نوبت د جناب قلندر صاحب د مقالې په باب له استاد سره خبرې وکړې او دا مو ورته وویل چې د دې مقالې ځواب باید د یو سیمینار په ترڅ کې وویل شي. موږ به دا موضوع له مشرانو سره بحث کړو، د پښتو ټولنې مسؤلینو ته به هم ووایو او دا کار به پرمخ بوځو.

تر هغې وروسته موږ (رفیع صاحب او زه) او په افغانستان کې د پښتني فرهنګ زیاتره کارکوونکي که مشران وو که کشران، له یوې خوا د پښتو ټولنې د تاسیس د څلویښتمې کالیزې د نمانځنې په ترتیباتو اخته وو او له بلې خوا په افغانستان کې د جوړېدونکي په وروستیو دوو پېړیو کې د پښتو چاپي آثارو د سمینار د تدارک او سمبالښت په کارونو بوخت وو. اما له دې ټولو

مصروفیاتو سره سره د پټې خزانې موضوع مو هېره نهٔ وه ، موږ د پښتو ټولنې ریاست ته د محمد هوتک د سیمینار د جوړېدو غوښتنه وړاندې کړه او دا مو ورته وویل : چې د پټې خزانې ځینې مآخذ بلکه نافع المسلمین هم پیدا شوي دي ، د محمد هوتک د کورنۍ په باب هم ځینو ښاغلیو مواد وړاندې کړي دي ، باید دي چې دا ټول موضوعات په یو سمینار کې مطرح شي .

د پښتو ټولنې هغه وختنی رئیس کاندید اکادمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي دا موضوع د پوهانو یوې غونډې ته وړاندې کړه . په دغه غونډه کې ارواښاد پوهاند حبیبي (۱۳۲۸-۱۴۰۴ هـ ق) ارواښاد خادم (۱۳۲۵-۱۳۹۹ هـ ق) ارواښاد استاد بینوا (۱۳۶۳ هـ ش مړ) پوهاند رشاد پوهاند میرحسین شاه ، پوهاند دکتور محمد رحیم الهام ، سرمحقق عبدالله بختانی ، سرمحقق معتمد شینواری ، ارواښاد سرمحقق دوست شینواري (۱۳۷۲ هـ ش مړ) ارواښاد معاون سرمحقق دوکتور سیدال شاه پولاد (۱۳۶۴ هـ ش مړ) سرمحقق دوکتور دولت محمد لودین ، ارواښاد سرمحقق دوکتور هلالي او ښاغلی حبیب الله رفیع شامل وو زهٔ هم پکې وم .

غونډې موضوع تایید کړه او دا سپارښتا وشو چې پښتو ټولنه به په لازم فرصت کې دا سمینار دایروي .

د کار د ښهٔ پرمختګ لپاره کمیټې وټاکل شوې، چې یوه پهٔ کې علمي کمیټه وه، د دې کمیټې غړي اروا ښاد پوهاند حبیبي، پوهاند میرحسین شاه، اروا ښاد استاد بینوا وو، او زه د منشي په توګه وټاکل شوم.

د دې کمیټې پهٔ اوله غونډه کې د پټې خزانې پهٔ باب ټول هغه سوالونه مطرح شول، چې ښاغلي قلندر مطرح کړي وو، د دې سوالونو د ځوابونو لهٔ پاره او یا د ځینو خبرو د توضیح لپاره اشخاص وټاکل شول، چې استاد حبیبي هم د توضیح او ځواب ورکوونکو پهٔ ډله کې شامل و. دا سیمینار د کېدو پهٔ درشل کې و چې لهٔ بده مرغه پر افغانستان کمونستان حاکم شول او د ثور بد مرغه کودتا وشوه، هرڅهٔ له خاورو سره خاورې شول، د لسګونو نورو فرهنګي پراجیکټونو پهٔ څېر د محمد هوتک سیمینار هم پاتې شو.

خو کله چې په ۱۳۵۹ هـ ش - ۱۹۸۰ ع کال کې اکادمیسین سلیمان لایق د اکادمۍ رئیس شو، د دهٔ پهٔ ذاتي مینه فرهنګي کارونو ته بیا زمینه مساعده شوه. لهٔ ۱۳۶۰ هـ ش کال ته تر ۱۳۷۰ هـ ش کال پورې پهٔ تفاریقو پهٔ پټه خزانه کې د راغلیو ځینو مشاهیرو پهٔ یاد کې پهٔ کابل کې سیمینارونه وشول. د محمد هوتک یاد شوی سیمینار لهٔ پاره شویو/پخوانیو کارونو ته هم پهٔ کې د چاپ

زمینه مساعده شوه. د مقالو مجموعې او ځانګړي آثار په کابل کې نشر شول، چې په ټولو کې مستقیم او یا غیر مستقیم د ښاغلي قلندر مقالې ته چې، مقالو او لیکنو ته په کې ځوابونه ورکړل شول.

ارواښاد استاد حبیبي هم په دغه ګڼ فرهنګي کار کې برخه درلوده. استاد حبیبي په دې ارتباط دوې مقالې لیکلې دي، یوه مقاله یې "پټه خزانه چا، چېرې او څنګه پیدا کړه؟ (۱۶) او بله مقاله یې د پټې خزانې په لاس کښلې نسخه کې د ځینو کلونو تصحیح عنوان لري (۱۷) او هم د علیین او علیون په باب یو ډېر مفید او مستند یادښت هم د استاد وکیلي پر مقاله کښلی دی. (۱۸) چې دا مقالې او توضیحات ګرده د ښاغلي عقاب تر دغه یادښت د مخه په کابل کې چاپ وو. دا چې ارواښاد عقاب ته نهٔ وو معلوم یا دا ورپسې نهٔ و ګرځېدلی، زما په عقیده دا دهٔ خپل مکلفیت دی. دا بحث ما ځکه دومره اوږد کړ، څو لوستونکو ته ښکاره کړم چې خبره داسې نهٔ وه، لکه څنګه چې ارواښاد عقاب ویلي دي چې حبیبي د ښاغلي قلندر د مقالې د ځواب مخه نهٔ لیدله؟.

بله خبره چې زهٔ په دې اړه کوم داده، چې که ارواښاد عقاب د ښاغلي قلندر مومند د مقالې په باب د

افغانانو له موقفه خبر نه وو او یا د افغانانو ځوابونه ور رسېدلي نه وو، دا دومره لویه خبره نه ده، خو د افسوس خبره داده چې د جناب مومند د همدې مقالې په ځواب کې د پروفیسور سیال کاکړ(۱۹) بناغلو عبدالرحیم مجذوب(۲۰) او جناب همېش خلیل(۲۱) ځوابونه هم د کوټې او پېښور په مطبوعاتو کې نشر شوي وو، پکار وو، چې د دغو ځوابونو ته خو دوی څه اشاره شانته کړې وے، چې له بده مرغه نه یې ده کړې.

ب، دا ویلي دي چې د جناب قلندر اعتراضونه سم دي، دې کې شک نشته، چې د بناغلي قلندر په نوشتو کې به ځینې د کار ټکي هم وي. اروا بناد عقاً چې د بناغلي قلندر اعتراضونه سم بللي، خو پخپله یې په همدغه مقاله کې د نورو د اعتراضونو خلاف د علیین کلمه همداسې راوړې نه علیون. د دغه رنګه په خپله یوه بله مقاله کې یې بدني لیکلې ده نه بدنۍ(۲۲)

د بناغلي لیکوال جناب قلندر مومند ځوابونه په بېلا بېلو مجلو کې ورکړل شوي دي.

۴/ بیا زموږ مرحوم مشر پرته له دې چې څه دلایل یې وړاندې کړې وي بې کومه لاسونده لیکي:

« د هغو د واړو بناغلیو د لیکلو نه قطع نظر د دغه حقیقت به څه ځواب لیکي چې پټه خزانه فی الحقیقت

څهٔ ځنډنۍ کتاب نهٔ دے.» دلته پوښتنه راولاړېږي چې کوم حقیقت؟، کهٔ تا مرحوم او بل ښاغلي داسې یو حقیقت کشف کړے وي، چې د علم او پرنسیپ لهٔ پلوه د منلو وړ وي، نو به پهٔ ګڼه و وایو چې پټه خزانه ځنډنۍ کتاب «نهٔ» دے.، خو تر کومه ځایه چې ما عاجز ته معلومه ده، تر اوسه پورې دې کتاب چا داسې خبره نهٔ ده کړې چې د هغې دې علمي، منطقي او اساسي ځواب ونهٔ شي.

۵/ بیا دوی پر ټولو هغو کسانو پړه اچولې، چې لهٔ پټې خزانې استفاده کوي؟، موږ پوښتنه کوو چې پښتانهٔ ولې لهٔ خپل دغه اثره استفاده ونهٔ کړي؟، کهٔ ځینې کسان پهٔ وچ زور او د سرزورۍ پهٔ منطق دا تذکره د دجعلیت پهٔ درشل کې دروي، خپله یې خوښه ده، خو پهٔ دې کتاب چې تر اوسه څهٔ ویل شوي د هغو پهٔ رد کې علمي او منطقي ځوابونه شته، کهٔ چېرې څوک اعتراض وکړي - چې دا کتاب غلطۍ لري؟ دا خبره سمه ده، خو غلطۍ یو کتاب د جعلیت پهٔ معرض کې نهٔ شي واقع کولاے. د شرق پهٔ تذکرو کې د غسې غلطۍ دومره ډېرې دي، چې د پټې خزانې هغې د نورو پهٔ تناسب ډېرې لږ دي. د مثال پهٔ ډول علامه قزویني د دولت شاه د تذکرې پهٔ باب لیکي (ترجمه) ... د هغو شاعرانو احوال چې دولت شاه

راوړي، غالباً سم نهٔ دي، بې مأخذه حکایاتو ته نه ورته والے لري ...» (۲۵)

دهٔ زیاته کړې ده، چې د دولت شاه پر لیکنو افسانوي رنګ غالب دے او درواغ په کښې شته. د دولت شاه سمرقندي پر تذکرة الشعراء د دغسې نقدونو تر څنګه چا هم ونهٔ ویل چې دا تذکره جعلي ده، بلکې له محتویاتو یې د فارسي د ادبي تاریخ پهٔ مباحثو کې استفاده کېږي.

٦) مرحوم مشربیا لیکلي دي، زهٔ چې کله کابل ته تللے وم ـ ما غوښتل چې پهٔ پټه خزانه کې د ځینو واقع غلطیو پهٔ باب له پوهاند حبیبي نه وپوښتم. خو بریالے نهٔ شوم.

زهٔ وایم کاشکې دے پهٔ دې بریالے شوے واے او لهٔ استاده یې پوښتي واے، چې دا غلطۍ ولې واقع دي؟. پهٔ دې ارتباط منطقي خبره دا ده، چې پهٔ پټه خزانه کې د پېښو غلطیو ارتباط لهٔ استاد حبیبي سره څهٔ دی؟ غلطي لهٔ انسانه واقع کېږي، آیا د ارواښاد عقاب آثار له غلطیو پاک دي، خونهٔ دي، لهٔ اصولي او میتودي تېروتنو سربېره ډېرے تاریخي تېروتنې هم پهٔ کې شته، د ارواښاد عقاب پهٔ پټه خزانه کې شمېرلې غلطۍ دا دي:

الف: دهٔ لیکلي دي چې د کتاب پهٔ لیکلو د پیل ورځ چې پهٔ نسخه کې جمعه ښودل شوې، دا ورځ جمعه نه دوشنبه ده. دا خبره سمه ده چې کهٔ سړے تطبیقي تقویمونه

پېښې وګوري، نو د ۱۱۴۱ هـ.ق کال د جمادی الثاني ۱۶ مه دوشنبه ده، نه جمعه. په دې ارتباط چې کومه توضیح لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي ورکړې ده، هغه د توجیه وړ ده، دوی وایي چې کېدای شي دا ورځ د شپاړسمې پر ځای ۶ مه وي چې دا بیا جمعه کېږي او دا یو عدد به د سهوالقلم له لارې په کوم نقل کې ورزیات شوی وي. که د جعل کومه خبره مطرح وي، کېدای شي چې د اختتام تاریخ یې همدغسې غلط راغلی وي، حال دا چې هغه تاریخ له تطبیقي تقویمونو سره برابر دی. (۲۴)

لۀ دې چې ورتېر شو، پۀ دې باب بلهٔ د عرض وړ خبره دا ده، چې پۀ خطي نسخو کې ځینې نسخې شته، چې پۀ هغو کې راغلې نېټې د تاریخي تقویمونو لۀ نېټو سره سمې نۀ خېژي. د مثال پۀ ډول ماد محمد هوتک ژوند او مزار (۲۵) نومې رساله کې دوې داسې خطي نسخې شته ولې چې لۀ نېټو سره یادې شوې ورځې یې د ښاغلي هاشمي پۀ تقویم تاریخي کې راغلیو د هاغه کال او هاغې نېټې له ورځو سره سمون نۀ خوري. څنګه چې د دغسې ناسمون لۀ امله هغه نسخې مور جعلي نۀ شو بللای، نو ځکه پټه خزانه هم د دغسې تېروتنو

لهٔ امله د جعلیت پهٔ درشل کې نهٔ شو ودرولے.

ب ، بیا یې ویلي دي چې لهٔ رښتیونه خپل کورته د خان علیین مکان د را تلو بیان لهٔ فارسي تواریخ- خورشید جهان نه بلا اعتراف اخیستل شوے دے .

پښتانهٔ متل لري : کهٔ شپه تیارهٔ ده مېږې پهٔ شمار دي . نهٔ خورشید جهان ورک کتاب دے او نهٔ پټه خزانه ، و به ګورو چې د ارواښاد عقاب دا ادعا تر کومه ځایه صحیح ده ؟ ، د دې پوښتنې لهٔ پاره اړیم چې د دواړو کتابونو دا برخې دلته راوړم: پهٔ پټه خزانه کې یې را وړي دي : „ نقل کا ، چې خوشحال بیګ د مغولو پهٔ بند کې و او د رنتهبور پهٔ کوټ کې بندي و . پښتانهٔ ختیکان و لاړل او دے یې لهٔ بندیخانې راویوست ، اورنګ زیب نهٔ سو پهٔ خبر ، خو چې دے خپل وطن ته راورسیدی ، او هغه پادشاه سره یې جنګونه وکړل ... „.(۲٦)

تاریخ خورشید جهان : „ ... حرص مفرط اورا احاطه نموده بود ازین سبب انجام بخیر نشد که اورنگزیب عالمگیر اورا قید ساخته و بعد گذشتن عرصه شش سال از قید او چون در کوهستان نواح پشاور سرکشی واقع شد ، آن وقت اورنگزیب به نظر مصلحت وقت اورا رها کرده به عطای اسپ خاص و خلعت

باعزت رخصت کرد ...» (تواریخ خورشید جهان)

ترجمه: «... له حده زیات حرص راګیر کړے و، نو یې ځکه انجام په خیر نهٔ شو، اورنګزیب عالمګیر دے بندی کړ، کله چې د پښتون په شاوخوا کې ځۀ سرکشۍ پیښې شوې، نو تر شپږو کلو بند وروسته بادشاه دے د مصلحت له مخې خوشې کړ، خاص اسپ او خلعت یې ورو باخښهٔ او رخصت یې کړ ...».

ګران لوستونکی دې قضاوت وکړی، چې د پټې خزانې د متن کوم ټکے له خورشید جهان نه اخیستے شوے دے؟ دا ټول ادعاوې په پټه خزانه یو تهمت دے. موږ باید د خپلو ذهنی غوښتنو د پوره کولو لپاره په چا تهمت و نهٔ کړو.

د دې ترڅنګه باید دا خبره هېره نهٔ شی چې د لوے خان د بند او خوشې کېدو په باب، چې کومې خبرې پټې خزانې راوړې دي، سمې نهٔ دی. د تاریخ او تذکرو په کتبو کې د غسې ضعیف او عام روایات ډېر راغلي دي.

د لویو خلکو لکه خوشحال بابا د ژوند پېښو او حتی کړو وړو په باب په ټولنه کې ډول، ډول روایات خوارهٔ دی، کهٔ چا هغه روایات را اخیستل

او ضبط یې کړل، نو یې موږ ټول کار په دې نه باطلوو، چې دا روایت له حقایقو سره سمون نۀ خوري، یوازې دا حق لرو، چې ووایو دا روایت ناسم دے یا ضعیف دے.

د خوشحال بابا له مرګه څۀ د پاسه درې سوه کاله تېر دي، اما اوس هم دده په ژوند، عاداتو او اطوارو پورې مربوط روایات په پښتنو کې خوارۀ دي. ما خپله په خپل کلي کې د بابا متعلق روایات او حکایات اورېدلي وو، چې اوس یې له لیکلو ژوند پېښو سره پرتله کوم هېڅ سر ورسره نۀ خوري. دغسې اوس چې یو مشهور او یاد سړے قید شي، دده د قید په باب او بیا یې د خلاصېدو په باب بېلابېلې خبرې، آوازې په خلکو کې خورې وي. دغسې به د خان خوشحال خان بابا د بندي کېدو او خوشې کېدو په باب هم روایات په خلکو کې خصوصاً په پښتنو کې خوارۀ وو.

د خوشحال د بند او خوشې کېدو په باب د پټې خزانې کښنه هم یو روایت دے، چې د اصلي او مني وړ منابعو په وړاندې کوم ارزښت نۀ لري.

پر ارواښاد عقاب دې خدای (ج) ورحمېږي، دے خوشحال شناس هم و، آیا دۀ ته نۀ وه معلومه چې

د تاریخ مرصع تر لوست دمخه د خوشحال پېژندنې په څېړنو کې د خوشحال د بند و قید او خوشې کېدو په باب ځومره ضد و نقیض او له تېروتنو ډکې خبرې راغلې دي.

ماد فراقنامې په مقدمه کې دغه ډول نظریاتو ځهٔ راوړي دی (۲۷) دا نظریات گرده په روایاتو او یا هم په استنباطونو او برداشتونو متکی دی.

ج، دوی په پټه خزانه بل اعتراض داکوي چې د رحمان بابا د مرگ کال اود عبد القادر خان د نوکرې کال یې سم نهٔ دے راوړے، نو بنا پردې دا کتاب جعلی دے.

د تماس مجلې په یوه گڼه (۲۸) کې زما یوه مقاله چاپ شوې ده، چې دا مقاله ما د جناب قلندر مومند دیوې مقالې په ځواب کې کښلې وه. ما هلته ویلی وو چې د شرقي ژبو کهٔ هغه د فارسی دی او کهٔ د پښتو، په هغو کې د شاعرانو د مرگ او ژوند سنې زیاتره غلطې دی، خو هیڅوک دا کتابونه په دغسې غلطیو مجعول نهٔ بولی.

په هغې مقالې کې ما د رودکی، انوری او نواب محبت خان مثالونه هم راوړي وو، چې د مړینو تاریخونه یې په بېلا بېلو آثارو کې مختلف راغلی

دی ، خو هیڅ دا نهٔ دی ویلی چې دغه یا هغه کتاب چې د دغه یا هغه شاعر د مرګ تاریخ یې غلط ښکلی دی ، نو فلهذا جعلي دی . ما هلته دا خبره هم اضافه کړې وه ، چې کهٔ سړی پهٔ شرقي تذکرو کې د سنو د غلطیو جاج واخلي نو به د یوې رسالې پهٔ حوصله مواد پهٔ لاس ورشي . ما ته لهٔ هغې مقالې وروسته هم د دغه ډول غلطیو پهٔ باب ځینې نور معلومات تر لاسه شوي دي چې ځینې یې دلته راوړم :

د مړینې تاریخونه : کهٔ زهٔ دلته د ډېرو شاعرانو د مړینو اختلافي تاریخونه وښیم ، نو خبره به ډېره اوږده کړي ، نو د اختصار لپاره یوازې د شاعر نوم اخلم او دا ښیم چې د مرګ یې څو ډوله تاریخونه ښودل شوي دي :

د اسدي طوسي دوه ډوله ؛ مختاري غزنوي دوه ډوله ؛ د عمر خیام څلور ډوله عمعق بخارایي دري ډوله ؛ د سنایي غزنوي دري ډوله ؛ د خاقاني دوه ډوله (۲۹) امامي هروي دري ډوله ؛ د سعدي شیرازي رح څلور ډوله (۳۰) د شیخ محمود شبستري دري ډوله ؛ د اوحدي دري ډوله ؛ د بدر چاچ دوه ډوله ، د ابن یمین دري ډوله ؛ د سلمان ساوجي دري ډوله

عصار تبریزی څلور دوله او د خواجو کرمانی د وفات په تاریخونو کې د زیات اختلاف د شته والی له امله دکتر ذبیح الله صفا کښلي دي:

« سال وفات خواجو را با اختلاف فراوان در مأخذ مختلفی ... ثبت کرده اند. این سالها بین ۵۰۳ هجری یعنی یکصدو هشتادو شش سال پیش از ولادت خواجو تا سال ۸۴۲ یعنی نودو دو سال بعد از تاریخ واقعی وفات شاعر ذکر شده است.» (۳۱)

ترجمه: « د خواجو د مرګ کال په بیلا بیلو مأخذو کې ډېر مختلف راغلے دے. دغه کلونه د ۵۰۳ هجری یعنې د خواجو له زوکړې ۱۸۶ کاله وړاندې او د ۸۴۲ هـ، ق تر منځ راغلي دي، چې وروستے تاریخ د شاعر د مړینې له حقیقي تاریخ نه ۹۲ کاله وروستے دے.»

د هند د نیمې وچې له ادبي تاریخه یو مثال: د ولی د دیوان هغه خطي نسخه چې د بمبی د جامع جومات په کتاب خانه کې موجوده ده، په هغې کې یوه قطعه راغلې چې د هغې له مخې د ده د مرګ کال ۱۱۱۹ هـ، ق راوځي. اما محققین دا سنه نه مني او وايي چې ولي تر دې نېټې وروسته هم ژوندے و. د دکتور جمیل جالبی د

ځېړنې له مخې ولي بايد د ۱۱۳۳ - ۱۱۳۸ هـ ق کلونو ترمنځ مړ وي (۳۲) .

د زوکړې تاريخونه : په دې ارتباط به هم زه دوه درې مثاله وړاندې کړم .

د مشهور صوفي شيخ فريد الدين عطار د زوکړې تاريخ ۵۳۷ هـ ، ق هم راغلے دے ؛ دولت شاه او قاضي نورالله د واړو ۵۸۲ هـ ، ق راوړے دے ، اما هدايت بيا په رياض العارفين او مجمع الفصحا کې دا تاريخ ۵۱۲ هـ ، ق ښودلے دے . (۳۳)

د هند په نيمه وچه کې به ډېر لرې نه ځو ، د علامه اقبال لاهوري (۱۹۳۸ هـ ، ق مړ) د زوکړې تاريخونه به وګورو . د ده د زوکړې په تاريخ کې هم اختلاف شته ، ۱۸۷۶ ع ؛ ۱۸۷۳ ع او ۱۸۷۷ ع د ده د زوکړې تاريخونه ښودل شوي دي . (۳۴)

د عبد القادر د زوکړې د تاريخ په باب زما يادونه داده ، چې د خوشحال بابا له قطعې دا تاريخ ۱۰۶۳ هـ ، ق راوزي . مګر د ده په آثارو يوسف زليخا او ګلدسته کې چې ده خپل عمر ښوولے دے ، د هغو له مخې د ده د زوکړې کال له ۱۰۶۲ هـ ، ق وړاندې نه ځي . (۳۵)

د دغه اوږده بحث نتيجه داده چې په تذکرو

ادبي تاریخونو او نورو ادبي څېړنو کي د شاعرانو او لیکوالو د مرگ تاریخونه د غسې مختلف او ناسم راغلي دي، څونهٔ د فارسي ادبي مؤرخینو او نهٔ د هند د نیمې وچې مؤرخینو دا ویلي چې دا یا هغه فارسي یا اردو تذکره او تاریخ جعلي دے، ځکه چې د فلاني شاعر د زوکړې او یا مړینې تاریخ یې ناسم لیکلے دے، نو پښتنو ته هم بویه چې پټه خزانه د دوو دریو سنو پهٔ غلط ضبط جعلي و نهٔ بولي. هغه هم د غسې ضبط چې اصلي مسوده یې زمونږ پهٔ لاس کې نشته او مونږ د دې تذکرې د دریم نقل د غلطیو له مخې د جعلیت تاپې پرې لگوو.

د منکرانو پهٔ ډله کې اساسي شخص او توره پهٔ لاس پهٔ میدان ولاړ سړے زمونږ د معاصر ادب ښهٔ کیسه لیکونکے، نومیالے شاعر، لیکوال او مترجم گران مشر قلندر مومند دے:

د دوی د دې لړې لومړنۍ مقاله پهٔ ۱۹۷۶ ع کال پهٔ پښتو مجله کې چاپ شوې ده. (۳۶) عنوان یې دے پټه خزانه في المیزان دوهمه مقاله یې پهٔ ۱۹۷۹ع کال پهٔ هم دې پښتو مجله کې چاپ ده.

دا مقاله (پټه خزانه في المیزان) د یونس دیوان

شهادت عنوان لري (۳۷)، وروسته بیا نوموړی مشر لیکوال خپلې دغه دوې مقالې او په دې ارتباط خپل نور یادښتونه په یوه ځانګړي اثر کې منظم کړل چې پټه خزانه في المیزان نومېږي.

داکتاب ۳۷۳ مخه په ۱۹۸۸ع کال په پېښور کې چاپ شوے دے: د پټې خزانې د نه منلو په باب د دوی وروستې لیکنه (کامل مرحوم او پټه خزانه) نومېږي چې دا مقاله لورلایی کې خپرېدونکې مجلې تماس چاپ کړې ده. (۳۸)

ګران مشر قلندر مومند په خپله لومړۍ مقاله کې د خپلو معلوماتو مطابق د پټې خزانې پر املاء خطي نسخې، نامه، د پټې خزانې په متونو کې د ځینو راغلیو کلمو د استعمال د موارد او معنو په باب د شکوکو د اظهار په ترڅ کې دا نتیجه ایستلې ده، چې ګوندې پټه خزانه (د ده په زعم) یو جعلي کتاب دے.

په دوهمه مقاله کې یې د یونس خیبري د دیوان د مطالعې له مخې دوی له خپلو ذهني برداشتو سره سم د دوی په اصطلاح ځینې شهادتونه موندلي دي، چې د دوی په تعبیر په پټه خزانه کې د یونس په باب راوړل شوې خبرې پرې باطلېږي.

په کتاب کې یې [illegible] اعتراضونه (تر مقدمې وروسته)

تر دغو عناوينو لاندې وړاندې کېږي:

«ابتدايي معروضات، ديونس د ديوان شهادت، بېلګې، تاريخي پس منظر، جديديت، د پټې خزانې مأخذ، د پټې خزانې راويان، فني اړخونه، اينکرانيزم، متفرقات او ضمايم.»

وروستۍ مقاله يې د ښاغليو انځور او آصف صميم د کښلي کتاب (د پټې خزانې ميزان رښتيا ميزان ندی) د يوې يادونې پهٔ ځواب کې کښلې ده، دوی غوښتي دا ثابته کړي چې ګوندې ارواښاد استاد دوست محمد خان کامل هم پټه خزانه نهٔ منله؟.

د ګران مشر قلندر مومند دې څلورو سرو ليکنو ته د پښتو فرهنګ مينه وال او د پښتو څېړونکي نهٔ دي تسليم شوي، بلکه د دي ليکنو پهٔ وړاندې يې عملي درېځ خپل کړے دے، د دوی دلايل يې پهٔ دلايلو رد کړي دي، کهٔ زهٔ د ښاغلي مومند د دلايلو پهٔ وړاندې د نورو ارائه کړې دلايل راوړم او يا خپل دلايل وړاندې کړم، نو به خبره ډېره اوږده شي او د دې مقالې لهٔ حوصلې به ووزي.

د دې ليکنې لهٔ شرايطو سره سم بهتره ايسي چې د ښاغلي قلندر مومند د دغو آثارو پهٔ ځواب کې د کښلو شويو آثارو او مقالو حوالې راوړل شي

او پهٔ پای کې د دې د کارونو پهٔ باب خپل معروضات پهٔ لنډ ډول عرض کړم

(۱) د دهٔ د مقالې تر کښلو لږ موده وروسته د کوټې د سیمې لیکوال پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ د دوی د لومړۍ مقالې پهٔ وړاندې یوه مقاله وکښله ، چې عنوان یې و (پټه خزانه ـ د انصاف پهٔ تله کې) دا مقاله لکه چې یوځای دمخه مې هم ورته اشاره وکړه ، اولس مجلې خپره کړې ده.

(۲) جواب الجواب : د هغې مقالې عنوان دے ، چې نومیالی لیکوال او شاعر عبدالرحیم مجذوب کښلې ده او د کوټې اولس مجلې چاپ ده - دا مقاله د ښاغلي مشر قلندر مومند د مقالې پهٔ ارتباط پهٔ زیاته د ځینو لغاتو او د کتاب د نامهٔ پهٔ باب د ښاغلي مومند د اعتراضونو پهٔ وړاندې ښهٔ توضیحي نکات لري.

(۳) ښهٔ لیکوال او شاعر ښاغلی همیش خلیل په ۱۹۷۹ع کال کې د نوموړي د لومړۍ مقالې په ځواب کې یوه مقاله وکښله او د شیتو اسنادو پهٔ استناد یې د دهٔ د اعتراضونو ځوابونه ووېل ، دا مقاله هم د پښتو اکېډمۍ پهٔ پښتو مجله کې خپره شوه.

(۴) ښاغلي همیش خلیل تر خپلې لومړۍ مقالې لږ وروسته د ښاغلي مومند د دوهمې مقالې پهٔ

ځواب کې هم یوه مقاله وکښله چې په همدې پښتو مجله کې چاپ شوې ده. اما په افغانستان کې موږ د ښاغلي قلندر مومند له لومړۍ مقالې کابو یو کال وروسته خبر شوو. افغانانو هماغه وخت فیصله وکړه چې د ښاغلي معترض د هر اعتراض په وړاندې یوه مقاله ولیکل شي او په یو علمي سیمینار کې تر ارائې وروسته په کتابي شکل چاپ شي، لړاو بې د موضوع شایقینو ته وړاندې شي. اما له بده مرغه چې دا هیله ترسره نه شوه.

د ۱۹۷۸ع کال د اپریل کودتا دا هرڅه شنډ کړل او بیا له ۱۹۹۲ع کال نه وروسته دا زمینه مساعده شوه، چې د پټې خزانې نه د دفاع په لاره کې څه کارونه وشي.

په کابل کې ددې لړې کارونه دوه کټیګورۍ دي:

لومړۍ، هغه کارونه چې د ګران ښاغلي مومند د دوو مقالو په ځواب کې سرته رسېدلي، او دوهم هغه کارونه دي چې راساً د دوی په اعتراضونو اړه نه لري، خو د پټې خزانې د بېلا بېلو اړخونو د توضیح او تشریح په لړکې د پټې خزانې د اصالت له ثبوت سره مرسته کوي. دا ډول کارونه په غیرمستقیم ډول د ښاغلي مومند د فرضي ځوابونه هم دي. کوم

کارونه چې په کابل کې د دوی د مقالو تر لیکلو وروسته ترسره شوي دادي:

(۱) شیخ بستان بړیڅ: دا د هغه سیمینار د مقالو مجموعه ده، چې د شیخ بستان بړیڅ (۱۰۰۲- هـ، ق مړ) د څلور سوه یم تلین په مناسبت جوړ شوی و. دا مجموعه د ۱۹۸۲ع کال په اوایلو کې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا چاپ شوه.

په دې مقالو کې یوه مقاله داسې هم شته، چې د ښاغلي مومند په لومړۍ مقاله کې د (بدلې) په باب د یوه ارائه شوي اعتراض په ځواب کې اوږده تحقیقي بحثونه وړاندې کوي. نورې مقالې د شیخ د ژوند اند فکر او په پټه خزانه کې د ده د راغلي شعر ژبني او فکري ارزښتونه بیانوي، چې دا ګرده موضوعات د پټې خزانې د اصالت د ثبوت په برخه کې ارزښتمن بحثونه دي.

(۲) امیر کروړ و دودمان او: دا رساله ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي په فارسي ژبه وکښله، چې د امیر کروړ او د ده د کورنۍ د احوالو په باب ګټه‌ور او مفید بحثونه لري. دا رساله ما پښتو ترجمه کړې او معاون سرمحقق محمد هاشم رحیمي په انګرېزي ترجمه کړې ده، د دې رسالې دغه درې واړه متنه یو

ځای په ۱۹۸۲ع کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا چاپ دي .

(۳)، د زرغونې یاد ؛ دا د هغه سمینار د مقالو مجموعه ده ، چې د شیخ سعدي (رح) ، (۶۹۱ یا ۶۹۶ هـ ، ق مړ) د بوستان د ترجمې د پنځه سومې کالیزې په مناسبت جوړ شوے و ، د پښتو بوستان نمونې او د دې کتاب مترجمه (زرغونه کاکړه) په پټه خزانه کې یاد شوې دی او د دې مجموعې مقالات په دې ارتباط مشخص توضیحات لري .

دا مجموعه په ۱۹۸۳ع کال د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز له خوا چاپ شوې ده .

(۴)، د محمد هوتک یاد : دا د هغه سیمینار د مقالو مجموعه ده ، چې باید د ۱۹۷۸ع کال په مئ کې د پښتو ټولنې له خوا دایر شوے واے . خو په افغانستان کې د سیاسي بدلونونو پر اساس دا سیمینار ونه شو او مقالې یې پاتې وې ، څو په ۱۹۸۳ع کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې .

د دې مجموعې زیاتره مقالې د ښاغلي مشر قلندر صاحب د نومړکه مقالې د اعتراضونو په ځواب کې دي .

(۵)، د محمد هوتک ژوند او مزار : دا وړه رساله ما لیکلې ده ، په هغې کې د محمد هوتک په نسب او کورنۍ

او مزار مواد راټول شوي دي او ورسره د دهٔ پر آثارو هم څهٔ خبرې پهٔ کې موندلې کېږي. دا رساله پهٔ ۱۹۸۲ع کال د ننگرهار پوهنتون لهٔ خوا چاپ شوې ده.

(۶) نافع المسلمین: دا کتاب نور محمد غلجي پهٔ مسجع نثر او نظم لیکلې دے، چې د دهٔ خپل ځنو منظومات هم پهٔ کې شته، دا کتاب د پټې خزانې لهٔ مأخذو څخه دے، چې یوازینۍ معلومه خطي نسخه یې د افغانستان پهٔ ملي آرشیف کې خوندي ده. دا متن د همدې نسخې لهٔ مخې ماچاپ ته آماده کړی دی او په ۱۹۸۴ع کال د افغانستان د کلتور کمېټې لهٔ خوا د گستتنر لهٔ لیارې تکثیر شوې ری.

(۷) د امیر کروړ یاد: دا مجموعه د هغه بین المللی سیمینار د مقالو مجموعه ده چې د پښتو د لومړنی معلوم شاعر امیر کروړ غوري سوري (۱۵۴ هـ. ق مړ) دوولس سوه پنځوسم تلین پهٔ مناسبت پهٔ ۱۹۸۴ع کال پهٔ کابل کې جوړ شوے و. د دې سیمینار د مقالو مجموعه د امیر کروړ یاد پهٔ نامهٔ ۱۹۸۵ع کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

دا او هغه کارونه چې د مشر قلندر مومند د مقالو تر کښلو وروسته د پټې خزانې پهٔ ارتباط پهٔ کابل کې

سرته رسېدلی دی.

دغسې چې د قلندر صاحب د مقالې تر نشره یو کال وروسته موږ خبر شو، د کتاب د نشر خبر یې هم دوه کاله وروسته راورسېد، ۱۹۹۰ع کال.

پهٔ هدغه کال د کابل پهٔ انټرکانټیننټل هوټل/ کې یو سیمینار و. دې سیمینار ته ښاغلی جمعه خان صوفي چې نوی لهٔ پېښوره راغلی و، هم خبر و. دهٔ هلته روهي صاحب او ما ته ووېل: چې قلندر صاحب د پټه خزانه في المیزان پهٔ نامهٔ کتاب هم چاپ کړی دی. پهٔ ۱۹۹۱ع کال کې د ښاغلیو لطیف اپریدي او جمعه خان صوفي پهٔ مرسته دغه کتاب دوه درې نسخې کابل ته راورسېدې.

دا کتاب لا جدي او هر اړخیز مطالعه شوی نهٔ وُ، چې پهٔ افغانستان کې د ۱۹۹۲ع کال د اپریل واقعات پیل شول. اما تر دې واقعاتو څو میاشتې دمخه د ۱۹۹۱ع کال پهٔ وروستیو میاشتو کې د خوشحال فرهنګي ټولنې د نازو انا د زېږېدو د ۳۵۰م تلین پهٔ مناسبت یو سیمینار جوړ کړ او د سیمینار د مقالو مجموعه یې د نازو انا یاد پهٔ نامهٔ چاپ کړه. پهٔ دې مجموعه کې دوې مقالې د ښاغلي مشر قلندر مومند د کتاب پهٔ ارتباط دي (۳۹). اما لهٔ افغانستان نه د باندې افغانانو د کوټې

او پېښور ځینو ښاغلیو لیکوالو د ښاغلی مومند دکتاب پهٔ وړاندې ځوابی لیکنې وړاندې کړې ، چې تفصیل یې داد ے :
پروفیسر صاحبزاده حمیدالله

(۱) د پښتین د سېمې نومیالی لیکوال / پهٔ دې باب خپله مقاله : «پټه خزانه اعتراضونه او ځوابونه» ترسرلیک لاندې بشپړه کړې ده ، چې د سپېدې مجلې له خوا چاپ ده . (۴۰)

(۲) ښاغلیو لیکوالو آصف صمیم او زرین انځور خپل ځوابونه پهٔ یوه رساله کې لیکلی دی ، چې نوم یې وړته (دپټې خزانې میزان رښتیا میزان دے ؟) ایښے دے . دا رساله پهٔ ۱۹۹۰ع کال ۱٦۲ مخه پهٔ پېښور کې چاپ ده .

(۳) ښاغلي محمد معصوم هوتک ددې لاړې یو بل لاروے دے ، چې د ښاغلی مومند داعتراضونو پهٔ وړاندې یې د ځواب موندلو څېړنې لاجریان لری . دهٔ ددې لړې خپله لومړۍ مقاله پهٔ سپېدې کې چاپ کړې ده (۴۱) چې عنوان یې و : «پټه خزانه فی – المیزان ته یوه کتنه» .

د ښاغلی هوتک ددې سلسلې بله مقاله خپلواکی مجلې ... خپره کړې ده . (۴۲) ددې مقالې عنوان دے : دافغانستان پهٔ مطبوعاتو کې د هېواد او هېوادپر کلمو یو پښتاني خپره شوې مناقشه .

(۴) د کوهټې د سیمې نومیالي لیکوال عبدالکریم بریالي هم د دې میدان یو غښتلی دی. د ده خپله لومړنۍ مقاله د: پټه خزانه یو ناقابل تردید حقیقت تر سرلیک لاندې بشپړه کړې ده، چې دا مقاله هم په سپېدې کې چاپ ده. (۴۳)

(۵) نومیالي لیکوال او شاعر ښاغلي همېش خلیل چې څنګه د ښاغلي مومند د دوو مقالو په باب مقالې کښلې وې، دغه راز یې د ده د کښلي کتاب: پټه خزانه فی المیزان په کتاب کې مستقل کتاب و لیکه، دا کتاب تول پارسنګ نومېږي، چې په ۱۹۹۳ع کال په پېښور کې چاپ دی او په شپږو بابونو کې یې د ښاغلي مومند د کتاب د ډېرو برخو ځوابونه کښلي دي او څه چې پاتې دي د هغو ځواب متې یې هم راغښتې دي او په دې سلسله کې د دوی یوه اوږده مقاله په جرس نومې پښتو مجله کې چاپ ده چې عنوان یې دی «اشرف خان هجري - آزاد که قیدي؟» (۴۴)

(۴) د دې کرښو لیکوال د ښاغلي مشر قلندر مومند د وروستۍ مقالې: (کامل مرحوم او پټه خزانه) ځواب ما لیکلی دی، چې دا ځواب بیا په لورلایي کې خپرېدونکي تماس کې چاپ دی او ما د مخه په هغې لیکنه یو ځای کې اشاره ورته کړې ده. د ګران مشر ښاغلي

قلندر مومند د اعتراضونو پهٔ وړاندې د کښل شویو ځوابونو او یا شویو کارونو فهرست تا سې وکوت، له دې ځوابونو او کارونو څخه ښکاری، چې زموږ فرهنګی حلقات که د پښتو په هره فرهنګی حوزه اړه لري، د پټې خزانې په باب د دوی له نظریاتو سره موافق نهٔ دی.

کهٔ د محمد هوتک د زوکړې د درې سوه دېرشمې کالیزې په مناسبت د جوړ شوي سیمینار مقالې پهٔ پام کې وساتو (د دې سیمینار زیاتې مقالې د پټې خزانې فی المیزان پهٔ رد کې لیکل شوې دی.) نو د بناغلی مومند د نظریاتو د مخالفینو لړۍ به اوږده شی.

بالمقابل د دوی له کتابه هم یوځای نیم استفاده شوې ده، د اهله کسان په افغانستان کې د پښتو په باب ښه نظرونه لري، دوي د افغانستان پهٔ تمامیت، ملی حاکمیت، نامهٔ، حیثیت او ملی مفاخرو بې باوره دی او د افغانستان د اوسېدونکو له قاطع اکثریت سره غیر واقعبینانه او له حقایقو لیرې د یو تنګ نظرانه نشنالستی طرز تفکر لهٔ مخې دښمنانه برخورد کوی، لهٔ دغو کسانو څخه ځینو

د بناغلی مومند

اعتراضونه زموږ پر ضد استعمال کړي دی(۴۵)

۶۳

کوم ځوابونه چې ښاغلیو لیکوالو او څېړونکیو د ښاغلی مومند د اعتراضونو په ځواب کې وړاندې کړی دی، ځینې یې بنا یی کمزورې او د استدلال ضعفونه ولری، خو په عام ډول چې څه د دوی د اعتراضونو په وړاندې لیکل شوی دی، په اسنادو متکی دی، له منطق، عقل او درایت سره مطابقت لري، حتیٰ کمزوری ځوابونه هم که څه نه وی، نو بې څه خو هم نه دي.

د ښاغلی مومند د کارونو په ارتباط د دې بیان په پای کې زما خپل معروضات دادی:

(۱) هر کره کتونکی او څېړونکی چې هر اثر نقدوی، نو تر ټولو دمخه ورته په کار دی، چې خپل نقد او څېړنه دیو میتود په رڼا کې بشپړه کړی، د نقد اصولو ته پابند وی او د نقد د آدابو مراعات خپله وظیفه وبولی، د خپلې فرېضې د اثبات له پاره شواهد او اسناد راټول کړي او بیا د اسنادو له کره کتنې، تحلیل او تفسیر نه وروسته د مدعا د ثبوت خواته هڅه وکړي، نه دا چې کره کتونکی په خپل ذهن کې موضوع ثابته فرض کړی، د خپلې منلې ادعا لپاره دلایل پیدا کړي او ماخذ په خپل زعم تفسیر او تحلیل کړی او یا یې تحریف کړي او یاهم

هغه اسناد چې دده د فرضیې ضد دی، هغه ونهٔ منی او یا ترې سترګې پټې کړي.

په ډېر تأسف باید ووایو چې دګران مشر قلندر مومند په لیکلي کتاب پټه خزانه فی المیزان کې لهٔ زیاترو یادو شویو مواردو نه عدول لیدل کېږی، لکه:

الف: پټه خزانه فی المیزان چې سړے په دقت ولولی، نو لهٔ ورایه دا خبره څرګندېږی چې ښاغلی لیکوال ترټولو دمخه په خپل ذهن کې پټه خزانه یوجعلي (۱) کتاب فرض کړے دے او بیا یې د خپلې دعې ادعا د ثبوت لپاره دلایل راټول کړي، اسناد یې په خپله خوښه تفسیر کړي دی او هغه اسناد چې دده پرضد دی، د هغو رد یې په داسې دلایلو کړے دے چې علمي او تحقیقي روش نهٔ شي باله.

ب: د نقد آداب په ټول کتاب کې نه دی مراعات شوی، د نورو توهین، تحقیر او سپکاوے د دې کتاب په ټولو برخو خپلې وزرې غوړولې دی.

(۲) پښتو یوه داسې ژبه ده چې په لس ګونو لهجې لری. یوازې د افغانستان او سرحدی سیمو تر ۷۰ زیاتې لهجې یې پوهاند دوکتور زیار ثبت کړې دی (۴٦) که چېرې د پښتونخوا لهجې هم ضبط

شی، نو دا شمېره به نوره هم ډېره شی.

دغه لهجې ځینې خپلې ژبنۍ ځانګړنې لری چې یوه له بلې سره په ځینو برخو کې تفاوتونه ښیی. دا تفاوتونه د لغاتو او اصطلاحاتو د مفاهیمو په برخه کې او همدارنګه د ځینو ځانګړو تعبیراتو په برخه کې لیدل کېږی.

د پښتو لاس ته راغلی زاړه متون که په دقیق ډول وپلټل شی، په زیاترو کې به موږ د شاعر او لیکوال خپل لهجوی خصوصیات په داسې حد کې حتیٰ لیدلای شو چې دغه ګړودوی ځانګړنې د بلې لهجې ویونکی ته نامفهوم او یا بل مفهوم ورته تداعی کوی.

په دې برخه کې ډېر ښه مثال د خوشحال بابا کلیات دی، چې د ختکو د لهجې ځینې خاص ټکی په کې راغلی او متن څېړونکی یې چې زیاتره د نورو لهجو تابع خلک وو، د هغو خاصو لهجه یی ټکو پر مفاهیمو او تعابیرو نه دی پوه شوی، هغه برخې یې یا هغسې پرېښی دی او که یې شرح پر لیکلې ده، نو یې غلطه لیکلې ده.

حاجی پردل خان ختک چې د پښتو اکیډمۍ پښور یو متقاعد غړی دی، دوی یوه ورځ په دې برخه کې له ما سره یو اوږد تفصیلی بحث وکړ

چې دلایل یې د منلو وو او زموږ متن څېړونکی په دې برخو کې په حقه نهٔ دی.

په سیمه ییز لحاظ د ویینو د مفاهیمو او تعبیراتو د غښي توپیرونو ته اروا ښاد علامه حبیبي په خپله یوه مقاله کې داسې اشارې کړي: «کله کله سپک او رکیک کلمات هم اورو چې د ځینو نورو خواوو په محاوره کې هغه ښکنځل ګڼل کېږي، تماس نیول، په کوته کول ګوته نیول او نور ...» (۴۷)

له دې سربېره اوس د پېښور او کابل په پښتو کې ځینې داسې پښتو او حتی د نورو ژبو دخیل کلمات په داسې مفاهیمو مروج دي، چې معناوې او مفاهیم یې یو له بله توپیرونه ښیي، د مثال په ډول د متاثر له دخیلې کلمې، چې موږ کوم مفهوم اخلو، هغه د پېښور د پښتو له مروج مفهومه څخه توپیر لري.

ښاغلی مومند په کره کتنه کې د غه اصل ته پاملرنه نهٔ ده شوې.

(۳) د ژبې د تحول اصل ته پاملرنه د غښي آثارو په نقد کې مهمه برښي. ځکه ژبه هم د تحول په درشل کې ولاړه پدیده ده، چې د پېړیو په پوړیو کې یې د لغاتو بڼه، مفاهیم، تعبیرونه او معناوې تغییرمومي.

که موږ د پښتو لیکلي آثار سره و پلټو، نو راښکاري

به شي، چې يو لغت پۀ يوه پېړۍ کې يو شاعر او ليکوال پۀ يو مفهوم استعمال کړے دے، پۀ بل کې بيا د هاغه لغت معنیٰ تغير پيدا کړے دے، د بلې پېړۍ پۀ يو ديوان کې يې بڼه او بنتې ده.

ارواښاد سرمحقق دوست شينواری (۱۳۷۲ هـ ش- مړ) پۀ خپل فرهنګ (زړه پانګه) د وارو توکونو کې د غسې لغات راوړي دي، چې معناوو او مفاهيمو او بڼو يې د پېړيو په اوږدو کې تغير موندلے دے.

ښاغلی مومند صاحب چې پټه خزانه کې راغلي لغات تفسير کړي دي، هلته يې د ژبې د تحول مسألې ته پاملرنه نۀ ده کړې، د مثال په ډول د هېواد لغت هغې معنیٰ ته دې پاملرنه کوي چه پۀ ځينو متونو کې دلېرې ځای پۀ مفهوم راغلے دے او پۀ هغو متونو کې يې چې استعمال د وطن مفهوم ښندي، هغه بيا د اعتماد وړ نه بولي او د جعلي (پۀ معنیٰ) راغلے دے دغه ناروته توجه وکړئ:

په متر ګډ ورته ګوري، مګر دوی ته دا

[illegible]

لۀ زمريانو شوې خالي د هېواد درګې
نادر وکښې د سيدال ميړنۍ سترګې (۴۹)

يا لکه: کۀ زنې پښتانۀ تود يالي زني
پۀ غزا و لاړو کرمان ته، تو يوی اوس پۀ پردو هېوادو وينې:

د دغسې کلموپهٔ لړکې بله کلمه استوگنه ده، چې ښاغلی مومند پرې اعتراض لری او د پټې خزانې د جدیدیت نخښنه یې بولی (پټه خزانه فی المیزان ۱۲۳ مخ)

ما خپله په متونو، فرهنگونو او حتیٰ د معاصرې دورې پهٔ خپرونو کې د دې کلمې دغه وروستې لیکلې بڼې لیدلې دی: استوگنه، ستوگه (د قاسم علی خان- اپریدی خطی دیوان) استوگنه او هستوگه.

پهٔ متونو او خپرونو کې د دې اشکالو بڼې لهٔ پخوا تر اوسه مروجې دی او داسې نهٔ دی شوي یوه بڼه یې یو وخت متروک شوې وي او بلې یې ځایے نیولے وی.

د دولسمې پېړی پهٔ متونو کې دا کلمه د استوگنه په بڼه راغلې ده؛ ښاغلی لیکوال هېښ خلیل په تول پارسنگ (۱۲۴-۱۲۵ مخونه) کې له قدیمه ادبه دا ډول نمونې خوندی کړې دی. لهٔ هغو نمونو سربېره - چې ښاغلی هېښ خلیل راوړی دی - د محمدی صاحبزاده نمونه هم له ما سره شته، چې یې پهٔ خپل یو اثر مستغاث کې راوړې ده.

محمدی صاحبزاده ویلی دی:

گرانه شوه استوگنه اوس زما په ځمکنو کې
زړهٔ مې هسې بند دے لکه څوک پهٔ زولنو کې (۵۰)

پهٔ دې ارتباط د یادونې بله خبره داده: پهٔ چاچې ښاغلی مومند د پټې خزانې د جعل کولو شک لرې هغهٔ پهٔ هغه مهال کې دا کلمه هستوګنه لیکله، نهٔ استوګنه. (د طلوع افغان د حوت ۱۰مه ګڼه، ۱۳۱۰ هش کال). د غه رنګه ښاغلی مومند د کلمو ظاهری بڼې ته پهٔ ملرنه یو بل ځاے کاږی: «څرګنده خبره ده، چې کام هم، لکه د کند هار، د قام د توری جدید صورت دے» پټه خزانه فی المیزان ۱۶۷ مخ).

څنګه چې پهٔ پټه خزانه کې د بی بی زینبې لهٔ خوا د ویلې شوې مرثیې پهٔ یوه بیت کې د قام پرځاے کام راغلے، لکه:

«ولاړ دکام پر نام و ننګ و نا» د وی ترې دا نتیجه اخیستې چې دا کتاب جدید دے، مګر ښایی دوی ته به دا نهٔ وه معلومه، چې حتیٰ د هوتکو د زمانې پهٔ تاریخی نارو کې کند هار، د قند هار دکام پربنه په بنه او قام راغلے دے، چې د پټې خزانې لهٔ ضبطونو سره یو شے دے، لکه:

کهٔ ولاړ دے شاه حسین د جنګ میدان کې
دهٔ ویل کام به مې راسی د نادر او ما به جنګ وی پهٔ میدان کې
یا: کهٔ زمرے دے شاه اشرف د جنګ زمرے دے
شاه اشرف ته کام راغے د نادر پهٔ اشرف خان ځکه برے دے

په دې بله ناره کې، قندهار :

که تېرې گورجی بیا کړې تېرې نارې
یو میرخان و څنې پاتې، میرخان هم اوس قندهار ته گرگین غواړي
(د خلکو سندرې ۱۳۹ مخ)

د هوتکو په نارو کې د قندهار او کام بڼې هسې ضبط دي، لکه چې په پټه خزانه کې راغلي دي. ـ نو د «جدیدیت» نخښنه بیا په کې له کومه شوه. ـ که ښاغلی مومند صاحب د غلجو پښتو متون او شفاهي ادبیات مطالعه کړي، نو بیا به ورته څرگنده شي، چې غلجي پښتانه (قام) وايي که (کام).

(۴) د پټې خزانې غوندې یو تذکرې نقاد باید د شرقي ادب له عنعنو او په خپله ژبه کې له د غه ډول روایاتو پوره خبر وي. ـ که چېرې موږ د پښتو ادبیاتو حوزه یې مطالعه وکړو، نو به راښکاره شي چې حتی د پښتو د ولسي شاعرۍ معلوم ژانرونه د ټولو حوزو په فرهنگي حلقو کې معمول او مروج نه دي او نه هم ټول ژانرونه پېژني او نه ادبي اصطلاحات په کې په یو ډول او یو مفهوم استعمالېږي.

که به ښاغلي مومند ته د ادبي اصطلاحاتو او په ادبپوهنې پورې مربوطې لغونې عنعنې معلومې وای نو به یې هېڅکله دا نه لیکل چې: «فارسي، پښتو،

اردو او د مشرق په ځينو نورو ژبو کې هم شعر د بيت په معنیٰ استعمالېږی ... د افغانستان محترم ليکونکی هم دا الفاظ عام طور سره په دې معنیٰ استعمالوي ...»

(پټه خزانه فی الميزان ۱۶۵ مخ)

د فارسی او پښتو په مورد کې خو دا مطلق حکم د منلې وړ نهٔ دے، بنا علے مومند صاحب دې د فارسی تذکرې او د شعر څېړنې پخوانی کتابونه وګورے چې هلته شعر د بيت په مفهوم استعمال شوے دے او که په عام مفهوم. په پښتو هم د غسې نهٔ ده "لکه چې دهٔ انګېرلې ده او نهٔ دا موضوع د افغانستان په اوسنيو ليکونکيو اړه لری، بلکې د شعر د لفظ استعمال په عامه معنیٰ نهٔ د بيت په معنیٰ په پښتو لرغونی ادب کې ډېر مثالونه لری، چې څو يې دادی:

دولت (۱۰۶۸ هـ ق حدود) وبلی دی:

«هېڅ افغان دهٔ غوندې شعر کړے نهٔ دے»

خوشحال بابا (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق):

«چې لاف وهی د شعر»

هجری (۱۰۴۴ - ۱۱۰۶ هـ ق):

«چې يې شعر جهانګير لکه د لمر دے»

«په پښتو ژبه چې شعر چا بيان کړ»

«د سکندر شعر لهٔ څهٔ سره مخيے کړم»

" چې د چا شعر شمشېر د چا خنجر دے "
" د مرزا شعر شمله بلکه افسر دے "
" چې يې ما شعر منظور کړ معتبر دے "
" نن يې ولې زمانې د شعر فر دے "
" نهٔ يې شعر سنجيده نهٔ د باور دے "

د تېمور شاه معاصر بېدل :

" يو نيم لفظ يې پهٔ شعر کې سنهٔ موندهٔ شي
نور لهٔ واړهٔ صادر شوے پوچ بيان دے "

پير محمّد کاکړ :

" جوړ پهٔ شعر کې رحمٰن غيب اللسان دے
پهٔ دا خبر نهٔ شته هرگز د انسان شعر "

شمس الدين کاکړ :

" ويه نهٔ رسی پهٔ شعر لهٔ رحمانه "

رحمت داوي :

" هر څوک شعر کا هم لاف د شاعرۍ کا
زهٔ قربان تر شيرين شعر د مومند "

ښاغلی لوستونکی دې دا نمونې وګوري، چې پهٔ کوم ځاے کې د شعر لفظ د بيت مفهوم ښندی، بلکه پخوانو بيت ته بيت او شعر ته يې پهٔ عامه معنیٰ شعر ويلے دے. د بيت مثالونه :

خوشحال بابا :

د دیوان کۀ مې بیت ، بیت سره حساب کړم
ترخلوښت زره به تېر شي پۀ دا کال

رحمان بابا :

پۀ غزل کې خو دوه بیته انتخاب وي
د رحمان تمام غزل دے انتخاب

اخوند احمد (۱۱۱۳ﻫ ، ق مړ) :

«شمایل مې لۀ مخزن له دوو بیتو پۀ ینځو کې»

خان علوم قاضي محمد غوث د احمد شاهي عصر عالم :

« ممکن دے چې دا بیت اشارت شي ... » (۵۰)

د فتاوای احمد شاهي مترجم :

« او هر بیت یې درد آمیز دے »

د احمد شاهي عصر یل لیکوال میا شرف ننگرهاري کښلي دي :

« یعني ښتن د بیت د شعر بهتر دے لۀ ښتن د کوټې ... »(۵۱)

پۀ لوړه نمونه کې د بیت او شعر دواړو مفاهیم ښرګند دي ، چې قدماوو بیت څۀ ته وایه او شعر څۀ ته . د محمد هوتک پۀ پټه خزانه کې چې دا الفاظ پۀ کوم مفهوم استعمال شوي دي ، هغه لۀ قدیمو عنعنو سره برابر دي .

همدا ران پۀ پټه خزانه د اشعار د کلمې پۀ استعمال هم شاغلي مومند صاحب دا اعتراض کړے دے . دا کلمه هم پۀ پښتو کې لرغوني نمونې لري ، لکه :

هجري ویلي دي:

«د اشعارو ملک یې همه په ژبه خپل کړ»
«عجب کړې په اشعار قلندرخان یم»

(۵) نقاد ته باید د خپلې ژبې د املا او لیک په ټول تاریخ پوه وي او دا ورته څرګنده وي، چې د دې ژبې لیک او املاء د بشپړتیا یې یون په بهیر کې کوم جریانونه لیدلي، څه تحولات او تغییرونه یې منلي او سنه بڼه یې له کوم وخته رایج شوې ده؟ که نقاد ته دا ډول جریانونه نه وي ښکاره او د املاء د تحول تاریخ نه وي ورمعلوم، نو به ضرور ووایي چې د پټې خزانې په خطي نسخه کې د (ځ) د ګرافیم دغه شکل نوے دے «او ځکه نو دا سروپ دروغ دی چې دا کتاب په ۱۳۰۳ هـ کې لیکلے شوے دے».

(پټه خزانه في المیزان، ۱۷۱ مخ)

د (ځ) د ګرافیم د دې بڼې د قدامت په باب ښاغلي همیش خلیل په ټول پارسنګ کې، ښاغلي معصوم هوتک په خپله ځانګړې مقاله کې چې یې د محمد هوتک د سیمینار په هکله کښلې ده او استاد رشاد په خپل یوه ځانګړې یادښت (۵۳) کې داسې ښوولې دی چې د (ځ) د ګرافیم دغه بڼه په پښتو لیکدود کې اوس نه ده رواج شوې او پخوانۍ نمونه په پښتو خطي او قدیمو

چاپي آثارو کې ليدل شوي ده.

د دغو ښاغليو له مثالونو او اسنادو سربېره، په دې ارتباط دوه نور داسې سندونه ما ته معلوم دي چې د هغو لوړو يادو شويو ښاغليو په راوړيو مثالونو او اسنادو کې نه دي راغلي، هغه دوه سنده دا دي:

(۱) د ښاغلي حمدالله صحاف کندهاري په خطي مجموعه کې د قديم طب يوه خطي نسخه شته، چې په ټول متن کې يې د (ځ) گرافيم هماسې ليکل شوی، لکه چې يې اوس مونږ تاسې ليکو.

(۲) د معلم عبدالعزيز ديوان د (فراق برادرانه) په نامه په ۱۹۰۰ع کال په لاهور کې چاپ شوی دی. په ټول ديوان کې د (ځ) گرافيم په همدې اوسني مروج شکل ضبط دی.

(٦) هغه څوک چې پرېته خزانه او يا دې خزانې ته ورته کتابونو نقد کوي او نقدونه يې د خطي نسخو په خصوصياتو هم اړه ولري. نو بايده دی چې نقاد ته د خپل فرهنگ ټولې او يا زياتره نسخې معلومې وي، د نسخه پوهنې له ځانگړنو او روشونو سره آشنا وي او د نسخه پوهنې په بېلا بېلو اړخونو کې د کافي تجاربو خاوند وي.

دا ډول تجارب بيا د دې اړه نه پېښوي چې ووايي:

پهٔ خطي نسخو کې د هندسي نومرو موجودیت دکتاب د نویوالي بېلګه ده. کهٔ موان یوازې د پښتو دکتابخانو موجودې پښتو خطي نسخې لهٔ نظره تېرې کړو، نو ډېرې داسې نسخې به پهٔ کې ومومو چې د پټې خزانې لهٔ خطي نسخې څخه یا یې همزولې دي، خو د هندسي نومرې لري؛

(۷) دکتاب د چاپ د وخت پر اجتماعي، فرهنګي او سیاسي احوالو ځان خبر ساتل د دغسې آثارو د نقاد لهٔ پاره ضروري دی. د بنا علی مشر قلندر مومند دا لیکنه: «د دې کتاب پهٔ پاڼه پاڼه غلط روایات، غلط توجیهات او غلط واقعات بالاراده پهٔ دې غرض لیکلي شوي دي، چې د پښتو ادب د تاریخ پهٔ باب لوستونکي پهٔ غلط فهمیو کې مبتلا کړي چې د لیکونکیو یوې خاصې ډلې د خاصو مقاصدو د پاره خپلې کړې دي.» د ډېر غور وړ ده.

الف، پهٔ دې کې شک نشته چې پهٔ پټه خزانه کې ځینې غلطۍ او ځینې ضعیف روایات شته، خو دا خبره به هېڅ با مسئولیته نقاد و نهٔ مني چې د پټې خزانې پاڼه پهٔ پاڼه کې غلطۍ شته.

ب، غلطي اصلاً د سهوې او پهٔ یو شي د علم نهٔ لرلو مولود وي. پهٔ ارادي ډول څوک غلطي نهٔ کوي

دا خبره د عقل او منطق سره سمون نهٔ لري، ځکه هېڅوک به پهٔ زوره غلط مطالب پهٔ کتاب کې قصدي ځاے نهٔ کړي.

ج، د ګران مشر قلندر مومند د کتاب له لوسته خو دا ښکاري چې دده پهٔ اصطلاح دا کتاب اروا ښاد استاد حبيبي جعل (!) کړے دے. خو لهٔ لوړې اقتباسي ټوټې داسې ښکاري چې دے د ډيکوالويو ډله پهٔ دې کار کې شريکه بولي او د دوی دا خبره د کتاب لهٔ ټولو استنتاجونو سره پهٔ منافات کې واقع ده. د تحقيق تقاضا خو دا وه چې دوی د دې ډلې نوم ونه اخيستی واے او بيا يې دا ښوولې واے، چې دغو ښاغليو د خپلو دغو يا هغو ذاتي مفاداتو او مقاصدو پر بنا دا کتاب جعل کړے دے؟ زهٔ خو خپله دده لهٔ زړهٔ نهٔ يم خبر، چې پهٔ دې ډله کې څوک شامل دي؟ خو دا يو شخص چې دهٔ پهٔ خپل ټول کتاب کې دده پهٔ زعم د کتاب په جعل متهم کړے دے او ما يې د مخه يادونه وکړه. او س به وګورو چې مرحوم استاد حبيبي لهٔ دې کتابه څهٔ ذاتي فايده او چته کړې ده؟

زهٔ د استاد حبيبي سوانحو او ژوند پېښو ته پهٔ پاملرنه ښاغلي مومند صاحب ته پهٔ ډېر صراحت دا

عرض کوم، چې د دې کتاب پیدا کېدو او نشر د استاد پهٔ ژوند دوه توته اغېز هم نهٔ دے کړے.
ځکه استاد حبیبي د(۱۳۱۰-۱۹۳۱ ع) کال پهٔ شاوخوا کې د (طلوع افغان) با صلاحیته مدیر و.

دے د خپل علمي استعداد، ادبي او فرهنگي ذوق او اخلاصمندانه کار لهٔ جهته د خپل فعالیت پهٔ لومړیو کلونو کې داسې وځلېد چې حتیٰ د شاهانو توجه ورواوښته، اعلیحضرت محمد نادرشاه غازي شهید (۱۳۱۲ هـ، ش شهید) کابل ته غوښتے و او د دهٔ کارونه یې ستایلي وو.

استاد حبیبي لهٔ ۱۳۱۰ هـ، ش نه تر ۱۳۱۹ هـ ش ۱۹۴۰ ع پورې د طلوع افغان پهٔ چوکاټ کې دومره علمي او فرهنگي کارونه وکړل، چې نهٔ یوازې د افغانستان، بلکه د سیمې پهٔ فرهنگي حلقو کې خلکو وپېژاند.

پهٔ دې دوران کې دهٔ د رهنماي پښتو پهٔ لیکلو کې برخه واخیسته؛ سپېڅلې پښتو یې لهٔ ارواښاد لعل محمدخان کاکړ (۱۳۵۹ هـ، ش مړ) سره یو ځاے ترتیب کړه؛ د پښتو شعر تاریخچه یې ولیکله (۱۹۳۵ ع) د خوشحال مرغلرې یې ترتیب کړې؛ د عبدالقادر دیوان یې ترتیب کړ؛ د عبدالرحیم هوتک او نورو شاعرانو پهٔ باب یې رساله ډوله مقالې ولیکلې او د احمدشاه بابا

پر دیوان یې کار شروع کړ. دا کارونه او دده علمي استعداد و، چې په ۱۳۱۹ هـ. ش کال کې یې دے په کابل کې د پښتو ټولنې مشرۍ ته ورساوه.

د پټې خزانې تر پیدا کېدو او نشره د مخه دے د شهرت او منصب لوړو مدارجو ته رسېدلے و. تر کومه چې زهٔ معلومات لرم د پټې خزانې د اول چاپ په وخت کې په افغانستان کې د حق الزحمې ورکړه باب نهٔ وه.

د دوهم چاپ په وخت کې استاد په افغانستان کې نهٔ و، د درېیم چاپ شاهد خو یې زهٔ یم، چې حتی دهٔ ته د درېیم چاپ د مقدمې حق الزحمه هم چا ورنهٔ کړه. د معلوماتو مطابق لهٔ پټې خزانې نه، نهٔ د دې کتاب برسېره ونکي او نهٔ د ښاغلي مومند په اصطلاح کومې ډلې د کوم ذاتي هدف یا مقصد لهٔ پاره څهٔ استفاده کړې ده. کهٔ چا ته په دې برخه کې څهٔ معلومات وي او باسند ولري، لطفاً دې را وړاندې کړي.

لنډه دا چې د ښاغلي مشر قلندر مومند نقد لهٔ مختلفو جهاتو څېنې کمبوتې او خلاوې لري، چې د پښتو ادب څېړونکي او نقادان نهٔ شي قانع کولاے.

زما په عقیده بهتره دا وه چې ښاغلي مومند د کتاب د جعلي ثابتولو لپاره د دلایلو د تراشلو پر ځاے پر دې کتاب واقعي نقد کړے واے، ښو ته یې ښه او بدو

ته يې بد ويلي واے، دا کار به ابتکاري هم واى

او زښتمن هم.

د منکرانو په ډلګۍ کې له ګران مشر قلندر مومند نه وروسته ددهٔ د لارې دوه تنه پيروان هم ما ته معلوم دي چې پټه خزانه نهٔ مني، هغه دوه تنه دا دي:

الف، ښاغلے زبير حسرت: دے د پښتو ځوان ليکوال او شاعر دے. ښهٔ ذوق او پښت کاږلري او د فرهنګ په لارکې په هاندو هڅه بوخت دے. ما ددهٔ په ليکنو کې يو ځاے لوستي دي: «خوکه زهٔ د لن ساعت د پاره «پټه خزانه» صحيح ومنم ...» (۵۳). د ښاغلي حسرت له دې لنډې يادونې ښکاري چې دے هم پټه خزانه نهٔ مني، خو دا چې د نهٔ منلو په باب يې کوم تشريحي بيان نهٔ دے خپور کړے، نو ځکه زهٔ پرې څهٔ نهٔ شم ويلاے.

ب، ښاغلے مشتاق مجروح يوسفزے: دا ښاغلے هم د پښتو له ځوانو ليکوالو او شاعرانو څخه دے. دهٔ هم د ښاغلي مومند په پيروۍ ځينې مقالې ليکلې دي، دا مقالې تر اوسه چاپ نهٔ دي، خو ځينې يې د ساهو ليکونکيو د مرکې غونډې ته د نقد له پاره وړاندې شوې دي. پهٔ دې ارتباط ما ددهٔ يوه چاپ

شوې مقاله لیدلې ده، دهٔ دا مقاله زما د هغه ځواب پهٔ وړاندې کښلې چې ما د ښاغلی مشر قلندر مومند د مقالې: «کامل مرحوم او پټه خزانه» پهٔ ځواب کې کښلې وه. د ښاغلی مجروح صاحب د دې لیکنې پهٔ باب زما توضیحات دا دی:

(۱) ښاغلی مجروح صاحب زما له مقالې یوه برخه اقتباس کړې او ویلي یې دي چې ګویا هېوادمل لهٔ یوې خوا وایي چې پهٔ تحقیق کې شفاهي خبرې د سند پهٔ حیث نهٔ شي منل کېداے او له بلې خوا یې لهٔ ارواښاد کامل سره د پټې خزانې پهٔ باب خپل بحث راوړے دے.

زهٔ به ښاغلی مجروح ته دا عرض کړم چې کهٔ دے هغه مقاله پهٔ غور سره ولولي کوم استنتاج چې دهٔ ترې کړے دے، هغه ترې نهٔ مراد کېږي.

زهٔ اوس هم وایم چې پهٔ تحقیق کې تش تایید او تردید هېڅ ارزښت نهٔ لري. تش تایید او تردید کهٔ تحریري هم وي د بحث له پاره څهٔ نشي وړاندې کولے نو ځکه یې هېڅ اهمیت نهٔ شته، د مثال پهٔ ډول کهٔ یو سړے دومره ووایي، چې دغه یا هغه کتاب ښهٔ دے یا نهٔ دے او ووایي چې پټه خزانه نهٔ منم. دا ډول تایید او تردید پهٔ څهٔ نهٔ ارزي. کهٔ له مشتاق صاحب

نه هغه خبرې هېرې وي، زه به د خپلې هغې مقالې جمله دلته راوړم: „ شفاهي تایید او تردید که څه هم د یو ډېر لوی علمي شخص له خوا وي د یو اثر په ارزښت ټاکنه کې څه مؤثریت نه لري...„.

اوس را ځو له ارواښاد استاد کامل سره د پټې خزانې په باب زما د مخامخ خبرو موضوع ته.

ګرانه مشتاق صیب! ما په خپله مقاله کې ښوولي دي چې: ارواښاد کامل چې پر پټه خزانه په ۱۹۵۲ع کال کوم لنډ خو جامع تنقید کړی و، هغه تر پایه پر خپلو خبرو ولاړ و. کله چې د ۱۹۷۹ع کال په اکتوبر کې ما ورسره د پټې خزانې په باب خبرې وکړې، نو یې د پټې خزانې په باب هماغه پخوانی د ۱۹۵۲ع کال نظر و.

د پښتو مجلې د مقالې لیکوال په باب چې ارواښاد کامل مومند ما ته څه ویلي وو هغه ما راوړي دي، که ما په دې برخه کې جزیي ترین تحریف کړی وي د قیامت په ورځ   دې د استاد کامل لاس او زما ګریوان وي.

ګرانه مشتاقه! موږ پر مړیو تهمتونه نه تړو داچې تا ویلي دي چې د پښتو مقالې د لیکوال په باب د استاد کامل تبصره یوه افسانه ده چې ستا په زعم ما

جوړه کړې اوسنا پۀ تعبیر : « دا افسانه د آصف صمیم زرین انځور او محترم همیش خلیل د کتابونو د لیکلو نه پس جوړه کړے شوې ې ».

زۀ به درته ووایم چې تا پۀ تماس کې زما مقاله نۀ ده لوستې، کۀ دې لوستې وا ے نو به دې داخبره نۀ وا ے لیکلې. ما پۀ خپله مقاله کې لیکلي دي:

« د استاد کامل د غو خبرو ته اتۀ کاله د مخه (هغه وخت) ما د خوشحالنامې پۀ مقدمه کې هم اشاره کړې ده ». او بیا مې لیکلي دي : « ... ما یو خط استاد قلندر مومند ته ولیږه او لۀ استاد کامل سره مې د پټې خزانې پۀ باب د غه بحث پۀ کې وکړي ».

دا چې هغه مقاله دې پۀ غور نۀ ده لوستې، نو زۀ به اوس درته ولیکم، چې د پټه خزانه في المیزان لۀ چاپ نه دوه کاله د مخه، د ښاغلیو انځور او صمیم د کتاب لۀ چاپ نه څلور کاله د مخه او د ښاغلي مشر همیش خلیل د کتاب لۀ چاپ (۱۹۹۳ع) نه اووه کاله د مخه ما پۀ ۱۳۶۵/۱۹۸۶ع کال د خوشحال نامې (۵۴) پۀ مقدمه کې لۀ استاد کامل سره د خپل دغه بحث پۀ باب ځینې نکات نشر کړي دي او ښاغلي مشر قلندر مومند ته مې هم پۀ یو لیک کې کښلي وو، اوس دې نو قضاوت ښاغلي لوستونکي وکړي چې افسانه کومه ده او حقیقت

کوم دے.

ښاغلی مشتاق صاحب د خپلې لیکنې یو بل ځای لیکلی دی: «د رحمان بابا د تاریخ وفات پهٔ بحث کې محترم هیواد مل صاحب د نورو ډېرو کتابونو حوالې ورکړې دی، چې د غه قسمه تاریخي غلطۍ لری. پهٔ دې لړکې د نورو کتابونو حوالې ورکول داسې دی، لکه څوک یو تن ته ووایی چې دا غلط کار یا جرم دې ولې وکړو او هغه پهٔ ځواب کې د نورو مجرمانو ذکر شروع کړی...»

دلته ښاغلی مشتاق پولیسی استدلال کړے دے هغه استدلال لونه چې پهٔ پولیسی ادارو کې باب دي هغه د فرهنګي څېړنو پاک حریم ته لار نهٔ لري.

ځینی ښاغلی دا استدلال کوی چې پهٔ پټه خزانه کې داسنه یا هغه خبره غلطه راغلې نو فلهذا دا ټول کتاب غلط یا جعلی دے. ما د پښتو - دری (فارسی) او اردو د ځینو کتابونو نمونه اخیستی چې هلته هم د ځینو شاعرانو د زوکړې او مړینې نېټې غلطې راغلی دی، مګر هېڅوک دا نهٔ وایی چې دا کتابونه جعلی دی.

کهٔ پهٔ ځینو غلطیو یو کتاب جعلی ثابتېدے شی، نو بیا د پښتو، فارسی او اردو پهٔ لسګونو کتابونه د فرهنګ او تحقیق له ساحې وزي او اعتبار یې

ساقطېږي.

په پښتو کې خو د لویو نه لوی محقق چې راواخلې په آثارو کې یې غلطۍ میندلې کېږي. ما پخپله هغه مقاله (تماس) او په دې حاضره مقاله کې د ځینو نورو کتابونو غلطۍ په دې ښیامت ښوولې دي، چې په یو کتاب کې واردې غلطۍ هغه کتاب د جعلیت په معرض کې نهٔ شي واقع کولای.

بیا ښاغلي مجروح صاحب د استاد کامل د انګرېزي مقالې ځینې اقتباسات په انګرېزي رانقل کړي دي. خو اصلي خبره چې ما پرې بحث کړے دے او هغه د مقالې عنوان دے هغه یې نهٔ دی کښلی او په ډېرې زیرکۍ یې داسې ځان ترې تېر کړے دے: «... ته د مرحوم کامل مومند د هغې انګرېزي مقالې کومه چې اول په ډان کراچۍ او بیا فرنټیر پوسټ پېښور کې چاپ شوې دی».

د ښاغلي مجروح نه لکه چې زما هغه خبرې هېرې دي، ما هلته ویلي دي: «دا عنوان لهٔ پټې خزانې نه د استفادې ضرورت نفې کوي» د ښاغلي مشر قلندر مومند په مقاله کې د یادې شوې مقالې عنوان داسې ضبط دی: «د مغلو په دور کې پښتو ادب» زهٔ بیا هم وایم چې دا عنوان لهٔ پټې خزانې د استفادې ضرورت نفې

کوي. که ښاغلی مجروح صاحب زما په خبره یقین نه لري یو داسې چیانه دې پوښتنه وکړي، چې د معاصرو ځېړنو د اساساتو خبر وي. که چا د تحقیق د اساساتو الفبا هم لوستې وي نو هغه به درته ووايي چې تر دې عنوان لاندې باید هغه ادبا او شعراء راشي چې د مغلو په دوران کې تېر دي.

ښاغلی مجروح د خپلې مقالې په ترڅ کې د توهینونو تر څنګه ماته پېغون راکړی دی:

«په کار وو چې ... د هغې کتابونو کوم چې تاریخي غلطۍ لري په ځای د کلن توري په کوم چې په پټه خزانه فی المیزان کې اعتراض شوی دی... او یا داسې نور اعتراضات چې د هغې جواب تر اوسه نه دی شوی...»

زه بیا هم ښاغلي لیکوال ته په ډېر احترام عرض کوم چې ما د تماس په مقاله کې پر هغو خبرو بحث کړی دی، چې د ښاغلي مومند صاحب په مقاله کې راغلي دي، ما دده پر پټه خزانه فی المیزان هلته خبرې نه دي کړې. اوس راځو د پاتې اعتراضاتو او کلن خبرې ته. ګرانه د پټې خزانې په باب د هیڅ هیڅ ډول اعتراض به هم ان شاء الله بې منطقي او علمي ځوابه نه پاتېږي. ډېر کسان لا تر اوسه هسې نیوکې

کوی، چې میدان ته ورغلی پهلوانان څهٔ کوی؟ کهٔ نه له ډېرو کسانو سره پر دې موضوع د خبرو او څهٔ لیکلو اراده شته. خیر دے تر هغه وخته به ستا مقالې هم چاپ شي او د نورو هم. بیا چې د چا قناعت بخښونکی ځواب نهٔ وشوے، نو د هغه به ځواب کېږی. لږ حوصله وکړه، تحقیق او نقد د سړي سینې کار دے، نه د بیړې.

د گلن ځواب څو اوس در واخله. گلن چې پهٔ کومه بڼه پهٔ پټه خزانه کې راغلے دے، مثالونه یې پهٔ نورو پښتو آثارو کې موندل کېږی.

د پښتو نصاب الصبیان په یوه زړه نسخه کې ۱۶ ځایه د گلن کلمه هسې راغلې، لکه چې د پټې خزانې پهٔ موجوده نسخه کې ضبط ده. دا مثالونه یې ولولئ:

ثنی خصے دے درې کلن   رباعی څلور کلن
جذع ورے وی دوه کلن   ثنی بولی درې کلن

ښاغلی مجروح زما پهٔ مقاله د خپلو اعتراضاتو پهٔ سلسله کې دا هم ویلی دی، چې گوندی ماته د ښاغلی قلندر مومند هغه مقاله نهٔ وه معلومه چې پهٔ ځان پوهنه کې چاپ ده. لهٔ دې خبرو ښکاری چې ښاغلی مجروح صاحب

زما مقاله هیڅ نه ده لوستې . ما هغه مقاله کتلې ده ، زما په مقاله کې یې یادونه شوې (تماس ۳/ ۳۸ مخ)

د ښاغلي مجروح اعتراض دا دے ، چې د یونس په دیوان کې د رحمٰن بابا مرثیه ولې د (ش) په ردیف کې راغلې ده ، دا باید د (ه) په ردیف کې واى او بله دا چې ښاغلي بختاني په خپله مقدمه کې د غزل د ردیف توریے د (شه) پر ځاى (شو) کښلے دے .

زه ښاغلي مجروح ته خواست کوم ، چې دوی دې لطفاً د پښتو د څو مردفو دیوانونو خطي نسخې وگوري نو بیا به خپله ورته څرگنده شي، چې په زړه ردیف بندۍ کې د دغسې ردیف لرونکې غزلې د (ش) په ردیف کې راغلې دی او که د (ه) .

بله د خدمتگار صاحب د ضبط موضوع ده ، دا چې هغوی په کوم مشکل ضبط کړې ده، دا د دوی خپل کار دے . خو دومره زه وایم ، چې د (شه) فورم نسبت (شو) ته قدیم دے او په قدیمو آثارو کې هر ځاى د (شو) پر ځاى (شه) ضبط دے .

(۴) په سرحد کې زمونږ ځینې داسې فرهنگیان هم شته ، چې په کلیت کې د پښتو خزانې وجود نه ردوی ، مگر په شفاهي او تحریري ډول د دې کتاب په باب ځینې خبرې لري . اوس به د دغو ښاغلیو

فرهنگیانو خبرې هم واورو او نظریات به یې وگورو چې دوی څهٔ وایي :

الف ، پهٔ ډله کې مانه معلوم لومړنی سړی ارواښاد عبدالحلیم اثر (۱۹۱۰ - ۱۹۸۷ع) دے ـ دهٔ یوه مقاله لیکلې ده چې عنوان یې دے : «پټه خزانه زما پهٔ نظرکې» دا مقاله د پښتو اکېډمۍ پښتو مجلې پهٔ دریو قسطونو کې خپره کړې ده ، اول قسط یې د ۱۹۷۸ع کال دمې پهٔ گڼه کې خپور دے (۶ - ۱۹ مخونه) دوهم قسط یې د ۱۹۷۹ع کال د مارچ گڼه (۱۳ - ۲۵ مخونه) ، دریم قسط یې د همدغه ۱۹۷۹ع کال د اپریل گڼه (۷ - ۱۸ مخونه) کې خپور شوے دے .

دا مقاله چې عنوان یې دے ، پټه خزانه زما پهٔ نظر کې ، خو پهٔ مقاله د پټې خزانې پهٔ ارتباط تشې دوې درې خبرې راغلې دی ، نورې خبرې لهٔ عقل، منطق روایت او درایت نه لیرې بې سنده بحثونه دی چې د پښتنو د فرهنگ او تاریخ د څېړنو پهٔ لاره کې دستونزو لهٔ پیدا کولو بل مفهوم سړے ځني نهٔ شي اخیستلای .

پهٔ دې مقاله کې د پټې خزانې پهٔ ارتباط دوه اعتراضنه مطرح شوی دی ، چې دلته به باندې خبرې وکړو ،

۱/ پهٔ پټه خزانه کې محمد هوتک ځینې خبرې

د شیخ کته "رح" لهٔ کتابه اخیستی دی ، چې هغه بیا دغه معلومات د محمد بن علی البستي لهٔ تاریخ سوری څخه نقل کړی دی . بناعلی اثر لهٔ دغه محمد بن علی البستی نه د غزنوي عصر عالم او لیکوال ابوالفتح بستي جوړ کړے او بیا یې خپله پهٔ پټه خزانه اعتراض کړے دے چې د څلورمې پېړۍ د یو عالم یاددهٔ پهٔ اټکل د ۴۰۴ ه، ق کال مړ ابوالفتح بستي پهٔ کتاب کې د شهاب الدین غوری د معاصر ښکارندوی احوال څنګه راتلے شی ؟

بیا یې پهٔ پټه خزانه داسې تهمت لګولے دے :

« د محمد هوتک بیان تاسو واورېده ، چې دے د تاریخ سوری د مؤلف نوم ابوالفتح محمد ابن علی البستي یادوی "

(پښتو ، مجه ۱۹۷۸ع کال ، ۱۲ مخ)

پټه خزانه ستاسې پهٔ مخ کې پرته ده ، پاڼه پهٔ پاڼه یې وګورئ ، هیچېرې هم د محمد بن علی البستی نوم ابوالفتح محمد ابن علی البستي نهٔ دے راغلے (وګ : د پټې خزانې اعلام ؛ ۲۹۰ مخ ، متن ۳۲ - ۳۳ - ۵۰ - ۵۱ مخونه)

بیا مرحوم اثر صاحب پهٔ خپله مقاله کې د دې سرې پهٔ باب پهٔ خپل زعم لهٔ محمد بن علی البستي نه ابوالفتح محمد بن علی البوړی جوړ کړے دے . هیڅ سند یې هم نهٔ دے ښودلے ،

پهٔ تحقیق کې دا ډول خبرې د اذهانو لهٔ مشکوکولو

پرته بله هېڅ معنیٰ نهٔ لري. هغه څه چې مرحوم اثر پهٔ دې ارتباط پهٔ پټه خزانه پورې تړلی دی، هغه پټه خزانه کې نشته.

ابوالفتح بستي او محمد بن علی البستي دوه بېل شخصیتونه دي، چې د دوی تر منځ د دوو پېړیو پهٔ شاوخوا کې واټن موجود دے. . د چې مرحوم اثر لهٔ محمد بن علی - البستي نه پهٔ خپله خوښه ابوالفتح بستي جوړ کړے او بیا یې ابو الفتح محمد ابن علی البوری بللے دے، دا ټولې خبرې د دهٔ د خپل ذهن ایجاد دے، پهٔ پټه خزانه اړه نهٔ لري.

۲/ ښاغلي اثر پهٔ پټه خزانه د خپلو اعتراضاتو پهٔ سلسله کې لیکلي دي: «... د پټه خزانه د مؤلف پهٔ قول پخپله ښکارندوی پهٔ ۵۸۰ هـ، ق ۱۱۸۴ع کې وفات شوے دے» (پښتو یاده شوې گڼه ۹ـ مخ)

ما چې پټه خزانه ورپسې وکتله، دا خبره خو پهٔ دې کتاب کې نشته او د پټې خزانې هغه برخې چې د ښکارندوی احوال پهٔ کې ضبط دے، هلته گرد سره سنه او تاریخ نهٔ دے راغلے (پټه خزانه دوهم چاپ ۴۸-۵۰ مخونه).

اروا ښاد اثر پر پټه خزانه د دغه لګولي تهمت پر اساس بیا پهٔ پټه خزانه اعتراض کړے دے، چې هر کله ښکارندوی پهٔ ۵۸۰ هـ، ق کال مړ وي، نو بیا یې د

سلطان شهاب الدین د هند د فتحې ستاینې څنګه وکړې؟ څنګه پهٔ پټه خزانه کې دا خبرې نهٔ شته او ښاغلی اثر خپله جوړې کړې دي، نو څنګه پهٔ پټه خزانه پورې مربوطو بحثونو کې نهٔ شي مطرح کېدای. دا چې پهٔ هغې مقاله کې مرحوم اثر ښکارندوی او د دهٔ پلار احمد ته خود ساخته سوانح جوړې کړې دي، هغه پهٔ دهٔ اړه لري او پهٔ ادبي خپرونو کې ځکه نشي مطرح کېدای چې پر سند مبني نهٔ دي.

دا مقاله اروښاد اثر پهٔ ۱۹۷۷ع کال پهٔ اپریل کې پهٔ لوړلاس کې د پټې خزانې پهٔ باب یوې جوړې شوې غوټې ته وړاندې کړې وه. لهٔ دې مقالې نه سړی د هغې غوټې ماهیت درک کولای شي.

ما چې دا مقاله ولوسته، نو حیران پهٔ دې شوم چې پښتو اکېډمي دا مقاله څنګه چاپوله؟

ب، پروفیسور محمد نواز خان طایر زموږ د معاصر فرهنګ هغه ستوری دی، چې زموږ د فرهنګ پر بېلابېلو ساحو یې د علم، فضیلت او هنر رڼا خوره ده او پهٔ ډېرو ساحو کې د دوی لهٔ علمي صلاحیت او هنري ذوق او استعداد نه پښتني فرهنګ ته ډېرې ګټې رسېدلې دي. جناب پروفیسور هم پهٔ دې ډله کې ولاړ دی چې لهٔ پټې خزانې یې استفادې کړې او د خپل غنیمت

اثر روحي ادب پهٔ بېلا بېلو برخوکې يې د پښتو ادب پردې لرغونې تذکره اتکا کړې ده، خو کله ناکله يې ددې کتاب پهٔ باب ابراز نظر هم کړے دے.

مونږ اوس وګورو چې د دوی دا ابراز نظرونه تر کومې اندازې له موضوع سره د پرابلم د حل پهٔ برخه کې مرسته کولاے شي:

۱- جناب طاير صاحب د خپل مشهور اثر روحي ادب پهٔ څينو برخوکې لهٔ پټې خزانې دا ستنفادې ترڅنګه د پټې خزانې پهٔ باب کښلې دي: ' يو د تنازعې کتاب (۵۵)

پهٔ دې بحث کې جناب طاير صاحب پهٔ لفافه کې د پټې خزانې پهٔ باب څينې خبرې مطرح کړې دی، چې مونږ به يې اوس پهٔ ګډه سره وګورو:

الف، پيا وړه او ښاغلی ليکوال يوه خبره دا کړې ده، چې پهٔ پټه خزانه کې د الغ بيګ، بابر او پښتنو د کشمکش پهٔ باب کوم شعري اثر نهٔ دے راغلے؟

زه خپل ښاغلي مشر ليکوال او محقق جناب طاير صاحب ته پهٔ ډېر احترام عرض کوم چې له استثنايي مواردو پرته کهٔ ،ر ن شرقي تذکرې وګورو نو دا راته ښکاري چې شرقي تذکره نګارانو ته چې څهٔ پهٔ لاس ورغلي، هغه يې پهٔ خپله تذکره کې اخيستي دي.

ليرې به نهٔ ځو د پښتو اکيډمۍ د وه خپرې کړې تذکرې

تېرهېر شاعران او پټ ستوري به وګورو. په دې دواړو تذکرو کې هغه شاعران راوړل شوي، چې مؤلفينو د هغو په باب معلومات تر لاسه کړي دي.

د پښتنو له سياسي، ملّي ژوند سره د مربوطو د وروستيو دوو پېړيو د جريانونو په ارتباط د ايجاد شويو ادبياتو او د دغو ادبي آثارو د ايجادوونکيو ياد ګرد سره په کې نهٔ شته.

بله خبره په دې ارتباط دا کېداى شي چې تذکرې خو د يو ملت سياسي، اجتماعي تاريخ نهٔ دے، چې ضرور بايد د ملت له سياسي، اجتماعي ژوند سره مربوطې ټولې پېښې په کې منعکس شي. د پټې خزانې مؤلف چې څهٔ موندلي هغه يې په خپله تذکره کې اخيستي دي. هغسې چې موږ لهٔ تذکرې نه د يو قوم د سياسي، اجتماعي تاريخ د وقايعو د ثبت توقع نهٔ شو کولاى - د غسې ترې د ادبي تاريخ هيله هم نهٔ شي کېداے، ځکه کېداے شي يو تذکره‌نګار پهٔ خپله تذکره کې داسې شاعران راوړي وي چې د هغې ژبې د ادبي تاريخ پهٔ يوه مشخصه دوره کې ځانګړې پړاو پورې مربوط شاعران نهٔ وي راوړي؟ اما بالمقابل ادبي مورخ مجبور دے چې هغه د يوې ژبې د ادبياتو د تاريخ ټولې

دوړې په پام کې ولرې.

که د محمد هوتک په پټه خزانه کې د پښتنو او الغ بيګ، بابر د واقعاتو په اړه کوم شعرونه دي راغلي او یادې واقعاتو ته کومه اشاره په کې نه شته، د تذکرې لیکنې اساساتو ته په پاملرنه موږ کوم اعتراض پرې نه شو واردولی، تر کومه ځایه چې ښکاره ده، د هغو واقعاتو په باب تر اوسه بل ځای هم څه نه دي پیدا شوي او یوازې هغه څو کرښې منظومې شته چې په تواریخ افاغنه کې ضبط دي.

موږ تر اوسه پورې د هغو واقعاتو په باب د کوم ځانګړي نظم په پیدا کولو لاس بری شوي نه یو.

ب، په روهي ادب کې لولو: „د محمد هوتک د لرغونو پښتنو شاعرانو په تذکره کې د رحمان بابا د دې شعر څه اثر مرتب کړی. دا هم یوه لحه فکریه ده، هغه وایي:

یو کتاب په سره بن کې چا ونه کړ
بې رحمانه چې یې وکړو دا کتاب

حالانکې د محمد هوتک په تذکره کې اکثر پښتانه شاعران هغه د وینا مطابق سرهبني دي. په لوړو خبرو کې دا خبره هم بحث طلبه ده چې د پټې خزانې اکثر شعراء سرهبني دي، ما ته خپله داسې نه ایسي

پهٔ پټه خزانه کې راغلي پښتانهٔ شعراء پهٔ بېلا بېلو پښتني قبیلو اړه لري، ډېر پهٔ کې غلجي (متوزي) پښتانهٔ دي.

اوس راځو د عبدالرحمان بابا یادونې ته چې ځان پهٔ سړبن کې لومړنی سړی ګڼي، چې کتاب یې جوړ کړے دے. کهٔ چېرې موږ د پښتنو پهٔ اتنیک کې سړبن دیو Socail Groop پهٔ حیث ومنو، لکه چې رحمان بابا یې یاد ونه کړې ده، د پټې خزانې شاعران خو پرېږده حتیٰ چې ارزاني خویشکي هم باید د شاعرانو لهٔ ډلې وباسو، ځکه ارزاني خو هم پهٔ قبیله یې لحاظ د سړبن پهٔ ګروپ کې شاملېږي.(٥٦) حال دا چې د رحمان بابا له زوکړې ډېر د مخه یې دیوان څهٔ چې د خپلو منظوماتو کلیات تهیه کړې دی. د مومندو پهٔ قبیله کې تر رحمان بابا د مخه پهٔ دکن کې اوسېدلے. قلندر مومند نومی شاعر خپل دیوان ترتیب کړے و.

ماته د رحمان بابا پهٔ دیوان کې لوړه یادونه له شاعرانه تصلفه پرته بل څهٔ نهٔ ښکاري او پهٔ ادبي څېړنو کې باید اتکاء پرې ونهٔ کړو.

دغسې یادونې پهٔ نورو آثارو کې هم موندل کېږي. مګر د استناد وړ نهٔ دي، د مثال پهٔ ډول، کامګار خان خټک پهٔ عقایدو کې یوه پښتو مثنوي

لري چې په ۱۱۳۷ هـ، ق کال کې يې له ترتيبه فارغ دی - ده د دې مثنوي په يوه برخه کې ويلي دي:

عقايد په خپله ژبه
هرچا کړي وو طالبه
په پښتو نه وو چا کړې

خو پښتانه محققين په دې پوهېږي چې د کامګار داخبرې هسې بابېزې دي او له کامګاره ډېر دمخه اخوند درويزه ننګرهاري (۹۴۰ - ۱۰۲۸ هـ، ق) په پښتو دعقايدو رسايل ترجمه کړي دي.

زموږ په معاصرو پښتنو کې پير بخش نومي د (زموږ محمد نبي) په نامه د اسلام د ستر پيغمبر په سيرت کې يو کتاب کښلی دے، چې د مقدمې له کښلو يې د ۱۹۳۱ع کال د جنورۍ په ۱۲ مه فارغ شوے دے. ده د دې کتاب په مقدمه کې ليکلي دي: «ډېره د افسوس خبره ده، چې اوسه پورې په پښتو کې يو کتاب هم د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د مبارک ژوند په حالاتو نه دے ليکل شوے»

حال دا چې په پښتو کې سيرت ليکنه درې درې نيم سوه کلنه سابقه لري. اخوند قاسم - پاپين خېل سيېواري په فوايد الشريعت کې څو بابه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم سيرت ته وقف کړې

دی او محمد خان حُمتد ملتانی خو د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر سیرت د ۲۱ بابو بشپړ کتاب لیکلی دے، چې نوم یې دے جامع الانوار او په ۱۱۱۸ هـ، ق کال یې له تالیفه فارغ شوے دے. له دې سربېره د پیر بخش صاحب له کتاب د مخه (زما رسول پاک) په نامهٔ کتاب په لاهور کې چاپ شوے و. کهٔ چېرې مونږ د پیر بخش خبره ومنو نو تر دهٔ د مخه د دې ساحې له ټولو لیکلیو کتابونو باید سترګې پټې کړو.

پهٔ فارسی ادب کې هم د غسې مثالونه شته، چې ځینو د غسې خبرې کړې دي. لکه دولت شاه سمرقندی چې د خپلې تذکرة الشعراء پهٔ مقدمه کې ویلی دی: «... القصه تاریخ و تذکرهٔ این طایفه را هیچ آفریده ی از فضلا ضبط ننموده» (۵۷) خو د فارسی ادب محققین پهٔ دې پوهېږی، چې د دولت شاه دا خبره سمه نهٔ دی، ځکه تر دولت شاه د مخه عوفی لباب الباب پهٔ نامه تذکره کښلې چې د فارسی شاعرانو غنیمت تذکره ده.

د روهی ادب پهٔ مغتنم کتاب کې د پټې خزانې پهٔ باب د لوړو یادونو د توضیح تر څنګه زما بله یادونه داده، چې کهٔ د روهی ادب فاضل مؤلف د بناعلی مشر

قلندر مومند د مقالې پر اساس پټې خزانې ته متنازع کتاب وایهٔ، نو د تحقیق تقاضا داوه، چې د وی د ښاغلي مومند د مقالو پهٔ ځواب کې د کښل شویو مقالو یادونه هم کړې وي.

د مثال پهٔ ډول د روهي ادب تر لومړي چاپ د مخه د ښاغلي قلندر مومند پهٔ ځواب کې پروفیسر سیال کاکړ مقاله کښلې وه او د مومند او کاکړ د مقالو پهٔ ارتباط بیا ښاغلي لیکوال او د رانهٔ شاعر عبدالرحیم مجذوب مروت مقاله کښلې وه، د روهي ادب د دوهم چاپ پهٔ وخت کې خو بیا پهٔ دې ارتباط لهٔ د واړو خواوو د برخهٔ چاپ وو.

ښاغلی مشر جناب پروفیسور طایر صاحب پهٔ خپلو دوو مصاحبو (مرکو) کې هم د پټې خزانې پهٔ باب څهٔ څرګندونې کړې دي. اوس به ګورو چې دا څرګندونې او یادونې څهٔ لري؟

الف: فاضل طایر صاحب د پښتو لهٔ ځوان لیکوال او شاعر ښاغلي حنیف خلیل سره یوه مرکه کړې ده پهٔ دې مصاحبه کې د پټې خزانې پهٔ باب د وې داسې خبرې کړې دي، چې سپینول یې د موضوع لهٔ روښانولو سره مرسته کوي.

د استاد طایر لومړۍ خبره داده: یو وخت جوزجانولسن

کابل ته تهٔ، نوما ورته ویلی وو چې تهٔ لاړشه، پهٔ کابل موزیم کې د پټې خزانې نسخه وګوره، خو هغهٔ ته چا دا نسخه نهٔ وه ښوولې.

زهٔ باید پهٔ ډېر احترام استاد طایر ته عرض وکړم، چې د پټې خزانې نسخه هېڅکله هم پهٔ کابل موزیم کې نهٔ وه. دا نسخه پهٔ اول کې د پښتو ټولنې ملکیت وُ، بیا د دې ټولنې لهٔ ډېرو نسخو سره د مطبوعاتو د مستقل ریاست عامه کتابخانې ته انتقال شوه او د عامه کتابخانې پهٔ خطي مجموعه کې چې د خطي کتابخانې پهٔ نامهٔ یادیده محفوظه وه او بیا چې کله د ارواښاد سردار محمد داؤد پهٔ زمانه کې د افغانستان ملي آرشیف جوړ شو، خطي کتابخانه آرشیف ته انتقال شوه او د پټې خزانې نسخه اوس د افغانستان پهٔ ملي آرشیف کې خوندي ده.(۵۸)

د پټې خزانې خطي نسخه کهٔ پهٔ خطي کتابخانه کې وه او کهٔ پهٔ آرشیف کې پهٔ وترین کې د ننداري لپاره ایښودل شوې وه، لیدو یې ممانعت نهٔ درلود.

پهٔ دې مصاحبه کې دوهمه خبره دوی دا کړې ده چې د پټې خزانې خط د هغې رسالې لهٔ خط سره یو شے دے، چې لهٔ کندهاره به چا پیدله.

پهٔ دې خصوص کې هم زهٔ پهٔ ډېر ادب استاد طایر

نه عرض کوم ، چې «کهٔ شپه تیاره ده مېنې پهٔ شماردی» د پټې خزانې خطي نسخه موجوده ده ، دغه نسخه جنسًا پهٔ ۱۳۵۴ - ۱۹۷۵ ع کال کې چاپ شوې ده ، د طلوع افغان کوټکشونه هم شته ، خط او خطاطي یې ښکاره دے ـ لهٔ کندهاره د خپرېدونکې پښتو مجلې کوټکشونه هم زموږ پهٔ واک کې دی .

لهٔ کندهاره خپارهٔ شوی د خوشحال ختک او عبدالقادر ختک دیوانونه هم شته ، د اروابناد استاد حبیبي پهٔ خط چاپ شوے د طبقات ناصری متن هم پهٔ کتابخانو کې موندل کېږی .

دا ټول خطونه د هر چا او هر ډول فني او علمي ارزښتونو پهٔ خدمت کې دی ـ د دې ټولو خطونو خطاطان معلوم خلک دی ، د پټې خزانې د دریمې لاس ته راغلې نسخې خطاط هم معلوم شوے دے .

(۳) د پښتو نومیالی لیکوال پروفیسور عبدالرؤف نوشهروی چې د ساینسي مضامینو پهٔ پښتو کولو یې پښتو ته ډېره ګټهٔ ورکړې او د پښتو پهٔ علمي کولو کې یې خپله ونډه ترسره کړې ده . دوی د پښتو نشو دارتقا پهٔ نامهٔ یوه رساله هم کښلې ده . پهٔ دې رساله کې یې د پټې خزانې پر متن له استنا د

سربېره د خپلې رسالې دیو مخ په حاشیه کې د ښاغلی لیکوال قلندر مومند د مقالې په استناد د (پښتو مارچ ۱۹۷۶ع) ویلی دی:

عبدالحی حبیبی وایي چې دا کتاب هغهٔ ته علامه عبدالعلی ورلیږلے و، مګر هغهٔ دا اعلان هغه وخت کړے و (چې هغه مړ و) (۵۹) بله خبره یې د لغت او رسم الخط هم کړې ده او دا یې هم ویلی دی چې حبیبی مړ دے، چې خپله صفایی وکړي.

زموږ د غه ښاغلی مشر چې کله خپله رساله لیکله هغه وخت د ښاغلی قلندر په ځواب کې په کابل، پېښور او کوټه کې ډېر څهٔ چاپ شوی وو. که د کابل او کوټې پر خپرونو ورته لاسرسے څهٔ ګران و. نو په هغې پښتو مجله کې د ښاغلی لیکوال او شاعر جناب همیش خلیل دوې مقالې چاپ وې. که دوی هغه دوې مقالې کتلې وے، نو زما په فکر د دې حاشیې د لیکلو ضرورت به یې نهٔ وحس کړے.

زهٔ خپل د غه ګران مشر ته په احترام لیکم، چې لهٔ اروا ښاد علامه عبدالعلی نه د پټې خزانې د خطي نسخې د تر لاسه کولو جریان اروا ښاد استاد حبیبي کښلے دے او په تاریخي پلټنې نومې مجموعه کې چاپ دے. د رسم الخط په برخه کې باید عرض

شي، چې د پټې خزانې د دوېمې نسخې رسم الخط او د خطي نسخې نور خصوصیات د هماغه وخت له نورو خطي نسخو سره سل په سلو کې یو شان والے لري، کومه علمي ستونزه په کې نهٔ لیدل کېږي.

د لغاتو مسأله هم د غسې ده واخله، کهٔ ښاغلی مشر پروفیسور نوشهروي په ۱۹۷۶ع کال اولس مجله کې د ښاغلي مجذوب صاحب مقاله لوستې وای نو به یې دا خبره نهٔ کښله، چې د لغاتو له پلوه په دې کتاب کې څهٔ مشکل شته.

بله خبره دا ده چې دوی خپله نهٔ د رسم الخط او نهٔ هم د لغت په برخه کې کوم مشخص پرابلم ته اشاره کړې ده.

(۴) د دې ډلې بل عالم زموږ ګران مشر او سپین ږیرے محقق او استاد پروفیسور تقویم الحق کاکاخېل دے، دوی د پټې خزانې په باب د منکرانو موقف نهٔ تاییدوي. خو د پټې خزانې په باب ځینې خبرې هم لري، چې کله ناکله یې په ځینو خصوصي مجالسو او مرکو کې مطرح کوي او لهٔ راډیو پښتو سره په خپله یوه مرکه کې یې هم ځینې د غسې خبرې کړې دي، د پروفیسور تقویم الحق کاکاخېل په خبرو ځینې عمده ټکي دا دي:

الف ، لهٔ واړیو پښتنو سره : د پټې خزانې څهٔ اساس نشته ، خو دا چې دا کتاب د وخت د باچا پهٔ امر لیکل شوی دی . نو مؤلف چې څهٔ پیدا کړي، هغه یې هم راوړي دي او چې څهٔ یې نهٔ دي موندی ، نو به یې جوړ کړي وي . دهٔ خپلو دغو خبرو ته د مستشرقانو د وینا استناد هم ورکړ او وې ویل چې مستشرقانو هم دغسې خبرې کړې دي ،

د خپل ګران مشر تقویم صاحب حضور ته پهٔ ډېر احترام عرض کوم چې پهٔ معاصرو مستشرقانو کې د پښتو پوهانو امام پروفیسور مورګنستیرن (۱۹۷۸ع مړ) پهٔ ۱۹۶۷ع کال کې پهٔ صراحت دا ویلی دی چې پټه خزانه نهٔ حبیبي ایجاد دی او نهٔ د محمد هوتک جعل.

د دهٔ پهٔ قول پهٔ دې خزانه کې د پښتو ادب ځینې داسې زاړهٔ ټوټې شته چې اختراع یې د حبیبي او هوتک لهٔ وس وتلې خبره ده

د شک کوم اظهار چې نوموړي فقید مستشرق کړی دی ، هغه د امیر کروړ د ویاړنې پر شا به دی هغه ته دا ژبه هومره زړه نهٔ ده ایسېدلې . خود مستشرقانو اشتباه داده چې د وی د پښتو ژبې د تحول تاریخ د اروپایي ژبو د تحول د تاریخ پهٔ کچ مېچ برابر ارزیابي کړې دی ، حال دا چې د ژبې

تحول مجرد نهٔ ارزیابي کېږي ، بلکه د ویر نکو له اقتصادي ، اجتماعي انکشاف سره په انډول کې کتل کېږي . که چېرې څوک د پښتنو له اقتصادي اجتماعي پرمختیا سره په تناسب کې د دوی د ژبې تحول هم وڅېړي - نو دا به ورته ښکاره شي چې دامیر کروړ ژبه نوې نهٔ ده .

دامیر کروړ سوري د ژبې په برخه کې دغسې اشتباه ښاغلي لیکوال او عزتمند شاعر ښاغلي عبدالرحیم مجذوب مروت ته هم پېښه ده . دوی په خپله یوه مرکه کې ویلي دي چې : " دامیر کروړ د چاربیته نما شاعرکه ژبه نسبتًا ماډرن ده ..." (پلوشه - کراچۍ ، ۱۹۹۵ع کال د دسمبر گڼه ، ۲۲ مخ) .

زهٔ خپل دغه مشرته په ډېر درناوي عرض کوم چې د امیر کروړ شعر نه چاربیته نما دے او نهٔ هم چاربیته ، بلکه دا په یو داسې لرغوني شعري قالب کې ویل شوے دے ، چې پښتنو له آریایي ژبو اخستے دے او چاربیتې له دغو زړو شکلونو یا لرغونو سندرونه او سنې بڼې ته انکشاف کړے دے ، د ژبې په باب یې ما خپل معروضات دمخه بیان کړي دي .

ب ، استاد تقویم الحق کاکاخېل په خپله یوه بله مصاحبه

کې ویلي دي، چې په پټه خزانه کې راغلي ځینې اشعار دومره قوي دي، چې تناسب یې له روښاني آثارو سره په انډول کې راتلای نه شي او په دې برخه کې سړے له یو پرابلم سره مخ کېږي؟ دا یوه ډېره ښه پوښتنه ده او بایده دي چې خبرې باندې وشي. دا مسأله موږ داسې توضیح کولاے شو:

ادبیات او د ادبیاتو د رشد مسأله د جامعې د پرمختګ، په شاتګ او په جامعه کې له وارد شویو اجتماعي، اقتصادي او سیاسي تحولاتو سره په ارتباط کې مطالعه کېداے شي او دغه عوامل ګرده موږ د ادبیاتو د رشد او په شاتګ پر مسأله مؤثر ارزیابي کولاے شو. د دغسې تحولاتو تر اغیز لاندې د پښتو ادب هم لوړې او ځوړې لیدلي دي او د نورو ژبو په ادبیاتو کې یې هم مثالونه موږ پیدا کولاے شو، لومړے به له پښتو ادبه مثالونه راوړو او بیا به د نورو ژبو له ادبیاتو.

(۱) د یوولسمې پېړۍ له دوهمې نیمایي د دولسمې تر پایه پورې دوره د پښتو ادبیاتو د رشد لپاره یوه طلایي دوره ده، په سلګونو دیوانونه په دې مهال کې را منځ ته شوي دي، هومره موضوعي

شکلي او هنري پرمختیا او پراختیا چې پښتو ادب په دې دوران کې موندلې ده، په نورو دورانونو کې یې مثال نه شي موندلای، که خبره لږ څه ساده کړو، له خوشحال بابا (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) نیولې تر پیر محمد کاکړ (۱۲۱۶ هـ، ق ژوندی) پورې زمانه کې، چې پښتو غزل، قصیده او نور شعري اصناف کومه ښکلا، هنري قوت، صلابت او متانت لري، هغه د دیارلسمې پېړۍ په غزل او نورو شعري اصنافو کې نشته، د دیوانونو د ترتیب کوم نهضت چې دیوولسمې او دولسمې پېړۍ په جریان کې د پښتنو په فرهنګي حلقو کې موجود شوی و، په دیارلسمه پېړۍ هغه سر و صورت نه لري.

د دیارلسمې پېړۍ شاعران اکثر د جنګنامو، خوابنامو، فالنامو او نورو دیني موضوعاتو او په تېره د قصصو په نظمولو بوخت ښکاري.

په دیارلسمه پېړۍ کې چې کوم دیوانونه منځ ته راغلي (له استثنايي مواردو پرته) د دغو دیوانونو هنري ارزښت د دولسمې پېړۍ د شاعرانو د دیوانونو په څېر نه دی او د دیارلسمې پېړۍ په وروستیو کې پښتو غزل د هندي موسیقۍ د مقامونو په دام کې ونښت او د هغه وخت اکثر پښتو غزلونه په دې

مقامونو کې و ویل شول.

کهٔ چېرې مونږ پهٔ دیارلسمه پېړۍ کې ایجاد شوی پښتو آثار د د مخنیو دوو پېړیو لهٔ آثارو سره د کمیت، کیفیت، د پرداخت د شیوو، موضوعي او هنري ارزښتونو لهٔ پلوه مقایسه کړو، نو پهٔ ښکاره ډول راته د انکشاف پر ځای انحطاط را تر سترګو کېږي، نو دلته هم باید مونږ دا سوال وکړو چې د دیارلسمې پېړۍ شاعرانو پهٔ پښتو ادب کې د ادبي پرمختیا د ځینو غنی تجربو لهٔ موجودیت سره سره، ولې هغسې آثار ایجاد نهٔ کړل، لکه د یوولسمې د اواخرو او د دولسمې پېړۍ شاعرانو چې ایجاد کړي وو.

دیوولسمې او دولسمې پېړۍ پهٔ جریان کې پهٔ پښتو ادب کې پرمختګ هم د ځینو عواملو مولود دے او د دیارلسمې پېړۍ نه پرمختګ هم څهٔ عوامل لري چې څېړل یې د دې لیکنې کار نهٔ دے، خو څهٔ چې پهٔ دې برخه کې پهٔ ویلو ارزي هغه دادی چې د یوې ژبې او یو قوم د فرهنګ د ایجاد او تحول د تاریخي سیر پهٔ مطالعه کې د ارتقا او تنزل ځینې مراحل سره لیدلے شي.

(۲) کهٔ چېرې مونږ د پښتو ادبیاتو د ایجاد، پیداښت

او وديې مسأله د سيمو په لحاظ ارزيابي کړو، بيا هم موږ ته ښکاری چې د پښتو ادبياتو وده په ټولو پښتنی سيمو کې يو ډول نه وه او نه ده. راځئ چې دا موضوع په مثالونو کې توضيح کړو.

لومړے مثال: که چېرې موږ په سيمه کې د پښتو ادبياتو د پيدايښت درې عمده حوزې فرض کړو: او سنے افغانستان، سرحد او بلوچستان. د تاريخ په اوږدو کې په دې سيمو کې د پښتو ادبياتو د رشد مسأله يو ډول نه وه او نه ده.

په يوه سيمه کې پښتو تحريری ادبياتو وروسته وده موندلې ده او يا وروسته پيدا شوی وی اما په يوه بله سيمه کې يې د هغه د رشد مراحل طی کړی دی، د اوړاندې وروسته والے د يو لړ عواملو مولود دے، چې د ادبياتو د ايجاد د سيمو د سياسی، اجتماعی، اقتصادی او فرهنگی شرايطو دنه مطالعه کېدا ے شی او دا ناممکنه خبره ده، چې ادبيات دې په ټولو سيمو کې يو وخت ايجاد شی او يو وخت دې وده و مومی او د يوې حوزې خلک دې د بلې حوزې له ادبی تجربو خبر شی.

دوهم مثال: که د دغو فرهنگی حوزو دنه موږ بېلا بېلې سيمې د ادبياتو د رشد د مسألې له پلوه وڅېړو

د دغو حوزو د ننه هم موږ دغه ډول نا انډولې او نامتناسب او غیر متوازن حالت لیدے شو. لکه: د افغانستان د ننه کندهار، ننګرهار، کابل او پښتنیا کې د پښتو ادبیاتو د پیدا ایښت زمینې او د رشد شرایط یو ډول نهٔ دی.

هغه مقام چې کندهار لری هغه د دې نورو سیمو پهٔ برخه نه دے، ننګرهار او کابل هم پهٔ خپلو کې سره تفاوتونه لری او پښتنیا چې د شفاهی ادبیاتو لرغونې نمونې او غنی ذخیره پهٔ کې شته، مګر د لیکنیو ادبیاتو د پیدا ایښت زمینې پهٔ کې ډېرې وروسته پیدا شوې دي.

قدیم ترین اثر چې لهٔ دې سیمو لاس ته راغلے هغه د طالب رشید د ګل صنوبر قصه ده، چې د دولسمې پېړۍ پهٔ وروستنی لسیزه اړه لری.

پهٔ ټوله دیارلسمه پېړۍ کې موږ پهٔ دې سیمه کې یوازې یو د دیوان خاوند شاعر لرو چې هغه احمد ځدراڼ دے.

پهٔ سیمه ییز لحاظ پښتو تحریری ادبیاتو پهٔ څوارلسمه پېړۍ کې پهٔ پښتنیا کې د رشد زمینې پیدا کړې دي. د دې خبرې علتونه دا دی چې پهٔ دې سیمو کې د سواد د خورېدو پروسه وروسته

پیل شوې ده او دا سیمه پهٔ جغرافي لحاظ غزنۍ
او دپر مختگ پهٔ لحاظ لهٔ نورو پښتنی سیمو وروسته
پاتې وه .

دغه رنگه د پېښور ، هشنغر ، اکوړې ، مردان
سوات او هم پهٔ جنوبي اضلاعو کې ان تر ډېرو
پورې پرتو سیمو کې د پښتو تحریري ادبیاتو
د پیدایښت او رشد زمینې یوډول نهٔ دی . دغسې
بلوچستان هم درواخلئ .

نو کهٔ چېرې پهٔ یوه سیمه کې پښتو ادبیاتو ته د
رشد زمینې دمخه پیداوی او دنورو سیمو وروستی
ادبا لهٔ لرغونو ادبي تجربو نهٔ وی خبر او یا یې
نمونې نهٔ وی ور رسېدلې دا به د دې معنی نهٔ لری
چې موږ دې پهٔ لرغونو نمونو شک وکړو - موږ د
شلمې پېړۍ د اواخرو لهٔ شتو آسانتیاوو سره سره
اوس پهٔ ټولو فرهنگی حوزو او بیا د هرې حوزې
لهٔ ادبي تجربو او پرمختگونو نهٔ یوو خبر ، نو کهٔ
زمونږ پخوانی پهٔ نشتو وسایلو او صعب العبورو
اوږدو غرنیو لارو کې لهٔ یو بل نه نهٔ وو خبر او
یا د یو او بل لهٔ آثارو نهٔ وو خبر او یا لرغونې
ادبي تجربې یو بل ته نهٔ وې ور رسېدلې ، نو دا کومه د
هېښتیا خبره نهٔ ده . ما سره ډېر داسې اسناد شته

چې د پښتنو او شاوخوا سیمو د ننه ډېر او سپېڅلي شاعران او لیکوال یو له بله او یا د یو او بل لهٔ آثارو نهٔ وو خبر .

(۳) لهٔ پښتو کهٔ تېر شو ، پهٔ فارسي ادبیاتو کې هم صورت حال دغسې دے ، لکه چې ما دمخه تشریح کړ . د مثال پهٔ توګه فارسي ادب چې کوم رشد پهٔ سامانی ، غزنوی او سلجوقی دورانونو کې موندلے و ، د مغلو پهٔ راتګ سره پهٔ فارسي ادب د فترت یوه دوره راغله او کوم ادبیات چې د مغلو د تاړاکونو پهٔ زمانه کې منځ ته راغلي د مخکنیو دورانونو لهٔ ایجاد شویو آثارو سره پهٔ هېڅ لحاظ سیالي کولے نهٔ شي ، دغه رنګه د فارسي ادبیاتو د رشد پهٔ دریو شوندیو او فعالو حوزو افغانستان ، ایران او تاجکستان کې د فارسي ادبیاتو د پیدایښت او رشد زمینې او شرایط یو لهٔ بله ډېر توپیرونه سره ښیي .

ج ؛ جناب میا صاحب پروفیسور تقویم الحق کاکاخیل پهٔ خصوصي محافلو کې د پټې خزانې پهٔ باب بل سوال دا مطرح کړی ، چې د پټې خزانې مؤلف د شاعرانو د نمونو پهٔ انتخاب کې دا اهتمام کړے دے چې پهٔ خپل کتاب کې د اشعارو څهٔ داسې

نمونې انتخاب کړي چې د بېلابېلو شعري اصنافو نمايندګي وکړي ؟

دا هم بله پوښتنه ده ، موږ به ددې پوښتنې حل د پټې خزانې پهٔ پاڼو کې ولټوو :

کهٔ چا پټه خزانه لوستې وي ، نو لهٔ دې لوسته وروسته ښکاري چې مؤلف (محمد هوتک) پهٔ دې برخه کې کوم خاص اهتمام نهٔ دے کړے . داسې څرګنده يږي چې د چا کومه نمونه پهٔ لاس ورغلې هغه يې اخيستې ده .

پهٔ تذکره نګارۍ کې دا دود دے ، چې تذکره نګاران د کلام نمونې يا د انتخاب لهٔ لياري اخلي او يا هم چې څهٔ پهٔ لاس ورځي هغه پهٔ خپله تذکره کې راوړي . انتخاب پهٔ هغه صورت کې کېږي چې د شاعر ديوان يا يې ډېرې نمونې پهٔ لاس کې وي .

پهٔ پټه خزانه کې لرغوني شعرونه زياتره داسې شعري ټولونه دي ، چې شکلي خصوصيات او جوړښتونه يې نهٔ د پښتو د ولسي سندرو ، لکه چاربيتو ، ولسي بدلو او نورو سره سل پهٔ سلو کې سمون خوري او نهٔ د تحريري ادبياتو د شعري اصنافو پهٔ کچ ميچ برابر راځي .

د پټې خزانې دا ټول شعرونه د پښتو اشعارو

د صنف بندۍ پهٔ آثارو کې دا سې شعري ډولونه یاد شوي دي، چې د پښتو د ولسي ژانرونو او لرغونو آریایي شعري اوزانو تر منځ د اتصال کړۍ جوړوي او د ادبپوهانو دا رایه ده ، چې د پښتو اولسي شاعرۍ اضافي لهٔ هغو اشکالونه انکشاف کړې دی.

پهٔ دې اشعارو کې متون د امیر کروړ سوري (رح) شیخ متی خلیل (رح)، بابا هوتک (رح) شیخ ملکیار هوتک (رح) شیخ رضي او نصر لودهي او ځیني نور پارکي حسابولی شو.

دلته یوه خصوصي یادونه دا کوم چې بنایي ځینې بناغلي د دوو لودهي شاعرانو نصر او رضي پارکي د دیواني ادبیاتو لهٔ قطعي سره یو شی وګڼي، دا خبره سمه نهٔ ده ، بلکه دا دوه پارکي د کسرونو هغه قدیم اشکال دي ، پهٔ غلجیو پښتنو کې یې ویل لهٔ قدیمه تر اوسه رایج دي.

پهٔ سلیمانخیلو، مروتو ، نیازیو، ستراڼیو، ګنډه پور او خروټو کې دا د ویل کسرونه ور او کسر ویل د غلجي پښتنو د ځینو قبایلو پهٔ بېسوادو شاعرانو کې اوس هم معمول دی.

لهٔ دې لرغونو شعري ډولونو سربېره د پټې خزانې د زیاتو شاعرانو شعري نمونې د پښتو د ولسي

شاعرۍ د اصنافو دي، لکه: د شیخ تیمن، شیخ بستان بړیڅ، سیدال خان، عبداللطیف اڅکزی، ملابان، نصرالدین خان اندړ او نورو د پېړو او د نورو پښتو شاعرانو ځینې دیواني اصناف، لکه قصیده، غزل، مثنوي او رباعي دي او دا سیستم نهٔ یوازې دا چې د اشعارو په راوړو کې د کوم اهتمام څرګند نهٔ راکوي بلکه دا را ښايي چې محمد هوتک ته چې څهٔ په لاس ورغلي، هغه يې اخستي دي.

کهٔ جناب میا صاحب د پېښور پښتو اکېډمۍ لهٔ خوا د زړو شاعرانو دوې چاپ شوې تذکرې تېر هېر شاعران او پټ ستوري مخې ته کښېږدي، او راغلي نمونې په کې د شعري اصنافو لهٔ جهته وڅېړي، نو بیا به ورڅرګنده شي چې په پټه خزانه کې د راغلو نمونو شعري ډولونه زما په عقیده کومه د سوال وړ خبره نهٔ ده.

کهٔ فرض کړو چې داسې اهتمام شوے وے، نو دا زما په رایه کومه د پوښتنې وړ داسې موضوع نهٔ شي کېدے چې د یو اثر حیثیت ته دې زیان ورسوي.

(۵) زموږ د دوو لیکوالو ورونو یو جناب شېر زمان طایزے صاحب او ښاغلي ګل محمد بیتاب هم د پټې خزانې په باب څهٔ څرګندونې کړې

دی . خو زما په عقیده په دغو لیکنو کې څه داسې پرابلمونه نه دی مطرح شوی چې مونږ دې بحث باندې وکړو .

نتیجه :

بناغلیو لوستونکیو ته به د دې لیکنې له لوستنه دا خبره ثابته شوې وی ، چې په لوړو یادو شویو څلورو ډلو کې یوازې څو تنه بناغلی منکران دا کتاب نه منی . د منونکیو تر څنګه دوې ډلې داسې هم شته ، چې له اساس نه د دی کتاب له وجود سره مخالفت نه کوی ، وجود یې منی ، خو ځینې خبرې هم لری . په دې دواړو ډلو کې یوه داسې ده ، چې په دې کتاب یې لنډ مګر جامع او علمی نقد کړے دے . په دې ډله کې یو تن شامل دے او ویلی یې دی چې د کتاب دا شهٔ دی او دا یې بنهٔ نهٔ دی .

مګر دا بله ډله د کتاب د وجود له منلو سره سره څه پر کتاب شکوک کوی ، نو ځکه دا دواړه ډلې ماسره بېلې کړې او د دوی د خبرو په ارتباط چې له ما څه پوره وو ، هغه مې وکښل . اما ما ته په پېښور کې د وروستی نسبتاً اوږدې استوګنې په دوران کې له خپلو پښتنو وروڼو سره د دې کتاب په باب له

خبرو او بحث نه دا خبره ثابته شوه چې زمونږ ورو ته لهٔ دې کتابه ناخبره دي، او د دې کتاب پهٔ ارتباط معلومات نهٔ لري ، څهٔ چې چاورته ویلي دي ، هغه یې بې لهٔ غور او دقته منلي دي . دغو نا سمو اطلاعاتو دا کتاب د دې سیمې د ځینو پښتنو لپاره د شکونو پهٔ هاله کې راگیر کړے دے .

د پټې خزانې پهٔ باب د سرحد د سیمو د ځینو پښتنو د آثارو لهٔ مطالعې او د دوی د خبرو لهٔ اوریدو وروسته زهٔ دې لاندې نتیجې ته رسېدے یم :

(۱) زمونږ د ځینو ورونو ذهن ته دا خبره رسول شوې ده ، چې پټه خزانه خو پهٔ سیاسي بنیادونو جوړ شوے کتاب دے او د افغانستان پښتنو د دے لهٔ پاره جوړ کړے دے ، چې د افغانستان د پارسي ژبو پهٔ وړاندې د فرهنگي مسابقې یو تمسک وي او دوی د دې تمسک پر بنیاد د افغانستان د وخت حکام دې ته اړ باسي چې پښتو پهٔ دربار او دفتر کې رسمي ژبه شي ؟

زما پهٔ خیال هغه کسان دا ډول خبرې منې چې د افغانستان تاریخ یې نهٔ وي لوستے او بله دا چې پهٔ اوسني افغانستان کې د پښتنو پر موقف

او موقعیت نهٔ وی خبر .

پهٔ اوسنی افغانستان کې رسمیاتو ته د پښتو د دخول موضوع د نولسمې پېړۍ پهٔ اواخرو کې پیل شوې ده او امیر شېر علي خان لهٔ دوهمې پلا پاچهۍ (۱۲۸۵ - ۱۲۹۶ هـ، ق) سره اړه لري. نوموړی مرحوم امیر چې د پښتو لهٔ پاره کوم کارونه کړي دي، دا دي :

(۱) د صدر اعظم او د کابینې د هیئت د غړیو لهٔ پاره د پښتو نومونو ټاکل .

(۲) لهٔ سپه سالار نه نیولې تر حوالدار پورې د فوج د منسوبینو د رتبو او مدارجو د نومونو پښتو کول.

(۳) د ټولو نظامي تشکیلاتي نومونو او بولیو (قوماندو) پښتو کول .

(۴) د نایب الحکومه ګانو لپاره د پښتو القابو وضع.

دغه وخت پهٔ کابل کې پښتو کتابونه چاپ شول او پښتو پهٔ دربار کې حیثیت وموند. تر مرحوم امیر شېر علي خان وروسته د مرحوم امیر عبدالرحمن-خان (۱۲۹۶ - ۱۳۱۹ هـ، ق) پهٔ زمانه کې هم د افغانستان پهٔ فوج کې پښتو حاکمه وه، درباري پښتو منشي هم پیدا کړ، ملا غلام جان لغماني د دربار پښتو نویس و . پښتو کتابونه چاپ شول، لهٔ رسمي او

سرکاري کتابونو سربېره د عبدالقادر خان خټک یوسف زلیخا هم د کابل د دارالسلطنتي پهٔ مطبعه کې چاپ شوه .

امیر د خپل زوی شهزاده حبیب الله لهٔ پاره پښتو ښوونکے نیولے و . میر محسن کندهارے د شهزاده ښوونکے او د شهزاده د پښتو د زده کړې لپاره ګلدستهٔ معانی پهٔ نوم کتاب هم کښلے و.

د امیر شهید امیر حبیب الله خان ۱۳۱۹-۱۳۳۷ ه، ق پهٔ زمانه کې د پښتو پهٔ سرکاري او رسمي حیثیت کې ځینې نورې اضافې هم و شوې .

پهٔ فوج کې د پښتو لهٔ حاکمیت سربېره پښتو پهٔ معارف کې شامله شوه . مولوی صالح محمد مرحوم (۱۳۳۹ ه، ش مړ) درې پښتو درسي کتابونه ولیکل.

علامه محمود طرزی (۱۲۸۲-۱۳۵۲ ه، ق) د پښتو د اهمیت پهٔ باب مقالې ولیکلې ، ځینې پښتو کتابونه پهٔ سرکاري مصارفو چاپ شول ، د کندهار د مزاراتو منظومه رساله هم د اوخت چاپ شوې ده . د دې وخت درباري پښتو نویس ملا محمد خان صافی (۱۳۰۵ ه، ش مړ) و .

د اعلیحضرت امان الله خان غازي د سلطنت (۱۳۳۷-۱۳۴۷ ه، ق) پهٔ دوران کې پهٔ سرکاري سطح

د پښتو حیثیت نور هم مضبوط شو. پښتو اکیډیمي (مرکه د پښتو) جوړه شوه، چې د پښتو لغت او ګرامر یې مرتب کړل. په معارف کې پښتو ته ډېر ځای ورکړل شو.

د شهید اعلیحضرت محمد نادرشاه غازي (رح) د سلطنت (۱۳۰۸-۱۳۱۲ هـ، ق) په دوران کې د پښتو لپاره ځانګړي کارونه وشول، په مرکزي مطبوعاتو کې له برخې ورکولو سربېره په کندهار کې پښتو- ادبي انجمن (۱۳۱۱-۱۹۳۲ ع) جوړ شو - پښتو مجلې له دې انجمنه په خپرولو پیل وکړ. د کندهار د طلوع افغان د پښتو کولو هڅه وشوه او په اتحاد- مشرقي کې هم د پښتو ونډه زیاته شوه او په معارفو کې د پښتو د ونډې د زیاتولو کار پیل شو.

د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په دوران (۱۳۱۲-۱۳۵۲ هـ، ش) کې چې د پښتو د رسمیت له پاره کوم کارونه شوي دي هغه ټول د پټې خزانې تر پیدا کېدو د مخني دي، د مثال په ډول:

الف، په ۱۳۱۷ هـ، ش - ۱۹۳۸ ع کال د ټول افغانستان د معارف د پښتو کولو حکم وشو.

په ۱۳۱۶ هـ، ش - ۱۹۳۷ ع کال په کابل کې پښتو- ټولنه جوړه شوه. حال دا چې پټه خزانه د دغو ټولو

اساسي کارونو تر انجام وروسته پهٔ ۱۹۴۴ع کال کې چاپ شوې ده .

پهٔ افغانستان کې پښتو ته کارونه کېدل ، د پښتو رسمي کېدل او پښتو ته پهٔ رسمياتو کې ځای ورکول پهٔ افغانستان کې د پښتو لهٔ اکثريت او اجتماعي موقف سره اړه لري . دا د پټې خزانې لهٔ څو شعرونو سره . کهٔ چيرته پټه خزانه ګرد سره نه وې پيدا شوې نو بيا به هم پښتو خپل د غه حيثيت درلود . ځکه ملي او بين المللي قوانين پښتو ته دا حق ورکوي ، د دوئ ژبه دي په افغانستان کې د غسې موقف او حيثيت ولري .

کهٔ څوک داسې فکر کوي چې د افغانستان پښتو د پټې خزانې پهٔ څو پارچو زړو شعرونو له فارسي غوندې يوې عالمګيرې ژبې سره مقابله کول غوښتل دا ګمان به د انګېرونکي پهٔ څو شبا ورکه او نهايت سادګۍ دلالت وکړي او دا به ثابته کړي ، چې د دغسې خامو خيالونو لرونکي له فارسي ادبه هېڅ خبر نهٔ دي که نه وي پښتو د ادبي آثارو له حيثه له فارسي سره هېڅکله د مقايسې وړ نهٔ وه او نهٔ ده .

(۲) د سرحد د سيمې ځينې پښتانه علماء د دې کتاب پهٔ باب ځينې ناسمې انګېرنې لري ، لکه :

الف: ځینې له دې کتاب د تاریخ د کتاب غوندې د پښتو د تاریخ د بېلا بېلو مراحلو د وقایعو د ضبط غوښتنه کوي، ځینې بیا داهیله لري چې په دې کتاب کې باید د پښتو د ټولو شاعرانو احوال وے. حال دا چې نه پټه خزانه تاریخ دے (البته د ځینو تاریخي پېښو یادونه یې کړې ده) او نه د پښتو شاعرانو بشپړه او مفصله تذکره. دا یوه محدوده تذکره ده، چې د پنځو سو شاوخوا کې شاعرانو مختصر احوال یې راوړي دي.

ب: ځینې کسان له دې نه دي خبر چې دا تذکره نسخه لري او که یه؟ څنګه چې ما د مخه یادونه وکړه د پټې خزانې نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده.

ج: د پټې خزانې په باب چې له ځینو سره د قبول یا د شک کومه مفکوره په ذهن کې پیدا ده، دا د پټې خزانې پر ځینو اقتباساتو او د پټې خزانې په باب د نورو پر لیکنو متکي ده، چا دا کتاب په خپله نه دے لوستے، ډېر لږ خلک به داسې وي چې دا کتاب دې یې لوستے وي.

د: ډېره شړېنه یې لا داده، چې ما د ځینو ښاغلیو نه پوښتنه وکړه، چې تاسې پټه خزانه لوستې ده؟

هغوی په ځواب کې وویل: «هغه خو په فارسي کې ده او موږ په فارسي نه پوهېږو».

دلته دا اعتراض پر موږ وارد دے، چې دا کتاب باید په لومړي سر کې په پښتو تحشیه او تعلیق شوے او چاپ وے. که چېرې فارسي ترجمې ته ضرورت محسوس و، نو هغه باید ځانګړے چاپ شوے وے ځکه موږ په پښتونخوا کې د پښتنو یوه لویه څومیلونه جامعه درلوده او د هغوی خیال ساتل په کار وو.

(۳) د پټې خزانې په باب چې دلته کومې یادونې نشر شوې دي، ځینې یې ګټورې خبرې هم لري خو په زیاترو د غه لاندې تمایلات لیدل کېږي.

الف: څنګه چې دا کتاب په کندهار کې لیکل شوے دے او دا ساحه د لرغوني افغانستان پر ځاے په اوسني افغانستان کې واقع ده، نو ځکه ځینې خلک ور سره د خپلوۍ کوم احساس نه کوي او د یو بېګانه کتاب په حیث چې یې څه په وس پوره دي، هغه پرې پورې تړي.

حال دا چې هر اثر چې په یوه ژبه کې لیکل کېږي هغه د هغې ژبې مال دے او ټول ویونکي یې د ځان بولي، صرف نظر له دې چې هغه اثر هر چېرې لیکل شوے وي.

ب : هغه لیکنې چې پر دې کتاب کې شوې دي زما پهٔ عقیده ځینې د کتاب له ماهیت نه پهٔ بې خبرۍ کې شوې دي او هغه چې یې ګرد سره پهٔ رد کې دي ، هغه پهٔ داسې شبهه راوړل شوي دي ، چې د دغسې استدلالونو پهٔ ارائه کېدے شي ، د پښتو هر اثر سړے رد کړي او یا یې جعلي وبولي . پهٔ دې اساس نو دا ډول استدلالونه علمي ارزښت نهٔ لري .

ج : ما احساس کړې ده ، چې اوس د دې سیمې او بلوچستان پهٔ ځینو پښتنو کې د پټې خزانې د بې اعتبارۍ کولو (۱) هڅې د یو موډ او فیشن شکل غوره کړے دے .

څوک چې لهٔ پټې خزانې سره دښمني کوي ځان ورته تر نورو بر ښکاري او پهٔ دې ویاړي چې ملي ارزښتونه ورته ارزښت نهٔ لري ، دوی ځان داسې ښیي ، چې ګویا دوی نه د دوی پهٔ زعم حقیقت (۱) تر ملي مصلحتونو لوړ دے ؟

دا خبره ډېره پر ځاے ده ، چې یې واقعیت درلود دے . زهٔ پهٔ ډېر احترام ټولو پښتنو فرهنګیانو ته عرض کوم ، چې کهٔ واقعاً پهٔ دې کتاب کې د جعل اثرات ښکاره شي ، نو هېڅ افغان به پر دې کتاب ټینګار ونهٔ کړي .

ماخذونه :

(۱) مومند، دوست محمد کامل : خوشحال خان خټک، ادارۀ اشاعت سرحد، منظور عام پریس، پېښور، ۱۹۵۲- مخ (۱ ک مخ)

(۲) زیار، پوهاند مجاور احمد زیار : د پښتو خزانې رښتینوالې دژبپوهنې او ادبپوهنې په رڼا کې، پلوشه (مجله) کابل، د ۱۳۵۶ هـ ش کال ۵- گڼه ۶- مخ.

(۳) خټک، سرفراز خان عقاب : رحمان بابا، شاهین برقی پریس، پېښور، ۱۹۵۹ع، ۱- مخ.

(۴) خټک، سرفراز خان عقاب : کابلے دیوان خوشحال، خوشحال ریویو، د ۱۹۸۵ع کال ۱- ۴ گڼه، ۲۷- ۲۹ مخونه.

(۵) مومند، دوست محمد خان کامل : رحمان بابا، ادارۀ اشاعت سرحد، پېښور، ۱۹۵۸ع، ۱۰- مخ.

(۶) راورټي، هانري جارج : د پښتو اشعارو منتخبات لندن (۱۸۶۲ع، ۲۶۸ مخ).

(۷) بلو مهارت : د برټش میوزیم د خطي نسخو فهرست لندن، ۱۹۰۵ع، ۱۷ مخ .

(۸) تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان و هند، دریم ټوک، پنجاب یونیورسټي، جدید اردو ټایپ پریس ۱۹۷۱ع، ۲۲۱ - مخ :

(۹) ګیرس، ګیورګ فیودورو ویچ : پښتو هنري نثر، مترجم : سرمحقق معتمد شینوارے، د کلتور دولتي کمېټه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۵ هـ ش، ۱۴ مخ .

(۱۰) د هېواد مل، زلمے (مدون) : د محمد هوتک یاد: پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۰ هـ ش، ۱۹۲ مخ.

(۱۱) میرزایف، دوکتور صابر : بیا نیه، د امین کروړ یاد، د زلمی هېوادمل په زیار، پښتو ټولنه کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۴ هـ ش، ۴۱ - ۴۴ مخونه .

(۱۲) هېوادمل، سرمحقق زلمے : په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، شرکت پرنټرس لاهور، ۱۳۷۳ هـ، ش ٦۰٦ مخ .

(۱۳) حبیبي، عبدالحی : ملتان کا لودهی شاهی خاندان، د ۱۹۴۹ع کال د فرورې ګڼه، ٦۵-۷۲ مخونه د مئ ګڼه، ۳ - ۱۰ مخونه .

(۱۴) دایرة المعارف اسلامیه (اردو) : دریم ټوک پنجاب یونیورسټي، ۱۹٦۸ع ۲۷۳- ۲۷۴ مخونه، پنځم ټوک

۱۹۷۱ع ، ۶۲۲ - ۶۲۳ مخونه .

(۱۵) حبیبي ، پوهاند عبدالحی : د پټې خزانې د دریم چاپ مقدمه ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت پښتو انکشاف کابل ، دولتي مطبعه ۱۳۵۴ هـ، ش ، ۳ - ۱۹ مخونه .

(۱۶) حبیبي ، پوهاند عبدالحی : پټه خزانه چیا چېرې او څنګه پیدا کړه ؟ ، تاریخي پلټنې د زلمي- هیوادمل په زیار، کابل دولتي مطبعه ، ۱۳۵۷هـ- ش ۱ - ۴ مخونه .

(۱۷) د محمد هوتک یاد : ۱- ۵ مخونه .

(۱۸) د محمد هوتک یاد : ۱۲۳ - مخ .

(۱۹) کاکړ ، پروفیسور ولي محمد سیال : پټه خزانه د انصاف په تله کې ، ادبي انځور ، یونایټېډ پرنټرز کوټه ، ۱۹۸۷ع ، ۱۴۳- ۱۷۳ مخونه .

(۲۰) مجذوب ، عبدالرحیم : جواب الجواب ، اولس نومبر- دسمبر - ۱۹۷۶ع ، ۲۰ - ۲۶ مخونه .

(۲۱) همېش خلیل : تول پارسنګ ، پښتو مجله ، پښتو اکیډمي ، د ۱۹۷۹ع کال د دسمبر ګڼه

(۲۲) عقاب ، سرفراز خان : د پښتونخوا سیحون او جیحون ، پښتو مجله ، د ۱۹۶۹ع د جولای ګڼه ، ۴۴ - مخ .

(۲۳) پوهاند میرحسین شاه : روش تذکره نگاری،

د ر پټه خزانه ، وفا ، ۱۰-ثور ۱۳۷۴ هـ ،ش .

(۲۴) د محمد هوتک یاد : ۱- ۵ مخونه .

(۲۵) هیوادمل ، زلمی : د محمد هوتک ژوند او مزار ، ننګرهار پوهنتون ۱۳۶۲ هـ ،ش ، ۷۴-۷۵ مخونه

(۲۶) محمد هوتک : پټه خزانه ، دریم چاپ (عکسی) د اطلاعاتو او کلتور وزارت ، کابل ، دولتی مطبعه ۱۳۵۴ هـ ،ش ، ۳۵ مخ .

(۲۷) هیواد مل ، زلمی : د فراقنامې تعلیمات ، کابل پوهنتون ، د لوړو او مسلکی تحصیلاتو مطبعه ۱۳۶۲ هـ ،ش .

(۲۸) هیواد مل ، زلمی : ارواښاد کامل مومند او پټه خزانه ، تماس ، دریمه ګڼه ۱۹۹۴ ع ، ۲۳-۳۹ مخونه .

(۲۹) صفا ، دکتر ذبیح الله : تاریخ ادبیات ایران ، جلد دوم ، چاپخانه تابش ، تهران ، ۱۳۶۹- ص‌ص ۴۲۵ ، ۵۲۷ ، ۵۳۸ ، ۷۸۰ .

(۳۰) صفا داکتر ذبیح الله : تاریخ ادبیات ایران جلد سوم ، بخش اول ، چاپخانه تابش ، تهران ۱۳۶۹ ص‌ص ۵۵۰ ، ۵۹۸ ، ۷۶۴ ، ۸۳۴ .

(۳۱) هماغه ماخذ ، ۸۵۵ - مخ .

(۳۲) جالبی ، دکتور جمیل : تاریخ ادب اردو ، لومړی

تهوک ، دوهم چاپ ، مجلس ترقی ادب ، لاهور ، ۱۹۸۴ع ، ص ۵۳۹ .

(۳۳) تاریخ ادبیات ایران ، ج ۲ ، ص ۸۵۸ .

(۳۴) تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان و هند ، لسم تهوک ، پنجاب یونیورسټی ، حبیب پریس لاهور ۱۹۷۲ع ، ص ۵۵ .

(۳۵) هیواد مل ، زلمی : د عبد القادر خان ختک سمینار ته وړاندې شوې مقاله ، پښتو اکیډمی پېښور ، ۱۹۹۳ع .

(۳۶) مومند ، قلندر : پټه خزانه فی المیزان پښتو مجله ، پښتو اکیډمی ، پېښور ، ۱۹۷۶ع ، د مارچ گڼه ، ۲۵-۳۷ مخونه .

(۳۷) مومند ، قلندر : د یونس د دیوان شهادت پښتو مجله ، پښتو اکیډمی ، پېښور ، ۱۹۷۹ع ، د فروری گڼه .

(۳۸) مومند ، قلندر : کامل مرحوم او پټه خزانه تماس ، دویمه گڼه .

(۳۹) د نانواتا یاد : د ښاغلی یون پهٔ زیان د خوشحال فرهنگی ټولنه ، کابل ، آریانا مطبعه ، ۱۳۷۰ هـ ، ش ، ۳۴-۵۲ مخونه .

(۴۰) پروفیسر صاحبزاده حمید الله : پټه خزانه ،

اعتراضونه او ځوابونه ، د ۱۳۶۹ هـ ، ش کال دریمه گڼه ، ۳۰ - ۴۲ مخونه .

(۴۱) هوتک ، محمد معصوم : پټه خزانه فی المیزان ته یوه کتنه ، سپېدې مجله د ۱۳۷۰ هـ ، ش کال لومړۍ گڼه ، ۱۷ - ۳۹ مخونه .

(۴۲) هوتک ، محمد معصوم : د افغانستان په مطبوعاتو کې د هواد او هېواد پر کلمو یوه پخوانۍ خپره شوې مناقشه ، خپلواکي ، ۱۳۷۴ هـ ، ش کال ، ۱-۲ گڼه ، ۱٦۰-٦۴ مخونه .

(۴۳) بریالے ، عبدالکریم : پټه خزانه یو نا قابل تردید حقیقت ، سپېدې ، د ۱۳۷۰ هـ ، ش کال پنځمه گڼه ۱۱ - ۳۵ مخونه .

(۴۴) خلیل ، هېبش : اشرف خان هجري آزاد که قیدی ؟ جرس (مجله) کراچی ، د ۱۹۹۵ ع کال د جنوري او مارچ گڼه .

(۴۵) هم ، پوهاند سید سلطان شاه : دردهای خراسانیان ، پشاور ، ۱۳۷۰ هـ ، ش .

(۴٦) هېوادمل ، زلمے : فرهنگ ادبیات پښتو ، دریم ټوک ، کمیټه دولتی طبع نشر ، کابل ، د ولتی مطبعه ۱۳٦٦ هـ ، ش ، ص ۷۲ .

(۴۷) حبیبی ، پوهاند عبدالحی : پښتو نثر-

له نولسمې پېړۍ راهیسې ، پښتو چاپي آثار ، د
سرمحقق عبدالله خدمتګار پهٔ زیار ، د اطلاعاتو
او کلتور وزارت ، کابل ، دولتی مطبعه ، ۱۳۵۷ ه،ش
کال ، ۶۳ - مخ .

(۴۸) رفیع ، حبیب الله : د خلکو سندرې ، د
تاریخ او ادب ټولنه ، کابل ، دولتی مطبعه ۱۳۴۹ ه‌ش
کال ، ۱۵۴ مخ .

(۴۹) محمدی صاحبزاده : مستغاث (خطی) د کابل
مجلې د ۱۳۶۶ ه، ش کال د ۶ - ۷ ګڼې د ۶۲ مخ پهٔ حواله.

(۵۰) خانعلوم : د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو -
شرح ، کابل دولتی مطبعه ، د ۱۳۵۶ ه، ش، ۱۳ مخ.

(۵۱) میا شرف : پښتو عروض ، د پوهاند رښتین
پهٔ زیار ، کابل ، پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۴۴
ه، ش ، ۸ مخ .

(۵۲) رشاد ، پوهاند عبدالشکور : دا تېروتنې
باید سمې شي ، وفا جریده ، د ۱۳۷۳ ه ، ش کال د
تلی ۱۳ مه ګڼه .

(۵۳) حسرت ، زبیر : له مردانه تر مردانه ، د ادبي
دوستانو مرکه ، مردان ۱۹۹۳ ع ، ۵۱ مخ .

(۵۴) هېوادمل ، زلمی : خوشحال نامه (مقدمه)
د قبایلو فرهنګي ریاست ، کابل دولتي مطبعه ۱۳۶۵ ه‌ش

کال ، لسم مخ .

(۵۵) طاین ، پروفیسور محمدنواز خان: روهی ادب ، دوهم چاپ ، پښتو اکیډمی ، پېښور جدون پریس ، ۱۹۸۶ع ۴۳۰ مخ .

(۵۶) محمد حیات خان : حیات افغانی (پښتو ترجمه) مترجمین ، طالبی او ظریفی ، لومړی ټوک ، آریانا مطبعه ، کابل ، ۱۳۷۰ هـ ، ش ۳۲۲ مخ .

(۵۷) دولت شاه سمرقندی : تذکرة الشعراء به کوشش شیخ محمد اقبال ، لاهور ، مطبع کریمی ۱۹۲۴ع ، ص ۵ .

(۵۸) مشتری ، نجرابی : فهرست نسخ خطی پښتوی آرشیف ملی افغانستان ، ریاست فرهنگ کابل ، مطبعهٔ دولتی ، ۱۳۶۵ هـ ، ش ، ۵-۶ مخونه .

(۵۹) پروفیسور عبدالرؤف نوشهروی : د پښتو نثر ارتقاء اکاډمی ساینس ، پېښور ۵ - مخ

سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار

د محمد هوتک پټه خزانه

عبارات او تعبیرات

ځومره او څنګه چې پر انسانی ټولنو وخت تېرېږی، هغومره او هغسې د خلکو د ژوندانۀ پۀ صورې او معنوی اړخونو تغیر او تبدیل راځی.

پۀ دې پروسه کې ژبه هم شامله ده. د پېړیو پۀ پوړیو کې د ټولنې د نورو مظاهرو پۀ بدلېدو ورو ورو پۀ ژبه کې هم لفظی او معنوی بدلونونه منځ ته راځي. له هغه وخت نه راپدې خوا چې فونیمونو ته ګرافیمونه جوړ شوی، د ژبې په خوا کې قلم پۀ کار لوېدلی او د علم صید د کتابت پۀ قید کې راغلی دی، نو د لیکلو آثارو پۀ برکت د یوې زمانې ژبنۍ پانګې بلې زمانې ته منتقلې

شوی دی . په دې لړ کې موږ د هرې ژبې په هر پخواني اثر کې وینو چې اوس د هاغې ژبې په یوه لهجه کې شته او په بله کې نه، یا یې لفظي یا معنوي بدلون منلی او لیا داسې حد ته رسیدلی دی چې موږ یې نن یا په لفظ یا په معنا، یا په دواړو نه پوهیږو . د دې عملیې ته ژبپوهان ارخاییزم وایي .

د محمد بن داؤد هوتک پټه خزانه چې په ۲-۱۱۴۱- هـ ق کلونو کې، د شاه حسین هوتک په هڅونه تالیف شوې ده، موږ پورې د ارخاییکو لغتونو د غني ستره ارځمنده پانګه را رسولې ده .

د مؤلف په لیکنو کې د کتاب په نثري برخه کې هم د غني لغتونه شته او د هغه د همعصرو یا پخوانیو شاعرانو په شعرونو کې هم . د دې لامله هم نوموړی کتاب د ژبنۍ پانګې د دغني ارزښتناکو مرغلرو یوه پټه خزانه هم ده .

د دې خزانې په راسپړلو کې مرحوم پوهاند عبدالحي حبیبي ډېر زیار ایستلی دی . ارخاییک لغتونه یې سره راسپړلي، د هغو ترجمې او شرحې یې لیکلي، د هغو ریښو او ځانګو ته یې اشارې کړې او په اوسنۍ ژبه کې یې د هغو معادل یا متبادل لغتونه راښودلي

دی. بیا هم، له یوې خوا دا کار ډېر دقیق، ظریف مغلق او مبهم اړخونه لري او د بلې خوا د انسان ذهن هېڅېږي هم، د هغهٔ د چاپېریال د تاثیرونه، نهٔ شی را وتلی.

یعني: انسان هغه څهٔ وایی، لیکی او کوی چې څنګې یې لیدلی، اورېدلی او لوستلی وی. لهٔ دې قاعدې نه ډېر ساده عادی نالوستی هم مستثنا کیدلی نهٔ شی او د نړکه نوابغ او عبقریان هم، چې پهٔ هیڅ صورت د مرحوم حبیبی په شان پوهاندان او استادان هم له دې قاعدې نه بهر را وتلی نه شي. هغه هم انسان و، د خپل عصر او چاپېریال انسان. د افغانستان په کندهار کې راپاڅېدلې دانشمند. د روانې هجری لمریزې پېړۍ په دوهمه، درېیمه لسیزه کې راوتلې څېړندوی.

هغهٔ په خپل کار، د پښتو خزانې په تحشیه، تعلیق ترجمه او د هغې د عباراتو پهٔ تعبیراتو کې څومره چې کیدای شوای هومره له دقت او غور څخه کار اخستی دے. پهٔ دې کار کې یې هم له موجودو مأخذونو او منابعو نه استفاده کړې او هم یې پهٔ خپل فکر، تجزیې او ذوق تکیه کړېده.

د دغو هڅو پهٔ نتیجه کې، د هغهٔ کار د افغانی او خارجی پوهانو، استادانو او شاګردانو د پراخې

استفادې وړ ګرځېدلې دي . بیا هم لکه چې ګورو د زړو نسخو او قدیمو متونو د نورو فاضلو شارحانو او محشیانو په شان د ډېرو ارزښتمندو خبرو په خواکې لهٔ هغهٔ څخه هم ځینې اشتباهات شوي دي ، خو دا اشتباهات یا نیمګړتیاوې دومره لږې او ناڅیزې دي ، چې پهٔ لومړي نظر کې نه ، بلکه د ډېر غور نه وروسته ایله د سړي پام ورته اوړي او پوهېږي چې پهٔ ځینو برخو کې د هغوی د نظریې او توجیه پهٔ خواکې بل نظر او بله توجیه هم امکان لري . زهٔ به ستاسو پهٔ اجازه په دې لړکې یو څو مثالونه وړاندې کړم :

پهٔ پټه خزانه کې لیکي : « درود نا محدود پر هغه پیغمبر دی علیه الصلوٰة والسلام چې موږ ته یې راوښوله سمه لار او روده .» (۱)

پهٔ حاشیه کې ورته لیکلي دي : « روده : بروزن کرده به معنیٰ راه وجاده » (۲)

دا حاشیه د تامل وړ ده ، نوره خبره او پلټنه هم غواړي . سمدستي زما بله توجیه داده : دا عبارت کېدی شي چې (روده) پر وزن د (کرده) نه ، بلکه (رو ـ ده) ولولو او دوه کلمې یې وګڼو . (رو) د (دو) پر وزن د (روش ، رفتن) ریښه ده . مجازاً د لارې او طریقې

معنا هم لري. په فارسي کې (راه و روش) د قدماوُ او معاصرینو په لیک او وینا کې رواج لري.

دلته (لار او رو) کټ مټ د (راه و روش) معنا ورکوي او (دهٔ) د غایب مفرد مذکر منفصل ضمیر په جمله کې د (راوښووله) د فعل د فاعل په توګه (پیغمبر (ص)) ته راجع کېږي.

د راحه توجیه داده: په متن کې (و) زاید او د کاتب غلطي وګڼو. (رده) بیا د (رد) په شان اوس هم په پښتو او فارسي کې استعمالېږي او د (لار) معنا لري.

په نومړي کتاب کې د بابا هوتک د یوې جګړې د بیان په شرح کې راځي:

،، ... په دې شخړه کې پښتانه لږ او بې ځواک وو چې د سرو مغلو پېښه راغله او اخېسته یې وکا ... ،، (۳)

او په حاشیه کې راځي: ،، اخبسته: به فتحه ماقبل آخر بمعنئ هجوم و تاخت ،، (۴)

زما فکر ته راځي: دلته (اخېسته) له اخېستل څخه (درګرفت و تصاحب) معنا ښندي او مطلب یې د مغولو له خوا د پښتنو د سیمې، ځمکې، اموالو او اشخاصو اخېستل، نیول او تصرف کول کېږي، کله چې د یو لغت

دغسې څرګنده، لنډه عامه مروجه معنا وي، بيا نو بلې ته څه ضرورت ؟

په کتاب کې د شيخ متي د شعر يوه مصرع داسې ده: — «رپ يې وتا ته ستا پر لوردی» (۵)

د«رپ» ترجمه داسې شوې ده: «رپ: به فتحهٔ اول ريشهٔ مصدر رپيدل است بمعنیٔ تپش، ورپ اکنون از استعمال افتاده است.» (۶)

شايد تاسو به هم راسره ومنئ چې (رپ) اوس هم له استعماله نه دے لوېدلے.

موږ د(سترګو رپ) وايو او کېدے شي چې د سترګو په رپ کې يې نور مثالونه هم پيدا شي.

په کتاب کې د امير کروړ د وياړنې يوه کړۍ ده:

«دپی زړن را څخه» (۷)

حاشيه ده: «زړن» به فتحتين، اين کلمه اکنون ازبين رفته و توجيهاً ميتوان گفت که نون نسبت در آخر کلمه (زړه) ملحق وهای آخر افتاده، وغالباً بمعنی دلير ودلاور وشجاع باشد واز کلمات مغتنم قديمی است که اين کتاب حفظ کرده» (۸) زما په نظر غالباً قيد چې د ډېر احتياط له مخې راغلے بې ضرورته دی او همدارنګه (زړن) د (ز، ړ) په زورونو (فتحتين) د تامل وړ ښکاري. په حاشيه کې

د (زړهٔ) ساکنې (ز) ته د فتحې (زور) د ورکولو دليل
نه دے ویل شوے او زه فکر کوم چې دلیل ورته جوړیږي
هم نه شي، ځکه چې (زړن) د "زړهٔ" په شان د (ز) پهٔ
سکون او د (ړ) پهٔ زورکی باندې د کلمې د اصلی
شکل آواز ونه ساتی او که یې هم داسې ولولو، نو
بیا دا کړېکه د (لهٔ ما اتل نسته) او (ستړې تربورکړ
دکړیو پهٔ شان شپږ سیلابه کېږي. نو ځکه د وزن
خبره هم نشته او د (ړ) سکون او بیا زورکی پهٔ ځای
د دوو زورونو (فتحین) ایجاد ته هیڅ ړو اوګودن نهٔ
وینو. د شیخ اسعد سوري په قصیده کې لوو:

„ته یه ملاکړي د بي وزلو له ترار» (۹)

او په حاشیه کې لوو: "ترار" *بفتحتین غالباً بمعنئ آشفته و مضطرب بست. چه تراره بمعنئ اضطراب و ترور یا ترهور بمعنئ مضطرب در بین متوسطین مستعمل بود.*" (۱۰)

دلته هم په (غالباً) کې د احتیاط جنبه غالبه ده
او هم تروړ او تراره یوازې د متوسطینو ترمنځ
نه، بلکه اوس هم پهٔ ننګرهار او پېښور کې هم د
خلکو ترمنځ او هم د شعر او ادب کې په هدغو معنو
رواج لري. مثلاً وايي:

زهٔ په تراره شوم. پهٔ زړهٔ مې تراره راغله
چې تراره د اضطراب او پرېشانۍ معنا لري.

یا شاعر وایي :

ډکې پیالې مه څښنه چې ترور به شي
دا د رنځور وینه ده رنځور به شي (۱۱)

دلته: ترور د مضطرب او پرېشان پهٔ معنیٰ دی.

ـ د هماغې قصیدې یوه مصرع داسې ده :

«د زمریو پهٔ بېړیو کله وي څوار» (۱۲)

ـ او د «څوار» حاشیه ده : «این کلمه قطعاً از بین رفته ودر هیچ جا به نظر نگارنده نرسیده و نه شنیدم ، از مورد استعمال توجیه میتوان کرد که معنیٰ صبر و استقامت و آرام و سکون را داشته است .» (۱۳)

او د مصرع ترجمه داسې شوې ده : «شیر در زولانه و زنجیر آرامی ندارد» (۱۴)

لکه چې ګورو پهٔ حاشیه کې د ترجمې او توجیه دلیل نهٔ دے ذکر شوے او دا ترجمه د شعر له سیاق او سباق سره پوره سمون نه لري . بلکه که د «څوار» ترجمه پهٔ "پروا" وکړو ، بیا نو د شعر له روان مضمون سره سمون مومي او د قرینې له مخې یې معنا سمېږي . دا شعر د امیر محمد سوري پهٔ باره کې دے چې د سلطان محمود غزنوي جنګیالیو هغه پهٔ زنځیر او زولانه کې له غور څخه غزني ته بوړه مګر له ډېره غمه او غیرته پهٔ لار کې مړ شو . شاعر

وایی :

ترنړیه یې غوره خاورې هدیره کا
د زمریو په بړیو کله وي خوار

د شیخ اسعد سوری د همدې قصیدې دوهم بیت داسی:
دے :

«هر غټول چې په بېدیا غوړېده وکا
ریژوی یې پاڼې کاندی نار په نار (۱۵)

ددې بیت د نار په نار حاشیه داسې ده :

«نار په نار : دراصل چنین است . ولی در پښتو نار ونارړی بمعنی تار نباتاتست . شاید ریشهٔ این دو لغت پارسی وپښتو یکی باشد . یا این کلمه تار په تار باشد .» (۱۶)

محشي د دغه بیت ترجمه داسې کړېده :

« هرلاله که در دشت وصحرا بشگفد :
آنرا میریزانند وبرگهای آنرا متفرق میسازد » . (۱۷)

په حاشیه کې (نار) د بوټو نارته ویل شوی ، مګر بیا بل احتمال ته اشاره شوې چې بنایی دا عبارت (تار په تار) وی . په ترجمه کې بیا دې احتمال ته ترجیح ورکړ شوې ده . تر دې وروسته ، د پټې خزانې د فاضل محشي او مترجم په نورو تالیفاتو :

د پښتو ادبیاتو تاریخ (۱۸) او د پښتو ادب کې قصیده (۱۹) کې هم (تار په تار) دوام موندلی دی .

همدارنګه د پښتو خزانې په څلورم چاپ (۲۰)، د پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو ادب تاریخ (۲۱) او د سرمحقق زلمی هیوادمل په فرهنګ زبان و ادبیات پشتو (۲۲) کې (تار په تان) تکرار او په حقیقت کې یوه عنعنه یا بهیر ترې جوړ شوی دی او ښایي چې په نورو لیکنو او څېړنو کې هم تکرار شوی وي.
نو ځکه دلته د دې عبارت د تعبیر په باب، به لږ څه تم شوو:

د خطي نسخو د متونو د الفاظو او عبارتونو په باره کې، په تېره بیا په هغو مواردو کې، چې یوازې یوه نسخه تر لاس لاندې وي، بهتره او غوره دا ده چې د خطي نسخې متن ته پوره توجه وشي. دلیکل شویو ثبت شویو الفاظو معنی ته پام وشي. که الفاظ معنا وښندي، بیا نو په خپله رایه او توجیه سره د هغو بدلولو ته هیڅ ضرورت نشته. په دې صورت کې د محشیانو، څېړندویانو بله توجیه په حاشیه کې راتلې شي او بس.

د متن پوهنې د ذکر شوي پرنسیپ له مخې به دلته وګورو، چې (تار په تان) معنا ورکوي او که نه؟

- تان، د خلکو په محاوره او د فارسي پښتو قاموسونو دلیکنې له مخې: د ر تان ګل وګیاه، تان خشک حبوبات

نارګندم) یا (ړنبوړ، ډنبوره، غنډل) معنا لري (۲۳) چې د پټې خزانې په حاشیه کې هم ورته اشاره شوې ده.

همدارنګه نار د خلکو په محاوره او د پښتو قاموسونو دیکښې له مخه: (ساقهٔ جو وګندم) یا (د غنمو او وربشو بې وږي بوټي) ته وایي. (۲۴)

- نار په عربي ژبه د (اور - آتش) معنا لري. (دې ته د استاد حبیبي توجه نه ده اوښتې او ښایي چې د هغې له امله په توجیه کې لفظ او معنا ترې تار په تار شوي دي.)

په دې توګه غنټول یا غاټول هم یو بوټے دے چې ګل او پاڼې یې ورث بڼي، بیا نو د نهړ یا ناړ یا نار یې پاته کېږي. په ذکر شوي بیت کې نار دوه ځله راغلے دے. چې یو ځل د غاټول د ناړ یا نار په معنا او بل ځل د اور په معنا کېږي که اول (نار) د "اور" په معنا او دوهم د (ناړ) په معنا واخلو هم معنا ورکوي او بالعکس هم. ځکه چې هم اور په ناړ پورې کېږي او هم ناړ اور ته اچول کېږي.

د قصیدې په پیل کې: شاعر د فلک له چارو کوکان کوي، ځکه چې هغه (فلک) هر ګل چې په بهار کې

وخاندي ، زمولوکي او هر غاټول چې په بيديا - ويښېږي ، د هغه پاڼې رژوي او په ناڅاپي اور پورې کوي .

څومره ښکلے شاعرانه بديعي تصوير دے ؟ د غاټول ګلونه هم د اور په شان سرهٔ دي ، هغه چې ورژېږي او پهٔ نارې نار يا پهٔ د نغري او پورې شي ، بيا نو داسې که يې ګورې ، چې د سروګلونو ننداره له سره پيلېږي .

کېدے شي چې دا بل تعبير ومنو چې کله د غاټول د ګل پاڼې ورژېږي ، نو د هغه پاڼې تار په تار کېږي ، مګر دا معمولي خبره ده - هغومره ښکلے بديع او ابتکاري تصوير نهٔ دے . لکه څنګه چې په نړۍ اور پورې شي او پهٔ سرهٔ اور د سروګلو منظره بېرته راژوندۍ شي .

نو په بيت کې د (تار پهٔ تار) پهٔ نسبت (نار - پهٔ نار) رسا تعبير ، واقعي تفسير ، ښکلے او ښايسته تصوير ، رنګين او بديعي ابتکار دے نو ځکه وايو :

۱- نار پهٔ نار ، د ديوان يوې خطي نسخې اصلي شکل او واحد روايت دے .

۲- نار پهٔ نار خپله معنی ورکوي ، نو بله توجيه

ته ضرورت نشته.

۳- نار پهٔ نار په شاعرانه نظر، تر تار پهٔ تار رسا، واقعي، رنګین او ابتکاري تصویر ارائه کوي او د لوی ادبي معیار د غښي قصیدو ته د غښي تصویرونه طبیعي دي. نو ځکه هم دغه اصلي شکل سم او مرجح بولو نه د محشي دوهم احتمالي شکل. (۲۵)

پهٔ پای کې باید و وایم چې مرحوم پوهاند حبیبي د (نار پهٔ نار) د عبارت پهٔ ترجمه، شرح او تعبیر کې اول له تذبذب سره مخامخ شوی او بیا یې د خطي نسخې د متن له وضاحت، صحت او بلاغت سره هم د (تار پهٔ تار) شکل ته ترجیح ورکړې او هغه یې پهٔ خپلو لیکنو کې تکرار کړې ده. نو که پټه خزانه، شیخ اسعد سوري د هغهٔ بولله او پهٔ بولله کې د (نار پهٔ نار) یا (تار پهٔ تار) عبارت د نوموړي استاد د ذهن او عمل پیداوار وای (العیاذ بالله). بیا نو د دغه عبارت پهٔ ترجمه کې د تېروتنې تر سرحده پورې د هغوی دې ډول تذبذب ته لار نه جوړېدله.

همدارنګه لکه د مخه ورته اشاره وشوه، د یو شمېر نورو عبارتو پهٔ تعبیراتو کې هم د کتاب محشي او مترجم د کار نارسایي او اشتباهات لیدل کېږي.

چې دې سره د هغوی د علمي کار ارزښت د ذرې په مثقال هم نه کمېږي ـ ځکه چې په علمي څېړنو کې دا طبيعي خبره ده، هلا سې کېږي.

د ساينس پوهانو خبره د ساينټست د کار سموالی د هغۀ دوه او ناسموالی يې يو برياليتوب دی.

د اسلامي شريعت په حکم د مجتهد ثواب دوه ثوابونه او د هغۀ خطا يو ثواب لري. او د پوهانو مشرانو خبره: علم دریاب دی او انسان مرکب له خطا او نسيان.

که حضرت (آدم عليه السلام) ته د خدای په امر او اراده د ټولو اسماو علم او د هغو د بيان قدرت حاصل شو. نو د هر بل منفرد انسان علم په ټولو اسماوو او اشياوو نه حاوي کېږي، بلکه ټول انسانان په مجموعي ډول د خپل نيکۀ آدم عليه السلام د ټول علم وارثان دي.

له دغو روښانو څرګندو حقايقو سره د پټې خزانې د داسې عباراتو په تعبيراتو کې د مرحوم استاد عبدالحی حبيبي تېروتنې، اشتباهات او نارسايۍ پخپله د دې ادعا سم رسا او لوی ثبوت دی، چې د دغه کتاب د دغه دانشمند جوړونه نۀ ده او کۀ وای نو به دغسې نه وای. د پټې خزانې

د ذکر شوو عباراتو د شوو تعبیراتو په باب کې داؤ زما تعبیر !!

فاعتبروا یا اولی الالباب

ننگرهار، سورروود، بختان کلی
د ۱۴۱۵ هـ، ق د رمضان المبارک (۳۰مه)

یادونې :

- ● - العلم صیدٌ والکتابة قیدٌ . (عربی مقوله)

(۱)، (۲) - محمد بن داؤد هوتک - پټه خزانه، د پوهاند عبدالحی حبیبی له مقدمې، ترجمې، حواشیو او تعلیقاتو سره، دوهم چاپ، د پوهنې وزارت، د دارالتالیف ریاست ۱۳۳۹ هـ، ش دوهم مخ .

(۳) تېر مأخذ - ۸ م مخ .

(۴) تېر مأخذ ۹ م مخ .

(۵)، (۶) تېر مأخذ - ۲۸ م مخ .

(۷)، (۸) - تېر مأخذ ۳۶ م مخ .

(۹)، (۱۰) - تېر مأخذ ۴۲ م مخ .

(۱۱) - راز، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۴۲ هـ، ش .

(۱۲)، (۱۳) - پټه خزانه - ذکر شوی چاپ ۴۴ م مخ .

(۱۴) - تېر مأخذ ۴۵ م مخ .

(۱۵)، (۱۶) تېر مأخذ ۴۰ م مخ.

(۱۷) - تېر مأخذ ۴۱م مخ.

(۱۸) - پوهاند عبدالحی حبیبی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دوهم ټوک، لومړی چاپ، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۳۸ هـ، ش - ۵۳م مخ.

(۱۹) پوهاند عبدالحی حبیبی، د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده، د افغانستان د علومو اکاډمی، د ژبو او ادبیاتو انسټیټوټ - ۱۳۵۷هـ، ش، ۱۸م مخ.

(۲۰) پټه خزانه، څلورم چاپ، د زلمی هېوادمل په زیار کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۶هـ، ش - ۱۹م مخ.

(۲۱) - پوهاند صدیق الله رښتین، د پښتو ادب تاریخ، کابل د پوهنې وزارت، ۱۳۳۳هـ، ش، ۱۳۰م مخ.

(۲۲) - زلمی هېوادمل، فرهنگ زبان و ادبیات پښتو، وزارت تعلیم و تربیه، ریاست تعلیم و تربیه، ۱۳۵۶هـ، ش، ۳۲ مخ.

(۲۳) عبدالله افغانی نویس، افغان قاموس، دریم ټوک کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶هـ، ش، ۴۸۱م مخ، او پښتو قاموس، دوهم ټوک، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۳۲هـ، ش، ۲۴م مخ.

(۲۴) - بهادر شاه ظفر کاکاخېل، ظفراللغات، پېښور ۹۲۹م مخ.

(۲۵) په دې باره کې د زیات تفصیل لپاره کتلی شئ:

- سرمحقق عبدالله بختاني (خدمتگار) تار په تار او نار په نار د شیخ اسعد سوري او عبدالحمید مومند په کلام کښې (مقاله) شمشاد مجلّه، دوهم کال د ۱۳۷۲ هـ، ش کال، دریمه گڼه، ۳۷ - ۴۷ مخونه.

کاندید اکادمیسین محمد ابراهیم عطائی

ولې پټه خزانه
او
څومره پټه خزانه ؟

د پېښور خلیل اولسي ادبي جرګې په یوه لیکبلنه راکړې ده چې د محمد هوتک د نمانځلو غونډه د هغه د شخصیت یا د هغه د اثر «پټې خزانې» په باب یوه لیکنه ور ته وکړم.

ما چې هم دا بلنه منلې ده نو دا لاندې لیکنه ور ته وړاندې کوم:

باید ووایم چې تقریباً د دېرشو څلویښتو کالو را په دې خوا د پټې خزانې په مختلفو ابعادو ما لیکنې کړې دي چې چاپ شوې او په سیمینارونو کې لوستل شوي دي، خو دا اوسنۍ لیکنه مې له هغو عنوانو لیکنو سره توپیر لري او په دې لیکنه کې د پټې خزانې په باب یو داسې مطلب د غونډې بحث ته وړاندې کوم چې غالباً د بل لیکوال او څېړونکي به ور ته فکر شوی نه وي، خو له دې یادونې سره جوخت په ټینګ باور دا نشم

ویلای چې د غونډې له پاره به د مقالاتو د ټاکلو، قضاوت کوونکي هیأت له خوا به د رد ټاپه په تندي وخوري او د نورو مقالاتو له کتاره به بلې خوا ته ټیل وهل شي، دا ځکه چې په دې لیکنه کښې د پښتو خزانې د لوېې معرکې د واړو متخاصمو خولو ته څۀ ګټه پکښې نشته، یعنې هغه خوا چې په توره او ډال د دغه ادبي تاریخي متن د ابطال له پاره راډګر ته شوي دي نه یوازې به په خپله ګټه څۀ پکښې و نه مومي، بلکې د دوی په کار به هم د انتقاد ګوته کښېښول شي او هغه خوا چې د دې ادبي تاریخي اثر د کره والي په دفاع کښې ولاړ دي هغه به هم ګیله من شي چې د دوی منډو ترړو ته په بې قدرۍ کتل شوي دي، نو د دغه اتفاق نتیجه به دا وي چې دا لیکنه به د لوستلو او خپریدلو څخه محرومه شي.

خو زه یې لیکم او دا هم غنیمت ګڼم چې اقلاً د مقالاتو د ټاکلو د یو هیئت یو تن خو به یې ولولي او په دې ورله ګډه فضا کښې بیا هم دا غنیمت دی چې یو تن خو به زما د زړه خبرې واوري او که حقیقت ورته ښکاره شو نو د یو عدد څخه ته چې یو صفر پیدا شي لس ځنې جوړیږي هدا بې واخله دوه دري او نور صفرونه او په دې توګه به زموږ د فرهنګ له آسمانه دا اوسنی لړی ټولی او د ادبي ایجادونو - ړوښانه لمرونه به موږ د فرهنګ پر چاپېریال خپلې پلوشې را خپرې کړي.

اوس په اصلي مطلب پیل کوم:

پټه خزانه چې نوره باید لوڅه خزانه وبلل شي د خپل کشف له وخته یعنې دا تقریباً نیمه پېړۍ کېږي بحث‌برانګیزه موضوع ده. په دې موضوع بحثونه لکه یو نرم شمال پیل شول، ورو ورو یې زور واخیست او دا دی اوس یې د یو طوفان شکل غوره کړی دی. پټه خزانه چې یو ادبي تاریخي متن و، اوس یې د جګړې د ډګر شکل غوره کړی دی، یوې خوا ته د تعرض جبهه ده چې دا یو جعل شوی متن بولي چې کاشف او او متن مفسر ته یې د جاعل خطاب کېږي. (البته دا سې خطابونه ادبي پوښ کښې کېږي) خو په مقابل کښې یې د دفاع جبهه ده چې هغوی په علمي او منطقي استدلال دا یو رښتیاني ادبي، تاریخي متن بولي، د دې فرقو ترمنځ اوس نږدې ده چې د پټې خزانې له جنګڅه د حضرت علي او معاویه نزاع راوپاخېږي.

ما چې د دې جګړې پر عیني او ذهني جهتونو فکر څغلولی دی نو د منطقیانو په اصطلاح د دې مسألې صغرا او کبرا دې نتیجې ته رسولی یم چې د دغې جګړه ایزې تیورۍ مخ کښې تر دې چې ادبي و اوسي سیاسي جلوه یې زیاته پاملرنه جلبوي.

په ادبي سطح کښې پټه خزانه یوه تذکره ده چې د یو ادبي تاریخي متن حیثیت لري. د دې تذکرې لیکوال په انکمه

پېړۍ کښې د کندهار و هوتکي دربار ته منسوب یو د قلم خاوند سړی دی چې محمد هوتک نومېږي. دا تذکره پټه خزانه نومېږي چې د پښتو ادب سلف لیکوالان او شاعران د هغوی د کلام له نمونو سره معرفي کوي. د دغې تذکرې د اصل متن څخه یو نقل شوې نسخه تقریباً نیمه پېړۍ پخوا مرحوم استاد عبدالحی حبیبي کشف کړې بیا یې څو واره خپره کړې ده، دغه استاد د هغې پښتو متن په دري ترجمه کړی تعلیقات او حواشي یې پرې لیکلي او کله چې د جعلیت الزام پرې لګېدلی علماً یې د هغه دفاع هم کړې ده. د پټې خزانې په باب بس خبره همدومره ده، خو دا چې ولې پر دې متن، او د هغې د کاشف پر کار دا دومره خبرې پیدا شوې دي نو دلته مساله د تأمل وړ ده.

د پښتو ژبې او ادب په باب په غیرپښتون ټولنو کښې دا خبره عامه ده چې دا ژبه د هندو ایراني ژبو په کړۍ کښې د ایرانۍ ژبې یوه لهجه ده. هغه چا چې دا غیر علمي نظر په علمي اسلوب رد کړی نو پر هغو ډول ډول ټاپې لګېدلې دي، همدا رنګه د پښتو ادب (لیکلي ادب) په باب له دې خبرې سره په غیر پښتون کړیو کښې سخت مخالفت روان دی. چې تر خوشحال خان ها خوا ته څوک د دغې ژبې د ادبیاتو د قدامت ادعا وکړي. څرنګه چې پټه خزانه د دغه منفي نظر بښت کمزوری کوي نو مقابله ورسره روانه ده.

آیا دغه د قدامت یا غیر قدامت ادعاوې په دې ارزي چې - پنځوس کاله جګړه پر روانه او فکرونه او قلمونه مصروف وي.

غالباً د دغه ذکر قهرمانان چې دا یو علمي او تحقیقي کار ګڼي او د ادبي نقد په نظر ورته ګوري پر ما به دا الزام ولګوي چې زه ولې له دې څخه غافل یم چې دغسې نقد د پردې ژبې ادبي پانګه پیاوړې کوي؟ خو متاسفانه چې په دغسې دلایلو د نه قناعت په وجه ما هرکله ځان او نورو سرګردانه کړي دي، زه وایم دا په اصطلاح د سرمنګک افسانه ده نه پر یو علمي اثر او نظر نقد، بلکې تر هغه وروسته چې مرحوم استاد حبیبي د داخلي او خارجي شکاکانو د شبهاتو د رفع له پاره پر علمي دلایلو بنا په تفصیل لیکنه وکړه او په هغه کښې یې د نورو ژبو مثالونه هم راوړل او بیا دغه مفصله لیکنه د پټې خزانې د ۱۳۵٤ کال د چاپي نسخې د مقدمې په توګه خپره شوه، دغه کافي وه، نور نو دې را وروسته هرڅه چې لیکل شوي او چاپ شوي تکرار خبرې دي او بې له دې چې د مستعدو لیکوالانو فکرونه او قلمونه بې ځایه مصروف شي او په پښتو ژبه کښې د ادبیاتو د نوي رشد او پراختیا کار پیغ شي بله نسخه پر بنا شوې نه ده.

په داسې حال کښې چې پښتون اولس نن د خپل تاریخ یوه ډېره پر له پیچلې پروسه طی کوي او تلاشونه روان دي چې دا ملت د خپل ټول موجودیت سره د تاریخي بطلان کندې ته ورټېل

وهي، او په همدغو سرنوشت ټاکونکو شېبو کښې د دې ژبې د غرقېدو په مخ نیوی کښې د ماڼوکانو نقش ولوبوي دا به څومره مطلوبه وي چې دوی د پټې خزانې پر نفې یا اثبات مصروف وواېي.

همدغه ځای دی چې زه د پټې خزانې د نفې یا اثبات تیوري ادبي نه بلکې سیاسي ګڼم، دا هم پر زیاتوم چې دا کار زموږ نه بولم بلکې د نورو له خوا یې یوه داسې ماهرانه طرح ګڼم چې د پښتو ژبې او ادب د رشد او پرمختیا مخه پرې نیول کېدای شي او علاوتاً د یوې ژبې د فرهنګ په حوزه کښې یې د روشنفکره قشر تر منځ د زړه بداوی اور ته لمن وهل کېدای شي.

د پټې خزانې پر سر اوس خبره دې ځای ته رسېدلې ده چې که داسې فرض کړو چې همدا اوس همدغه محفل ته پخپله محمد هوتک کفن په غاړه راحاضر شي او په اشهد بالله شاهدي ووایي چې د پټې خزانې متن رښتیانی دی او د مرحوم استاد حبیبي جعل نه دی نو هغه ټولګران چې زعفران د پټانو (الوګانو) په ترازو تلي په هغه بېچاره به هم د جاعل حکم وکړي. او بالعکس که هغه محمد هوتک ووایي چې پټه خزانه زما نه ده او مرحوم استاد حبیبي هم ځان ملزم وبولي او شرعاً اقرار وکړي نو دا بل طرف به ووایي چې د دوی خبرې اعتبار نه لري.

په خواشینۍ باید ووایم چې دپښتو خزانې په جنګ کښې زموږ لیکنې او دعوې دعلمي سلوک او پرنسیپونو له حریم څخه ډېرې څټ پاته دی.

پر یوه ادبي او تاریخي متن نقد نه یوازې لازمي، بلکې ضروري دی. که دغسې یو متن تر نقد نه وی وتلی د هغه ارزښت هم کم وي، خو کله چې د دغسې نقد هدف او تارګیټ د سیاسي مقاصدو له پاره وقف شي هلته نو د یوه اولس فرهنګ له هرې او ټکر سره مخامخ کیږي.

پر پټه خزانه تر هغه ځای چې لاندې وه مرحوم استاد حبیبي د داخلي او خارجي شکاکانو د شکونو د رفع له پاره د هغه متن د اصالت د کره کولو په منظور د ژبپېژندنې (لنګوستیک)، ریښه پېژندنې (رایتمولوژي)، سبک پېژندنې او تاریخ له پلوه د نقد د اصولو پر بنا په تفصیل دلایل وړاندې کړې دا کافي وه. نور نو په دې کډو کښې د ړبړو د ربول که په پوهیدلې طریقه وي یا ناپوهیدلې شیوه ادادهانو بې ځایه مصرفول دي چې زموږ د ژبې او فرهنګ د رشد د غوړځولو له پاره له پردې سیاست څخه سرچینه اخلي.

دداسې دیوې شېبې له پاره داسې فکر وکړو چې دا پټه خزانه نه بیخي پیدا شوې نه وای آیا موږ به د ژبې او ادب څخه ... محروم وای او که د دې خزانې ټول رجال په یوه صفحې په محمد هوتک پسې زموږ په وړاندې درېدلي او د خپل -

وجود او ایجاد مظاهر یې کړې وای نو زموږ ژبه او ادب به اوس د کوم پرمختللي فرهنګ پر آسمان سیوری کاوه؟

خبره دا ده چې پټه خزانه یوه ساده ادبي تذکره ده خو دا چې اوس د حضرت علي او معاویه د جنګ شکل یې غوره کړی دی نو خبره پر پټه خزانه نه ده بلکې یوه سیاسي لوبه ده، په داسې حال کې چې زموږ ادبیات ورځ تر بلې پر انحطاط و، خلکي ژبه ورځ تر بلې له فهمه وتلې، حتی پر یو لیکدود، اتفاق نشو کولای، خو د پټې خزانې غږ ګڼ شاعر او تر اوسه هم د خپل فرهنګ په کټه یوه ذره کوچ هم ترینه رایستلی نه دی.

هغه جبهه چې د پټې خزانې د دفاع لپاره تشکیل شوېده د هغوی مسؤولیت هم کم نه دی، د دغې جبهې زیاتره غړي د ژبې او ادب د قدامت پسندۍ په ناروغۍ اخته دي او داسې فکر کوي چې قدامت د اصالت مایه ده، په داسې حال کې چې فرهنګ په خاصه توګه ژبه او ادبیات یوه متحرکه پدیده ده چې د چاپېریال د شرایطو له بدلون سره د ودې (رشد) یا انحطاط پروسه طی کوي.

د علمي میتود له نظره په ژبه او ادبیاتو کښې وخت د رشد او پراختیا زمینه برابرېږي چې لیکوالانو ادبي ژانرونو د ایجاد او رواج فرصتونه مساعد وي، خو انحطاط یې هغه وخت په نصیب کېږي چې د فرهنګ په حوزه کې

په غیرعلمي تصرفاتو مصروف پاته شي.

داچې نن دځینو ماغزه د دغه یو بې ازاره ادبي متن د تاریخي ابطال په غیرممکن امر مصروف پاتې کیږي یا د ځینو فکرونه او قلمونه د دغه اثر د دفاع په خاطر وقف کیږي، که د دغه بې ثمره کار په عوض د پښتو فرهنګ- یوې بلې چارې ته متوجه شوی وای نو اوس به موږ به او ادب ډېر په وړاندې تللی وای.

هغه پوچ تصورات او تاریخ وهلي خوبونه چې دیوه لوی ملت د تاریخي بطلان په خاطر دځینو پردیو قوتونو ککړه مصروفوي تعبیر به یې هغو ته هم دلخوا نه وي او داچې دغه دغرض جهتونه زموږ وطن دوست مفکرین د تاریخ په دې حساسو شیبو کښې د اصلي موضوعاتو څخه غافلوي او په فروعاتو کښې یې مصروف ساتل غواړي یا همیشه به په خپل کار کښې بریالي پاته نه وي، بلکې ویښ ضمیرونه او- هوښیار ذهنیتونه به اخر دې کمزورۍ ته متوجه شي او دا دورکښې بیدیا دکاروان څخه به را وګرځوي.

د دې لیکنې په نتیجه کښې دا غرض کوم چې بسته نوره پټه خزانه بسته! د سرې او سپینې ټکولو ته باید خاتمه ورکول شي او هغه کارونو ته څخه باید راوګرځول شي چې زموږ د اصل فرهنګ بنسټونه په قوي او پیاوړي کیږي.

اوس نو يو ځل بيا دا پېشگويي کوم چې د غښي خبرو او ليکنې ته به څوک زړهٔ ښهٔ نهٔ کړي، نو که د مقالاتو د قضاوت او چاڼ هيئت دا ليکنه له مصلحته د باندې وبولي او ټ باطله دانۍ ته يې ټيل وهي نو به څنې خواشينې نه شم، ځکه ما ته د ليکنې بلنه راکول شوې ده او ما صادقاً نه خپله عقيده او نظريه څرگنده کړه او دا زما وظيفه او رسالت و چې سرته مې ورساوه نو رنو د هغو خوښه چې د شکسپير په اصطلاح «د ډېر لوی هيا هوی او هغه هم پرهيڅ» صحنه تو ده ساتي.

پروفیسور صاحبزاده حمید الله

پښتین

مُحَمَّد هوُتَک

محمد هوتک هغه درونډ نوم دئ چې «پټه خزانه» غوندې لاثاني او غیرفاني علمي، ادبي شاهکار یې موږ ته یادګار پرېښئ دئ چې هم د پښتو اولیاو، تذکره ده هم د شعراؤ او پاچاهانو حال کښې سته.

د ده په باب ستر لیکوال صدیق الله رشتین په خپل کتور «تاریخ ادب» د پښتو ادب تاریخ» کښې داسې لیکي: داسړی د پښتو ژبې یو نوموړئ لیکوال، شاعر او یو مورخ دئ. پلار یې داود خان نومیده. په ۱۵۸٤ ه کال په کوکران کښې وزیږید. پس له تحصیل څخه د شاه حسین په امر قندهار ته راغئ. او د دغه باچا د حضور ادبي لیکوال شو. د ده یو مشهور اثر چې د پښتو ژبې یو ادبي او تاریخي شاهکار ګڼل کیږي «پټه خزانه» ده. دا کتاب یې د شاه حسین په

غوښتنه په ۱۱٤۲ هـ کښې تمام کړئ دئ او د ٤٩ تنو شاعرانو حالات پکښې بیان شوي دي. محمد هوتک د خلاصة الفصاحة په نامه یو بل کتاب هم په پښتو لیکلی دئ. او د فصاحت علوم یې په کښې بیان کړي دي. یو بل علمي اثر یې خلاصة الطب» نومیږي. په دې کتاب شاه حسین زر طلاوي ورکړي وو. محمد هوتک د قصیدو، غزلو او رباعي، یو دیوان هم درلود. «پخ ۷٤»

هم په دغه پخ ښاغلي رښتین د محمد هوتک د شاعرۍ نمونه دا څو اشعار وړکړي دي؛

ساقي پاڅه د سرو میو ډک یو جام را   ستا له غمه ناارامه یم ارام را
بې له میو د بهار ننداره څه کړم   په سر کې سود د خوښۍ یو ښه پیغام را
د بیلتون په تاریکو کې مې نه ښین شو   رڼا لمر د جام د میو په ظلام را
نه نشاط سته نه رندي سته نه مستي   چې شم رند هغه اوبه علی الدوام را
په اوبو مې سوی زړګی لمبه راتوده کا   محمد ته د اور ډکا یو هغې جام را

کوم وخت چې محمد هوتک په قندهار کښې ژوند کاوه نو دا د شاه حسین غلجي دوره وه چې د ۱۱۳۵ هـ څخه تر ۱۱۵۰ هـ پورې وچلیدئ، د شاه حسین پلار میرویس هوتک په ۱۱۲۱ هـ کښې د ایرانیانو څخه پښتانه ازاد کړه او قندهار یې خپل دار الحکومت وګرځاوه. په ۱۱۲۷ هـ کال کښې د میرویس هوتک تر مړینه د ده ورور عبدالعزیز خان د پښتنو مشر شو. خو د پټې خزانې د روایته سره سم د شپې د ماڼۍ له بامه څخه

راولوید او مړ سو نو د میرویس زوی محمود د پښتنو باچا سو. ده اصفهان ونیو او څو موده هلته باچا وو. د ده د لیونتوب د کبله د ده د اکا زوی اشرف په ۱۱۳۸ ه کال کښې د اصفهان په تخت کښیناست چې په ۱۱۴۲ ه کال کښې د ایران نادرقلي ماته ورکړه او د سیستان . . . یو بلوڅ ابراهیم مړ کی او سر یې نادر له ور وړئ. نادرشاه افشار په ۱۱۵۱ ه کښې د قندهار یو کال محاصره وکړه. شاه حسین یې اطاعت قبول کی او نادر سره د کورنۍ د غړو د ایران صوبې مازندران ته ولیږئ چیرې چې څو کاله وروسته دوئ ټول مړه کړل سول (په زهرو).

د پټې خزانې په «خاتمه د کتاب» کښې محمد هوتک د خپل کور خاندان او د ځان حال هم راوړی دئ. لیکي چې « مؤلف د دې کتاب هسې وایي محمّد زوی د داود خان زوی د قادر خان په قوم هوتک چې زموږ د کهول اصل ځای مرغه وه چې زمانیکه قادر خان له هغه ځایه راغئ سوړی ته او هلته اوسېد پس له څو مدته په تقضا د نصیب او قسمت راغئ او د قندهار په خوا کې په کلي د کوکران یې استوګنه کوله.» او پیشه یې و- زراعت.

قادر خان ډېر معتبر سړی و، په سن د ۷۶ کالو په سنه ۱۰۵۷ هجري وفات سو. او په هغه کلي چې کوکران نومېږي ښخ شو. زما پلار چې داود خان نومېږي پر کال ۱۰۲۹ سنه

هجري په دغه کوکران زيږيدلی وو، او په آوان د صباوت يې علوم لوستلي وو، او په خپل عصر په موزونانو او فصحاء او علماؤ د نامه خاوند وو، او ډېر عمر له قندهاره تللی او د کسې غرونو او ژوب او ډېرې او پښنو او نورو ځايو ته يې ليدلي وو. هغه وخت چې خان عليين مکان حاجي ميرخان په قندهار کښې د گرگين خان سره جنگونه کړل نو زما پلار هم په دغو جګړو کښې ملگری وو ورسره.

ځکه نو له قديمه زما معرفت له دې خاندان ډېر دی او اخلاص يې لرم په زړه. پس له کال ۱۱۲۰ سنه هجري چې د صفوی بادشاه لښکري په قندهار راغلې نو د جنت مکان
له خوا زما پلار ولايي — او په فراه او سيستان او گلستان او نورو ځايو يې پتاندي حاجي خان
حاجي ميرخان په خدد را وغوښتل، او له هغه پښتنو سره يې مرکې وکړې او ډېر پښتانه د نورزو بارکزو او اسحقزو يې ملگري کړل د خان او پر خسرو خان يې يرغل وکا. په دغو جنگو زما پلار د حاجي ميرخان جنت مکان له خوا سپه سالار وو. پس له وفاته د حاجي ميرخان مرحوم مغفور زما پلار په سنه ۱۱۳۶ هجري وفات سو. او په کوکران د خپل پلار سره ښخ سو. دغه مرحوم رحمة الله عليه طبع مستقيم درلوده. او کله به يې شعرونه هم ويل. چې دلته تيمناً د ده دوی رباعي راوړم او دا رباعي په صنعت د تجنيس بې نظير دی او په فصاحت هم مثل نه لري:

چې د چا په زړه کې اور د مينې بل سي　　په اور بل يې لمبې کړی حال يې بل سي

اوږدميني کله مړي د زړه له ميني   داوږل مينه که تل د زړه په تل مي

رباعی وله ایضاً رحمة الله

که يې وينې وينې تل څاڅي له زړه څخه   څوک چې وينې تاله څوانويان زړه څخه
د زړو لړ زړه که وينې وينې څاڅي   په کړو د غم لويدلي ستا له کړو څخه

تر دې وروسته محمد هوتک پسې ليکي:

«اوس چې مې لږ حال د پلار او نيکه وکيښ نو خپل حال هم کاږم او د خزانې ليدونکي په خبروم. زما راتګ دې نابودي دنيا ته يعني تولد مې واقع سوی و په ۱۳ د رجب المرجب سنه ۱۰۸٤ هجري په کوکران کې. او سن ته د تميز ورسيدم نو مې پلار درس راته شروع کا او تر اتلسم کاله د عمر مې ولوستل احکام د دين او فقه او اصول او تفسير او د فصاحت علوم لکه قافيه او عروض او بيان او معاني او نور. چې زما پلار مرحوم وفات سو او زه په تقضا د بادشاه ظل الله دامت سلطنة شاه حسين راغلم د قندهار ښار ته تر اوسه په نظر کيميا اثر د بادشاه اسلام ښاديم. او هر کله په احسان او مرحمت د دې خاندان عاليشان سربلنديم. عمر مې تيريږي په لوستلو او کښلو د کتابو. له نعمتونو د جهان بله بهره نه لرم، او زړه مې هم خوښي نه کا بې له اشغال په بلاغة په دې اوقاتو د عمر چې مې تير کړل. يو څو کتابونه مې وکښل چې يو له دغو څخه دغه خزانه ده او نور دا دي: يو کتاب مې کښلی دئ په بيان د علوم د فصاحت چې خلاصة -

الفصاحة» ياله سي او په دغه کتاب مې نقل علوم د فصاحت په پښتو د خپلو پښتنو طالبانو د پاره خلاصه کړل. يل کتاب مې کښلئ دئ په بيان د طبابت او علاج چې «خلاصة الطب» يې نوم دئ. په سنه ۱۱۲۹ هجري چې مې دغه د پادشاه عالم پناه من ظله مخ ته پيش کا سل طلاوې يې ما ته صلا کا او هر کله دامې مراحم د پادشاه ددې فقير غريب په حق ډېر دي او ارکان د دولت ابد مدت هم پر دې فقير د مرحمت نظر کا. خاص بيا بهادر خان عالي مکان چې نن ورځ په قندهار د غرباؤ پر سر ظل د رحمت دئ. خالق دې عمر ډېر کا.

ماله يو ديوان د اشعارو هم سته چې په دې وقت کښې مردف او مدون سوئ دئ. او غزلونه او قصايد او رباعي لري کله چه د طبع قاصر ميل د شعرا و وينا کا. شعرونه کاږم. او موزونان د روزګار يې خوښوي. ځکه چې د ځان ستاينه نه ده او پوهان له دې کاره عار کا. نو په خزانه کې مې خپل احوال وکښل چې د دې کتاب وېونکي ما ته دوعا وکا او هر وقت مې په دعا ياد کا. خپله يوه غزل هم دلته د نمونې په طرز کاږم چه پر صفحه د روزګار يادګار وي. نور اشعار مې په ديوان کې يو ځای دي. شائقان د علم او شعر يې له ديوانه لولي» ـ (پټه خزانه مخ ۱۱۳ تر ۱۱۶).

په پای کښې محمد هوتک خپله داوو شعرو هغه غزل ـ ورکړې ده چې پنځه شعره يې ما د «پښتو ادب تاريخ» په

حواله دوړاندې ولیکل. هم پر دغه ځای کتاب ختم سوئ دئ د پای د عبارت څخه معلومیږي چې دا کتاب په ۱۲۶۵ ه کښې - نور محمد خروټي د قندهار د سردار مهردل خان بارکزي د پاره په خپل قلم لیکلی وو او هم د دغې نسخې څخه د کوټې محمد عباس کاسي په سنه ۱۳۵۳ ه کښې بله نسخه لیکلې ده چې د هغې څخه ستر پوهاند، لوی محقق، نامتو افغان لیکوال خدای بخښلی عبدالحی حبیبي لمړی وار د کابل څخه پټه خزانه خپره کړه او پر پښتو باندې یې لوی احسان وکړ.

«پټه خزانه» تر اوسه پوري څلور واره چاپ سوې ده. لومړی چاپ په سنه ۱۳۲۳ ه ش کې پر ۲۹ مخو وو، د پښتو متن سره مخامخ فارسي ترجمه وه. د قلمي نسخې لومړی او اخري مخ هم پر افسټ کاغذ چاپ سوي وو د ۲۵۴ مخ څخه تر ۲۵۹ مخ د حبیبي صاحب په قلم تعلیقات وو. بیا وروسته د پټې خزانې د نثر او اشعارو په باب خبرې دي، بیا د ماخذونو فهرست او د اعلامو فهرست چاپ سوئ دئ. د پښتو ټولنې کابل د خوا چاپیدونکې دا نسخه ما هم په سنه ۱۹۵۷ کښې د کوټې د کالج په لایبریرۍ کښې لیدلې وه، چې بیا د نورو کمو پښتو کتابو سره ورکه سوه.

دویم چاپ چې په ۵۰۰ شمېر کښې وو. د دار التألیف ریاست په ۱۳۳۹ ه ش کښې د تهران څخه چاپ او خپور کړ. چې دا هم د لومړي چاپ غوندې وو. دریم وار هم پښتو ټولنې کابل پټه-

خزانه په سنه ١٣٥٤ هـ ش کښې یو زن ټوکه سره د قلمي نسخې د متن چاپ کړه چې د لوی پوهاند، د زانه استاد عبدالحي حبیبي صاحب ٤٤ مخه غالباً (فارسي) مقدمه وه چې د مستشرقینو او ځینو نورو شکاکانو، غیرعلمي، بې بنیاده او باطلو اعتراضاتو او نیوکو په جواب کښې ډېر عالمانه او مستند علمي، تاریخي، ادبي او ثبتي دلائل وړاندې کړي دي. فارسي ترجمه هم په ٩٥ مخه کښې او تعلیقات په ١٠٠ مخو کښې بیا خواشی او د اعلامو او ماخذو فهرستونه دي. ټول ضخامت یې ٤٦٩ مخه دئ.

څلورم چاپ چې زما په مخ کښې پروت دئ د ١٣٥٦ (هـ ش، مطابق سنه ١٩٧٨ ع) د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي خپور کړئ دئ. د لوی استاد محترم حبیبي د دریم چاپ فارسي مقدمه په پښتو ژباړه سوې ورسره ده چې ٣٥ مخه، د نزی تایپ ده. دا وار فارسي متن نشته ورسره یوازې پښتو متن او بیخي ضروري حواشي ورسره دي. تعلیقات او د کتاب د نثر و د نظم تجزیاتي او انتقادي برخه هم نه ده ورکړل سوې د „نوم لیک" تر عنوان لاندې د مرحوم حبیبي صاحب د شاګرد ښاغلي زلمی هیواد مل یوه وړه غوندې اشاریه ورکړې ده. هم دغه ښاغلي د کتاب په سر کښې د پټې خزانې د څلورو چاپو پېژندګلوي د لوستونکو سره کړې ده.

اوس د حبیبي صاحب د فاضلانه مقدمې یوه وړه برخه دلته راوړم چې لیکي: „لکه چې د دغه کتاب د لومړي چاپ

له سرېزې (۱۳۳۳-۱۹۵۷) مشکاوي. د پټې خزانې خطي نسخه ما په ۱۳۲۲ ش کال په پښین کښې د مرحوم علامه عبدالعلي خاونزي کاکړ په وسیله پیدا کړه. لومړی مې په دري ترجمه کړه. شروح او تعلیقات مې پرې وکښل، او په ۱۳۲۳ ش کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوه. په ۱۳۳۹ ش کال د لومړي چاپ له مخه د تألیف او ترجمې د ریاست له خوا په ډېر نفاست ۵۰۰۰- نسخې بیا چاپ شوه... له کومه وخته چې دغه کتاب نشر شوی دی د دغه دري دېرشو کالو په موده. ډول ډول خبرې د دغه کتاب په باب اورېدل شوې دي. او مختلف- شکوک د ځینو خلکو له خوا پر ښکاره شوي دي. چا وویل چې دغه کتاب ما جوړ کړی دی، او ځینو بیا داخبره کړې چې محمد هوتک دغه کتاب د خپل حکمدار شاه حسین حاجي میرویس خان د خوشحالۍ له پاره جعل کړی دی. هدارنگه د اورېدلو او نه اورېدلو وړ ځینې خبرې په دغه موده کښې وېل- شوي دي، مگر متاسفانه چې دغه محترمو نقادانو پر دغه کتاب په مستدل او علمي شکل څه نه دي لیکلي»

پټه خزانه» کښې دري خزانې دي چې د دغه خلکو حال پکښې دی:

لومړی خزانه: ۱- بابا هوتک ۲- شیخ ملکیار ۳- اسماعیل او خرښبون. ۴ شیخ متي. ۵- امیرکروړ ۶- شیخ اسعد سوري ۷- بیکارندوی. - ۹ شیخ تیمن ۱۰ - ابومحمد هاشم سرواني ۱۱-

یخ بستان بړیڅ ۱۲ شیخ رضی لودي. ۱۳ - نصر لودي ۱٤ - شیخ عیسیٰ
مشواني. ۱۵ - سلطان بهلول لودی. ۱۶ - خلیل خان نیازی
۱۷ - خوشحال خان. ۱۸ - زرغون خان. ۱۹ - دوست محمد کاکړ.
۲۰ - عبدالرحمن بابا. ۲۱ شیخ محمد صالح ۲۲ - علی سرور لودي.

دوهمه خزانه: ۲۳ - ملا یار توخی. ۲٤ - شاه حسین هوتک
۲۵ - ملا زعفران. ۲۶ - محمد یونس خان. ۲۷ - محمد گل مسعود
۲۸ - عبدالقادر خان. ۲۹ - بهادر خان. ۳۰ - ملا صدیق.
۳۱ - ملا پیر محمد میاجي. ۳۲ - الله یار افریدی. ۳۳ - بابو جان بابي
۳٤ - ربیدی خان مهمند. ۳۵ ملا محمد عادل بړیڅ. ۳۶ - محمد طاهر
۳۷ - محمد عمر ۳۸ - محمد ایان نیازی. ۳۹ - ملا محمد حافظ بارکزی
٤۰ - نصرالدین خان اندړ. ٤۱ - ملا نور محمد غلجی. ٤۲ حافظ
عبداللطیف اڅکزی. ٤۳ - سیدال خان ناصر.

دریمه خزانه: ٤٤ - نازو توخی. ٤۵ - حلیمه حافظ. ٤۶ -
نیکبخته. ٤۷ - بي بي زینب. ٤۸ - زرغونه. ٤۹ - رابعه.

مأخذ:

۱ - "دپښتو دادب تاریخ" صدیق الله رښتین چاپ کابل -
سنه ۱۳۲۵ هـ ش. ۲ - "پټه خزانه" څلورم چاپ تحقیق مقدمه
د عبدالحی حبیبي. چاپ کابل سنه ۱۳۵۶ هـ ش (۱۹۷۸ع). ۳ - د
افغانستان پېښلیک حبیبي صاحب چاپ کابل سنه ۱۹۷٤ ع.
٤ - هوتکی ها (فارسي) د عبدالروف بېنوا مرحوم چاپ کابل سنه
۱۳۳۵ هـ ش.

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

د پټې خزانې زبات

یوازې نوي ژبپوهنه او ادب پوهنه کولای شي

پټه خزانه تر هرڅه مخکې یو ژبنی او بیا یو ادبي تاریخي اثر دی او له همدې کبله یې رښتینوالی او نارښتینوالی، یا یې په وینا باوریوالی او نا باوریوالی په ژبپوهنه او ادبپوهنه جوتېدای شي او زباتېدای شي ، ځکه هم تر هغو د مخه د دغو دوارو پوهنو (علومو) په نویو تیوریکو او کرنیکو آرونو (اصولو) او نوي علمي څېړندود (ریسرچ میتادولوجي) په رڼا کې چې له بده مرغه کومې لیکنې څېړنې چې د دغې ژبني ـ ادبي اثر د رد او مثبت لپاره وړاندې شوې دي ، له نوې ژبپوهنې او ادبپوهنې او بیا په تېره له نوې علمي میتادولوجي سره سمې دومره اړخ لګوالی شي لکه زوړ یوناني طب له نوې کمپیوټري او لیبارټري طب سره.

له آره داسې برېښي، کوم شکونه او ټکونه چې پر دغې پښتو تذکرې په تېره د کوزې پښتونخوا د پښتو لیکوالو له خوا له اوپایمو کلونو راهیسې پیل شوي دي، له هماغو پښتني ضد پلانونو او د سیسو څخه ګنل کېږي چې زاړه بیا نوي» سامراج (امپریالېزم) په سیمه کې د یوه نړیوال ایډیالوجیکي «صلیبي» جنګ د تیاریکه لپاره پلي کېږي او د دې ټولو په سر کې د پښتني ولس د اتنیکي تاریخي، فرهنګي او سیاسي پېژندنې (Identity) د مسخ کولو لپاره خپل ټاکلي او داوطلب ګوډاګیان د پښتو او بیا لیکوالو په جامه کې په ټول شوروي نظام کومارلي او پر کار اچولي وو. په قلم راواخیست چې پښتانه بني اسرائیل دي، بل لوري پښتانه سره دوه او درې جلا اتنیکې ډلې وبللې او په پای کې یې تر ټولو وفادار تش په نامه لیکوال راپورته شو او د خپلو نویو بادارانو د خوشالۍ لپاره یې ګرد سره پښتانه دیوه «نژاد» څوکه ونګلل او له پوښتنې او څرخښې سره یې مخامخ کړل.

له ۱۹٤۵ راهیسې چې پټه خزانه رابرسېره شوې او څو ځله په کابل او تهران کې له چاپه راوتلې او د ستر نومیالي ناروېژي پښتو پوهاند استاد مورګن سټېرنې څو کلنو څېړنو او شننو وروسته دا ډاګېزه کړې چې دغې کرانبې ګنجینې په رښتیا سره د پښتو ژبې او ادب ډېره مغتنمه پانګه له ورکې راژغورلې او د تاریخ حافظې ته سپارلې ده، د پښتو او پښتنو د دښمنانو پر زړونو یې لړمې راخېژولې چې څنګه کېدای

شي دغه غرنۍ او کوچانۍ (پوونده) تېر دي دوهم دور ادبي تاریخ ولري او له دې سره به ټول هر اریایي تېره فرهنګي تاریخ دومره پرېشا و لاړ شي.

او دا چې برخوا د پټولو نا پښتنو دښمنو (پارسي تربورانو) د تنګ نظرۍ او انکار نه منونکي علمي زباتونو سره غلي کېږي او مذبوحانه هلې ځلې يې کوم ځای ته نه رسي، کوزه خوا يو نيم تش په نوم پښتون لیکوال، لکه څنګه چې ووېل شو د زړو او نويو بادارانو تر نويو سیاسي سکیمونو او پلانونو لاندې هڅه له دښمنانو روایاتې مرخوګلن بیا راتاندوي او هڅه هم په داسې غیر علمي او ټوټو او ماوېلو تاوېلو چې نننۍ علمي نړۍ پرې شرمېږي، له دې ناخبره چې نن سبا نوی ساینس او ټکنالوجي هرڅه په خپل لاس کې اخیستي او هڅه د هېرودت يا د تاریخ فرشتې یا تاریخ افاغنه دور نه دی چې کله پښتانه په دبورانو بېریانو یا مېږیانو او هم په عربو یا یهودو پورې وتړي او کله يې لا بېخي له اتنیکې شتوالي سترګې پټې کړي.

اوسنۍ انتروپالوجيکي او اتنولوجيکي څېړنې تر دې ځایه رارسېدلي چې د یوې تېرې شوې (فوسیل) کوپړۍ میلونونه میلونونه کلونه لرغونوالی زباتوي یا يې لاڅرګندوي مهذبو او متمدنو پښتنو اتنیکي آره او منشاء او په دې ډول د پټې خزانې یا تذکرة الاولیا غوندې د زړو پښتو ادبي تذکرو د سپیناوي لپاره اوسنۍ ژبنۍ او ادبي تیوریکي او کریټیکي

آرونه او لارې چارې درواخله.

اوس که د چا زړه چوي یا پاتې کېږي، د پښتو آر، آریه ثابته شوې. په هندو اروپایي کې د هندو آرین په آریاني او بیا ساکي څانګې پورې اړه لري. دا څومره د خندې وړ ده چې یو څو تصادفي لغوي مشابهتونه د پښتو د عبرانیت لپاره دلیل راوړل کېږي، حال دا چې د تاریخي او پرتلیزې اتمالوجۍ (ریشه شناسۍ یا فقه اللغة) له مخې له خپلې هند و اروپایي کورنۍ او هندو آریانۍ او بیا آریانۍ (ایرانۍ) ټبر سره دومره تړلې ده چې ځینې ختیځپوهان ژبپوهان یې د پخواني دود له مخې د دغې وروستۍ ژبنۍ څانګې (آریانۍ) ګړدود (لهجه) بولي.

کوم اتنولینګوییستیکي او اتنوګرافي ریکارډ چې په شپېتو کلونو کې د پروفیسور مورګن سټیرنې او د پښتس تر مشرۍ لاندې د ټولو افغانانو او بیا په تېره د پښتنو - اړه په کتبي او کتابي توګه راخوندي شوی دی، یادو شویو غیرعلمي کړنو او انګېرنو ته هم د پای ټکی ایښی دی.

آیا د پښتنې تاریخ او اصل ونسل دښمنان نور به دې ماشومانه پروپګنډو نه شرمېږي چې د پښتې خزانې غونډۍ د پښتو آریایي والی په اروپا کې د حبیبي او د هغو په نورو همسهالو برنیو پوهانو له «بدعتو» څخه شمېري! دغه له خپل فرهنګه منکر تش په نامه لیکوال چې د هرې انګېزې (موټیف)

او ګروم (کمپلکس) له مخې یې د نورو یا دوو شویو خوځښتونو ترڅنګه د بیتي خزانې مخالفت ته را دانګلي دي، د هغو ایران پلوه پارسي ژبیو تبر ته په لوی لاس لاسته ورکول غواړي چې کلونه کلونه مخکې یې له ډېرې نا امیدۍ او شرمندګۍ په خپله ایسته غورځولې وه. کیسه داسې وه:

ټیک پر هماغه (۱۳۲۳ هـ ش = ۱۹۴۵ زېږدي) کال چې پټه خزانه د اروابناد علامه حبیبي له خوا تر لاسته راوړنې او یو کلنې شننې او سپړنې، پایلیک لیکنې، پاڅوړ (تعلیقات) کښنې او پارسي ژباړنې وروسته له چاپه راووته، په ټول افغانستان کې تعلیمي ژبه یو مخېزه پښتو ته راړول شوې وه او ایراني چارواکو خپل ټول زرو زور د دغه ستر ملي - فرهنګي غورځنګ د شنډولو لپاره پر کار اچولی او انکار منونکي بشرمانه لاسوهنې ته یې را دانګلي وو. ترڅو چې په دغه ورانکارۍ (سبوتاژ) کې هم بری ومومند او دغه وخت حکومت دې ته اړ ووت چې له تیار علمي شوي پروګرام څخه بېرته لاس پر سر شي او پښتو د تعلیمي ژبې په توګه یوازې په پښتون میشتو سیمو پورې تړلې او منحصره وساتي. نو څنګه چې نور بری د ایران او اړوندو افغاني ملي ضد لاسپوڅو په برخه شوی و، پر پښتني ژبه او فرهنګ یې دویم ګوزار ته هم بډې راووهلې او په نوي چاپ شوې بیتي خزانې پسې یې راواخیسته. په ترڅ کې خبره اروپایي

ختيځپوهانو او په ځانګړي ډول د تېره سراسر پېژندل شوي نوموړي ناروېژي پښتو پوهاند مورګن ستيرن ته په داسې لفافه کې ورسول شوه چې پټه خزانه د حبيبي رابرسېره شوې نه، بلکې خيالاسې جوړه شوې ده او په رسمي پېژندنه کې يې له پوره پاملرنې کار واخله که نه په دې به هم د پارسي ژبو په مخالفه ډله کې وشمېرل شي او د چا خبره افغان دوستي به يې له پوښتنې (سوال) سره مخامخ شي. پوهاند مورګن‌ستيرن چې لا تر هغه مهاله د کال دوه مخکې رابرسېره شوې نيمګړې تذکرة الاولياء له څېړنې پلټنې سم وزګار شوی نه و، د لندن د "اسلاميک انسايکلوپيډيا" د پوښتنې په غبرګون کې يې همدومره وليکل چې: «د پټې خزانې په برخه کې زما څېړنه او شننه نوې پيل شوې او سمدلاسه يې پر باوريتوب او نه باوريتوب څه ويلای نه شم. خو تر دې د مخه مې د سليمان ماکو د تذکرې رابرسېره شوې اته مخه پوره څېړلي او شنلي او خورا ستر غنيمت را ته برېښي ...».

په دې توګه لږ ترلږه دوی لسيزې پټه خزانه د ختيځپوهانو له خوا هماغسې لانجمنه پاتې شوه او هر يوه به پر استاد مورګن ستيرني حواله ورکوله، ځکه ټولې لوېديزې نړۍ ته دغه پياوړي پوهاند د پښتو ژبې يوازينۍ اتاريټي وه. دی بېشکه د يونيم سلکلنې ختيځپوهنې او بيا آرياني او افغاني ژبپوهنې يوازينی ځای ناستی و چې له دغه پلوه

یې د هغو لټولو څېړنو پلټنو پو غوره او کره شوي نتیجو ته
په لاس کې و او په شلمه پېړۍ کې یې په ټوله مانا کوم څنې
اوسانې نه درلود. د همدغې پېړۍ له لومړیو یې پښتو څېړنې
پیل کړې او په ۱۹۲۶ کال یې د پښتو آر پوهنې An Etymological
dict. of pashto له دفاع او ډوکتورا اخیستې (۱۹۲۷ع)
یې بیا د مرګ تر وروستي سلګۍ (۱۹۷۷) پورې پښتو او نورې
خپلواني افغاني ژبې د خپل علمي ډګر موضوع ګرځولې وه او
همدغسې یې چې نورستانیان او دردیان د خپلو پنځوس کلنو
ژېړو څېړنو له مخې آریایي ثابت کړل د پښتو او پښتنو د آریایي والي
او بیا اریانیوالی او ساکي والي پرېکړه یې هم د ټولې علمي نړۍ
لپاره د کاڼي کرښه شوه. او بیا هغه مهال هم راورسېد
چې استاد مورګن ستيرنې د پټې خزانې د رښتینوالي او باوريوالي
په باب خپله وروستۍ پرېکړه ډاګیزه کړه او کله چې ایټالیې
ختیځپوهانو په ۱۹۶۷ د افغانستان او پاکستان پر ادبیاتو
خپل کتاب د استاد مورګن ستيرن له هغه لیک سره چاپ کړ
چې د هغې پرېکړې څرګندوی یې کوله، په دې متن:
له «ویارنې» پرته چې ژبه یې لږ و ډېره وسمهالي یا ماډرنه
بریښي چې بنایي له آره دومره زړه نه وي او محمد هوتک به
یې د ویلو نېټه تر اتمې زېږدې (میلادي) پېړۍ پر شا
وړې وي، خو دا په دې مانا نه ده چې پر ټوله خزانه دې
شک وشي او هغه دې د محمد هوتک یا حبیبي خپللاسی

را ایستنه وګڼل شي. ده بې له کومې څرخشې په دغه خزانه کې د زاړه پښتو شعر د ډېرې ګڼ انبیه پاتې شونې راژغورلي او مونږ ویلای شو د پښتو ژبې تر ټولو لرغوني شعر و نه همدلته راخوندي شوي دي.» (د بوساني له کتابه د مورګن ستیرنې د انګرېزي لیک د ایتالي ژباړې ژباړه).

د دغو کړنو لیکوڼکي په خپله یوه الماني لیکنه (د افغانستان د علومو اکېډیمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز څېړنیزه پښتو درې میاشتنۍ مجله، ۱۹۷۸) کې د استاد مورګن ستیرنې د پورتنۍ ګوتنیوني د ځواب له پاره لومړی دلیل دا راوړاندې کړی دی چې د هرې ژبې او ښتایي بهیر له خپل اړوند ټولنیز او ښتایي بهیر سره سم ورو او ګړندی کېدای شي. د پښتو ژبې دا دوړو چېرو ختیزو ژبو غوندې له انګرېزي یا بلې یا دې اروپایي ژبې هغه سره هیڅکله یوران ګړندیوالی نه شي درلودای او په دې توګه دا هیښنده (اریانوونکې) نه ده چې د امیرکروړ دوپاړني یا کوم بل شعر ژبه دې له اوسنۍ پښتو سره دومره زیات توپیر ونه لري. په دغه لړکې د لیکوڼکي له خوا د دغه شعر ټولې ارکاییکې (زړې) خواوې او ځانګړتیاوې شنل شوې او په ځانګړې ډول یې بیا د نړیکه، ایواد (هېواد) اتل، پلن، زړن، تښتېدوني، مخسور، یونل، پرغالل، بامل، دریځ، ستایوال، هرېوال، ودنه، اودوم، ویاړه نمنځ، میرخمن، دښمن، سوبه، من، لونل ...غوندې ارکاییزمونه

له بشپړې لیکزیکوجیکي او اتمولوجیکي شننې سره وړاندې شوي دي (د زیاتې خبرتیا لپاره: هماغه آلماني مقاله او د و قـــا اوونیزې د ۱۳۷۲ د ثور د ۲۳ مې ګڼې کې اړونده لیکنه).
په هر ډول د استاد مورګن سټیرنې له راوروسته نظرڅرګندونې او یې ګڼې سره پټه خزانه نوره له پدل (تحریمه) راووته او د ټولو ختیځپوهانو د منښې او ګڼې اخیستنې جوګه شوه.
له دغه کار سره په دننه افغانستان کې هم د مخالفینو او متعصبینو خولې پټې شوې، ان تر پوهاند عبدالاحمد جاوید پورې چې څه ناڅه دیرش کاله یې د هغوی مشري پرغاړه درلوده، نه یوازې له مخالفته لاس واخیست بلکې پر ۱۳۶۳ (۱۹٦٤) کال یې د امیرکروړ سوري د دولس سوه پنځوسم تلین په سیمینارکې هم کارنده (فعاله) برخه واخیسته.
مګر د نهیلۍ او خواشینۍ خبره دا چې کون ځوا قلندرمومند د ځینو څرګندو مذهبي او فرهنګي ګروهو (عقدو) پرښت او د سیمه ییزو او نړیوالو د ښېنو دیوه تور جیو پولټیکیلاړ دیوه برخه وال په توګه د پټې خزانې پای ته رسېدلې شخړې بیا له سره راتاندې کړې او د پښتني فرهنګ پر دغه تاریخي وثیقې « پټې خزانې» یې د « پټه خزانه فی المیزان» په نامه خپلې غیر علمي او بې سرو پوله اوتې بوتې رابرسېره کړې، د چا خبره
« جنګ سور شو، میرې تود شو»!
که دا کوتنیونې د استاد مورګن سټیرنې د هغو غوندې

پر علمي بنسټونو ولاړې وای، نو هرو مرو به په دې ارزېدلی وای چې ورته علمي او منطقي غبرګون یې شوی وای. پښه‌خزانه تر څه مخکې په یوې ژبنۍ او بیا ادبي کره کتنې او ارزونې اړه لري، هغه هم د نوې ژبپوهنې او نوې ادبپوهنې د اړوندو تیوریکو آرونو او اصولو په رڼا کې «فی المیزان» یوازې او یوازې پر متنپوهنه او «تاویلو ما ویلو» روایاتو ډډه لګوي، هغه هم د متن څېړنې پر زړو میتودونو چې زه یې درد لپاره د محمد آصف صمیم او زرین انځور (د بېتي خواسنې میزان رښتیا میزان دی؟) او داسې نورو ځوانو لیکوالو او بیا تر ټولو وروسته د پیاوړي لیکوال همېش خلیل ورته تکسټیلوجیکي غبرګونونه بېخي کافي او شافي ګڼم.

د استاد مورګن سټیرلي ګوتنیوته چې هغه هم یوازې د امیوکړو پر ویاړنه راڅرخي، د ژبپوهنې او بیا تاریخي ژبپوهنې یا په بله وینا آریوهې (اتمولوجي) په رڼا کې وړاندې شوې او یوازینۍ سیمګړتیا یې لکه پاس چې یادونه وشوه، د ټولنیزو (سوسیالوجیکي) اړخ د شتنې نشتوالی دی. او هغه دا چې د پښتنې ټولنې بشپړتیایي بهیر یې ورسره په پام کې نه دی نیولی چې د اروپایي هغې په پرتله څومره ځنډن دی او له دې سره یې ژبنی بهیر.

زه له ښاغلي قلندر مومند او نورو لارویانو څخه یې ډومبی دا پوښتنه کوم چې که د ژبپوهنې او بیا تاریخي ژبپوهنې

او اتمالوجي له مخې د ښتې خزانې کوم دليل رامخته کولای شي، زه د دغو علمي څانګو د يو شاګرد په توګه چمتو يم هغه دليل يې په دليل ځواب کړم. د ساري (مثال) په توګه که ووايي چې د امير کروړ او په هغه پسې د نورو لرغونو شاعرانو پر وخت په اړوندو (مربوطو) سيمو کې پښتو ژبه هډو هيڅ نه وه او له دې سره پښتو شاعري هم شتوالی نه درلود، نو زه به يې په غبرګون کې بيا هم د استاد مورګن سترې اړوندې څېړنې او روايتونې ورمخته کړم:

استاد پښتانه د ساکانو نوزات بولي او پښتو د ساکي ژبې زېږنده. دا هغه آريايي او بيا شمال ختيځ ارياني ټبر او ژبه ګڼل کېږي چې تاريخ يې د لمرغوندې روښانه دی او په دې توګه د پښتنو او پښتو لومړنی ټاټوبی ساکستان (سيستان) غور، هلمند او وراوروسته کسې (سليمان) غر يلل شوی دی. او چې يوه وګړنه له چېرې او سېدلې، نو هرو مرو يې خپلې ژبې او ورسره يې ادب و فرهنګ ته هم وده ورکړې ده. په بشري ټولنو کې يو ټولنه که بېخي ځنګلي هم وي، بې ژبې او بې ادب و فرهنګه نه شي پاتې کېدای.

او بله پوښتنه مې ترې داده چې که د نوې ادبپوهنې د آرو (اصولو) له مخې راسره استدلال کولای شي، ترڅو لو مخکې دې راسره داسې ثابته کړي چې له دويمې څخه تر لسمې اسلامي پېړۍ پورې پښتني ټولنې په کوم شرايطو

کې ژوند کړی چې که دا راز ادبیات یې رازېږولي نه وای، څه رنګه به یې رازېږولي وای. د ساري په توګه امیر کروړ یا اسعد سوري او یا هوتک بابا او شیخ متي ولې دغه راز شعرونه ویلي دي او یا یې ولې نه وای ویلي! تر دغه پېر راوروسته شاعران خو له خپلو زېږندو سره یې له هغې هم د دې سېمنانۍ خبره د «خبر واحد» تر تور لاندې راتلای نه شي. له دې کبله وایم چې نن سبا د یوه ادبي اثر شتنه او ارزونه یا کره کتنه پخپله د دې لارښود او لاسوند کېدای شي چې په رښتیا سره هغه ادبي زېږنده منځته راغلې او یا هډو هیڅ درغلي او تقلبي ده او په کوم رښتیني زېږندوي پورې اړه نه لري!

مأخذونه:

(۱) محمد آصف صمیم او درین انځور، د پټې خزانې میزان رښتیا میزان دی؟ پېښور، ۱۹۹۰.

(۲) پنجشیري، عزیز احمد: جغرافیای تاریخی غور، پوهنتون کابل، ۱۳۶۰ (۱۹۸۱).

(۳) زیار، مجاور احمد، د پټې خزانې رښتینوالی ـ د ژبپوهنې، ادبپوهنې او وګړپوهنې په رڼا کې، د مهر څوتک یاد، ۱۹۷۷.

(۴) زیار، مجاور احمد، د پټې خزانې لیکزیکي ځانګړتیاوې د رښتینوالي یو بل ثبات. د لیکوال کړه، وفا اوونیزه، پېښور، ۱۹۹۳.

(۵) قلندر مومند، پټه خزانه في المیزان، پېښور، ۱۹۸۸.

(۶) هېبش خلیل، تول پارسنګ، پټه خزانه في المیزان، پېښور، ۱۹۹۲.

(۷) هیلموت هومباخ، د کنشکا د سره کوتل لیکنه (باختري ژبه) د زیار ژباړه او سریزه، د افغانستان د علومو اکیډیمي، ۱۹۹۰.

(8) Bausani, Le letterature del pakistan- La le tteratura afghan-Sauso ni/ACCademia Milano Ital. 1968.

(9) Morgenstierne, George: An Etymolgical Dictionary of pashto. oslo, 1927.

(10) Geroge-Morgenstierne: pashtuns and thier language, pashto Quarterly Vol, 1, 1978.

(11) M.A. Zyar pata Xazana eine - Falschung?
Eine Kritsdhe betrachtur in historiclers literutur geschicht licher und linguistisoher Hinsicht, pashto Quarterly, Vol. 1. 1978.

ډاکټر هدایت الله نعیم
پښتو اکیډېمي پېښور

پټه خزانه حقه ده

تر دې وخته پورې چې «پټه خزانه» څومره لیکل شوي دي، هغو کښې دوه رنګه ډېر جوت دي. یو هغه دي چې په مخالفت کښې یې شوي دي. او دویم هغه چې د دغو مخالفت په رد کښې لیکلی شوي دي او په «پټه خزانه» د شوو اعتراضونو جوابونه ورته ویلی شو. سره د دې چې تر اوسه پورې د ادب په علم کښې یا د تنقید په مډ کښې داسې یوه کلیه نه ده وضع کړای شوې، د کومې تر مخه چې یو کتاب یا مقاله موږ جعلي یا دروغ ثابت کړی شو. ولې بیا هم مخالفت کښې لیکلی شوې ټولې لیکنې په دې ختمېږي چې «پټه خزانه» ګڼې اصلي نه ده بلکې جعلي ده.

لویه تېروتنه خو دا ده چې د دغه تنقید یا تجزیې د نتیجې تنه بوده څهٔ داسې ده چې د بحث لاندې نیولې.

لیکنه باندې د جعلي حکم لګولی شوی دی. حال دا چې تنقید په یوه داسې لیکنه کېږي کومه چې وجود لري او د اصلي یا جعلي حکم لګولو د پاره د لیکنې د تجزیې نه بلکې د قطعي شواهدو ضرورت وي. کومې خامې او غلطۍ چې په «پټه خزانه» کښې په ګوته کړی شوي دي د هغو خو جوابونه وشول. او خصوصاً د آصف صمیم او ښاغلي همیش خلیل صیب له خوا چې کوم رد شوي دي، هغه په هر شان له یو بله او مدلل جواب تشکیلوي. نو ایا د دغه - جوابونو په برکت به د پښتې خزانې مواد محکمېږي که «پټه خزانه» به پرې اصلي ثابتېږي؟ ښکاره خبره ده چې د پښتې خزانې مواد به پرې صحیح ثابتېږي. ځکه نو په «پټه خزانه» چې د تنقید په تېر کښې تر اوسه څومره اعتراضونه شوي دي نو دغه ټولو نه دا ثابتېږي یا پرې ثابتېدلی شي چې د پښتې خزانې مواد په یاد وکړې شوو سوبونو ناسم دي. ولې دا ترې هیچرې نه ثابتېږي چې ګني پټه خزانه جعلي ده. نه چرته داسې شوي دي. او نه د اصلي و جعلي ګرځولو محاکمه د تنقید موضوع ده، او که په دې طریقه د کتابونو د اصلي و جعلي ګرځولو د فیصلو سلسله شروع شي، او د اصلي و جعلي ګرځولو حکم د کتابونو د موادو د سم و ناسم په بنیاد کول ومنلی شي نو بیا به ډېر اصلي کتابونه هم جعلي وګرځي.

که «پټه خزانه» جعلي وي، نو بيا ددې په موادو د دومره اوږ تنقيد په ځای بايد معترض د دغه کتاب درا پيداکيدلو، بيا مونده کيدلو، لاس ته راتللو او ددې ټول عمل هغه ريکارډ کتلی وی. کوم ته چې حبيبي صيب د کتاب په مقدمه کښې اشاره کړې ده. او بيا بناغلی معترض باځيدلی وی د دغه ريکارډ کره کتنه يې کړې وی. زما په خيال «پټه خزانه» کښې دننه داسې هيڅ شهادت نشته چې کښې دې ته پړې جعلي ووېلی شو. بلکې داسې ډېر شهادتونه پکښې شته چې په صحت يې دلالت کوي. او زه خو دا وايم چې د رحمن بابا او خوشحال بابا نه واخله د حمزه شينواري تر ليکنو پورې داسې يوه هم نشته چې د داخلي شواهدو په روسره د پټې خزانې نه زياته محکمه وي. بل طرف ته د پټې خزانې د صحت په بابله خارجي شهادت ددې د بيا مونده کيدلو د عمل تاريخ دی. خو که معترض دا خبره ثابتول غواړي چې «پټه خزانه» جعلي ده، يا دا معلومول غواړي چې جعلي ده که اصلي. د دغه مقصد د پاره صحيح طريقه دا نه ده کومه چې معترضينو اختيار کړې ده. ولې چې د کتاب ډېرې غلطې تاريخي تېروتنې او نورې خامي د هغې د جعلي کېدلو ثبوت نه شي کېدی.

د پټې خزانې د جعلي بللو مثال داسې دی لکه چې يو کس ته څوک حرامي ووايي. او د حرامي کېدو وجه ورته

د هغه خرابې او خامې ونیايي . کهٔ همدغه خامې او خرابې په بل چا کښې وموندی شي نو هغه به هم حرامیان وي؟ کهٔ نهٔ؟ نو بیا دغه یو سړي ته ولې په ځینی خامو او خرابو داسې وویلی شول؟

حقه خبره دا ده چې «پته خزانه» حقه ده.

حنیف خلیل

د پټې خزانې
فني اړخونه

د مؤلف محمد هوتک بن داود په شمول د پښتو په پنځوس شاعرانو (چې شپږ پکښې زنانه شاعرانې دي) مشتمله تذکره «پټه خزانه» چې په وړومبي ځل په کال ۱۳۲۳ هش کښې او بیا څو واره چاپ شوه نو ځینو پښتنو او خارجي نقادانو د دغه تذکرې په اصلیت شکونه ښکاره کړل او خپل تنقیدونه او دلایل یې پیش کړل.

په دغه نقادانو کښې یو قلندر مومند دی چې وړومبی یې د کال ۱۹۷۶ ء د مارچ او د کال ۱۹۷۹ د فرورۍ په میاشتینه مجله «پښتو» کښې دوه مقالې چاپ کړې او بیا یې په کال ۱۹۸۸ ء کښې د «پټه خزانه فی المیزان» په نوم د کتاب په شکل په پټه خزانه خپل اعتراضونه مفصل بیان کړل، او ذکر شوې دوه مقالې یې هم پکښې شاملې کړې. د «پټه خز

فی المیزان» لسو بابونو کښې د وړومبیو شپږو بابونو په جواب کښې محترم همیش خلیل د پټې خزانې په دفاع کښې د «تول-پارسنګ» په نوم کتابي شکل کښې خپل دلایل پیش کړل. او اووم او نهم باب په حقله یې مقالې ولیکلې چې یوه هم په دغه کتاب کښې شامله ده ځکه نو ما د خپل بحث د پاره د قلندر صاحب د کتاب اتم باب «فني ارزونه» منتخب کړو.

په دغه باب د قلندر صاحب اعتراضونه دا دي؛

«د پټې خزانې» ترتیب په دوه قسمه شوی دی. اول ترتیب یې د خزانو دی چې د مرتب د پخته کارۍ ثبوت ورکوي. یعنې د دریو خزانو ویش په داسې اصولو شوی دی چې دا ترې ښکاري چې مؤلف یو پخته کار لیکونکی دی چې اوله خزانه کښې د تېرې زمانې شاعران، دویمه خزانه کښې خپلې زمانې شاعران، او دریمه خزانه کښې یې زنانه شاعرانې راجمع کړې دي. خو شاید چې مؤلف تورې پخته کارۍ ته تیار نه و، نو د هرې یوې خزانې په سلسله کښې یې د انتهائي خامکارۍ د اظهار نه کار اخستی دی. او شاید چې د خامکارۍ دا اظهار بالکل دانسته دی. چې څوک دا ونه وایي چې په هغه زمانه کښې دومره ماهرانه ترتیب څنګه ممکن کیدی شو!

هم دغه تنقید په وړومبي باب «ابتدایي معروضات» کښې داسې شوی دی؛

«هر څوک دا نامکنه نه ده. ولې ډېره غیر اغلبه ضرور

ده چې په کومو ورځو کښې عربي، فارسي او پښتو کښې د موضوعاتو په لحاظ د کتاب د تقسیم طریقه نه وه رایجه، «محمد هوتک» خپل کتاب په دریو جدا جدا برخو کښې څنګه وویشلو» (۲).

له دغو اقتباسونو نه دغه لاندنۍ دوه نکتې راوځي:

۱- د پټې خزانې د لیکلو په وخت (۱۱۴۱ هـ) په فارسي، عربي او پښتو کښې د کتابونو په مختلفو برخو ویشل نه وه رایج.

۲- تذکرې عموماً په یو خاص ترتیب کښې وې ((د حروف تهجي، تاریخ، علاقې یا فضلیت په لحاظ) ولې د پټې خزانې په دریواړو برخو کښې څه خاص ترتیب ځکه نه دی ساتل شوی چې څوک د اګومان ونه کړي چې په هغه وخت کښې دغه ترتیب نه و رایج.

له دغه نکتو په حقله د معلوماتو او کتابونو لټون نه پس ما ته دا حقیقت معلوم شو چې په «پټه خزانه» اعتراضات د صحیح تنقید په جنبه نه دي شوي، ځکه نو خپلې مطالعې په رڼا کښې په دغو اعتراضونو د خپل بحث ابتدا کومه:

وړومبۍ نکته:

د پټې خزانې د لیکلو ابتدا په ۱۶ جمادالثاني ۱۱۴۱ هـ کښې شوې ده او په دغه دور کښې د دې تذکرې په دریو برخو ویشلو اعتراض شوی دی، خو حقیقت دا دی چې له

دغه دور نه مخکښې او یا په همدغه دور، او یا له دې نه وروسته هم د تذکرو او کتابونو په مختلفو برخو وېشلو تاریخي ثبوت موجود دی ځکه نو موږ به د دغو دریوارو دورونو مثالونه په ترتیب سره پیش کړو:

(الف) د پټې خزانې نه وړاندېنې دور:

۱- «لباب الالباب» د فارسي د قدیم ترینو شاعرانو تذکره ده. چې په کال ٦١٨ ه کښې د سدید الدین عوفي بخاري حنفي تألیف دی، او په لاندې دولسو بابونو وېشلی شوی دی.

وړمبی باب د شعرو شاعرۍ د فضیلت په حقله.

دویم باب د شعر د لغوي معنی په حقله.

دریم باب د شعر ویونکي (شاعر) په حقله.

څلورم باب د فارسي شعر ویونکي (شاعر) په حقله.

پنځم باب د بادشاهانو، ملوکانو او امیرانو د شعرونو په حقله.

شپږم باب د وزیرانو او صدرانو د شعرونو په حقله.

اوم باب د عالمانو فاضلانو د شعرونو په حقله.

اتم باب د آل طاهر، آل لیث او آل سامان په حقله.

نهم باب د آل ناصر د شاعرانو په حقله.

لسم باب د آل سلجوق نه د سلطان سعید د وروستي زمانې د شاعرانو په حقله.

یوولسم باب د معاصرو شاعرانو په حقله.

دولسم باب د صدرانو د شعرونو او د فاضلانو له شاعرانو

په حقله. (۳)

(۲) «تذکرة الشعراء» امیر دولت شاه بن علاءالدوله بختیشاه غازي سمرقندي په کال ۹۸۲ هـ-ق کښې تألیف کړې ده. دغه تذکره د اوو اسمانانو په نسبت په اوو طبقو ویشلې شوې ده. په هره طبقه کښې د شلو شلو فاضلانو ذکر دی. او د مؤلف مقدمه او بیا خاتمه هم لري. (٤)

(۳) «عرفان العاشقین وعرصات العارفین» د فارسي ژبې تذکره ده چې په کال (۱۰۲۲ هـ - ۱۰۲٤ هـ) کښې تقي الدین محمد اوحدي حسیني د قاضي بلیاني اصفهاني تألیف کړې ده. دغه تذکره کښې د شروع نه واخله د تألیف تر وخته پورې د شاعرانو ذکر دی او په اته ویشت (۲۸) دورونو ویشلې شوې ده. او بیا هر دور په دریو دریو عرفو ویشلی شوی دی، په وړومبې عرفه کښې مقدمین، دویمه کښې متوسطین او په دریمه کښې معاصرین شاعران ذکر شوي دي. (۵).

(٤) «مجمع الفضلاء» د لسمې هجري صدۍ د وروستو کلونو او د یوولسمې هجري صدۍ د وړومبیو کلونو په شاعرانو مشتمله تذکره ده، مؤلف یې خواجه محمد عارف بقائي بخاري دی. دا تذکره په یوه مقدمه دریو فرقو او یوه خاتمه مشتمله ده. (٦).

(۵). «ذخیرة الخوانین» یا «تذکرة الامراء» د شیخ فرید بکهري تألیف دی، دا کتاب په دریو برخو ویشلی شوی

دی، چې په ترتیب پکښې اکبر، جهانګیر او شاه جهان د منصب دارانو او امیرانو ذکر دی. د کتاب د تألیف کال (۱۰۶۱ هـ) دی. (۷)

(۶) - «دلیل الذاکرین» د حاجي پښتون تألیف دی په کال (۱۱۰۶ هـ) کښې تألیف شوی دی دا کتاب په څلور بابانو تقسیم شوی دی. (۸).

(۷) - «بیان العارفین» د محمد رضا بن عبد الواسع عرف میر دریایي تألیف دی چې په ۱۰۳۸ هـ کښې لیکلی شوی دی. په دې کتاب کښې د مقدمې او خاتمې نه علاوه اوه بابونه دي (۹).

له دغو پورته مثالونو واضحه شوه چې د پټې خزانې د لیکلو (۱۱۴۱ هـ) نه وړاندې هم د تذکرو او نورو کتابونو په مختلفو برخو او بابونو د ویشلو رواج و. له دې نه علاوه ځینې تذکرې داسې هم شته چې د مختلفو برخو او بابونو د ویش نه علاوه د پټې خزانې سره نورې مطابقتونه لري. مثلاً د ښاغلي بریښ لخوا د امیر علیشیر نوائي د مجالس النفائس او د محمد هوتک د پټې خزانې مطابقتونه به پیش کړم. سره د دې چې امیرعلي شیر نوائي د زمانې په لحاظ دوه خلویښت کاله د محمد هوتک نه وړاندې تیر شوی وه. ښاغلی بریښ لیکي:

«د امیر په تذکره کښې. شاعران، پاچایان، وزیران، پوهان

شیخان، صوفیان، قاضیان، طالب‌علمان، سپه‌سالاران او نور معرفي شوي، او د محمد هوتک په «پټه خزانه» کښې هم له هغو شاعرانو سره مخامخ کېږو چې څوک واکمنان، څوک لویان، څوک سپه‌سالاران، عالمان، شیخان، ستانه دار او نور دي. د امیر علي شیر نوائي تذکره په ادبي مطالبو سربېره د وخت د سیاسي او اجتماعي تاریخ په باب هم ډېر مواد او خبرې لري او د محمد هوتک په تذکره کښې هم د وخت له سیاسي او اجتماعي تاریخ ډېرې برخې خوندي دي. د «مجالس النفائس» په لوستلو سره د هرات د تیموریانو دربار له خپل ټول برم او پرتم سره د سړي په سترګو کښې مجسم کېږي. او د پټې خزانې په کتلو سره د کندهار د هوتکیانو دربار له خپلې ټولې ښکلا او ځلا سره وینو. په مجالس النفائس کښې سلطان حسین میرزا ګورو چې شاوخوا یې په دربار کښې عالمان او پوهان راغونډ دي او په مشرۍ یې ادبي جلسې او غونډې یې روانې دي. په پټه خزانه کښې هم شاحسین هوتک وینو چې د تاریخ په ماڼۍ کښې د پوهانو او ادیبانو یوه لویه کړۍ ترې را چاپېره ده او د ادبي متونو په کره کولو او نغوښتلو بوخت دي.

په مجالس النفائس کښې پر شاعرانو سربېره شاعرانې هم معرفي شوي. په پټه خزانه کښې هم پر شاعرانو سربېره شاعرانې یوه ځانګړې «خزانه لري» او پکې معرفي

کیږي. لکه څنګه چې مجالس النفایس د دولت شاه سمرقندي د-
لرغونې تذکرې او تر مجالس راوروسته تذکرو تر منځ د وصل
د کړۍ بڼه لري. همدا راز پټه خزانه د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء
او تر پټې خزانې د راوروسته پښتو تذکرو د سرې نښلون
کړۍ جوړوي. په مجالس النفائس کښې د امیرعلي شیر د خپل
ژوند په باب ډېر معلومات ترلاسه کیږي او په پټه خزانه
کښې هم د محمد هوتک د ځان په باب معلومات راغلي دي.

د نوم او جوړښت له کبله باید ووایو. څرنګه چې تذکرې
د ادیبانو ژوند او د دوی آثار خوندي کوي، نو ځکه یو
نفیس اثر ګڼل کیږي او لیکوال یې هڅه کوي چې خپل اثر په
پوره ادبي متن او ادبي ژبه ولیکي، ددې له پاره لومړیه دخپلې
تذکرې نوم ادبي او زړه راښکونکی ږدي او دا دود په زیاتو
تذکرو کښې پالل کیږي. د امیرعلي شیرنوائي «مجالس النفائس»
او د محمد هوتک «پټه خزانه» هم له همداسې ادبي او زړه وړونکو
نومونو څخه دي چې بیا د همدې نومونو په ارتباط مجالس-
النفائس په مجلسونو (په یوه دری ترجمه کښې په بهشتونو) او
«پټه خزانه» په خزانو ویشل شوي دي. (۱۰)

(ب) د پټې خزانې دوره:

د پټې خزانې په دوره کښې به موږ «سفینه خوشګو»
مثال پیش کړو. د «تاریخ تذکره های فارسي» مؤلف د دې
تذکرې د لیکلو تاریخ د ۱۱۳۷ هـ نه ۱۱۴۷ هـ پورې ښودلی

دی. دغه تذکره په دریو دفترونو ویشلې شوې ده، په وړومبي دفتر کښې د رودکي نه واخله تر کافي ظفر همداني پورې د دري سوه دوه شپیته (٣٦٢) متقدمینو شاعرانو ذکر دی. په دویم دفتر کښې د عبدالرحمٰن جامي نه واخله تر شکوفي ګلپایګاني پورې د یو سل اتلس (١١٨) متوسطینو شاعرانو ذکر دی. او په دریم دفتر کښې د دوه سوه پنځه څلویښت (٢٤٥) هغو معاصرو شاعرانو ذکر دی، چې څه پکښې هندوستاني وو او څه په هند کښې صرف میشته وو خو هندوستاني نه وو.(١١)

د «سفینهٔ خوشګو» په حقله ډاکټر سید عبدالله لیکلي دي:

«دا د ټولو زړو او نوو شاعرانو تذکره ده، چې په دریو برخو ویشلې شوې ده په وړومبۍ برخه کښې د متقدمینو حال دی. دویمه برخه کښې د متوسطینو او په دریمه کښې د معاصرینو بیان دی. د پټنې پوهې لائبریرۍ د فهرست نګار د بیان مطابق خوشګو دا تذکره په ١١٥٥ هـ کښې ختم کړې وه. دا تذکره ډېره مشرحه او مفصله ده. د شاعرانو د کلام نمونه هم پکښې زیاته ده، د لیکونکي تنقیدي حیثیت ډېر ښه دی. ترتیب یې تاریخ وار دی، د معاصرینو حال یې ډېر مستند دی.»(١٢)

(ج) د پټې خزانې نه وروستی (او د تذکره نګارۍ د نوو تقاضو د رواج نه وړاندې) دور:

د دغه دور داسې تذکرې چې د پټې خزانې غوندې په مختلفو برخو ویشلې شوې وي په ګڼ تعداد کښې شته، دلته به محض

د یو څو مثالونه پیش کړو:

۱- "اتشکده": - (۱۱۷۴ - ۱۱۹۳ هق) په دوو برخو وېشلې شوې ده چې په دوو مجموعو یاده شوې ده. او بیا دویم مجموعه په دوو پرتونو وېشلې شوې دی. (۱۳)

۲- گل رعنا (۱۱۸۷ هـ) دوه فصلونه لري - وړمبي فصل کښې د مسلمانانو د فارسي شاعرانو ذکر دی او دویم فصل کښې د هندوانو د فارسي شاعرانو ذکر دی. (۱۴)

۳- د "انجمن خاقان" (۱۲۳۴ هـ) مؤلف محمد فاضل خان گروسي دی. دغه تذکره یوه مقدمه څلور انجمونه او یوه خاتمه لري. (۱۵).

د نورو یو څو تذکرو په نمونه صرف ولیکم چې د پټې خزانې غونډې په مختلفو برخو وېشلې شوې دی، لکه: انجمن ناصري، باغ معاني، تذکره درکشاه، بساتین الخاقانیه تذکره شبتان او تذکرة شعراء (۱۶) وغیره دا ؤ دوړومبۍ نکتې او قلندر مومند د دغه تنقید جواب چې "پټه خزانه په هغه وخت کښې په دري برخو وېشل غلط دی"، په حقله زما معروضات او اوس به دویمې نکتې ته راشو.

دویمه نکته:

دویمه نکته کښې (د معترض په خیال) د پټې خزانې په بې ترتیبۍ تنقید شوی دی او ویلی شوي دي چې دغه بې ترتیبي قصداً ځکه شوې ده. چې څوک دا خیال ونه کړي.

چې د هغه دور په تذکرو کښې ترتیب څنګه برقرار ساتل شوی دی.

وړومبی خبره خو داده چې د پښتو خزانې په ترتیب او بې ترتیبۍ دواړو په یو ځای اعتراض کول زما په خیال څه جواز نه لري، خو بیا هم که دې دپاره اعتراض وشي چې د قدامت له وجې په پټه خزانه کښې ترتیب قصداً بې ترتیبه کړی شوی دی. نو زه به عرض وکړم چې د تاریخونو د بې ترتیبۍ نه علاوه نورې ډېرې غلطۍ هم د پښتو خزانې د دور او بیا دهغې نه وروستو تذکرو کښې هم شوې دي په داسې دور کښې چې نوې تحقیقي تقاضې هم رامنځ ته شوې وې، په تذکرو کښې د تحقیق د اصولو خیال نه دی ساتلی شوی. ځکه نو د پښتو خزانې په دور کښې خو دغه بې ترتیبۍ زیات امکان لري.

د تحقیقي اصولو نه پرېوتو څو تذکرو مثال به پېش کړم:

۱- وړاندې موږ د «سفینه خوشګو» او «ګل رعنا» مثالونه دې دپاره ورکړه چې په مختلفو برخو ویشلې شوې دي. لکه پټه خزانه چې ویشلې شوې ده. اوس به دا واضحه کړو چې په همدغو تذکرو کښې ځینې تاریخي او تحقیقي غلطۍ هم شوې دي لکه: «پټه خزانه» کښې چې شوې دي، د دغو دواړو تذکرو په حقله ډاکټر سید عبدالله لیکي چې: «دغه دواړه تذکرې «سفینه او ګل رعنا» د-

واقعاتو په تاریخونو درج کولو کښې د ډېرې کوتاهۍ نه کار اخلي.(۱۷).

۲- د خوب چند ذکا، تذکره «عیار الشعر» چې د پټې خزانې نه یو سل شپږ (۱۰۶) کاله وروسته تألیف شوې ده. په حقله سید عبدالله وایي: «دا تذکره د تحقیق او تنقید د اصولو نه عارې ده» د پنځلس سوو (۱۵۰۰) شاعرانو حال لري. د اسپرنګر د قول مطابق «د خپل نوعیت له مخې د ټولو نه زیات غیر محققانه کتاب دی».(۱۸).

هرکله چې د ۱۲۴۷ هـ په تذکره کښې تاریخي او تحقیقي غلطۍ موجودې دي، نو له دې نه تقریباً سل کاله وړاندې خو د تحقیقي قواعدو او ضوابطو د فقدان له وجې د غلطیو امکان زیات کېدی شي.

د پټې خزانې په فني اړخونو دوېم تنقید دا شوی دی چې د موادو د تنوع په حقله دا ویل صحیح نهٔ دی چې کښې دا د یو کس یا فرد واحد د ذهن پیداوار نهٔ شي کېدی.

د دې خبرې د اثبات له پاره دغه لاندېني دلائل پېش شوي دي،

۱- د پټې خزانې شعري مواد په څلورو برخو تقسیمېدی شي لکه، د ملي او زانو شاعري، عشقي، تصوفي او کلاسیکي غزلونه، مثنویانې او قصیدې.

۲- د ټولو مثنویانو په یو بحر کښې کېدلو نه علاوه، اکثر-

غزلونه د پټې خزانې خپلو شاعرانو، او بهرنو شاعرانو سره د زمانې د فرق باوجود په بحر، وزن، قافیه او ردیف کښې یو والی لري چې په پښتو غزل کښې د فرق " یا ارتقاء اندازه ترې نهٔ ګېږي. (١٩)

اوس به په پورتنیو دوو دلیلو توضیح وکړو:

دوهمبی دلیل:

دوهمبي دلیل په حقله به زهٔ دومره قدر ووایم چې د تنوع مسئله کله کله ذوقي هم وي خو د پټې خزانې د تنوع مسئله داسې نهٔ ده چې فیصله یې په ذوق وشي. د پټې خزانې په موادو کښې موږ نظر واچوو نو دغه مواد په دریو غټو برخو ویشلی شو. په وړومبۍ برخه کښې یې د لرغونې او نوې شاعرۍ داسې نمونې شته چې په خپلو کښې ډېر فرق لري لکه، د امیر کروړ، شیخ متي او بابا هوتک کلام وغیره، دویمه برخه کښې د فولکلوري شاعرۍ متنوعې نمونې شته لکه د سیدال خان ناصر شیخ بستان بړیځ او بي بي زینب د کلام نمونې. او په دریمه برخه کښې یې کلاسیکي شاعري ده. سره ددې چې دغه کلامونه په ځینو ځایونو خپلو کښې یو والی هم لري قلندر صاحب ورته اشاره کړې ده. ولې ډېر فرق او توپیر هم لري او د همدغه توپیر له مخې موږ دا ویلی شو چې د پټې خزانې په موادو کښې دومره تنوع شته څومره چې تقریباً په ټول پښتو ادب کښې ده.

دوهم دلیل:

تر کومه حده چې د پټې خزانې د شاعرانو د نورو شاعرانو سره او خپلو کښې د کلام د یو والي تعلق دی. نو زما په خیال په دې دلیل د پټې خزانې د موادو تنوع نه متاثره کیږي. ځکه چې دغه قسم یو والی د هغو شاعرانو په کلام کښې هم شته چې د زمانو فرق لري، خپل انفرادي اسلوب لري او هر چا دپاره ثابت دی.

دغه یو والی نه صرف په بحر او وزن کښې دی بلکې د بحر، وزن، قافي، ردیف او خیال او په ځینو صورتونو کښې پوره مصرعې هم په داسې حال کښې یو بل سره یو والی لري چې په یو کلام تضمین هم نه وي شوی. د پښتو په زړو دیوانونو کښې دغه یو والی تقریباً د هر شاعر په شاعرۍ کښې شته خو مونږ به د هغو زړو شاعرانو سره د معاصر شعري ادب موازنه وکړو چې د زمانې فرق هم برقرار وي.

د رحمان بابا دوه شعرونه دي:

چې مجنون غوندې په مینه کښې صادق وي
رحمان وایم په هغه باندې سلام

* * *

قلندر چې په رښتیا قلندري کا
خان سلطان او قلندر درېواړه یو دی (۲۰)

اوس د څوارلسمې صدۍ هجرۍ د ابتدائي دور شاعر برکت اخون دغه شعرونه وګوري:

چې په عشق کښې د مجنون غوندې صادق وي
غم به لرې د هجران سراسري کا

قلندر چې په رښتیا قلندري کا
کوم بادشاه ،، د هغه برابري کا۔ (۲۱)

د رحمان بابا دا شعر چې:

خوب خندا له بې غمیه شي رحمانه
څوک چې ستا په خیر غمژن وي څه به خوب کا (۲۲)

د برکت اخون دا شعر وګوري چې د بحر، وزن او د ردیف نه علاوه مضمون هم یو لري:

خوب خندا په بې غمۍ په خوشالۍ شي
چې په دار لګه منصور وي څه به خوب کا (۲۳)

د نجیب (۱۱۷۸ ژوند) د غزل دغه شعرونه:

چې په ما په سفر تللی جانان راغی
له قالیه تللی بیرته روان راغی

غوندې څه خوبې غم لرې شي له دله
چې د خیال زما په سترګو مهمان راغی (۲۴)

په همدغه بحر، وزن، قافیه او ردیف کښې د حمزه بابا۔

د یو غزل دغه لاندیني شعرونه ولولئ:

ځان په خپل کور کښې میلمه راته ښکاره شو
ګویا تللی په سفر وُ میزبان راغی (۲۵)

د معزالله خان د غزل مطلع ده:

همیشه لره د اوښو په سیند تې مخ
ګوندې ووینې په دا کښې د ګوهر مخ (۲۶)

د سلطان محمود قلندر د غزل مطلع ده:

ما د ورځې لټولو یار په هر مخ
وروستۍ شپه کښې راته وښود دلبر مخ (۲۷)

د صاحبزاده محمدي د غزل مطلع ده:

ستا د تورو سترګو چې په ما نښته وتنه
ما به کا پوهیږم په وطن کښې بې وطنه (۲۸)

د قلندر مومند شعر دی،

څه یې راته ستایې په ما خپل وطن کشمیر دی
بې له پښتونخوا مې په بل خوا نه شي وتنه (۲۹)

د شعرونو دغه یو والی به زما په خیال کافي وي. دغه قسمه یو والی زموږ د زوړ او معاصر شعری ادب ترمینځه په کافي مقدار کښې شته، ځکه نو دا خبره واضحه ده چې په غزل کښې فرق یا د ارتقاء مسئله زموږ د شعرونو نه نه شي کېدی. سو د دې چې دا فیصله په هر شعري ادب کښې، که هغه د فارسی، عربی یا نور ادبیات دي. دا فیصله ګرانه ده

او بیا پښتو کښې خو دا فیصله ډېره گرانه ده ځکه چې زموږ پهٔ ادب کښې بدلون او ارتقاع د مغربي ژبو غوندې پهٔ تېزۍ سره نه کیږي، ځکه چې د ژبې او ادب ارتقاع او بدلون د معاشرت او تمدن ارتقاع او بدلون سره تړلی دی. او دا خبره ښکاره ده چې زموږ د پښتو معاشرت او تمدن څومره پهٔ سست رفتار ترقي کوي او بدلون پکښې راځي، کله کله داسې هم کیږي چې ادب پهٔ کوم ځای ودریږي، نو بیا ډېره موده پهٔ هغهٔ کښې بدلون او ترقي نهٔ راځي. او د دې ښکاره مثال هم موجود دی پهٔ فارسي ادب کښې د غني کشمیري، صائب، کلیم او مرزا بیدل نه وروسته د شعر او ادب ارتقاع هم هغسې ولاړه ده. تر اوسه د بیدل نه ښه شاعر پهٔ فارسي کښې لهٔ هغه نه پس پیدا نهٔ شو. دغسې د اردو مرزا غالب، د پښتو خوشحال، کاظم خان شیدا وغیره نه پس کهٔ ښهٔ شاعر پیدا شوی هم دی نو څو صدۍ وروسته د حمزه شینواري پهٔ شکل کښې پیدا شوی دی. ولې بیا د خوشحال خان د پایه څوکْ هم پیدا نهٔ شو. ځکه نو د شعر او ادب بدلون او ارتقاع محض اتفاقي او حادثاتي ده، او موږ د پټې خزانې پهٔ شاعرانو دا اعتراض نهٔ شو کولی چې د زماني تفرق باوجود د هغوی پهٔ کلام کښې فرق، بدلون او ارتقاع نهٔ ده راغلی.

دریم اعتراض پهٔ پټه خزانه کښې د مؤلف او مدون محشي پهٔ ادبي، تحقیقي او شاعرانه غلطیو شوی دی. د دغه اعتراض

غټې نکتې دا دي:

۱- د پټې خزانې مؤلف د ښه شاعر، نثرنګار، ادبي منقد، د قديم طب په اصولو او اسلوبونو پوه، مدقق مورخ، تذکره‌نګار او واقعه نګار وو، سره په فصاحت او بلاغت کښې د ښه مطالعې باوجود په پټه خزانه کښې ځينې داسې غلطۍ کړي دي چې امکان يې نه وو، لکه د «څلوريځه» په ځای «څلوريځ»، د بيتونو په ځای شعر يا د بيتونو په ځای بيت ليکل، داسې بيتونو ته مثنوي ويل چې مثنوي نه وي، ځکه نو د پټې خزانې مؤلف له دغه غلطۍ ته وې کول پکار (۳۰)

۲- د نورو شاعرانو په کلام کښې د قافيې، بحر، وزن او نورې عروضي او تکنکي غلطۍ موجودې دي. دې نه علاوه مؤلف په خپله د نثر بې شميره غلطۍ کړې دي. او بيا د پټې خزانې د څو واره چاپ کېدو باوجود محشي ومُرّون په يو چاپ کښې هم په دغو غلطيو حاشيې ونه ليکلې چې خپله ذمه يې خلاصه کړې وی (۳۱)

د پورتنيو اعتراضونو په دوارو نکتو به مفصل بحث وکړو:

ورومبۍ نکته:

(الف) محمد هوتک چې په پټه خزانه کښې د «څلوريځه» په ځای «څلوريځ» ليکلي دي، په دې حقله به داووايم چې په زړو ليکونو کښې، تر دې چې د شاعرانو په ديوانونو

کښې به هم د «ه» داوان دپاره د زبر «فتحه» استعمال کېدو. او د ابجدو په حساب کښې به هم دغه شمېر نه وه شامل. دغه استعمال د پخوانو لیکونو په نثر او نظم دواړو کښې کېدو. په مختصره توګه به د نثر او نظم دواړو نه یو یو مثال پېش کړم چې خبره واضحه شي.

په نظم کښې د «ه» په ځای د زبر (فتحه) استعمال د کامګار خان ختک دغه شعر کښې وګورئ:

نور به ختک و آدم زادته نژدې نه کړم
که مې زړه شي داخل خلاص د تاله ختکَ (۳۲)

په نثر کښې د «ه» په ځای د زبر (فتحه) استعمال داخون درویزه بابا د مخزن دا مثال:

«په نامه د حق اغاز کړم او س له دې علم کلامَ.
دی رحمن رحیم خدای دی، بله چاره شي تمامَ». (۳۳)

سره د دې چې د «ه» په ځای د زبر (فتحه) استعمال په زړو لیکونو کښې ډېر دی، ولې په نثر کښې نیغ په نیغه د «ه» لیکلو استعمال زیات دی. په همدغه وجه محمدهوتک په «پټه خزانه» کښې په څلوریځه (څ ل و ر ی ځ ه) کښې د وروستي (ه) په ځای د زبر استعمال کړی دی. خو لکه د نورو لیکونکو یې زبر لیکل هم ضروري نه دي ګڼلي.

(ب) - د بیتونو په ځای بیت لیکل یقیناً چې د محمدهوتک غلطي ده. ډېرو بیتونو ته شعر خو ویلی کېدی شي،

© Qambsona.com

ولې بیت فرد ته ویل غلط دي ولې سړی ددې بیا هم کله کله ډېرو بیتونو ته هم بیت ویل د هغه وخت رواج وُ چې د هوتک نه علاوه د نورو لیکونکو په لیکونو کښې یې مثالونه موندلی شي لکه د عبدالقادر خان خټک په «ګلدسته» کښې دوه بیتونو ته بیت ویلی دی. (۳٤)

کاظم خان شیدا د خپل دیوان په مقدمه کښې یو بیت ته بیت او فرد، او ډېرو بیتونو ته ابیات ویلي دي، ولې په همدغه مقدمه کښې د یو نه زیاتو بیتونو ته یې بیت هم ویلی دی. (۳۵)

(ج) داسې شعرونو ته مثنوي ویل چې هغه مثنوي نه وي، یواځې د محمد هوتک په تذکره کښې نه بلکې د هغه وخت په ډېرو کتابونو کښې هم شته. د خوشحال خان خټک ادبي او علمي حیثیت نه صرف د محمد هوتک نه اوچت دی بلکې په ټولو پښتنو او د نړۍ په نورو ادبیاتو کښې د خوشحال بابا نبوغ، علم او ادبي مقام منلی شوی دی. خوشحال بابا «دستارنامه» کښې باب باب دغه قسمه بیتونو ته مثنوي ویلې ده. کوم و ته چې محمد هوتک ویلې ده (۳٦) دلته به یې صرف یو مثال پېش کړم، چې دوه بیتونه یې د مثنوي دي، باقي مثنوي نه ده. له دې نه علاوه هغه ټولې مثنویانې نه دي کومې چې خوشحال بابا مثنویانې یادې کړې دي:

څو په تن د عاشق سر شته
پکښې هونبره شور وشر شته

سر چې وځنډي ځوانان
څهٔ تمري څهٔ يې هاتيان

سر کيا ورته ښکارېږي
چې همت لري هوډيان

سر دې ځي همت دې نهٔ ځي
تل څوک نهٔ وي پهٔ جهان

ځان ساته نهٔ شي لهٔ مرګه
کهٔ هر څو ساتي خپل ځان (۴۷)

پهٔ پورتني بحث کښې د کامګار خټک، کاظم خان شیدا، - عبدالقادر خټک، اخون درویزه بابا او خوشحال خان خټک د مثالونو پېش کولو نه مې مراد دا نهٔ دی چې ګني د محمد هوتک دغه غلطۍ پهٔ اوسني وخت کښې هم غلطۍ نهٔ دي اصلي مقصد مې دا دی چې په دغو غلطیو لکه څنګه چې د کامګار شیدا، عبدالقادر، اخون درویزه او خوشحال بابا د لیکونو

حیثیت نه دی مشکوک، همدغه رنګ د محمد هوتک د پټې خزانې حیثیت هم نه مشکوک کیږي، ځکه چې د وړاندې ذکر شوو ادبي عظمت او مقام د خاوندانو له دغه قسمه غلطیو باوجود که د دوی ادبي عظمت او مقام په خپل ځای دی، نو د محمد هوتک بن داود څه ګناه ده.

دویمه نکته:

د دغه نکتې په وړومبي جز کښې د پټې خزانې د شاعرانو په کلام کښې مختلفو غلطیو ته اشاره شوې ده. دغه غلطۍ قلندر صاحب په دلیل او علمي انداز ثابتې کړې دي. خو سوال دا پیدا کیږي چې دغه غلطۍ آخر د پټې خزانې صحت ته څه نقصان رسوي؟ په دې حقله به دومره ووایم چې غلطي خو به ضرور د شاعرانو په کلام کښې وي ولې تذکره نګار د هغې مسؤل او ذمه دار نه شي کېدی، او نه هغه دا حق لري چې د شاعرانو په کلام کښې لاس وهنې وکړي. ځکه نو محمد هوتک په اصلي شکل کښې ټول کلام پیش کړی دی او د یو تذکره نګار حق یې ادا کړی دی.

اوس به راشو دې ته چې د هوتک نه په خپله ډېرې غلطۍ شوې دي؟ په دې حقله به عرض وکړم چې د ګومو غلطیو تفصیل پیش کړی شوی دی هغه د لهجې له مخه دي. لکه څنګه چې زمونږ د برې او کوزې پښتونخوا

په لهجه کښې فرق دی، او څنګه چې زموږ د معاصر او ځوانۍ دوره په وینا کښې فرق دی. همدغه رنګه محمد هوتک بن داود د خپل عصر او علاقې په مناسبت وینا کړې ده. ښکاره خبره ده چې د هغه عصر او علاقه دواړه موږ سره فرق لري، او که د هغه عصر او علاقې سره د منسوبې وینا باوجود هم د هغه په ژبه کښې څه نه څه غلطي شوې وي، نو دا هم د یوه تذکره نګار د پاره ناممکنه نه ده، هر څو که هغه عالم او فاضل هم وي.

د قلندر صاحب دا خبره ډېره وزن لري چې د پټې خزانې د شاعرانو او د مؤلف په غلطیو مرحوم حبیبي صاحب ته حاشیې لیکل پکار وو.

ربښتیا هم چې مرحوم حبیبي صاحب د پټې خزانې مدون و محشي دی نو د هغوی وظیفه دا وه چې په دغو غلطیو یې حاشیې لیکلې وې. خو له دې سره د قلندر صاحب دا وینا چې «د پټې خزانې د مؤلف او د دې کتاب د مدون رأی د زمانو د فرق باوجود په غلطیو کې هم یوه ده او دا اتصاف هغه وخت کېږي چې مؤلف او مدون یک جان و یک قالب وي»(۳۸) زما په خیال دا محققانه رائې نه ده. ځکه چې دا تصادف یواځې د پټې خزانې په سلسله کښې نه دی شوی. داسې ډېر زاړه کتابونه شته چې مصحح مدون، مرتب و محشي یې همدغه شان په غلطیو حاشیې نه دی لیکلې. دا سهواً

هم کېدی شي او اراد تاً هم. تفصیل ته به هم نهٔ ځو، پهٔ لنډه توګه به د دغه قسمه غلطیو څو مثالونه پېش کړم چې، دکتابونو حیثیت او صحت پرې نهٔ دی مجروح شوی. او پهٔ مؤلف او محشي یې د «یک جان و یک قالب» لېبل هم نهٔ دی لګېدلی.

دهډې وروستي اعتراض پهٔ وړوکې نکته کښې وړاندې ذکر وشو چې خوشحال خان خټک ته پهٔ «دستارنامه» کښې ځینې داسې غلطۍ شوې دي (یا شاید د هغه دور- رواج وهٔ) څنګه چې د محمد هوتک ته په پټه خزانه کښې شوې دي. «دستارنامه» پهٔ کال ۱۹۵۲ ء کښې محمد عبدالشکور صاحب پهٔ کال ۱۹۸۰ ء کښې پښتو اکېډمۍ د خاطر غزنوي لهٔ خوا د دستارنامې اردو ترجمه او پهٔ کال ۱۹۹۱ ء کښې پښتو اکېډمۍ د پردل خان خټک د تحقیق او حاشیو سره چاپ کړې ده. ولې پهٔ دغو کښې یو محشي او مدون هم د خوشحال بابا پهٔ دغو غلطیو حاشیه نهٔ ده لیکلې، ولې سره د دې بیا هم د خوشحال خان خټک او دغو مرتبینو حیثیت پهٔ خپل خپل ځای دی.

پهٔ «کلیات خوشحال خان خټک» کښې درې شعرونه د غزل پهٔ ضمن کښې راغلي دي.(۳۹) سره د دې چې خوشحال خان خټک پهٔ خپله پهٔ «دستارنامه» کښې غزل پنځو نه تر څوارلسو شعرونو ښودلی دی. (۴۰) ولې بیا هم مرحوم کامل صاحب

پرې حاشیه نه ده لیکلې.

دسید انوار الحق دتحقیق او مقدمې سره چاپ شوی د «حدیقه ختک» په نامه دعبدالقادر خان ختک دیوان کښې دشبنم، کرم، جهنم، او صنم د قافیو غزل کښې د «ملنګ» قافیه راوړل دعبدالقادر خوموره ښکاره غلطي ده چې سید انوار الحق صاحب پرې حاشیه نه ده لیکلې ددغه غزل مطلع او یو شعر دا دی:

خپلې مینې لیوني کړم وعالم ته
اوس به څه له چاکیله کوم صنم ته

زه ملنګ په دوهه پروت دوهه مې خوښه
د دوهې د لوګي خوند دی وملنګ ته (٤١)

په همدغه دیوان کښې لاندېنۍ مقطع دوه ځله دوه جدا جدا غزلو کښې راغلې ده:

ښه شراب د محبت عبدالقادره!
څولا ستا له خاوروسان نه وي جامونه (٤٢)

له دې هرڅه چې راتېر شو، دغه خامې او کمې خپله د قلندر صاحب په تحقیق کښې هم شته. د مثال په توګه د-صاحبزاده محمدي د دیوان د ترتیب کولو په وخت قلندر صاحب د «کلید افغاني» د حوالې ورکولو باوجود په هغو غزلو حاشیې نه دي لیکلې، کوم چې په دیوان او کلیدافغانی

کښې په جدا جدا شکل دي او خپلو کښې واضحه فرق لري.
د شعروهغ نمونه یې داده

د صاحبزاده محمدي دیوان:

۱- شه مولی هرسړی د دنیا طمع
دسپي توب نوم چې حاصل کا په دا طمع

۲- چې کرلې یې نن وربشې په پټي کښې
دغنمو خوشې کا ترې صبا طمع

۳- یوه ورځ نمړی په ستوني کښې شي زهر
له غلیمه چې څوک کا د حلوا طمع (۴۳)

کلید افغاني:

۱- شرموي هریو سړی د دنیا طمع
دسپي توب نامه حاصل کا په دا طمع

۲- چې کړې به نن وربشې په پټي کښې
دغنمو خوشې کا ترې صبا طمع

۳- یوه ورځ به یې نمړی شي خوله کښې زهر
له غلیمه چې څوک کا د حلوا طمع (۴۴)

دغه قسمه ډېرې تبدیلي د صاحبزاده محمدي دیوان کښې

نوري هم شته چې قلندر صاحب پرې د حاشيې ليکلو زحمت نه دی کړی. (۴۵)

او له دغو خاميو او کميو باوجود قلندر صاحب او صاحبزاده محمدي «يک جان و تک قالب» نه دي.

د پورتني بحث په رڼا کښې د پټې خزانې حيثيت د پښتو د زړو شاعرانو د يوې تذکرې دی چې محمد هوتک بن داود ليکلې ده، او محترم حبيبي صاحب يې مدون او محشي دی. په دغه تذکره کښې ځينې وړې وړې سهوې شته او همدغه شان سهوې د نورو ډيرې مستندې تذکرې هم لري. خو د دغو سهوو باوجود هيچا په دغو تذکرو د جعل الزام و نه لګولو.

حاشيې :-

۱- پټه خزانه في الميزان. ص ۲۷۳، ۲۷۴.
۲- همدغه کتاب ص ۴.
۳- تاريخ تذکره های فارسي (جلد دوم) ص ۷۷-۷۸ (۱۳۶۳ ه)
۴- همدغه کتاب (جلد اول) ص ۲۶۴ (۱۳۶۳ ه).
۵- همدغه کتاب (جلد دوم) ص ۳.
۶- همدغه کتاب (جلد دوم) ص ۱۵۴.
۷- پاکستان ميں فارسي ادب کي تاريخ ص ۵۳۰-۵۳۱ نومبر ۱۹۷۴،
۸ همدغه کتاب ص ۵۵۹.

٥ ٩- همدغه کتاب ص ٥٦٠

١٠- امیرعلیشیر نوائي (د پښتو مقالو مجموعه) ص ٢٢-٢٣ (١٣٦٠ هـ)

١١- تاریخ تذکره های فارسي جلداول ص ٧١٣.

١٢- ادبیات فارسي میں هندووں کا حصه ص ١٠٩ (طبع دوم نومبر ١٩٦٧ ع).

١٣- تاریخ تذکره های فارسي جلد اول ص ٣.

١٤- ادبیات فارسي میں هندوون کا حصه ص ١١٠

١٥- تاریخ تذکره های فارسي (جلداول) ص ٦٠

١٦- همدغه کتاب (جلد اول) ص ٧١، ص ٨٢، ص ١٠١، ص ٢٢٥ ص ٢٥، ص ٢٧.

١٧- ادبیات فارسی میں هندوون کا حصه ص ١١٠

١٨- همدغه کتاب. ص ١٠٨

١٩- پټه خزانه في الميزات (ص ٢٧٨ نه ص ٢٨٨ پوري)

٢٠- د رحمان بابا کلیات ص ١٣٢ ص ٣٦٢ (١٩٨٤ ع)

٢١- د پښتو غزل ص ٣٦٥ (١٩٧٨ ع)

٢٢- د رحمان بابا کلیات ص ٣٢.

٢٣- د پښتو غزل ص ٣٢.

٢٤- دیوان نجیب ص ٢٧٥ (١٩٧٢ ع)

٢٥- یوت ص ١٦٣ (دویم چاپ ١٩٨٨ ع)

٢٦- دیوان معز الله خان مومند. ص ٣٤ (دویم اشاعت جنوري ١٩٦١ ع) دارالتصنیف پېښور.

٢٧- میاشتینه مجله «بنګال» ص ٣٨ مئ (١٩٩٢ ع)

٢٨- د محمدی صاحبزاده دیوان ص ٣٥٧ (١٩٨٥ ع)

٢٩- صباوون ص ٩٤ (١٩٧٦ ع)

٣٠- پټه خزانه في المیزان ص ٢٨٨، ص ٢٨٩، ص ٢٩٠.

٣١- همدغه کتاب ص ٢٩١ نه ص ٣١١ پورې.

٣٢- دیوان کامګار خان خټک ص ٩٩ (١٩٥٥ ع)

٣٣- مخزن ص ٢ (دویم چاپ (١٩٨٧ ع)

٣٤- ګلدسته ص ٢٢١ - ص ٢٢٩.

٣٥- دیوان کاظم خان شیدا (اردو ترجمه) ص ٢٠ (١٩٦٦ ع)

٣٦- دستارنامه ص ٢٦، ٣٥، ٢١٢، ٢٢٥ (١٩٩١ ع)

٣٧- همدغه کتاب ص ٢١٣.

٣٨- پټه خزانه في المیزان ص ٣٠٨

٣٩- کلیات خوشحال خان خټک ص ١٧٧ (جنوري ١٩٥٢ ع)

٤٠- دستارنامه ص ٤٢.

٤١- حدیقه خټک ص ١١٥ (جنوری (١٩٦٩ ع).

٤٢- همدغه کتاب ص ١٤١ ص ١٤٢.

٤٣- د محمدي صاحبزاده دیوان ص ٢٦٠

٤٤- کلید افغاني ص ٣٨٤ (١٨٧٢ ع)

٤٥- د محمدی صاحبزاده دیوان ص ٢٥٤ ص ٢٥٥ ص ٢٦١

حبیب الله رفیع

د محمد هوتک پټه خزانه

او

پټ پلټونه

پټه خزانه د پښتو د پخوانیو تذکرو په لړ کې تر اوسه پورې یوازینۍ بشپړه تذکره ده، چې زموږ لاس ته رارسېدلې ده، پټه خزانه لکه نوم یې چې پټه خزانه ده، د پښتو ادب پټازانونه په کې خوندي دي، دې تذکرې نه یوازې دا چې د پښتو د تحریري ادب او شعر سوابق دوهمې هجري پېړۍ ته ورسول، بلکه دا سندونه یې هم رابرسېره کړل چې پښتو له ډېر پخوا د دربار شعر او ادب ژبه وه او د پښتو اکثره پاچاهان د پښتو شاعران

هم وو، د دې خبرې لويې څوڼې د سوريانو، غوريانو لوديانو او هوتکيانو کورنۍ دي، چې هم د دې خاورې سلاطين او ټولواکان او هم د پښتو ادب روزونکي، پالونکي او حتی پخپله اديبان وو چې په دې لړکې امير کروړ، سلطان بهلول لودي، نصر لودي او شاه حسين هوتک د يادولو وړ دي.

همدا راز دې کتاب . پښتو يوه زياته اندازه لرغوني کلمات او لغات هم زموږ لاس ته راوستل، چې اوس متروک او له منځه تللي دي.

همدا راز دې تذکرې د پښتو ګڼ شمېر کتابونه هم راوپېژندل او نمونه يې موږ ته راورسول.

د پټې خزانې مؤلف د پښتو يو پوه، عالم، سترګور او فاضل اديب، مؤرخ او ليکوال خدای بخښلي محمد هوتک دے، چې خپله پېژندګلوي يې هم په خپله تذکره کې راوړې ده، دے د داؤد خان هوتک زوی او د قادرخان هوتک لمسے و، د نيکونو اصلي استوګنځے يې مرغه وه، چې بيا د کلات سيورې ته راولېږدېدل او بيا يې له هغه ځايه د کندهار کوکران ته کډه وکړه چې دے هم په ۱۰۸۴ هـ، ق کال په کوکران کې وزېږېده، د تميز سن ته له رسېدو سره يې زده کړه پيل کړه او تر اتلس کلنۍ پورې يې د وخت ټول رواجي علوم ولوستل.

د پلار تر وفات وروسته د وخت د پاچا شاه حسين هوتک
په غوښتنه دکندهار ښار ته راغی او د دربار ادبي
چارې وروسپارل شوې ، دے د ادبي عنوانو منشي
او د پاچا د ديوان مرتب ؤ ، وخت يې په ليک اولوست
تېراوهٔ ، پر پټه خزانه سربېره يې د "خلاصة الفصاحت"
او "خلاصة الطب" کتابونه هم وليکل او د خپل شعر
ديوان يې ترتيب کړ .

په ۱۱۵۰ هـ ، ق کال د نادر افشار په لاس دکندهار
تر سقوط وروسته د کلات سيوري ته راغی ، هلته
يې کليوالی ژوند پيل کړ ، د عرفان او سلوک لاره
يې ونيوه او ديوهٔ لوی روحانی شخصيت په توگه
يې ژوند تېراوهٔ - دے د احمد شاه بابا د واکمنۍ
تر لومړيو کلونو پورې ژوندے و ، چې د مموکلی
او مموکارېز په نامهٔ يې يو کلے او کارېز اوس هم
په نامهٔ دے او د دې کلي په څلور کيلو متري کې
د سرې درگې په هديره کې ښخ دے .

پټه خزانه محمد هوتک د شاه حسين هوتک په
تشويق او امر په ۱۱۴۱ - ۴۲ هـ ، ق کلونو کې کښلې او
ترتيب کړې ده .

پټه خزانه په لومړی سرکې په دريو خزانو ويشله
شوې ده ، لومړۍ خزانه د هغو شاعرانو په پېژندگلوۍ

کې چې پخوا تېر شوي، د دوهمه خزانه د مؤلف د معاصرو شاعرانو بیوګرافي؛ دریمه خزانه د هغو ښځو په پېژندګلوي بناء ده، چې په پښتو کې یې شاعري کړې ده. خاتمه د مؤلف د پلان او ددهٔ په خپله پېژندګلوي ادا به ده.

په لومړۍ خزانه کې بابا هوتک، شیخ ملکیار، اسماعیل، خرشبون، شیخ متی، امیر کروړ، شیخ اسعد سوری، ښکارندوی، ابو محمد هاشم، شیخ تیمن، شیخ بستان بړېڅ، شیخ رضی لودی، نصر لودی، شیخ عیسیٰ مشواڼی، سلطان بهلول لودی، خلیل خان نیازی، خوشحال خان خټک، زرغون خان، دوست محمد کاکړ، رحمان بابا، شیخ محمد صالح او علی سرور معرفي شوي دي.

په دوهمه خزانه کې ملا باز توخی، شاه حسین هوتک، ملا زعفران، محمد یونس خان، محمد ګل مسعود، عبدالقادر خان خټک، بهادر خان، ملا محمد صدیق پوپلزی، ملا پیر محمد میاجي، الله یار افریدی، بابوجان بابی، ربدی خان مهمند، ملا محمد عادل بړېڅ، محمد طاهر جمریانی، محمد عمر، ملا محمد ایاز نیازی، ملا محمد حافظ بارکزی، نصرالدین خان اندړ، ملا نور محمد غلجی، عبداللطیف اڅکزی او سید ال خان ناصر پېژندل شوي دي.

په دریمه خزانه کې نازو انا، حلیمه حافظه، بی بی نیکبخته، بی بی زینب، زرغونه او رابعه معرفي شوی دی۔

او په خاتمه کې: داؤد خان هوتک د محمد هوتک پلار او پخپله محمد هوتک معرفي شوي او کتاب یې سر ته رسېدلے دے، چې په دې ترتیب په پنځه خزانه کې ټول (۵۱) تنه شاعران او شاعرانې معرفي شوی او په دې قیمتي خزانه کې د (۵۱) تنو پښتنو ادیبانو ژوند پېژندنه او د اشعارو مرغلرې خوندي دی. د پټې خزانې د قلمي نسخې څرک اروا ښاد علامه عبدالعلي اخوندزاده په سهیلي پښتونخوا کې لګولے ؤ، بیا یې حبیبي صاحب ته خبر ورکړ حبیبي صاحب کوټې ته ولاړ او دا نسخه یې له اصلي مالک نه د پیسو په بدل کې ترلاسه کړه۔

د پټې خزانې ترلاسه شوې نسخه د هغې دریمه نسخه ده، چې په ۱۳۰۳ هـ ق کال محمد عباس کاسي د بلوچستان د کوټې په ښار کې د حاجي محمد اکبر هوتک له پاره قلمي کړې ده، دا نسخه بیا د هغې نسخې نه نقل شوې چې په ۱۲۶۵ هـ ق کې نور محمد خروټي د سردار مهردل خان مشرقي له پاره قلمي کړې وه او هغه نقل د مؤلف له نسخې نه اخیستل شوی ؤ

چې محمد هوتک په ۱۱۴۲ کال په کندهار کې په خپل قلم لیکلې وه .

د پټې خزانې قلمي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف په ښېښه یي ویترین کې ایښې وه چې ګڼو بهرنیو او کورنیو پوهانو یې ننداره کړې، کتلې یې ده او د نسخه پېژندنې له مخې یې خبرتې پرې کړې دي .

پټه خزانه ارواښاد علامه عبدالحی حبیبي علمي کار وکړ، سریزه یې پرې ولیکله، لمن لیکونه یې ورکړل، تعلیقات او تشریحات یې پرې وکښل او په دري ژبه یې وژباړله، چې لومړی ځل په ۱۳۲۳- (۱۹۴۴) کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوه، دوهم ځل د پوهنې وزارت په ۱۳۳۹ (۱۹۶۰) کال په ایران کې چاپ کړه، دریم ځل په ۱۳۵۴ (۱۹۷۵) کال د پښتو د پراختیا او پرمختیا آمریت د خطي نسخې له مخې په افسیټي ډول چاپ کړه او له دې چاپ سره د کورنیو او بهرنیو شکاکانو د شکونو په ځواب کې ارواښاد استاد حبیبي یوه نوې مقدمه هم پرې ورزیاته کړه، څلورم ځل پټه خزانه په ۱۳۵۶ - (۱۹۷۷) کال د زلمي هېواد مل په زیار خپره شوه .

په دې چاپ کې یوازې د پټې خزانې پښتو متن

او ورسره د استاد حبیبي د نوې مقدمې پښتو ژباړه راغله او نور زواید ترې حذف شول .

همدا چاپ د پنځم ځل لهٔ پاره ښاغلی قاسم محمود پهٔ ۱۹۸۹ کال تجدید کړ او د پښتو ادبي مرکز سرای نورنګ څخه یې پټه خزانه پهٔ ختیځهٔ پښتونخوا کې هم خپره کړه .

د پټې خزانې د ماخذو پهٔ باره کې باید ووایو چې د دې کتاب پوه مؤلف د خپل کتاب د مآخذو ذکر ځای پهٔ ځای کړے او د هر قول مآخذ یې کهٔ روایت دے باعنعنه یا له کوم کتابه أخذ دے ، ټول یې ښودلي دي ، چې د پټې خزانې ټول مآخذ پهٔ لومړي سر کې پهٔ څلورو لاندې برخو وېشلای شو :

۱- هغه مآخذ چې محمد هوتک مستقیماً کتلے، استفاده یې ترې کړې او پهٔ لاس کې یې وو .

۲- هغه اخځونه چې محمّد هوتک د خپل پلارو یا نورو پهٔ روایت استفاده ترې کړې او حواله یې ورکړې ده .

۳- هغه آثار چې د محمد هوتک مستقیمو مآخذونو استفاده ترې کړې او حواله یې ورکړې ده .

۴- شفاهي روایات او دهٔ خپلې لیدنې کتنې او پوښتنې چې له شاعرانو او ادیبانو نه یې کړي

دی .

دا لومړی دري ډوله مآخذونه دادی :

لومړی ، هغه مآخذونه چې محمد هوتک مستقیماً کتلي دادی :

افضل الطرایق ، بیاض ، تحفهٔ صالح ، تحفهٔ واعظ ، حدیقهٔ ختک ، د رحمٰن بابا دیوان ، د محمد هوتک چېل دیوان ، د شاه حسین دیوان ، محاسن الصلوٰة ، نرغښت نامه قصص العاشقین (شها او ګلان) ګلدستهٔ زعفران ، لرغونی پښتانه ، مخزن افغانی ، ، پښتو محمود نامه ، او نافع المسلمین ، کهٔ څه هم ځېنې نور آثاریې هم ذکر کړي ، خو دا اخېستني اشاره نهٔ لری .

دوهم ، هغه مآخذ چې محمد هوتک د نورو په روایت استفاده ترې کړې ده ، دادی :

اولیای افغان ، ارشاد الفقراء ، پښتو بوستان بوستان الاولیاء ، د خدای مینه ، د الله یار او نازو انا دیوانونه .

درېیم ، هغه آثار چې د محمد هوتک اخځونو اخذ ترې کړے ، دادی : اعلام اللوذعی فی اخبار اللودی او تاریخ سوری .

„پټې خزانې پهٔ ترلاسه کېدو او خپرېدو سره لهٔ دې ګټور اثر نهٔ بهرنیو او نهٔ کورنیو محققینو

په خپلو ادبي څېړنو کې ژوره استفاده وکړه او د پښتو ادب تاریخونه، تحلیلونه او څېړنې ټول په دې پاخه بنسټ متکي شول، خو له دې سره ځینو محدودو کسانو د علمي احتیاط په بنا او بهانه او ځینو د ژبني او سیمه ییز راندهٔ تعصب په بناء پر پټه خزانه د شکونو کاڼي وروورول او پر دې کتاب یې د جعل ټاپې ولګولې.

ځینو مستشرقینو چې په سرکې یې استادالاساتید فقید مارګنسټرن ولاړو، په پټه خزانه کې د ځینې پرابلمونو نشاندهي وکړه او هغه یې د تأمل وړ وبلله، خو کله یې چې ژوره مطالعه وکړه، پرابلمونه ورته حل شول او د پټې خزانې له مخې نه یې د شک نخښه لیرې کړه ځکه د واقعي عالمانو خاصیت دادے چې کله په خپله سهوه او خطا پوه شي نو بیا پر خپله خبره جاهلانه ضد ته دوام نهٔ ورکوي او مردانه اعتراف کوي.

یو شمېر ایرانیانو چې علی اکبر جعفری یې په سر کې وُ، له دې امله چې د پټې خزانې موندل کېدو پښتو ادب تر فارسي ادب نه مشرکېږ، د ژبني تعصب په بناء په پټه خزانه کې د شکونو لټون وکړ او د دوی په تبعیت او حتی لمسون د افغانستان ځینې دري

تر بو متعصبینو هم پټه خزانه شکمنه وبلله، خو کله چې له ځو ښن نه په هوښن راغلل نو بیا دوی هم د ایرانیانو پیروي پرېښوده او د پټې خزانې په باب یې نه یوازې شکونه له ذهنه وایستل، بلکه د پټې خزانې په رڼا کې یې څېړنې وکړې او تکیې یې پرې وکړې.

دافغانستان د وه لوی محققین ډاکټر جاوید او ډاکټر روان فرهادي له هغو محققینو څخه دي چې د پټې خزانې په تکیه یې ډېر څه لیکلي دي.

په پښتو لیکوالو کې لومړے ځل ارواښاد عقاب خټک په ۱۹۵۹ کال په خپل رحمٰن بابا کې ولیکل چې د پټې خزانې فرضي کتاب د محمد بن داؤد خان هوتک قندهاري په نوم جوړ کړے شوے دے . . . خو کله چې ما او ښاغلي هېواد مل په ۱۹۷۹ کال په بنوں کې د ارواښاد طاهر کلاچوي په کور کې ورسره وکتل، صادقانه اعتراف یې وکړ چې پټه خزانه یې لا تر دې وخته لیدلې نه ده، چې بیا هېواد مل صاحب یو نسخه له افغانستانه ورته راولېږله.

په ۱۹۷۶ کال ښاغلي قلندر مومند د «پټه خزانه فی المیزان» مقاله د پښتو اکېډمۍ په پښتو مجله کې چاپ کړه، خبرې په ښکاره کوو، د دهٔ هدف داؤ

چې د دې مقالې ځواب به حبیبي صاحب ورکړي او د دې به پهٔ پښتو کې هغه مقام ته چې له مثبتې لارې نهٔ ور رسېدې پهٔ منفي لاره ورسېږي، یعنې حبیبي صاحب به دهٔ ته ځواب ورکړي او د دهٔ سطحه به د حبیبي صاحب سطحې ته ورلوړه شي.

خو حبیبي صاحب ته چې دا مقاله ورسېده، پهٔ ډېره سړه سینه او عالمانه رویه یې وویل: ما پټه خزانه بیا مونده، نشر مې کړه او پښتنو ته مې ورورسوله، کهٔ څوک یې منې یو ځل یې کور ودان او کهٔ نهٔ یې منې سل ځله، زهٔ یې وکیل مدافع نهٔ یم. دا پهٔ دې وایم چې د قلندر صاحب د هغې مقالې دعوې سره لهٔ دې چې پرطمطراقه او له چلنجونو نه ډکې وې خو ژبه یې سپکه او بې ادبه نهٔ وه.

کهٔ څهٔ هم حبیبي صاحب دا لیکنه پهٔ ځواب ونهٔ ارزوله، خو نور ځوانان چې د دې لیکنې تر شا پټ لاسونه هم ورته ښکاره وو، پټه خولهٔ پاتې نهٔ شول او د ښاغلي قلندر شکونو او وهمونو ته یې چې د دهٔ د انتقادونو پهٔ نامه وړاندې کړې وو مستند او مستدل ځوابونه ورکړل.

ښاغلي پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ

ترټولو مخکې شو او د اولس مجلې د ۱۹۷۶ کال د مئ او جون په ګڼه کې یې یو پوخ ځواب ورکړ دا ځواب که څه هم په سلو کې شل احساساتي و، خو په سلو کې اتیا په مخو سندونو ولاړ و، وروسته د پښتونخوا لوی ادیب مجذوب مروت په پاخه استدلال او منطق وکیلانه ځواب ورکړ او بیا محترم همیش خلیل صاحب د تول پارسنګ په مقاله کې دده ټول شکونه او وهمونه په دلیلونو او سندونو رد کړل او ګران بناغلي زلمي هیوادمل د بېلا بېلو مجموعو او کتابونو په ترڅ کې دده د هر شک په ځواب کې د هغه شق د عالم او متخصص نظریات راغونډ کړل او وخت په وخت نشر شول، هغه د چا خبره، وایي: قاضي ملامتوم خوږ نه ملامتېدلم، سره له دې چې د بناغلي قلندر ټول ځوابونه شوي وو او د ټولو شکونو خولې یې د سندونو سوکونو ماتې کړې وې، خو بیا یې هم "پته خزانه فی المیزان" ولیکه، که څه هم په دې کتاب کې یې هغه چیلنجونه چې په لومړۍ مقاله کې یې لیکلي او ویلي یې وو چې که چا زما یو ځواب راکړي نو زه له خپلو ټولو اعتراضونو نه تېرېږم تکرار نه کړل ځکه په لسهاوو ځوابونه

يې اور بدلې وو ، خو د مقالې لهجه يې لهٔ دې کبله چې علامه حبيبي ځواب نهٔ و ورکړې لهٔ مؤدبانه لهجې نه هلکانه او بازارۍ لهجې تهٔ واړوله او د مشرانو د سپکاوي يوه داسې ډبره يې پورته کړه چې د دهٔ پر سر هم رالوېدې شي.

د کتاب د چاپېدو وروسته هم د پښتونخوا ګڼو ځوانانو ، پوهانو او محققينو خولهٔ ماتوونکي ځوابونه او شک زايلوونکي حقيقتونه را برسېره کړل او د دې منفي اعمالو تر شا يې د پردو لاسونو سيوري هم عکاسي کړل ، چې زما د مطالعې له مخې د بناغلي قلندر هر شک او توهم ته لهٔ يوه نه نيولې تر لسو پورې مستند او مستدل ځوابونه ورکړل شوي خو څرنګه چې خوارهٔ وارهٔ دي او اوس ما دا ټول سره يو ځای کړي ، لهٔ يوې خوا مې د بناغلي قلندر ټول اعتراضونه نمبروار راوړي او بيا مې هر اعتراض ته د لومړي ځواب ، دوهم ځواب تر لسم ځواب پورې نومره وار ځوابونه ورکړي ، چې د ځوابونو هره لړۍ له مهم نه د اهم او لهٔ قوي نه د اقوى پهٔ لور روانه ده .

ما دې کتاب ته چې پهٔ اساس کې د ګڼو پوهانو د عالمانه ځوابونو مجموعه ده « برهان قاطع »

لنوم ورکړے او قلندر صاحب به مکلف وي چې کهٔ ځوابونه ولري، ځواب دې ووايي او کهٔ نهٔ وي، مردانه اعتراف دې وکړي او د خپل بې ځايه ضد نه دې لاس واخلي او کهٔ دا يو هم ونهٔ کړي، نو اوس خو د علم زمانه ده، تشې دعوې، شکونه او وهمونه نهٔ چلېږي، د بصيرت خاوندان به يې لولي او پخپله به قضاوت کوي چې د دې شکونو ماڼۍ تر کومه مقاومت کولای شي.

وما علينا الى البلاغ !

عبدالکریم بریالی

په «پټه خزانه» د جدیدیت الزام او د هغه تحلیل

په «پټه خزانه فی المیزان» کښې پنځم باب د جدیدیت په نامه ځنې ثبتي او دلیک دوه اعتراضونه وارد شوي دي چې لومړی ورته د ادبي بدعت نوم ورکول شوی دی، او وروسته یې هغه بدعت ته غلطي ویلې ده چې د معترض په خیال د اکتاب «پټه خزانه» د شلمې پېړۍ د لیکوال نوی او جدید کوشش دی، تر دې له مخه چې د اعتراضونو تحلیل په ترتیب سره ذکر شي، مناسبه ده چې ستاسې د اسانتیا د پاره تر دې عنوان لاندې د ټولو شکونو لنډ شان جاج واخیستلی شي:

۱- هغه اسماء یا صفتونه چې وروستنی حرف یې «یا» وي د پښتو ګرامر او د مشرانو د تعامل د قاعدې په بنیاد

چې د جمع په صیغه کښې استعمال شي نو د «ی» په ځای د «یو» شکل واخلي. مثلاً: مړی، مړیو، اړیدی، اړیدیو.(۱)

۲- دا قاعده تر کال ۲٤۱۱ ه پورې منلی او معروفه وه.(۲)

۳- د دې قاعدې برخلاف یعنې «ی» لرونکی ټکی جمع بغیر له «ی» لیکل یو ادبي بدعت دی.(۳)

٤- د امیر کروړ پهٔ وینا نه کښې چې دا کلیه یا تعامل مراعات نشوه، نو دا بدعت لري او وروسته دی بدعت ته غلطي ویلی شي یعنې «تبنتېدونو او ماتېدونو» توري د معترض پهٔ خیال تبنتېدونې او ماتېدونې پهٔ کار وه.(٤)

۵- د اعتراض د نن وخت نقاد په لومړي تذکرنګان باندې کړی چې ولې یې غلطي کړې ده؟ (۵)

٦- دوهم یې د کتاب د تحقیق او محشي څخه احتمالاً توقع لرلې چې کهٔ هغوی په دې غلطۍ پوه وای، ضرور به یې نوټ باندې لیکلی وای. څنګه چې هغه پوه نهٔ و نو ځکه دا غلطي پهٔ یوه وار له امیر کروړ او محمد هوتک څخه صادره شوې ده او حبیبي مرحوم چې د دې نښاندهي نهٔ وکړه نو هغوی هم ورسره شامل دي، ګوا په یوه وار صادره شوې ده، وروسته د دې اعتراض ځ بدل شي او داسې احتمال ولري چې د حبیبي نه خودجدیت په وجه دا غلطي ممکنه وه. (ولې چې معترض پخوانی هم نه معاف کوي) د محمد هوتک او بیا د دوهمې صدۍ د شاعر

امیرکروړ نه خو په هیڅ صورت کښې یې توقع نشي کیدی
په لنډه توګه اصل عرض دا منځ ته راوځي چې امیرکروړ
د ګرامر غلطي کړې او د مشرانو د تعامل (شاید معترض،
تر امیرکروړ وړاندې مشران بیانيږي) برخلاف یې ځیه
په شعر کښې مستعمل کړې ده، (۶)

۶- د پورتنی کلیې په بنیاد د بنګاړندوی په شعر کښې
یو توری «مړو» په ځای «مړیو» د معترض د وضع
کړې قاعدې مطابق لیکل پکار وو.

د دې توري استعمال ته یې بیا غلطي ویلې ده، ځکه
چې دا غلطي شوې ده او حبیبي په دې خبر نه وُ ځکه
یې ځواب نه وُ ویلی. (۷)

۷- د غه رنګه د استاځو پر ځای «استاځیو»، د غلجو پر
ځای غلجیو، د تاریکو پر ځای «تاریکیو» نه لیکل غلطي ده
او چون مصنف (محمد هوتک) خپله غلجی هم دی نو د دې -
غلطی قطعاً امکان نه ځني کیدی. (۸) (ګوا د کندهار د لهجې،
تلفظ یې په نورو لهجو بالخصوص په پیښور باندې ولې مسلط
کړی دی.)

۸- د شعراو نثر دا پورتنی نمونې دا ثابتوي چې د کتاب
لیکونکی د «لیکونکیو» د جدید نسل غړی دی. (۹)

۹- د محمدګل مسعود په بدله کښې «غور» د نن ورځې په یوه
سیدبیز شکل استعمال شوی دی.

۱۰- د بیت تعریفونه، شعر، شعر وته، اشعار او د هغه فرق، او چې بیت او شعر او اشعار(۱۰) یو د بل پر ځای په معنوي ډول استعمال شي او چې دا ثابته شي نو د پټې خزانې د جعلي کېدو یو بل ثبوت پیدا شي. (۱۱)

۱۱- پوهاند د پښتو قاموس په حواله «کام» د پښتو خپل ټکی نه دی، د قوم مخفف صورت دی چې د څوارلسمې صدۍ هجرې نه وروسته منځ ته راغلی بولي او د «کام» ټکی د پټې خزانې په بدله کښې راغلی دی. (۱۲)

۱۲- د «قرائت» املا د ټاپ د طباعتي نظام نه وروسته رائج شوې ده. (۱۳)

۱۳- پوهاند رشاد د خیرالبیان په لیک دود کښې لیکي چې د (ځ) اوسنی مروج شکل یې د (ح) پر سر همزه کښل شوې وی د وزیر محمد ګل خان مومند ایجاد دی». (۱۴).

ښاغلي معترض پر مخ لیکي چې په دې تحقیق او تألیف کښې مرحوم حبیبي او مرحوم بېنوا هم شامل دي او کله چې د دې واضح تردید د دوی له خوا نه دی شوی نو دوی مجبور (؟)، دي چې د رشاد تحقیق د لیک دود په حقله متفقه موقف وګڼي.

دوهم دا چې دوی په دې تحقیق باندې خاموشه پاتې شوي دي نو وجه یې دا تخمینوي چې دوی ورسره متفق دي او که چېرې خپله رائې بدلوي (ګوا د تحقیق ور نوربند

شوی دی) نو دا د دوی خوښه خو د غیر جانبدار مبصر؟
په رائې کښې د فاضل رشاد رابیان (تحقیق نه) د سلطاني ګواه
د بیان حیثیت لري او په داسې حال کښې به د پټې خزانې ـ
جدیدت او جعلي حیثیت ثابت شي او بیا به د رشاد ګواهي
په نتیجه کښې د سلیمان ماکو تذکره، بیټ نیکه، ملک یار غرښین
او شیخ اسماعیل هم جعلي او افسانه ثابت شي. (۱۵)

د جدیدت تر عنوان لاندې دا پورتني اعتراضونه او بې
ډوله احتمالات په دې دلیل او مقصد راغونډ کړې شوي دي
چې د پټې خزانې کتاب، د هغه لیك دود او په شعر او نثر کښې
راوړي توري د نوي زمانې ثابت کړي. په دې باب کښې یوازې
درې ګرامري یا لهجیاتي اختلافونه راوړل شوي دي چې تر
تفصیل مخکښې د دې وضاحت وشي، چې هغه د کندهار او د پښتو
د لهجو ترمنځ یو ډول توپیر څرګندوي چې هغه یو حقیقت
او ثبتي ضرورت دی، لومړی د «یو» استعمال دوهم د «ونکی»
او دریم د (ځ) توري دلیك دود په حقله د استاد رشاد یوه
وینا یا تحقیق چې د هغه رواج وزیر محمد ګل خان ایښی وو.
د دې درو نکتو عــلاوه په بل باب کښې د معترض تفصیل
د تصدیقاتو او تصوراتو یوه لانجه ده چې ستاسې د پاره
یې زه د اسانه کولو کوشش کوم.

د لومړي اعتراض دوه صورتونه ښودل شوي دي:
یو د پښتو ګرامر قاعده بل د مشرانو د تعامل قاعده.

تر اوسه پورې چې د ګرامر څومره کتابونه لیکل شوي دي هغوی د پښتو د لریو لهجو تر اثر لاندې راغلي دي مثلاً: د غربي یا کندهاري لهجې مطابق هغه اسماء او صفتونه چې وروستی حرف یې «یا» وي د جمع د صیغې په صورت کښې په ثقیله «ي» بدلیږي، نه پهٔ «یو» باندې، لکه نرمری - نرمري، اېړدی، او د جمع پهٔ صورت کښې «اېړیدي» پهٔ ښکاره باندې د اعتراض له سره اصولاً غلط دی.

دوهم د مشرانو د تعامل څخه د ښاغلي معترض مراد کوم مشران دي؟ او د کومې سیمې او لهجې؟ ولې چې د هغوی د تعامل مثالونه یې نهٔ دي راوړي غالباً تعامل د نن ورځې مشرانو ته اشاره ده نهٔ نیم سوه کاله مخکښې تیر شوی اسعد سوري او ښکارندوی ځکه مشران نه څرګندوي چې د هغو پهٔ ثبه - باندې ګرامري نیوکه شوې ده، او داسې ښکاري چې محترم د هغوی په لهجه او لغت باندې خبر نهٔ دی ځکه د سوء تفاهم مسله رامنځ ته شوې ده.

د اوسني ګرامر لهٔ رویه په اکثرو لهجو کښې چې کله د جمع صیغه د اضافت او جار (اضافي یا جري ادوات) د نسبت د توری پهٔ متابعت استعمالیږي نو هغه د جمع صیغه چې د عام قاعدې لهٔ رویه پهٔ اخر کښې یا یې ثقیله «ي» لري هغه په «یو» بدلیږي لکه «نرمریو» «بیړیو» «نجلیو» مګر پهٔ څنو لهجو کښې د «یو» استعمال نه کیږي لکه د یوسفزیو لهجه

© Qambosona.com

پهٔ کندهارۍ لهجه کښې داسې صورتن هم مستعمل دي مثلاً پهٔ "زمري کله کاږي ځان له پرغلګرو" کښې "پرغلګرو" پخواني اوښتې درست کارول کیږي. دغه ران تاریکو، غلجو توري د ژبې د لهجې د تعامل او محاورې له اصولو سره سمې سم دي. د کندهار په حوزه کښې چې کومې قبیلې غلجي، بارکزي او اڅکزي اباد دي، هغوی د نسبت په حالت کښې، غلجو، بارکزو او د اڅکزو توري په کار وي. (۱۶)

د کندهارۍ لهجې د ګرامریو عالم هربرټ پنزل لیکي چې "له، په، پر، تر" که چیرې له دغو ادواتو ورسته څخه اسم استعمال شي نو د غیر اصلي حالت په شکل راځي، دادواتو او اسمونو په منځ کښې فاصلوي الحاق عمومیت لري. (۱۷)

پرمخ باندې د "څلورم قسم مذکر اسمونو غږیا" تر-عنوان لاندې لیکي، په مفردوالي کښې په سپکٔ خج والا ملینه ی (په کندهار کښې ثقیله یٔ ey) مختوم وي، او د اصلي حالت په جمع کښې یې دغه خاتمه په سپکٔ خج والا معروفه "یا" بدلیږي. مثلاً (ستوری، ستوري) (لوښی لوښي) او ځینې اسمونه په مفرد او جمع کښې پهٔ غیر اصلي حالت کښې لکه ملګری (مفرد) ملګرو (جمع) (په کندهار کښې معروف واو) په نورو لهجو کښې مجهول واو) په ځینو ځایو کښې د مفرد غیر اصلي حالت صورتونه د جمعي د اصلي حالت له صورتو سره اشتراک لري او دواړه پهٔ سپکٔ خج-

والا مجهوله (ې) (په کندهار کښې معروفه ي) باندې ختمېږي او د جمع د غیر اصلي حالتونو صورتونه یې په سپک خج والا مجهول واؤ او په کندهار کښې په معروف واؤ ختمېږي، لکه ښځه - ښځې، لار - لارې - (د کندهار معروفه ي) او د کندهار معروف واؤ مثال لکه ښځو او لارو - (۱۸)

له دې ګرامري بنیاد څخه څرګنده شوه چې له یرغلګرو پر ځای یرغلګرو توري د کندهاري لهجې ګرامري اصول دي چې د دې ګرامر تر ترتیب کېدو له مخه په مشرانو کښې تعامل شوي او منلي شوي وو. او د معترض ښودل شوې قاعده هغه وخت معروفه نه وه چې د ګرامر اصول هم نهٔ وو تدوین شوي. بلکې هغوی د ویونکو ژبې توري د اوسنۍ یوې لهجې د اختلافي استعمال په تقابل کښې راوړندې کړي دي. او کله چې د ګرامر حواله او قاعده په لاس ورنغله نو یې مجبوراً د مشرانو د تعامل نوم ورکړ، چې دا تعامل پر تېر زر کاله کښې د ژبې لغت، بیان، تحریر فرق د زمان او مکان سره په نظم او نثر دواړو کښې څرګند او د ګرامر تر ترتیب کېدو پورې ثابت دی. چې د کلاسیک تحریري ادب د هغه غونډ ثبوت دی.

په دې بنا دا ښکاره شوه چې د محمد هوتک په تعامل کښې هغه توري نن هم جاري دي او د معترض له مشاهدې یا مطالعې څخه وتلي دي. وروسته هغوی د „یونکارول یو

ادبي بدعت هم بولي چې یوحکم دی، بیا په دغه بدعت، باندې دغلطۍ حکم کول بله ګناه ده، کله چې ادبي بدعت کول هم څهٔ ګناه نهٔ ده، اوکهٔ ارادتاً وشي نو دې جدت ته د لهجې د اختلاف حق ولې نه ورکول کیږي.

ښاغلی معترض لیکي چې د امیرکروړ په ویاړنه کښې ددوی په خیال «تښتیدونو» او «ماتېدونو» پکار وو چې تښتېدونې او ماتېدونې راغلي وای. داسې څرګندیږي چې دپنځلسمې صدۍ هجرۍ لیکوال دخپلې لهجې او غوښتنې د ضرورت له رویه د دوهمې صدۍ پهٔ ژبنۍ ادائیګۍ کښې اصلاح او تبدیلي راولي چې د ژبې د اصول او تعامل سره مطابقت نهٔ لري، او د ژبې د پورتنۍ قاعدې مطابق چې دادوات توري لکه «په او پر» چې د فعل له مخه راشي نو دغه فعل دجمع صیغې په غیر اصلي حالت کښې پهٔ «و» باندې د کندهارۍ لهجې له اصول سره سم مختوم وي.

ددوی تجویز شوې تحریف سم نهٔ دی. ولې چې دواړه صیغې د شرقي لهجې سره ورته والی لري او دغه توري د فاعل مثالونه هم دي لکه «تښتېدونکي، ماتېدونکي»

د «ونکي» لاحقه د فعلي صفت جوړولو دپاره راوړل کیږي مګر پهٔ لازمي او متعدي معلومو مصدرونو کښې د فاعل معنیٰ او پهٔ مجهولو مصدرونو کښې د مفعول معنیٰ ورکوي. او معنیٰ یې پهٔ حال او مستقبل پورې تعلق لري.

مثلاً ماتول، ماتونکي، ماتېدل، ماتیدونکی، تښتېدل،
تښتېدونکی، دلته ماتیدونکی او تښتېدونکی پهٔ معتدي مجهولو مصدرونو
کښې مفعولي معنا ورکوي چې د جمع پهٔ صورت کښې د
«ماتېدونکو» پهٔ کندهارۍ لهجه کښې او «ماتېدونکیو»
پهٔ شرقي لهجه کښې راتلی شي. (۱۹)

ښاغلي معترض پهٔ تذکره نګار باندې الزام لګوي چې
ولې یې دا غلطي کړې ده؟ که دا ډول نقد او تحقیق دی نو
دوی دې خپلې سهوې ته متوجه شي. وروسته د محشی
او د پټې خزانې له محقق څخه احتمالي توقع لري چې دوی
ورباندې نوټ ولې و نهٔ لیکی؟ او چې هغه اصلاح و نهٔ
کړه نو دا ګمان کوي چې ورسره ملګري وو. بیا وروسته
لیکي چې د حبیبي نه خو د جدیدت په سوب دا سهوه،
ممکنه وه، د محمد هوتکؤ او امیرکروړ څخه دا توقع نهٔ
شي کېدای. پهٔ اخر کښې محمد هوتکؤ، امیرکروړ او حبیبي
پهٔ یوه وار د مشرانو د تعامل خلاف تللي دي. او دا
جدیدیدت دی نو ځکه د پټې خزانې کتاب مشکوک شو،
دا ډول ذهني رویه یا تحقیق یا طرز فکر علمي معیار
نهٔ پوره کوي او نه د قبلېدو جوګه ګرځي. دا پورتنی
تفصیل مې پهٔ دې نیت وکړی چې لوستونکي متوجه شي
او مثبته رایه قایمه کړي.

دلومړي اعتراض په تسلسل یو توری «مړو» ښکارندوی

په شعرکښې راغلي دي چې ناقد ورته «مړيو» وايي او د دوی خيال دی چې حبيبي په دې پوه نه وُ، که وايي نو د خپل وفات نه مخکښې به يې ضرور وضاحت کړی وايي، دغه توري د پورته ذکر شوې کليه په بنياد صحيح استعمال شوي دي، حبيبي مرحوم چې د ډېرو غلطيو اصلاح وکړه، نو دې ته څه حاجت وو چې د ادواتو سره سم دا توري په نسبتي حالت کښې د مړو جمع کله هم په کندهاري لهجه کښې «مړيو» نه دي مستعمل شوی، د دوهم اوږد بحث جرح او تعديل وروسته د ګرامر د غلط اصطلاح څخه دا مدعیٰ نه شي ترسره رسيدلای، چې د پټې خزانې شعر او نثر د جديد ليکونکو پيداوار دی چې د هغه تصديق لوی مستشرق مارګن ستائرن يو الماني عالم بوستاني ته په کال ۱۹۶۸ کښې د يو ليک په ترڅ کښې کړی وو، چې دا تحرير نه د محمد هوتک پيداوار دی نه د حبيبي بلکې د پښتو پخوانيو متونو نه شي پېژندلای. (۲۰)

دوهم اعتراض د محمد ګل مسعود په بدله کښې د «غوږ» کلمه د نن ورځې په يوه سيلابي شکل کښې استعمال شوې بولي. دلته معترض په روايتي طريقه د هغو توريو مثالونه د خوشحال بابا او رحمان بابا له شاعري څخه وکړل چې دوی يې اجوف افعال بولي، لکه، چوړ، طوړ، دوړ، عيب او غوږ، په دې مثالونو کښې هغه حروف

علت شامل دي چې د دوی په ماقبل کښې مخالف حرکت راغلی وي، د عربي تجوید له رویه په دې کښې یو خاص غږ یا واول وي چې ورته «لین» وایي. (۲۱)

د پښتو ګرامر له رویه په واوُ باندې ځ «Accente» دی چې اوږد حرکت ورته وایي (۲۲) د پښتو شاعرۍ په سیلابیز اوزانو کښې دا حرکت مهم رول لري چې کله د مصرع په سر کښې او یا تره د لنډ بحر په اخر کښې د مصرعې توازن ساتلی شي (۲۳) د معترض دا غیرلسانیاتي پوهنه چې دا حرف علت په فتحه سره تړلی وي، پخوانی تصور دی چې وضاحت یې نه شي کولای. داسې توري د اوږد حرکت سره اداکیږي. کوم مثال چې د محمد ګل مسعود په بدله کښې ورکړی شوی دی، په دې وجه هم د پاملرنې وړ نه دی چې د بدلې، چاربیتې، نیمکۍ په بحرونو کښې د وزن هغه پابندي نه وي کوم چې په سیلابیزو وزنونو کښې کیږي. لکه د دغه شعر په اخر کښې د «ژاړي» په توري کښې په «ژا» باندې «STRESS» واقع دی چې د «غوږ» توازن یې ساتلی دی (۲٤) د نور وضاحت دپاره نه پوښتنه کولی شم چې هغوی دې د رحمان بابا په یوه ذکر کړي شعر کښې د سیلابیز وزن د نابرابرۍ علت وښايي چې لومړی مصرعه دولس سیلابه ده او دوهمه مصرعه یوولس سیلابه. کله چې دوی ته د دې علت معلوم شي

نو د محمد ګل مسعود په مصرعه کښې د «غوږ» ټکی استعمال او د هغه ادائيګي به ور څرګند شي.

درېيم اعتراض د بيت، شعر، شعرونه او اشعارو د توړو استعمال دئ چې څه معقوله وجه يې نه ده ښودلې چې د دوی تر منځ د جديد او قديم معنوي فرق ثابت شي، شعر ته «بيت» هم ويلی شي، بيت په عربي کښې کور ته وايي لکه د کور چې دوې دروازې دي دغسې د بيت دوې مصرعې دی د عربو د صحرا کور به د کمبلې څخه جوړ وُ، چې پښتانه ورته «کږدی» وايي، چې ورته د مخ رسۍ او ستون ضرورت دی. دغسې د بيت د سبب، وتد او فاصله څخه مرکب دی (۲۵) شعر ته څوک د شناخت او رونق او څوک د مخصوص وضع او څوک د ابتدا او انتها په اعتبار بيت وايي. (۲۵ الف) په عربي، فارسي او اردو کښې شعر او بيت په واحد او په پښتو کښې په واحد او جمع دواړه صورتونو کښې هم استعماليږي، بلکې «شعر کړی دی» هم ويل کيږي، دغسې د جمع په صورت کښې بيتونه ويل صحيح دي. لکه شعر چې د بيت په ډول د دوو مصرعو د پاره مشهور دی، او دغه رنګه د روغ نظم په معنیٰ هم استعماليږي. په اولسي شاعری کښې شعر د يوه پارچه يا ګڼو شعرونو باندې مشتمل نظم ته هم وايي.

دا ادبي روايت په عربي، فارسي او پښتو ادب کښې له پنځو سوو کلونو څخه را روان دی چې په تحريري، تقريبي

او شفاهي ډول استعمالېږي، د دغو توړو که په پښتوکښې د جمع صورت راوړل شوی دی نو هغه د توړو فرق نه راولي او نه د جدیدکیدو دلیل جوړیږي.

څلورم په پټه خزانه کښې د بی بی زینب په شعر کښې «کام» توری د قام یا قوم د پاره راغلی دی چې د معترض په خیال د پښتو خپل توکی نه دی. بلکې د قوم مغفن صورت دی او د څوارلسمې صدۍ پس راغلی دی، او جدید توکی یې بولي. دوی یوازې د پښتو قاموس په حواله تمسک کوي او حال دا دی چې بناغلی د افغاني حوالو په ورکولو کښې ډېر محتاط او چوپ کوي، «ق» د عربي ژبې حرف دی چې پښتانه یې اکثره په «ک» سره تلفظ کوي، د دې توړو اقلاب بیخي مستعمل دی.

خوشحال بابا د قام توری داسې راوړی دی:

چې د قام په ننګ کښې ومري زړونې هغه دي : په عالم کښې د خپل پلار عار کالکه
د وفا په ځای همه واړه جفا ده
چې به ماته رسیده له خپل قام (۲۶)

درې نیم سوه کاله وړاندې د قام توری د قوم په معنیٰ عام مستعمل وُ چې جدید ورته نه شو ویلی. د «ق» او «ک» ابدال پښتو هم دغسې خپل کړی چې د هرې ژبې فطري عمل دی نو ځکه جدیدیت نه ځنې څرګندیږي.

له دې علاوه د قوم توری په پټه خزانه کښې په صفحه ۷۴ او صفحه ۱۱۲ کښې راغلی دی (۲۷). چې بنکاره توپیر دی. د پښتو ژبې د وزیرو او مسعودو په لهجه کښې الف په واو-

او واو په «ی» باندې عموماً بدلیږي چې ددې مسئلې حل ځنې اخذ کولی شو.

پنځم اعتراض دا دی چې د «قرائت» په توري کښې همزه نه دی استعمال شوی. دا ټایپ یا د افغانستان د طباعتي نظام مجبوري یا يې مانوسیت ګڼي. دا خبره د پټې خزانې د لیک دود په رڼا کښې ځکه صحیح نه ده چې هلته د همزه استعمال د ځینو تورو سره شوی دی او په ځینو ځایو کښې پاته شوی دی. داسې مثالونه شته چې هلته همزه لیکل ضروري وه خو هلته کاتب پرې ایښې ده. مثلاً په ص ۲۷ باندې د «بستان الاولیاء» او «تذکرهٔ غوریښت» سره د همزه توری راغلی دی. د «حدیقه ختیځ» سره په ص ۶۱ همزه نه دی لیکلی شوی (۲۸) په صفحه ۵٤ او ۷۶ د علما او فضلا سره همزه نه ده لیکل شوې. دغسې په ص ۶٤ او ۹٤ باندې د علماء سره همزه لیک ده. ګویا د «پټې خزانې» په لیک دود کښې د همزه لیکلو او نه لیکلو دواړه صورتونه مراعات شوي دي او په کوم ځایو کښې چې ضروري وه هغلته نشته-د هم دې رعایت بې تکلفي او غالباً د بې توجهی په سوب کاتب په قرائت باندې همزه ورنه کړه، ښاغلی معترض د پښتو کاتبانو ته د رسم الخط ربوقلموني او دست برد رعایت خو ورکوي لاکن محمد عباس کاسي چون کندهاری لهجه لیکله او بیا د پټې خزانې د دیمه نسخه هغه هم له بل نقل څخه، د هغه سره رعایت نه کول زیاتی ده. او که د سخت احتیاط تاکید شرط

د کاتب د پاره ضروري تقاضا وه نو د کران محقق همېش خلیل په قول د دومره لوی احتیاط باوجود د عکسي چاپ د ص ۵۶ په ځای ۵۵ لیکل به د تقاضائې بشري په نمره کښې خو راشي ولې د عباس کاسي سهوه په قرات همزه وا نهٔ چوي نو بیا د افغانستان طباعتي نظام د رواج افسانه جوړه شي۔ (۲۹)

پر دې برسېره د ډېرو کلونو د کړاو او احتیاط او د جدید سهولیاتو باوجود د سبحان الله مقام دا دئ چې د «سبحان الله» په غلط نامه کښې هم د ص ۱۶۹ لیکلی د قرات قول غلط توري چې «ناسم» ورته وائي، سم ښوول شوي دي، و دې سهوې ته به کومه خصوصي تقائي بشري او، وایو که د قدرت ستم ظریفي. (۳۰)

شپږم اعتراض د خیرالبیان عکسي چاپ په مقدمه کښې پوهاند رشاد د (ځ) اوسنی شکل د (ح) په سر همزه وايي کښلې ده چې دوی یې محمدګل ایجاد یې بولي چې وروسته عام رواج وګرځېدئ. معترض په دې دلیل دی چې د دې «بیان» واضح تردید د حبیبي او بېنوا له خوا نهٔ دئ شوی او د تحقیق په دې خاموشۍ د فی المیزان محقق د «غیرجانبدار مبصر» په رول پټه خوله نه پاته کېږي، بلکې د جانبدار وکیل په حیث د رشاد بیان (تحقیق نه) ته د سلطاني ګواه بیان حیثیت ورکوي چې په دې فوجداري مقدمه کښې کټه ترلاسه کړي (۳۱)

د (ځ) په حقله زما داوسني تحقیق د پوهاند رشاد په څېړنې په کال ۱۹۹۲ کښې په کوټه کښې وړاندې کړې شوې هغوی وستایلی او اتفاق یې په دې بنا څرګند کړ و چې د تحقیق لاړې بندې نه دي ولې چې تر وزیر محمدګل خان تر رواج پنځوس کاله وړاندې د دې توري په اوسني شکل کښې کېښل ثابت شو، که دې ته واضح تردید هم و نه ویل شي نو واضح تحقیق ضرور دی، البته رشاد صاحب په خپل تحقیق کښې لومړی «مروج» توری استعمال کړی دی او وروسته د «ایجاد» او «رواج» ترمنځ لږ معنوی مغالطه د معترض په ذهن کښې واقع شوې ده، او داسې د ډېرو تورو په اصطلاحي معناګانو کښې په افغانستان او پاکستان کښې توپیر موندل کیږي، لکه متاثر تجزیه او جایزه او داسې نور، اوس به د اصل موضوع په خوا ستاسې پام راوګرځوو، د (ځ) توري مثالونه محترم همیش خلیل د سکندر خان، صدر خان او اخوند قاسم له شعرو څخه وړاندې کړې دي. (۳۲) «چې یو بل کره ثبوت یې دادی:

منشي کریم بخش ولد میاں امام بخش کاردار په شبقدر کښې د کلید زبان پښتو (یعني پښتو ژبانکي خالق باری) په نامه یو وړکی کتاب په اردو شاعرۍ کښې په کال ۱۳۰۶ هـ کښې چې ۱۸۸۹ع سره سمون خوري لیکلی دی، دغه کتاب په هم دغه کال د مترو س په مطبع لاهور کښې چاپ شوی دی دا د غیر پښتنو پنجابیانو او اردو دانانو د پاره لیکل شوی

دی چې څ به زده کړي. منشي کريم بخش ليکي:

سمجھ نہ آوے انکی بات   غیرت دل کو تھی دن رات
طلب کتابیں کیں بسیار   کروں مطالعہ سوسو بار
پشتو کے وے حرف ہیں پانچ   جن کی شکل نرالی جانچ
دوں میں انکی شکل بتا   پشتو کی جو اصل بنا
اصلی پشتو پڑھے کتاب   تا ہو اس سے بہرہ یاب (٣٣)

په دې کتاب کښې لومړی باب دتورو د شکل او رسخط په باره کښې دی. (ځ) او (څ) توري ليکل په دې ډول بيانوي:

حے حطی پر نقطے تین   اصل میں ث ہے چے تلقین
حے حطی پر ہمزہ سا   زے ہے اصل میں جیم بنا (٣٤)

د دوهم شعر په حاشيه کې کتې مې داسې ليکي: اسطرح (ځ) جيسے ځما، ځونږ، ځای يعني زما، زمونږ، زائے د صفحه ۴ په حاشيه کښې ليکي چې دا (ځ)، او س متروک دئ داڼن صبا د (څ)، په ډول ليکل کېږی (٣٥) د حيرانئ خبره داده چې په نيم صفحاتو کې (ځ)، په خپل اصلي شکل کښې ليکي چې دوئ ورته متروک وايي او په ځنو ځايو کښې د (څ)، شکل ليکي- او څو ځايه د (ځ) توری په (ز) باندې بدلوي. په حاشيه کښې هم مثالونه ورکړې دي، لکه «رانه» يوځای ليکي (وځانګه کتې مې په ننني رسم الخط کښې ليکلی شوی دی او بل ځای ليکي (مه ذانګه). (٣٦)

دا کتاب د دره خيبر چيف پولټيکل آفسر کرنل، آر- واربرټن

(R-WARBURTON) ته وړاندې شوی دی، چې وروسته
تر نقل پروانه نمبر ۱۳۳۲ لاندې د قاضي طلاء محمد په سفارش
د کتل موصوف له خوا د پښتو د امتحان د پاره منظور شوی
و. (۳۸)

د (ځ) د اصلي شکل او به تېره دې پېړۍ کښې په همدغه ډول موجودګي په لیک دود کښې ثابت شوې چې د رشا د صاحب د اطمینان سره سره یې مونږ په ډېر احترام بناءً علي معترض ته وړاندې کوو چې مطمین شي چې (ځ) په همدغه ډول او شکل د پټې خزانې د محمد عباس کاسي تر لیک دود ډېر پخوا هم د کندهار او راکوزیا په شاوخوا کښې موجود وو چې نښاندهي یې خوشبختانه د یو غیر پښتانه په قلم زرمیله لرې په شیقدر کښې کوي چې له سنه مرغه د سلیمان ماکو د تذکرې تائید او تصدیق کوي. د پښتو ادب په مینانو د پټې خزانې د علمي او قامي سرمایې په محافظکارانو او د جیبي پر شاګردانو حق زیري وي.

دا کتاب په ۱۳۰۶ هـ کښې مکمل شوی چې د محمد عباس کاسي تر اخري نسخې را نقلولو درې کاله وروسته دی. ممکنه ده منشي کریم بخش د پښتو په زده کړه درې کلونه تېر کړي وي چې په قول د دوی ډېر کتابونه موطلب کړو او یقیناً د دوی زده کړه او تحریر کال د ۱۳۰۳ هـ سره سمون وخوري.

په آخر کښې د جدیدیت په حقله د محترم معترض ټول
کړاو را لنډوم چې موصوف د پټې خزانې سل کاله مخکښې
لیک دود او د پخواني ادب او لهجو باندې مشتمل تحریر
د لوی او کم زر کاله پخوانۍ ژبې او صیغو استعمال یې تر
نقد لاندې راوستلی دی او د نن ورځې د یوې لهجې په تله
کښې یې تللی دی، او د حلبې پیداکولو په لټون کښې د خپل
معلوم موقف د تائید د پاره د منفي روېې په وجه سرګردان
دئ چې هیڅ نتیجه نشي تر لاسه کولای. او د «پټه خزانه»
اوس پوره لوڅه شوې ده. اوس موږ ته ښکاره ده چې خپل علمي
استعداد په ډېر کم د دغسې خزانې په صحیح ډول په
څېړلو صرف کړو. او د زړو تذکرو د اختلافاتو او تنازعاتو څخه
ځانونه وژغورو چې بل هم زموږ له تهمت څخه خلاص شي او
موږ هم د نورو له تهمت څخه بچ شو. دا به لویه نېکمرغي وي
چې د پښتو ادب عالمان د ذات له دایرې څخه راووځي او د علم او
ښو اخلاقو مظاهره وکړي. د تېرو کلونو په یو متنازع کتاب پلو
باندې هغه لیکوال ته د نړۍ نامتو پروفیسور علی مزروعی (Marsanar)
ویلي وو هسې نه چې موږ هم یو بل ته د دغسې تبصرې سره مخامخ
شو. که چیرې زما په تحریر کښې د نورو استعمال د محتوی اړخه په
غیر اخلاقي ډول شوی وي او څوک زهیر شوی وي، نو زه د هغه څخه
بخښنه غواړم او د پټې خزانې ټولو خپرونکو، لوستونکو او عالمانو ته
د قرآن عظیم د آیت وړاندې کوم چې: «اقراء باسم ربک الذی خلق.»

حوالې

(۱) پټه خزانه فی المیزان، قلندر مومند، پېښور کال ۱۹۸۸ع ص ۱۵۸ .
(۲) ایضاً ص ۱۵۹
(۳) ایضاً ص ۱۵۹
(۴) ایضاً ص ۱۶۰
(۵) ایضاً ص ۱۶۱
(۶) ایضاً ص ۱۶۱
(۷) ایضاً ص ۱۶۲
(۸) ایضاً ص ۱۶۳
(۹) ایضاً ص ۱۶۳
(۱۰) ایضاً ص ۱۶۵
(۱۱) ایضاً ص ۱۶۶
(۱۲) ایضاً ص ۱۶۷
(۱۳) ایضاً ص ۱۶۸
(۱٤) دخیرالبیان عکسي چاپ، پښتو ټولنه، کابل ص ۷۳ .
(۱۵) پټه خزانه فی المیزان ص ۱۷۲ .
(۱٦) د پښتو ګرامر د هربرټ پنزل د امریکې د میشګن د پوهنتون پروفیسور، د کابل پوهنتون - د ادبیاتو د پوهنځي چړونه، پښتو کوونکی محمد رحیم الهام .
(۱۷) ایضاً ص ٤۸ .
(۱۸) ایضاً ص ۷۵ .
(۱۹) د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، صدیق الله رښتین، پښتو ټولنه کابل ص ۱۹، کال ۱۹٤۸
(۲۰) د افغانستان د پلوشې مجله، د ډاکټر مجاور احمد زیار مقاله، ۱۳۵٦ هـ ش .

(۲۱) منح الفکریه شرح مقدمة الجزریه، ملا علی القاری، طبع مصر.

(۲۲) پښتو شعر څنګه جوړېږي؟ (د سیلابو تونیک) پوهاند دوکتور زیار، کابل، ۱۳۶۱ هـ ش

(۲۳) ایضاً ص

(۲٤) ایضاً ص

(۲۵) په حل حدائق البلاغت، ص ۱۱۹، طبع لاهور.

(۲۵ الف) سفیر سخن کوثر لکهنوی، مکتبه جدید لاهور، ص ٤۳.

(۲٦) د خوشحال بابا دیوان چې د افضل خان خټک په قبضه کې وه او ډاکټر بیلیو په تصحیح او اهتمام د سلطان بخش
داروغه په ۱۸۷۰ع کال کې او په دوهم ځل په ۱۹۲۹ع کې چاپ شوی وو.

(۲۷) پټه خزانه د محمد هوتک، دریم عکسي چاپ ۱۳۵٤ هـ ش.

(۲۸) ایضاً ٦۱ ص ۲۷.

(۲۹) تول پارسنګ، حبش خلیل، پېښور، ۱۹۹۳ع.

(۳۰) پټه خزانه في المیزان، ص ۱٦۹.

(۳۱) ایضاً، آخري عبارت د پنځم باب.

(۳۲) تول پارسنګ، دبیش خلیل، پېښور، ۱۹۹۳ع.

(۳۳) کلید زبان پښتو، مرتبه منشي کریم بخش، مطبع ترویس، لاهور، باهتمام
پنډت مکند رام، ص ۳، ۱۸۸۹ع.

(۳٤) ایضاً ص ۵

(۳۵) ایضاً ص ۵

(۳٦) ایضاً ص ٤

(۳۷) ایضاً ص ۲٤

(۳۸) ایضاً ص ۱

محمد معصوم هوتک

د (ځ) توري تاریخي پس منظر

پهٔ پټه خزانه کې د دغه شکل استعمال د قدماوو پیروي ده

د پښتو ژبې پهٔ اوسنۍ الفبې کې نهم توری (ځ) ده، چې د (چ) او (څ) تر منځ موقعیت لري. بر پښتانه (د ډیور له کرښې ها خوا ته میشته پښتانه) یې (ځیم - زیم) بولي. دا ږغ پهٔ نورو هندواروپايي ژبو کې هم شته. د دې ږغ گرافیمي بڼه د نورو ږغونو پهٔ شان د تاریخ پهٔ اوږدو کې یو راز نهٔ ده پاته سوې.

پهٔ روښاني الفبې کې یې موقعیت د ډال او ذال تر منځ دے او شکل یې (ڊ) دے، یعنې دال ته یې لاندې ټکے ورکړے دے.

پهٔ خوشال خاني لیکدود کې یې د جیم تر ټکي لاندې همزه کښېښ او د (ځ) ږغ یې پهٔ انځوراوه، پهٔ

دې شکل (ج):

اخوند درویزه ننګرهاری رح (۹۴۰-۱۰۴۸ هق) پهٔ مخزن الاسلام کې د (څ) او (ځ) فرق نهٔ دے کړے او دواړه یې پهٔ (څ) سره ښودلی دی، چې دې عنعنې وروسته هم دوام موندلے او پهٔ زیاتو پخوانیو متونو کې د (څ) او (ځ) تورې تو پیر نهٔ دے سوے (ځائے) او (هیڅ) یې دواړه پهٔ (څ) کښلی دي. (۱)

پهٔ افغانستان کې د پښتو مرکې په خپرونو کې د (ځ) لهٔ پاره د (ج) بڼه غوره وګڼل سوه، یعنې جیم ته یې پر سر ټکے ورکاوه.

د طلوع افغان پهٔ نشراتو کې هم دا شکل تر ۱۳۱۷ ش، کال پورې مروج و، چې وروسته یې د (ځ) شکل غوره کړ، تفصیل به یې وروسته وکاږم.

وزیر صاحب محمد ګل خان (۱۳۴۲ هـ، ش مړ) د (ځ) لهٔ پاره دا او سنے مروج شکل خوښ کړ او عام یې کړ او د (زنځیریه) د فاضل مؤلف خبره "د زنځیری لیکدود شکل یې راژوندے کړ. (۲)

پهٔ پټه خزانه کې د (ځ) تورے پهٔ او سني مروج شکل راغلے دے، چې د ځینو ښاغلو پهٔ نظر د جدیدې املا نخښه ده او د پټې خزانې (جدیدیت) پهٔ اثباتېږي.

په دې برخه کې په هغه قول استناد شوے، چې د خیرالبیان په "عکسي ایډیشن» کې (د خیرالبیان لیکدود) تر سرلیک لاندې چاپ شوی دی او د هغه له مخې ګویا د (ځ) او سنے مروج شکل چې د (ح) پر سر همزه (ء) کښلې ده - د وزیر محمد ګل خان مومند ایجاد دے چې وروسته عام شو او په لروبر پښتونخوا کې یې رواج وموند.» پر دې قول داسې استنتاج بناء شوے دے چې «پټه خزانه د محمد ګل خان مومند د سن شعور ته د رسېدو نه پس ته دورکې لیکل شوے کتاب دے او ځکه نو دا سپین دروغ دی چې دا کتاب په ۱۳۰۳ هـ کې لیکل شوے دے.» (۳)

زما د څېړنې له مخې د (ځ) او سنۍ مروجه بڼه د وزیر محمد ګل خان مومند ایجاد نه دے او زما سره د وزیر صاحب مرحوم تر زېږېدو شل کاله مخکې د (ځ) توري دا او سنی شکل چاپي اسناد سته، خپله څېړنه د هغو اسنادو له فوټوکاپي سره یوځای د سیمینار درنو او ښاغلو برخه والو ته وړاندې کوم.

د (ځ) توري په باب د طلوع افغان د ۱۳۱۷ ش کال د حمل په ۲۷ مه ګڼه کې لولو:

دا شپېن کاله چې طلوع افغان پښتو شوے دے مونږ یو ډول املا چې پښتو مستنده املا ده، غوره

کړې ده ، مګر قدماؤ د پښتو مخصوص حرف (ځ) پهٔ
دې شکل هم لیکلې دې ، ځ.

ځکه چې مونږ د املاء د توحید او یووالي پر
خوا یو او هر کله مونږ پهٔ دې باب کې لیکل او ویل
کړي دي ، نو د دې د پاره چې پهٔ خپله وینا مونږ لمړۍ
کړنې کړې وي او س غواړو چې وروسته تر دې
ځ داسې ولیکو: ځ ....»

پهٔ دغه کال یعنې پهٔ ۱۳۱۷ ش کال وزیر محمد ګل خان
مومند د «پښتو ژبې لیار» او تر هغهٔ یو کال د مخه
یعنې پهٔ ۱۳۱۶ ش کې یې «پښتو سیند» کښلې او چاپ
کړې دے ، د پښتو الفبې ځینو نږغونو ته یې پهٔ هدې
آثارو کې خاص شکلونه پیشنهاد کړي او ټاکلي دي.

زما پهٔ فکر ښايي د طلوع افغان پهٔ دې
اقدام کې به د وزیر صاحب مرحوم غوښتنه بې
اغېزې نهٔ وه . خو پهٔ پورتني عبارت کې چې د
ارواښاد علامه حبیبي پهٔ قلم لیکل شوي دي ،
د "قدماؤ" کلمه پهٔ دې باب یوه اشاره ده چې دا شکل
نوے ایجاد نهٔ دے.

هدې اشارې زهٔ نورې څېړنې ته وهڅولم.
پهٔ دې برخه کې مې لومړے کتاب (لغات افغاني)
وکوت چې د ارواښاد سید راحت الله راحت زاخیل لیکنه

ده، دا کتاب که څهٔ هم زما سره بشپړ نسخه نه، خو د پېښور چاپ د زیاترو نورو کتابو پهٔ شان د چا پېژند نېټه نهٔ لري، مګر واضحه ده چې د وزیر محمدګل خان مومند د «پښتو سیند» او (د پښتو ژبې لیار) تر چاپ دمخه خپور سوی دی.

علامه حبیبي د (خوشحال خان ختک مرغلرې) پهٔ ۹۹۷ مخ کې دا ارواښاد راحت زاخیلی همدې کتاب ته حواله ورکړې ده. (۴) د (خوشحال خان ختک مرغلرې) د ۱۳۱۷ ش کال پهٔ جوزا (مئ ـ ۱۹۳۸م) پهٔ کندهار کې چاپ سوې دي. (۵) او پهٔ دې وخت کې (لغات افغانی) د څېړونکو د یوه ماخذ پهٔ توګه تر کندهاره هم رسیدلی ؤ. پهٔ لغات افغانی کې د (ځ) توری پهٔ هغې اوسنی شکل راوړل سوی دی او دا حکم چې دا اوسنی شکل د وزیر محمدګل خان ایجاد دی. تر پوښتنې لاندې نیسي. البته دا خبره لهٔ امکانه لیرې نهٔ ده چې ارواښاد وزیر صاحب به له (پښتو سیند) او (د پښتو ژبې لیار) پرته پهٔ نورو لیکنو کې دا شکل (ځ) ایجاد کړی وي، مګر د دې امکان د اثبات لهٔ پاره موږ لیکلی سند نهٔ لرو.

(د لغات افغانی د لومړي او دوهم مخ فوټو کاپي وګورئ)

د هم کتاب مې د ابو سعد فضل احمد خان افغان

اثر (گل کوهی) یا د (غرۀ گل) وکوت.

ابو سعد فضل احمد خان د پېښور د مردان د سرډهېري کلی یو حساس او پر پښتو او پښتونولۍ مین پښتون و. (گل کوهی) یې د ۱۹۳۰م (۱۳۰۹ش) کال په جنوري کې د بمبئ په خلافت پرېس کې د افغان جنرل قونسل مرحوم غلام احمدخان په همت چاپ کړے دے. (غلام احمد خان د سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله لهٔ نامتو څخه دے.

لوی استاد علامه حبیبي دا روا ښاد عبدالهادی خان داوی (۱۳۶۱ مپ) لهٔ خولې لیکی چې غلام احمد خان د بدیع ذوق څښتن و، په دری ژبه یې ښاوڼ نثر کښل او په دوهم مشروطیت کې یې ښه ونډه درلوده).(۶)

(گل کوهی د وزیر محمد گل خان مومند تر لومړی اثر اووهٔ کاله د مخه او تر دوهم اثر اتهٔ کاله د مخه چاپ شوے دے. په دې کتاب کې هم د (څ) توري په اوسنی مروج شکل راغلے دے.

د (گل کوهی د لومړی، آخر او یو ویشتم مخ فوتو-کاپی وګورئ)

کهٔ د (څ) توری دا شکل د مرحوم وزیر صاحب لهٔ خوا د (پښتو سیند) او (د پښتو ژبې لیار) تر چاپېدو د مخه هم ایجاد شوے وی، بیا هم گمان نهٔ کوم چې د هغهٔ

وخت د شرایطو او وسایلو په پام کې نیولو سره دې اغېزه په بمبئ کې د خلافت پرېس تر کاتبانو پورې رسېدلي وي،

(دیوان اختر محمد مسمیٰ به مرغوب الخواص) مې هم پر له واړاوه. دا اثر د اشعارو یوه کوچنوټې مجموعه ده چې په ۱۳۵۱ هـ، ق کال (۱۹۳۲ م کال) د لاهور په مسلم پرنټنګ مطبعه کې چاپ سوے دے، اختر محمد د محمد زمان خان تره کي زوی او د کندهار اوسېدونکے وُ، دیوان یې تر (پښتو سیند) او (د پښتو ژبې لیاں) تر خپرېدو په ترتیب سره پنځه او شپږ کاله د مخه خپور سوے دے او د (ځ) توری یې په نننی مروج شکل کښلے دے.

(د مرغوب الخواص د لومړی او آخر مخ فوتوکاپي وګورئ)

څلورم کتاب چې تر دا درو سره قدیم چاپي اثر دے (نصاب افغانی) نومېږی او د محمد اسماعیل په قلم لیکل سوے دے، د دې اثر په کتلو سره مې اټکلونه په بشپړ یقین بدل سول، ځکه دا اثر د وزیر محمد ګل خان مومند تر زېږېدو شل کاله دمخه یعني په ۱۸۶۶ م کال د (جناب معلیّٰ القاب مستر هنری بکټ صاحب بهادر قایمقام انسپکټر مدارس حلقه سرحدی) په حکم د پېښور په جبل مطبعه کې چاپ

سوے دے. (د ارواښاد وزیر صاحب تولد پهٔ ۱۳۰۳ هـ، ق کال پېښ دے.

د ۱۳۰۳ هـ، ق کال لومړیه ورځ د ۱۸۸۵ م کال د اکتوبر له لسمې سره برابره ده. د وزیر صاحب مرحوم د زېږېدو پهٔ کال د پټې خزانې موجوده متن پهٔ کوټه کښې استنساخ تر نېټې شل کاله یا نولس کاله د مخه چاپ شوے دے.) په دې کتاب کښې د (ځ) توره شکل له نن مروج شکل سره یوشان دے. د نوموړي کتاب په ۴-۵ مخونو کښې داسې راغلي دي:

„ حرف دویم (څ) قریب المخرج است با زای منقوطه لیکن به ثقالت تلفظ و به تلفظ زای منقوطه نیز جائز است چون ځای (زای) بمعنی جای و ځار (زار) بمعنی فدا. اگرچه صورت خطی حرف اول (مراد یې (څ) ده -م.هـ) وحرف دیم (مراد- ځ ده -م- هـ) دراکثر کتب افغانی یکسان دیده شده است، مگر بدین جا فرق کردن ضرور آمد تا خواننده تشخیص دهد مابین هر دو حرف و نیز درکتب شعرای قوم ختک که در سنه یازده صد هجری نوشته شده، این طور به نظر آمده یعنی بجای سه نقط یک همزه نوشته شده باینصورت ځ ودرین اوراق صورت دویم مقرر گشت.“

پهٔ پورتني توضیح کښې لولو چې د (ځ) شکل ایجاد د (نصاب افغاني) د مؤلف محمد اسماعیل ایجاد

هم نۀ دے ، بلکې دۀ د ښتکو د لیکدود پۀ پیروۍ دغه شکل غوره ګڼلے دے .

(د نصاب افغاني د لومړي ، څلورم او پنځم مخ فوټو- کاپي وګورئ)

لۀ ۱۱۰۰ هـ ، ق څخه تر ۱۳۰۳ هـ ، ق پورې چې د پټې خزانې د وروستي استنساخ کال دے ، دې د پاسه دوه سوه کاله تېر سوي دي او دا کافي موده ده چې د (ځ) شکل دې له اټکه تر کوټتې او بیا تر عباس کاسي پورې ورسېږي . د نصاب افغاني دغه فیصله چې د (ځ) شکل په برخه کې یې کړې ده ، هم پۀ شل کاله کې تر کوټتې پورې رسېدلاے سواے . کۀ خبره سره راغونډه کړو باید ووایو او ویې منو چې د (ځ) نننے شکل د وزیر محمد ګل خان مومند ایجاد نۀ دے ، بلکه قدیم دے .

د خیر البیان د عکسي چاپ پۀ سریزه کې دراعلی حکم توضیح باید داسې وي چې د افغانستان پۀ معاصرو مطبوعاتو کې د (ځ) تورے د وزیر صاحب پر لاس پۀ دا اوسني شکل رواج سوے دے او ارواښا د وزیر صاحب د (قدماوو) پۀ پیروۍ دغه شکل غوره کړے دے .

دغه راز ښېړنه چې زما پۀ شان مبتدي لۀ پاره

ممکنه ده، آیا د هغو معترضینو له پاره مقدوره نه ده چې د کتاب د نعمت باران پرې اوري. او د ادبي او تاریخي ریسرچ اوږده سابقه لري، بالکل وه.

اوس به نو درانهٔ لوستونکی دا حکم چې «څکه نو دا سروې دروغ دی چې دا کتاب (پټه خزانه - م. هـ) په ۱۳۰۳ هـ کې لیکلې شوې دے» څرنګه تعبیر کړی؟ او دې فیصلې ته به په کومه سترګه وګوری چې وایی: «دلته دا خبره هم باید یاد وساتلے شی چې د (ځ) دا تورے په هغه قلمی تذکره کې هم استعمال شوے دے چې سلیمان ماکو پورې تړلې شوې ده... په دې بنیاد د سلیمان ماکو تذکره هم د پټې خزانې غوندې یوه جعلی دستاوېز دے او د بیټ نیکهٔ، د ملک یار غرشین او د شیخ اسماعیل د شاعرۍ قصه هم یوه افسانه ثابته شی.» (۷)

نهٔ وایم د بې انصافی په سترګه به ورته وګوری.

(پای)

تورنټو، کاناډا، ۹- جولای ۱۹۹۴- ۱۸ سرطان ۱۳۷۳ ش

ماخذونه:
۱- تفصیل یې په خیرالبیان (عکسی چاپ) سریزه ۷۲- مخ کې وګورئ.
۲- زنځیرئ، ۴۸- ۴۹ مخونه.
۳- پټه خزانه فی المیزان، ۱۷۱ مخ.
۴- هماغه اثر- ۱۰۲ مخ (پدې مخ ارواښاد وزیر صاحب نوم سهواً ګل محمد خان مومند لیکل شوی دی.) ۵- د افغانستان تاریخی پېښلیک - ۲۸۰ مخ.
۶- جنبش مشروطیت در افغانستان. ۷- پټه خزانه فی المیزان - ۱۷۲ مخ.

مرتضی شاهین

«پټه خزانه»

د عظیم ادب عظیمه خزانه ده

زه په دې موقعه «پټه خزانه» یا د هغې مؤلف تاریخي اهمیت نه څیړم ولې چې د دې سیمینار په بلنلیک د محمد هوتک بن داؤد د ژوند او مړینې د نېټو، تصنیفونو او تالیفونو څرګندونې شوې دي. کېدای شي چې د تاریخ پوهان پرې د خپل تحقیق مطابق زیاته رڼا واچولی شي.

زه به دلته د محمد هوتک بن داؤد د دې ساري تلاش او جستجو په نتیجه کښې د حاصلې ادبي ثمرې ذکر وکړم. دا خبره د ادبیاتو د تاریخ لوستونکیو ته پټه نه ده، چې د محمد هوتک د عصر نه ډېر پخوا د عظیم افغانستان په ټولو سیمو کښې ادبي چینې راخوټکېدلې وې. د هغې د سرو او تېرو اوبو له دارو څخه نږه نږه

ویالي او لمنځي جوړېدل که د ویاړونو ګټونز دي او که د اوستا سندرې دي، د پښتو او پښتنې خاورې خوشبویه وږمې تر ینه خپرېږي، خو د دې باوجود دې پرغرونو خاورې او باکماله ځمکې خپل ادبي کلاسیک او مصنف پیدا نه کړېشو - حالانکې د عظیم افغانستان په ګوټو کښې ایران او هندوستان کلاسیکي ادبیات او مصنفین پیدا کړي وو، د هغوی د سیالۍ د کبله افغانستان هم د کلاسیک چوڼ کولو پسې لاس وپښې وهل. تلاش او لټونې یې وپسې کولو هغه د پښتنو د ذهنو او فطینو د ماغونو د جدت او فوق العاده زیا د ځریکونز ځرګندېدله. چې یوزیو ادبي لوبای به پکښې د کلاسیک چوکۍ حاصلم کړي ولې څه وخت پس به هغه غټ او واړه شهاب ثاقب د ادبي اسمان په لمن کښې ورک شول.

را خو یوه هنلې شوې خبره ده، چې دغه شان بې ربطه ځلیل د قاموس د ادبي دولت پنګه د ړنولو نه شي صرف د عالي ادب تصور او تخلیق د یو داسې مضبوط، ځین نقشه پیش کولی شي چې په هغې کښې د تسلسل سره سره د قیام قدرت او قوت وي، نو هله د قومي وحدت په روایاتو کښې د ژوند او بیدارۍ ولولې او جذبې پارولې شي. د هغې جذبې خلاق اثرونه بیا د رائج الوقت سیکې په شان خپله او راتلونکیو زمانو کښې چلیږي. د ملک ګټ په

ډېر لاس اوږد جیب ته ور سېږي. د میرویس خان بابا نه پس د پښتون قام په وجود کښې هم د قامي افتخار ارتعاش په لومړي ځل محسوس کړی شو، چې په ادبي - اسمان د پښتو د اقبال ستوري هم سر وهلی دی په دغه ایام کښې که یو خوا ته د شاه حسین په دربار کښې د خوشاندو او مبالغو شور او ځوږ وه، نو بلې خوا ته په دغه شور شغب کښې د صداقت جام هم کرنګیده شوی وه نو محمد هوتک قام سره د مصنف په حیث خپله پیژندګلوي کړې وه. د «پټه خزانه» څرګنده شوې وه. د وخت ادبي - محفلونو یې کم وو، د تحقیق اهم موضوع وه خو د مصنف سره به د هیچا په فکر کښې دا خبره نه راتله، چې یوه ورځ به «پټه خزانه» د معمولي سهو باوجود د پښتو ژبې د کلاسیک مرتبه او مقام ترلاسه کړي.

د پټې خزانې مؤلف چې کوم لعلونه د خاورو نه راخستي او تراشلي دي هغو کښې چې سره د امیر کروړ - حماسي رنګ ته او د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی قصیدو ته ګوري نو پښتو ور ته یوه فصیحه او بلیغه ژبه ښکاري او د ابوهاشم سرواني کلام ور ته هم د حضرت داود علیه السلام د مزامیرو هم پله لګي هر منصف مزاج محقق چې د پخوانو د شاعرانه کلام غنائي رغونې ته ګوري نو بیا ور سره د دې وینا ګنجایش نه پاتې کیږي، چې محمد هوتک

بن داود له کښي د روایاتو له د ارتقا او حریت په لاره.
د روانولو چل نهٔ ورتللو هغه دا سخت مهم پهٔ خوند
خوند سره رسولی دی د هغه ناقدینو ته دې څرګنده
وي چې د کلاسیک د محوه کولو او د بیخه ویستلو ـ
رواج یوازې په پښتو کښې عام دی بلکې د روانې صدۍ پهٔ ابتدا
کښې پهٔ عالمي سطحه د کلاسیکي فنپارو د تصور محدودولو
او تاریخي اهمیت کمولو سرچ پیداشوی وهٔ، پهٔ ۱۹۳۵ کښې
چې د فرانس د علومو اکاډمۍ لومړی لغت چاپ کړو نو پهٔ
هغې کښې د کلاسیک نه هغه مصنف یا تصنیف مراد اخستی ـ
شوی وهٔ چې هغه پهٔ یوه ژبه کښې د نمونې پهٔ ډول،
پیش کیدای شي د هغې نه پس یې پهٔ تحریر کښې د «مایله
د» تخلیق او ټاکلي اصولو» او د فن د یې سا قاعده تذکره
بیا بیا کړېده، لیکن اوس د هغه شان فرسوده مفهوم
ضرورت باتې شوی نهٔ دی، زما په خیال خو صحي
کلاسیک یو داسې مصنف یا مؤلف جوړیدی شي، چې د
هغه اثر د علم پهٔ مال انسانې ذهن غني کړي. او د زمانې
د قید نه آزاد پهٔ داده ترهٔ یو قدم مخکښې لاړ شي، هغه به
یو داسې فنکار وي چې هغه نا باوره صداقت نه بلکې ـ
اخلاقي رښتیا دریافت کړي، او د هغې پهٔ بنیاد پخپل تصنیف
یا تألیف کښې داسې حقیقي ښکال پیدا کړي چې د هغې پهٔ سوب
په ښجمو زړونو کښې هم دایدي جوش بوټي وټوکیږي،

هم چې په مصنف او مؤلف کښې فرق وي، خو د عقل، سوچ او فکر پانګې دواړه د علم مالک نه په یو شان خېژي زما په خیال خو محمد هوتک یو داسې نابغه ادیب دی چې د پټې خزانې نه د هغه د خیالاتو، مشاهداتو او احساساتو بوی بوی پته لګي. د اسلوب نه قطع نظر هغه په خپله عظیم او وسیع، لطیف او معقول، پرجوش او شائسته دی. هغه د هر چا سره د قدیمو شاعرانو په باب کښې په خپل مخصوص طرز د ادبي دنیا د ګفتګو انداز دی کوم چې په یو وخت کښې د قدیم او جدید یعنې هرې یوې زمانې همعصر دی. محمد هوتک نه انقلابي او انقلاب پسند او نه انقلابي ښکاري، هغه صرف ادبي جمود مات کړی دی د هغو عناصرو خلاف یې د جنګ اعلان کړی دی څوک چې د ادب په تنظیم، حسن او توازن کښې فرق او سقم پیدا کوي، هغه پس له مرګې هم په ادبي جرګه کښې بوخت دی.

«پټه خزانه» د پښتو ادب یوه بې مثله و مثال اثاثه ده، زه یې د ورکوتوالي نه لولم او داسې ګڼم لکه چې یو عظیم مصور د قدماو عکسونه مصور کړي وي.

بیان په خپله اسالیبي خطبه کښې په رغونه، ترتیب او تکمیل زیات زور راوړی دی. ځکه چې هغه توکی د صحي کلاسیکي تخلیقونو بنیادي عنصر ګڼلی شوی دی. هغه وایي چې هر موضوع یوه وي، د ژبې پراختیا باوجود په یو تحریر کښې راغونډېدی شي، که موضوعات ګڼ شي نو بیا د مداخلت او توقف نه علاوه برخه وار تقسیم څه بدکاره نه دی.

لیکن زموږ مؤلف په «پټه خزانه» کښې خواره واره مضامین په لویه استادۍ او کمال خوبۍ سره راغونډ کړي دي، او په لیکلو کښې یې د هم آهنګۍ، ذهانت او اعتدال نه

کار اخیستی دی، او س ځینې خلق دا غوښتنه کوي چې په «پټه خزانه» کښې دې بې د معقولیت نه هم کار اخستی وی، دا یوه لاطیني توجیه ده، چې اوږده موده فرانسویانو هم منلې وه. که دا نظریه و منلی شي، نو تخیل او احساس به د معقولیت تابع شي. که چیرې معقولیت پسنده لیکوالو په دې لفظ باندې بې ځایه زور نه اچولې نو شاید چې د معقولیت په توجیه کښې به حقیقت راڅرګند شوی وی، لیکن د افسوس خبره داده، چې معقولیت پسنده عناصر د معقولیت ناروا استعمال تر اخیري دمه هم پرېښودو ته جوړېږي نه.

د مثال په طور که معقولیت او شاعرانه ذهانت یو بل سره ګډ واخلی شي او یو اخلاقي مکتوب ترینه جوړ کړیشي نو دې مخلوط څیز ته به هغه ذهانت و ویلی شي د څهٔ په سبب چې رزمیه حماسې، تاریخ نما تذکرې او تاریخي ډرامې نمونې د هر رنګه جذبو د اظهار ذریعې جوړېږي. دا نتي معقولیت پسنده عناصر به په کومو کتابونو، تذکرو او روایتي تاریخونو کښې د معقولیت په شکل کښې د ملنګي په کچکول پټري وهي. او د قدیمو لیکوالو په صریح به لکه د خپې کښې چې د څهٔ وخت د پاره یې ساتنه کړي. د ادبیاتو په تاریخ کښې دا د وخت هغه شیبه وي چرته چې مونږ ته د ګونګي ماشوړې سر په لاس راځي. د موجوده ادبي او تاریخي تنازعې د مقدمې مطابق د یو ادبي اثر د کلاسیک

مثلو دوه طریقې دي، یوه دا چې یا به یې د حد نه زیات تعریف او توصیف کولی شي او دویمه دا چې یا به هغه اثر د زیات مخاصمانه تنقیص په چوب حمبلی شي، اوس دا کتل پکار دي چې د موجوده بحث کوم مفهوم مقصود دی، ایا د پټې خزانې صرف معائب په ګوته کول دي که محاسن به یې هم ښودلی شي؟ زه به په دې موقعه صرف د هغو اوصافو ذکر وکړم کوم چې زما په نظر کښې د هر کلاسیک سره موندی شي. زه دا هم نه وایم چې "پټه خزانه" د عظیم ادب عظیمه خزانه ده البته د عظمت نخښه یې داده چې د مؤلف د عصر پورې ټول خصوصیات پکښې راجمع کړی شوي دي، هغه ادبیات چې د کلاسیک جمله اوصاف یې په مختلفو شاعرانو او مختلفو زمانو کښې خواره واره پراته وو، د محمد هوتک زرخیز ذهن چې ځومره کیدی شو را ټول کړل. او پښتو ژبې له یې په ادبي لحاظ اوچت مقام ورکړ. دا هم یوه په زړه پورې خبره ده چې، د هرې ژبې خپل وسائل او حدود وي، د ژبې مقتضیات، او د هغو خلکو تاریخي غوښتنې ځوک چې په هغه ژبه ګړیږي. ماته چې د شاعرانو عظمت کوم خصایص د امیر کروړ په کلام کښې ښکاري د هغې په بنیاد به زما دا دعوه بیځایه نه وي، چې هغه یو عظیم ترین شاعر دی.

که د پټې خزانې شاعرانو له د کلام د کموت د کیله د

کلاسیکه درجه ورکولی نشي نو «پټه خزانه» دې له دې اعزاز نه نه ولې محرومه پاتې شي، که نه مونږ به کلاسیکه له د کلاسیک حیثیت محض د پس بیني او تاریخي پس منظر نه پېژندلو د کبله نه ورکوو.

«پټه خزانه» د یو اعلیٰ او مکمل تألیف نه علاوه په ګڼو حصو کښې تقسیم ده خو د موضوعاتو ګڼوالی د قدرورو لیکوال بې زړه کړی نه دی. هغه د پښتو ژبې په روایتي او ادبي تاریخي تصوراتو کښې د بیدار روح پوکه وهلو کارنامه تر سره کړېده. زما په خیال محمد هوتک یوه ابدي منصوبه پوره کړېده، په الهامي فیصلو کښې په شدت د ورو رو بیدو باوجودې یو قدم هم د ادبي پولې نه کوز ایښی نه دی.

دا کار صرف لوی لیکوال نه بلکې هر حقیقت پسند لیکوال د ژبې یو نه یو امکان د همیشه لپاره د پوره کولو کوشش کوي او د مستقبل د لیکوونکو د مخې نه یو امکان کم کړي.

که د یو بې طرفه او منصف مزاجه ناقد په حیث «پټه خزانه» د کره کتنې په ترکاڼي وتلی شي نو دا به اصلي طلا ثابته شي.

دا ادبي شهکار یوازې پښتون قام منلی نه دی بلکې په عالمي ادبیاتو کښې یې هم لوړ مقام خپل کړی دی. د دې بې مثاله او قدرورې «اثر» د سادګۍ او عظمت څنه که د مخامخ انداز خپلونکي اختلاف وکړي نو د هغوی د بدنیتۍ دغه

قدم هم د پښتې خزانې د نیکه تله درنوي.

ما ته خو د پښتو ادبیاتو کښې پهٔ دې کښې ښکاري چې د توجیه تجربه دې زیاتې بېرته کړی شي او ټولو ادب مینانو ته دې وښودلی شي چې بې د تناؤ لنډولو هم پهٔ ادبي ذهن کښې وسعت ممکن دی.

پهٔ دې لړکښې نابغه شاعر او دانشور ګویټې وئیلي وو چې زهٔ کلاسیکي ادب صحتمند او رومانی ادب ناروغ ګڼم. نني تصنیفونه په دې وجه رومانی نهٔ دي چې ګني هغه نوي دي، بلکې رومانی ځکه دي چې هغه کمزوري، ناتوانه رنځمن او ناروغه دي، او پخواني ادبیات له دې کبله په عالي ادبیاتو کښې نهٔ راځي چې ګني هغه پخواني دي. بلکې هغه قوت مندي، تازګي او صحت مندي د کلاسیک پهٔ چوکټه کښېنولي دي..

زما په خیال خو به مناسب دا وي چې د ذهن نه تعصب، باطن نه خبرې او غوږونو نه د بدبختۍ پشمونه وباسو او د پښتې خزانې په باره کښې د فیصلې اوړولو نه وړومبی د ادبي ښکلې لوړې ژورې، کنډې کپرې، غرونه ځنګلونه، دښتې اباده، کلي او ښارونه چاپېر کړو، د هغې د ابتدائي جوش او بې پایانه تلوّن سیل - وکړو، ننداري او تماشې یې وکړو. نو په یونیم ځنګلي انسان به مو نظر پرېوځي، دا څوک دی؟ دا خو هومردی

دعالیه ادبیاتو قرینکۍ، یو متفن د انسان تهٔ دی بلکې یو دوړ دی، دنیم بربری تهذیب بې ساری نمونه خو د هغهٔ دکلاسیکۍ ثابتولو دپاره. ټول یورپ مېې ونغښتې او د ادبي ایجاد، روایتي تاریخ، د فصاحت او بلاغت ټولې تمغې یې وړته په غاړه کښې واچولې، هغه یې د ادبي خوبیو او تاریخي روایاتو مرکز وبللو اګر چې د هغهٔ دفطري تقاضو د وړدې او ادبي سمسورتیا پهٔ وخت کښې به داقبضې د هغهٔ په خیال او خوب کښې هم راغلې نهٔ وې، دلې دا خبره د یادولو وړ ګنم. چې دکلاسیکۍ جوړولو کومه خاصه نسخه لا انساني ذهن ایجاد کړې نهٔ ده. کهٔ یو مصنف یا مؤلف خپل یا دبل د اسلوب نه قطع نظر صرف د لطافت او اعتدال، صحت او نفاست د څو صفتونو نقل کولو پهٔ ذریعه که د لوړې پوړې منلی شوی نو بیا به د خوشحال بابا د ځامنو نه یو تن پهٔ ادبي قطار کښې وړاندې ودریدی شو، دکلاسیکۍ مخالفت به خپل همعصرات یا وراتلونکي خامخا کوي کښې وروستو وړتر دغه چوکۍ ګرانه هم پرېوتی شي د ا ردی والو مثال به واخلو پهٔ یو وخت کښې ولی دکني دهغوی کلاسیکۍ وه، وروستو د ډاکټر امرناتهٔ تحقیق هغه دکلاسیکۍ د تاج نه محروم کړی شو، د ذوق او غالب مسئله هم لا حل کړی شوی نهٔ ده. د هغوی پهٔ صف کښې محمدحسین آزاد د، اب حیات، دخالق پهٔ حیث دکلاسیکۍ مثل کیدو مضبوط امیدوار دی.

زما په خیال د یو تصنیف یا تألیف د دې له پاره قرباني کول چې با قاعدګي او معقولیت پکښې نشته د ادبي اهانت، سپکې نظرې او دل آزارۍ نه سیوا نور څه کیدای شي، پکار خو دا ده چې هر ذهین پښتون د پښتو د سپیڅلي ادبي مذاق په عبادتګاه کښې یوه نوې ادبي کوټنۍ جوړه کړي، که څه محل جوړولو قدرت لري، نو محل دې پکښې ودان کړي، ځکه چې د تخریب نتیجه بده او د تعمیر نتیجه ښه راوزي. د پخوانیو تعمیر له وسعت ورکول پکار دی. پخوانۍ ودانۍ ورانول په تمدن، تهذیب او تاریخ باندې خاورې وراړول دي. د هغوی د پاتې اثرونو قدر او عزت افزائي پکار ده، د هغوی په پاخه رنګ خام رنګ ختېږول ادب سره قریب دی. تنقید جایز او تنقیص ناروا دی، د یو دوو مورخینو اکثرو واقعاتو ته په بیل بیل نظر کتلي دي، یو په یو شان او بل په بل شان خط بندي کړي دي، د واقدي او فرشته لیکونه د مثال له پاره پیش کیدیشي، ولې په دغو تصنیفونو چا د جعلسازۍ الزام لګولی نه دی.

ادبي تذکرې یا تاریخونه هر عالم د خپل سوچ، علم او فکر مطابق لیکي، د شاعر د کلام نه علاوه د هغه د ژوند تصویر په نثري رنګونو جوړوي، دا د تذکره نګار خوښه ده چې هغه په خپله نګارخانه کښې څوک کښېنوي. د هغې د پاتې د چیونه حق د هغه نه اخیستل په هغه یوه غاصبانه حمله ده.

ما مخکښې ذکر کړیدی چې تنقید د تعمیر دپاره او تنقیص د تخریب دپاره وي، نن چې د ځوانو پهٔ باره کښې د تنقیص او بدنامولو کومه سلسله روانه شویده، دا د ماضي سره د تعلق شلولو علامه ده. یا ثاید چې هغه زمانه رالنډه شویده چې یو ځوانی «اثر» به هم پهٔ امان کښې پاتې نشي، لیکوال به ورکٔ او کتابونه به کم شي. هغه خلکٔ خوش قسمته دي چې د مطالعې د نعمت پهٔ خوان ماړه دي، او د کتابونو پهٔ وسیله خپل ځان او وجدان بې د څهٔ قیده ژوندي ساتي، ځوکهٔ چې د تعلیمافته خلکو پهٔ سینو کښې د ادبي سیاحت ولولې ځپل او جذبې اودهٔ کول غواړي، د هغوی ارمان به پوره نشي، ځکه چې پهٔ دې سیمان کښې د خوشالۍ داغېز او ریدیشي چې د پېژندلو او بلدو ځیزونو مطالعه وکړئ، د محسوسو احساساتو نه خوند واخلئ، محبوب ځیزونه پهٔ زړهٔ پورې وینئ او بیا بیایې ګورئ. معلومیږي چې هغه زمونږ د ادبي بلوغت ورځې دي، اوس مونږ د ادب پهٔ صحي مفهوم او معنیٰ پوهیږو، کهٔ پهٔ دې وخت کښې پښتو ادب د کلاسیکٔ تاجونو اثر پیدا نهٔ کړی شو، نو د نورو تجربو دپارهٔ مونږ سره وخت شته او نهٔ د نوو ورشوګانو د تلاش شوق.

پکار دي چې دا پېژندلی شوي دوستان ځان ته راجبوخت کړو، ځکه چې زاړهٔ شات، زاړهٔ کتابونه او زاړهٔ یاران ډېر خواږه وي.

دا تېرهٔ ورته وايي، چې نن د محمد هوتکٔ په یادکښې دومره څهٔ ووايه، چې د هغه روح راپاسي او داسې ووايي چې ما د خپل خوب تعبیر واورېدو، په غړېدلو مې ولیدل چې چارچاپېره د سرو وینو نهر راغلی دی، انساني ـ سرونه پکښې لکه د پڼو سونو رغړي، ځینو خلقو په داسې حالاتو کښې مې زما په لاش پسې داپریشن چړې او قینچیانې را واخیستې هغوی رانه څړمن وباسي چې دا څړمن یې اصل، زهٔ ده څوکٔ مې په هډوکو پورې خاندي چې دا هم جعلي دي.

زهٔ خو په دې شرط راپاڅېدم، چې ګنې اسرافیل دامن شپېلۍ پوکٔ وهلې ده، هرې خوا ته مېنه مېنه ده. ورورولي ده، د ازاد افغانستان سره به په پښتونخوا کښې هم د سپرلي خوشبویې وږمې لږېږي، ګلونه به یو بل له غاړې ورکوي د بلبلو د چغارو او لولکو د اتڼونو، د جونو او زلمو نڅا او ګډا په هوا هاکښې د ټمبلونو او ډولکو د ټپا او رنګا، د بانګو کړنګا او د پیلو سړنګا هنګامې به وي. ما ویل چې، اسرافیل به د امن شپېلۍ په خپل وخت پوکٔ وهي، خو تهٔ به دومره قدر نه وایم:

شوری شد وان خواب عدم دیده کشودیم
دیدیم که باقی ست شبِ فتنه غنودیم

ګرانه هوتکه! زهٔ به ستا په حق کښې لیکم، ځکه چې زما

عمر ستا نه زیات شوی دی خو ورسره به ستا د پټې خزانې مطالعه هم کوم، ځکه چې د زړو شرابو پهٔ ښښلو د سړي - ستوماني وځي.

راځئ چې دا وعده وکړو، چې محمد هوتکٔ وي او کهٔ د پخواني ادب بل یو ترجمان مصنف یا مؤلف چې موږ ته د هغوی سره د ملاقات موقعه راپیدا کوي موږ به د هغوی اثارو سره دهوکه فریب او بې وفائي نهٔ کوو او «پټه خزانه» چې عالي شناخت یې کټلې دی، د کلاسیک متلو قرض یې پهٔ موږ پورې وهٔ، هغه ما د خپل طرفه ادا کړو، باقي ستاسو خوښه ٠

څېړنمل محمد دین ژواک

پر پټه خزانه

یو څو خبرې

په داسې حال کښې چې زما نظر دا دی چې «هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه» او د پټې خزانې پر متن خبرې د متن پېژنې خاص تخصص غواړي. او زه د کندهار په اصطلاح په دې برخه کې «ماما یم» یا په دې برخه کې بې برخې یم. نو په دغه متن زما یو نظر غوندې دا دی چې دلته هم دا تخلیقي اشنا یو تخلیق لري، هغه دا چې څوک دا متن اصلي متن بولي هغه حق لري چې یو بې زه یم ولې؟

اول دا چې دا متن یوه بې مثله متبحر علامه عبدالحي حبیبي پیدا کړی دی چې د ځوانۍ څخه تر مرګه په دغه تلاښ کښې و چې زاړه متنونه وموندي، وې وايي او

تفسیر او تشریح یې کړې چې دا توان دده اروابنا د برخه وه او د ټولې دنیا د ژبې پوهانو لکه «جاج مارګن‌سترن» د ټولې نړۍ لوی مستشرق نا روږۍ چې ما یې د خولې اوریدلې دي؛» علامه عبدالحی حبیبي د ټولې دنیا مستشرقینو یو مثلی متبحر دی.» مبه مې په یاد دي، چې «هربرت پنزل» دده د پوهې ځان مرهون باله. او ویل به یې «علامه عبدالحی حبیبي» دا سیایې برخې یو پوهاند نه دی، دی د نړۍ د تحقیق په برخه کېنې تر هرچا مثلی شخصیت دی.

په همدې شان پروفیسور «هالمت هومباخ آلماني مستشرق او «م اسلانوف» د روسي لوی مستشرق دواړو یوازې متبحر شخص باله.

د ایران علي‌اکبر جعفري علامه حبیبي د هغو لویو شخصیتونو څخه باله چې په ایران کښې د ایران د تحقیقي برخې ستوری بلل کیداي شي لکه لوی مؤرخ نفیسی او په دې منطقه کښې چا نه مانه؛

که څوک دده د تحقیق یا دده په برخه کښې څه وایي زما په خیال د سپوږمۍ مقابله دلمر سره.

پته خزانه ده پیدا کړه، ده تشریح کړې ده، ده یې د شعرونو د تحلیل توان درلود چې دا دعوه کولی شم بل څوک تر اوسه په دې منطقه کښې نه دی پیدا

شوي چې د ده د پوهې، زیار او تحقیق سرحد تر وېني.
پټه خزانه یا اوله نثري نمونه د ده د زیار برکت دی
چې ټول پوهان یې باید ومني.
ګرانو د پښتو ژبې ننني پوهانو!

که ووایم چې د شلمې پېړۍ د پښتو ژبې ژوند او د ادب سره دی رهبرو او دی، دا کومه مبالغه نه ده هر محقق چې موږ یې محقق بولو. د ده د پوهې، زیار او کوښښ سره سیال نه دی، دا خبره په ډېر جرأت کوم، په دغه اساس چې د ده په برخه خبرې کوي، باید شاوخوا د نظرخاوندانو ته یو وار وګوري، او بیا ځان یو «کذاب محقق» و- بولي. زه ډېر حیران یم چې د دې ډوله راته په برخه کښې څرنګه د کوم لوی کار په ښودلو د ده پر کار او زیار د څه ویلو جرأت کوي.

په هر حال زه مطلقیت نه منم یو دګماټیسټ نه یم. مګر دا باید ومنل شي چې کله کله ځیني وقت، د حقیقت لمر ته دعوه داره دوی ګوتې نیسي او پټوي یې موږ وینو چې حضرت محمد (ص) ته «رشدي» پیدا شي خو هر وخت ګذابان نه شي کولای چې د الهي، د فضل او مرحمت خاوندان کوچني وښیي، بلکې ځان کوچنی کوي، پر علامه حبیبي د ده پر پوهې او حقیقت-

پسندیده خبرې کول یو اسان کار مه بولئ. پته خرا نه علامه حبیبي پیدا کړه، علامه حبیبي یې متن وویلای شوای او تشریح او تحلیل یې کړای شوای مگر د هغې ورځې چې داوثیقه ښکاره شوه بله کومه وثیقه چا میدان ته کړې ده؟

یه؟ هرگز یه؟

دوهم زه د علامه حبیبي سره د هغه وخته نه اشنا یم چې ده اروابناد په کندهار کښې «طلوع افغان» پښتو کړه او دده لومړیه لیکنه بیا تر پخوالي ما لیدلې ده او دده د لیکنې د سبک سره د یوه کندهاري په حیث او هم د یوه سابقه دار او لیکوال په حیث اشنا یم او د پټې خزانې لیکنې سبک چې زما د سیمې دی د پوه مشر لیکونکي په څیر را معلوم دی. په کندهار کښې پروفیسور اروابناد نوري، د مرحوم استاد بېنوا او کاندید اکادمیسن محمد ابراهیم عطایي د نثر لیکونه چې ښه سره نژدې دی او په عین حال کښې بیل هم دا ټول د پټې خزانې د سبک سره برابر نه دی. د پټې خزانې سبک پوخ دی خو د معاصر سبک سره د سیمې په لحاظ نژدې مگر په عین حال کښې بیل دی که وویل شي چې د پټې خزانې نثر دی ټولو ته نژدې دی او د

منلو وړ دی. خو دا چې یو ته یې نسبت کیږي دا د منلو وړ نه ده، او اروا ښاد علامه حبیبي یو خاص سبک ځانته پیدا کړ چې اوسني سبک ته ډېر نژدې والی لري نه همږغواني سبک ته د تابع والي په نسبت ورته دی. د پوهانو علامه حبیبي سبک بیل دی. راغلو بیرته پر متن خبرې کول د متونو تخصص غواړي چې په تأسف مونږ د پښتو اوسنیو پوهانو په ډله کښې دا ډول متخصص نه لرو چې پر پټه خزانه یا د اخوند درویزه او پیر روښان پر متن د متني فن په اساس څه وویلای شي خو د باندني پوهانو د پاره هم دا کار ګران دی او که یې وکړي. د منلو وړ ځکه نه دی چې ژبه هم لغت لري او هم اډیم (اصطلاح) او ډېر دیه ژبې خاوند د اډیم په لحاظ دا صلاحیت نه لري چې تر دې عهدې ووځي مثلاً، کوږ، مالو، لوټکین او دا بک. یا چکچکی او نور علامې پر لغوي معنا خاص اصطلاحي معنا هم کړې چې دا پوهه د ژبې خاوند سرشته او هغه چې مورنۍ ژبه یې پښتو نه وي نه شي کولای چې پښتو ژبه تر خپل متني حکم لاندې راولي نو د یو نیم مستشرق حکم د پښتو د ږغواني متن په برخه کښې د منلو وړ نه دی. مثلاً لوی مستشرق. جارج مارګنسترن په ۱۳۳۲ هش کښې پوهاند رښتین ته په یوه لیک کښې لیکي " . . . اوس په دې وختو کښې هم

ډېر نوي کتابونه راورسېدل، لکه د خوشحال خټک بازنامه د بهايي جان کليات، او د ګل پاچا الفت ادبي بحثونه ددې ټولو کتابونو او مجلو د کتنې څخه راته ډېره فايده ورسېږي. مارګن مستشرق (ادبي ليک د رښتين ليکنه) زما په ياد دي چې د سنايي شيخ او شاعر په سيمينار کښې علامه حبيبي مرحوم، بناغلي دريانکو، مستشرق ته وويل: "تاسي خو زموږ د پوهې په اثر پر پښتو څه ليکي، نو هر وخت زموږ مرسته غواړئ، پرخپلې پوهې تحقيق، خاوندان کېږئ، نو که کوم مستشرق په پټه خزانه څه وايي هغه به د نفعې نه خالي نه وي، او د پښتو پوهانو څخه هيله ده چې هرکان نه شي، شاعر هيڅ کله د متن د پېژندنې په حيث د اعتبار خاوند نه دی ياخو د علامه حبيبي پر کار څه روا دي، خو دويلو سره اندازه ضروري ده شلمه پېړه يعنې د علامه حبيبي پېړۍ ده انوري يې بنهٔ راته ستورې دي دادي زما نظر په عمومي رنګ خو د پټې خزانې د متن په برخه کښې به مامطاغوکړي صرف دومره ويلای شم چې علامه حبيبي او پټه خزانه ده پيداکړې ده دده په برکت به موږ ګټه ځينې اخلو علامه زموږ د پښتو د پوهې روح روان دی او په ده پسې روانېدل ثواب بولم.

ګل محمد بیتاب

پټه خزانه

دپښتو وړومبی نقاد اخوند درویزه ګڼلی شي او هغهٔ چې د تنقید کوم بنیاد ایښی وُ، نو دخدای فضل دی موږ هم هغه شان او هغه طور طریقو سره پوره پوره بحال ساتلی دی. یعنې دا چې د پښتو دغه وړومبی نقاد هم دخپل یو همعصر پهٔ کتاب بې ځایه تنقید کړی وه! او دهغهٔ د سوزولو فتویٰ یې جاري کړې وه. دغه رنګا زموږ یو موجوده نقاد هم «د پټې خزانې» پهٔ حقیقت بې ځایه تنقید کړی دی.

د دې مطلب دا شو چې د تنقید پهٔ حقله زموږ قدامت، عمر او معیار لا هم هغهٔ هومره دی څومره چې خوا وشا دري څلور سوه کاله پخوا وو. نهٔ خو چې دې حال ته ګورم نو هغه دخدای بخښلی فریحان شیدا بابا

خبره را یادیږي وئیل یې: د پښتون نه چا تپوس کړی وه چې ستا عمر به څومره وي؟ هغه وی پنځوس کاله. سړي ترې یو پنځه شپږ کاله پس بیا پوښتنه وکړه چې ستا عمر څومره دی؟ هغه جواب ورکړو چې پنځوس کاله. یو لس دولس کاله پس یې ترې بیا پوښتنه وکړه چې اوس به دې عمر څه وي؟ په جواب کښې یې ورته واوئیل: د پښتون یوه خبره وي. یو ځل مې درته وئیلي دي چې زما عمر پنځوس کاله دی. بس دا به هم دومره وي. په دې کښې اوس نه زیاتی کېدلی شي او نه کمی.

د شیدا بابا دا خبره زمونږ د تنقید د معیار صحیح ترجماني کوي. مرحوم دې الله تعالی وبخښي. ډېر د کار سړی وه. په ګپ ګپ کښې به یې ډېرې د کار خبرې کولې. یو ځل ترې ما پوښتنه وکړه چې د پټې خزانې په باره کښې دې څه خیال دی؟ نو راته یې ووې چې مطلب دې څه دی؟ ما وی نن سبا په دغه کتاب بحثونه کېږي. څوک وايي چې دا اصلي دی او څېنې ورته د شک په نظر ګوري. هغه راته یو خپل مخصوص انداز کښې ووې چې وګوره که چیرته یکښې حبیبي صاحب خپل نیکه یا غړ نیکه لوی شاعر ګڼلی وی - نو کتاب به مشکوک وي. او که داسې نه وي نو بیا کتاب د هر قسمه شک نه بالاتر دی.

ترڅو پورې چې د پټې خزانې د حقیقت خبره ده، نو

موږ سره د دې نه بغیر بله کومه لاره نه پاتې کېږي چې دا ومنو چې دا کتاب د محمد هوتک تألیف او یو حقیقت دی.

خو قلندر صاحب د تنقید په لړ کښې ډېر عجیبه طبعیت لري، پښتو ادب کښې چې کوم شاعر د ده د موقف تائید کوي، نو هغه به اصلي شاعر وي او چې چا د ده د مقصد خلاف شاعري کړې وي، نو د قلندر صاحب په خیال د هغه په دیوان کښې به یا خو چا ګوتې وهلې وي او یا به هډو دغه شاعر تېر شوی نه وي. لکه د «هیواد» مثال به یې واخلو هیواد په اکثرو زړو دیوانو کښې د ملک په معنی استعمال شوی دی. خو قلندر صاحب وايي چې نه د دې لفظ معنی ارومرو «فاصله» ده.

په پښتو او نورو ژبو کښې ډېر لغات داسې شته چې مختلفې معنی لري. «بوره» چې موږ یې د لرګو بور ته او افغانان یې چیني ته وايي. «کالی» موږ یې د «زیور» په معنی اخلو خو بره پښتانه یې د «سامان» او «جامو په معنی اخلي. دغه شان قلندر صاحب د الفاظو د معنو د اختلاف په بنیاد پېښې خرابې ته د شک په نظر ګوري حالانکې د هغه خپل یو شعر دی:

ستا د کالو د ښرنګهر په وجه
زما ځواني ولې کالي، کالي شي

اوس که بره پښتانه د لفظ «کالي» په خپل مفهوم کښې

تشریح کول وغواړي، نو ددې شعر تشریح به څنګه کوي؟ یا د لفظ «کالي» د معنی د اختلاف او د هغوی د دغه شعر په وجه د هغه کتاب ته څو جعلي وایي، نو دا به تر کومه حده صحیح خبره وي؟

خو قلندر صاحب ډېر د مزې سړی دی. یو ځل ورته ما وې چې د نورو شاعرانو سره سره شمس الدین کاکړ هم د «هیواد» لفظ د وطن په معنی استعمال کړی دی. چې یو صاحب دیوان شاعر دی نو ما ته یې و وې چې «شمس الدین کاکړ خو جعلي شاعر دی». ما ترې تپوس وکړو چې په دې کښې د چا څه مطلب یا چې خپل روغ دیوان یې د بل چا په نامه کولو. نو را ته یې و ویل: «د دې یواځنی مقصد دا وو چې پیر محمد ته پرې کاکړ و وایي حالانکې هغه کاکړ نه دی». مطلب دا چې «ور سره چې پیر جلال وي نو ګېدړ به پرې حلال وي» او که نه وي نو ښکاره خبره ده چې په پنځه واړه مذهبه حرام دی. که کوم شاعر «هیواد» د وطن په معنی راوړی وي هر څه چې وي د قلندر صاحب په خیال هغه جعلي دی. او که د «فاضلې» په معنی یې راوړی وو. نو بس اصلي دی.

قلندر مومند یو اعتراض په «پټه خزانه» دا هم لري چې پخوا په کتابونو د صفحو په ځای رکابونه وو، او د پیرګرافونو لیکلو کوم رواج نه وُ. په دې غرض چې

ما په پښتو اکېډېمۍ او نورو ځایونو کښې ځینې قلمي نسخې وکتې. نو هلته را ته معلومه شوه چې د هغه دا خبره څه نا څه حقیقت لري، او په اکثرو نسخو رکابونه دي، البته پښتو اکېډېمۍ کښې ما یوه قلمي نسخه ولیده چې "ګلستان بزبان پښتو" ورته وایي او په دغه کتاب د رکابونو په ځای صفحې لیکلې شوې دي. خو چې ما کله قلندر صاحب ته دا خبره وکړه نو هغه وې چې دا به پرې چا وروسته لیکلې وي. ما ور ته ډېر ووې چې ته صاحبه په هاغه قلم باندې صفحې لیکلې شوې دي په کوم قلم چې کتاب لیکلی شوی دی. خو څوک چې د قلندر صاحب سره څه موده پاتې شوي دي، نو هغوی د دې معاملې نه په ښه توګه خبر دي چې هغه یوځل په کومه خبره ونښلي نو د هغه کوڼ به مثال دي چې ژبه یې روغه وي خپله وایي او د بل نه اوري.

خو د ټولو نه عجیبه معامله د پیرګرافونو په لړ کښې راپېښه شوه. او هغه دا سې چې زه او همېش خلیل صاحب یوه ورځ پښتو اکېډېمۍ ته لاړو او چې د غلته په لائبرېرۍ کښې یو کتاب په ګوتو راغلو چې "قلب النبي" نوم یې دی. په دغه کتاب کښې ځینې پیراګرافونه په نظر راغلل چې په "پښتو اکېډېمۍ" او بیا ثبت کښې مو هم د کار کونکیو ځینو کسانو نه د هغې تصدیق وکړو. او هغوی هم ټولو په یوه خوله دغو ته سکوټ پیراګرافونه ووې. خو چې کله قلندر صاحب له لاړم نو د هغه قلندرې

دغه وخت و منله، چې ماته یې ووې تاچې کوم کتاب کتلی دی دهغه یو فوتوستیټ ماسره هم شته. راشه ماته یې هم پکښې وښایه غالباً په دوارو نسخوکښې فرق صرف دومره وه. چې پښتو اکیډمۍ کښې د پروت نقل باینډنګ د ښي ارخه او د قلندر مومند سره پروت نقل باینډنګ په انګرېزي طرز یعنې د کیس ارخ نه شوی وه. خو د قلندر صاحب دغه کتاب کښې ما هیڅ یو پیراګراف وته موندلی شو. او دلته په ما هغه توقه شوه. لکه زمونږ په علاقه یو قصه مشهوره ده چې د خوګمو میاں عمر له یوه زنانه راغلې وه، چې په غېږه کښې یې ماشوم نیولی وه. او میاں صاحب ته یې عرض وکړو چې دا مې څلورمه لور ده، خدای ته دعا وکړه چې ما ته زوی راکړي. کنه خاوند به مې ژوندی پرې نږدي، میاں عمر دې اورېدو سره په وجد کښې راغلو او ورته یې ووې، چې ستا په غېږ کښې نیولی دغه ماشوم هلک دی. ښځې چې ماشوم ته وکتل نو هغه په حقیقت کښې هلک شوی وه. ښځه د خوشحالۍ نه په منډه روانه شوه چې د پلاهنی سره نږدې په صابي کلي ورغله چې دغلته یې بل بابا غالباً چې په "شهید بابا" شهرت لري، هغه چې را ښځه ولیده هغه ترې پوښتنه وکړه چې چیرته دومره په منډه روانه یې؟ هغې ورته قصه وکړه. شهید بابا ورته ووې، لیونۍ

مندۍ مه وهه په غیب کښې دې نیولی ماشوم هلته نه جینۍ ده. ښځې چې وکتل نو واقعې دغه ماشوم ته پېرته جینۍ جوړه شوې وه. ښځه بېرته ځوکنو ته راغله میان صاحب ته یې بیا قصه وکړه. هغه ورته بیا ووې "یو ځل خو مې درته وویلي کنه چې هلک دی. اول ماشوم ته ګوره نو بیا خبرې کوه" ښځې چې بیا ماشوم ته وکتل نو ماشوم هلک وه. ښځه بیا لاړه او شهید بابا ته یې ووې چې تا خو راله جینۍ کړې وه. میان صاحب بیا هلک کړو. هغه ووې چې زه یې جینۍ کړم بیا نه شي هلک کېدی. ښځې چې وکتل نو بیا ماشوم جینۍ شوې وه. ښځه بیا میان عمر راغله. هغه ورته ووې "دا ته په کومه لاره ځې" وې د شهید بابا په لاره. نو میان صاحب ورته ووې "که هلک دې پکار وي نو په بله لاره لاړه شه. او که جینۍ دې پکار وي نو په هغه ورشه، یا ماله راځه او یا هغه له" نو د پټې خزانې په معامله هم د همیش خلیل او قلندر مومند مثال د دغه باباګانو دی. که ځوک قلندر مومند له ورشي نو ورمبی خو دا چې پټه خزانه به یو جعلي کتاب ګڼي. او که نه وي نو څه نا څه شک خو به یې ضرور پیدا کیږي. او چې همیش خلیل له ورشي نو بیا په "پټه خزانه" بېرته ایمان راوړي. او که خدای مې نه خطا کوي نو په دې څلوړو واړو باباګانو کښې دا

یو قدر هم مشترک دی. چې د څوکنو ته صابی او د ـ اشنغری ته تاکال پورې فاصله به هم یو هومره وي. داسې اوړو چې پخوا به د ولیانو خپل خپل حدونه مقرر وو. نو دغسې دا دواړه ادبي ولیان هم دي چې هر یو د خپلې، خپلې علاقې بې تاجه بادشاه ګڼلی شي. او چې څوک هم په دوی کښې د چا علاقې ته ورداخلیږي نو بايد چې «هغه» په لاس بیعت کوي. خو زموږ د ټولو نه لویه المیه داده چې جدید مواصلاتي نظام ددې دواړو «باباګانو» داستانو ترمینځه فاصلې کمې کړې دي، او بل دا چې دواړه په داسې ځایونو کښې پراته دي چې هر شاعر، ادیب به خامخا د دواړو په علاقو ورځي. خو ویریږمه هسې نه هغه توقع راسره وشي لکه د حمزه شینواري خبره:

دوه مینې ښفنې کښې بس د دوه میچنو پلو دي
څوک چې پکښې راغلو خامخا د مینځه ووتو

قلندر مومند وایي چې «پټه خزانه» جعلي کتاب دی. کوم چې مرحوم حبیبي په دې غرض جوړ کړی وه، چې د افغانستان په خاوره پښتو ژبه او پښتون قام د دې خاورې اصلي او سیدونکي تسلیم کړي خو بیا یې په حبیبي صاحب دا تنقید هم کړی دی چې ده د ځینو ټکو معنا غلطې لیکلې دي. که دا خبره رښتیا وي

نو بیا حبیبي صاحب به داسې تکي ولې استعمالول چې په خپله یې په معنیٰ نه پوهیده. او بیا داچې دحبیبي مرحوم متعلق داکټرو لیکوالو رائې دا ده چې هغه که هرڅو دتحقیق د میدان ستر شهسوار وو، ولې د دویمې نه بلکې د درېمې درجې شاعر وه. او لا داچې یو شاعر څنګه کولی شي چې شلو دېرشو شاعرانو له مختلف قسمه شاعري وکړي.

هسې دحبیبي مرحوم متعلق یوه خبره زیاده شوه. او هغه داچې دپښتو آدب او تحقیق او ودې دپاره د هغه هومره کار نه وړاندې چا کړي دي. او نه به یې کېدی شي چې د هغه نه وروستو څوک وکړی شي. خو د بدقسمتۍ نه هغه په داسې وخت کښې وفات شو چې د هر افغان په کور کښې ماتم دی. د هر کور نفري ساړه او دیوالونه پرېوتي دي. خلق په خپلو غمونو دي، نو ځکه ترې حبیبي صاحب هېر شوی دی. خو حبیبي صاحب لکه څنګه چې په ژوند د کمال خاوند وو. پس د مرګه خو د هر محفل چراغ جوړ شو، بیا خصوصاً قلندر مومند چې کله د هغه خلاف کتاب ولیکلو نو د هغې ورځې نه وروستو خو هر ځای او هر محفل کښې هم د هغه خبرې کېږي چې دا خبره شاید تر ډېره وخته جاري وی، البته اوس به د دې ستر ادبي شخصیت سره د همیش خلیل او

قلندر مومند نومونه هم یادېږي.

پاتې شوه دا خبره چې «پټه خزانه» اصلي کتاب دی او که جعلي؟ نو په دې لړکښې داسې کوم ثبوتونه د هیچا سره نشته، چې ګنې پخوا به «الف» داسې لیکلی کېدو او اوس داسې. بلکې دا دواړه «متن پوهان» دي. او د هغې په بنیاد، یو دا کتاب جعلي او بل یې اصلي ګڼي، البته د قلندر مومند دا خبره لږ تحقیق غواړي، د «ځ» توری د وزیر محمد ګل خان ایجاد دی. او «ګ» وړاندې نه وه بلکې «ګ» به لیکلی شو، په دې حقله لا کومه سکوته فیصله ځکه نشي کېدی. چې همیش خلیل لا خپل جواب پوره کړی نه دی. او ورسره قلندر مومند هم وخت په وخت ځینې ضروري وضاحتونه کوي.

د قلندر مومند او همیش خلیل په یو بل دا ټوکې د پښتو ادب په ګټه تمامېږي خو بائید چې دواړه په دې لړکښې لږ غوندې د پراخ دلی نه کار واخلي. او د یو بل د اهمیت نه سترګې پټې نه کړي، لکه څنګه چې دوی په شعوري توګه کوشش روان کړی دی. چې د یو بل نوم قدرې هم نه اخلي. چې د دې ابتدا، قلندر مومند کړې ده. ما ترې یو ځل پوښتنه کړې وه. چې ته ولې د هغه نوم نه اخلي؟ نو هغه راته وې «همیش خلیل صاحب په دې خپه کېږي» او ما وې په تنقید. نو بیا

يې غږ ونه کړو۔ او چې کله د همیش خليل صاحب کتاب چاپ کېدو نو هغه هم زما د بيا بيا خواست په جواب کښې دغه يوه خبره کوله چې" قلندر صاحب هم په دې خفه کيږي۔ او ما وې په تنقيد نه خفه کيږي. نو را ته يې وې "که په هغې خفه کېدو نو په بل به يې ولې کولو۔

ډاکټر میاں سهیل انشاء

پټې شاعرانې

د پښتو ژبې د لیکنې ادب لرغونتوب څه کم او زیات دوه نیم زره کلن دی. د پښتنو د دې مسووایزه ډبرلیک کوم چې په میخي خط لیکلی په پښتون کښې موندلی شوې ده (۱) د دې لوے ثبوت دی، د دې نه مخکښې هم د دې ژبې څرکونه د بېلابېلو ډبرلیکونو نه واضح کېدے شي بیا دا څه (۲۳۰۰) دوه زره درې سوه کاله پخوانۍ خبره ده چې د ملندا پاچا او ناګاسینا عالم ترمنځه په ساکالا نومې ښار کښې بحث د مباحثې وشوې. دا ټول بحثونه په یو کتاب کښې راغونډ کړی شول، او د «ملیندا پنهو» په نوم ولیکلے شو. ساکالا نه مراد موجود سیالکوټ دے، کوم چې د پنجاب یو تاریخي ښار دی. دغه مطلب د «ملیندا پنهو» د پالي ترجمې په پیل کښې داسې لیکه (۲)

»Milinda namaguraja sagala y·am
paruttame upagumchi Nagasenum.

یو بل پروفیسر رنجیت سیتارام پنډت د کشمیر د مشهور ،، تاریخ راج ترنګنۍ (د ٤٤٥ هـ ق تألیف) د انګریزي ترجمې په لومړۍ ضمیمه کښې د ملیندا پنهو نوم په زړه پښتو بللی دی. د ده خپل عبارت داسې دی:

The Milinda panho was origionally written in old pashto of which no copy is now existed.

ترجمه: د ملیندا پنهو اصلي متن په زړه پښتو کښې شوی دی چې اوس یې نسخه نه ده پاتې. (٣)

بودائي راهب ناګاسینا سره د هند د یوناني باختري باچا (مناندر) بحثونه په دې «ملیندا پنهو» کښې راټول شوي دي. په پالي ژبه کښې د دې ژباړې خطي نسخې په برما، سیام او سیلون (سری لنکا) کښې لیدلې شوي دي. اوس نسخه یې د جاپان د شهنشاه میکاډو په کتب خانه کښې خوندي ده. دلته غټه خبره دا ده چې د میکاډو د کتب خانې نسخه د اصلي پښتو کتاب پالي ترجمه ده. (٤) د دې کتاب د را برسیره کېدو نه دا خبره جوته شوه چې د پښتو ژبې د لیکني ادب قدامت ٢٣ سوه کاله پخوانی دی او دومره زوړه یې کړې ده چې نورو ژبو کښې ترینه ترجمې هم کېدې. د اوسني راجستهان په «منډرو تو کښې یو پوجاري څخه یو جونګ تر لاسه شوی دی، چې په کښې د بېلا

بېلو ژبو دعاګانې موجود دي. یوه دعا ورکښې د پښتو ژبې هم ده.
دا دعا منظومه ده او په «دوبلا ګرې» خط کښې لیکلې شوې ده (۵)
د دې دومره خبرو نه دا اندازه ولګیده چې د پښتو ژبې
د ادب لرغونتوب دوه نیم زره کلن دی. نو د ژبې د وینګ
لرغونتوب خو به بې د هغې نه هم زر یونیم زره کاله پخوانی
وي. ولې د دې هر څه باوجود د اعتبار وړ دلائل نمونې
په لاس کښې نه وو. چې په داسې قسمه حال او چاپېریال کښې
د پښتو ژبې یو ستر خواخوږے او لوے څېړنوال جناب محترم
عبدالحی حبیبي صیب پښتني احساس راوپاریدو. او د پښتو ژبې
د زړو نښو په لټه او لرغونو کتابونو په پلټنه سفر کولو
باندې مجبور شو. او د ۶۱۲ هـ ق د سلیمان ماکو د «تذکرة
الاولیاء» یو څو پاڼې یې پیدا کړې. د دې سره د پښتو ژبې
ادبي لرغونتیا تر یوه حده پورې ثبوت ته ورسیده. (۶)
د دې نه پس بیا هم دا لوی اقدام په ارام کښې نه ناسته خپل لټون
یې جاري وساتلو او د پښتو د ادب یو داسې ورک اثر یې پیدا
کړو چې نمونې د بالغ ادب زړښت یې تر ۱۳۹ هـ ق کال پورې
ورسولې او هم په دې کال د امیر کروړ ویاړنه سره کړې
خبرې ته پرېباسي چې هر کله نمونې ادب دومره جاندار
وي نو عین امکان دی چې نمونې د ادب دې نور هم زیات
لرغونې وي، د اکتاب «پټه خزانه» نومیږي. د دې کتاب بلا زړښت
دا دی چې د دې مونږ ته تر اوسه پورې څو مخکښان د ادب

په بېلابېلو ژانرونو کښې په ګوته کړل. ددې په ذریعه موږ ته د پښتو ژبې وړومبنی حکمران او د توري او قلم څښتان شاعر وړومبنی ساقي نامه نګار، وړومبنی حماسي مثنوي لیکونکی، وړومبنی عرفاني شاعر، وړومبنی مترجم او نقاد، وړومبنی منظوم لیک لیکونکی، وړومبنی منظوم غبرګون لیکونکی، وړومبنی تاریخ لیکونکی، وړومبنی قصیده لیکونکی او وړومبنی مرثیه لیکونکی او پېژندل، ددې په برکت سره د پښتو ادب د ګلبڼ ډېر نامعلوم شاعران معلوم، تت شاعران جوت، پټ شاعران ښکاره او ورک شاعران رابرسېره شول. هم ددې کتاب په ذریعه موږ د خپل یو لړ کتابونو سره هم اشنا شو چې اوس ورک دي. لکه لرغوني پښتانه، تذکره غرغښت، غرغښت نامه تاریخ سوري وغیره وغیره. چونکې د کتاب لیکونکی محمد هوتک د ادب پروره بادشاه شاه حسین هوتک د دربار مصاحب او دهغه په دربار کښې جوړ شوي د ادبي دربار منشي و. پدې وجه دهغه په لاس کښې یې د عربي او فارسي تذکرې موجودې وې. او دا وجه ده چې کتاب یې په داسې ډول مرتب کړو چې د دےنه مخکښې د فارسي ژبې شاعرانو هم خپلې یادې ته ورته انداز کښې لیکلي دي. د محمد هوتک نه کم او زیات دوه نیم سوه کاله پخوا میرزا طاهر نصیرابادي د "تذکرة الشعراء" په نوم یو کتاب وکښلو چې ترتیب یې پټې خزانې ته ورته ده. ددې کتاب اولنۍ حصه په مقدمینو، دویمه په متوسطینو

او پر متاخرینو باندې مشتمله ده. د ۱۰۰ هـ ق لیکلی شوې «روضة السلاطین» هم د تیماني په بنیاد لیکلی شوی دی او له د پټې خزانې په اخیره کښې د میرمنو برخه هم لري (۷) او بیا د علي شیر نوایي کتاب «مجالس النفایس» پټې خزانې سره د ورته والی لري، چې پر شاعرانو سربیره شاعرانې هم معرفي کوي. (۸) په دې توګه محمد هوتک د اسلافو د ترتیب نه پوره پوره استفاده کړې ده.

د پټې خزانې بل ارزښت دا شو چې موږ ته یې په دریمه برخه کښې د ښځینو شاعرانو پېژندګلوي هم وکړه. د پښتو په کلویقه یا ټولنه کښې دا ډېر ګران کار دی چې د ښځینو شاعرانو څرک ولګوي او بیا یې د کلام بېلګې راټولې کړي. ولي محمد هوتک په داسې قسمه مهال او چاپېریال کښې ځان دې ته چاو دې کار ته چمتو کړو، او د ښځینو ادیبانو په لړ کښې چې کوم کمبوت محسوسېده، هغه دې قدرمن انسان پوره کړو. په دریمه خزانه کښې یې موږ ته شپږ شاعرانې معرفي کړې دي. د هغوی نومونه دا دي: ۱- نازو توخۍ. ۲- حلیمه حافظه. ۳- بي بي نیکبخته. ۴- بي بي زینب. ۵- زرغونه کاکړه. ۶- رابعه چې په کرنالوجیکل ترتیب یې نمبر ۴-۵/ ۳، ۶، ۱، ۲، راځي. په دې شپږو ښځینو شاعرانو کښې هم درې شاعرانې په بېلابېلو ژانرونو کښې د مخکښانو په قطار کښې راځي. نازو توخۍ تراوسه پورې وروستۍ د توري او قلم څښتنه ده، بي بي زینب اولنۍ ښځینه مرثیه لیکونکې ده او زرغونه کاکړه اولنۍ مترجمه او خطاطه یا کاتبه ده، بلکې اولنۍ

منظومه ترجمه په ښځمنو کښې د زرغونې کاکړې ده. اوس به موږ ده د پټې خزانې ټولو ښځمنو شاعرانو په ژوندانه د ذکرشوي کتاب او څه نورو منابعو په ذریعه څه رڼا واچوو.

(۱) نازو توخي

(الف) د کتاب د درېمې خزانې د ترتیب په لحاظ سره ورومبۍ شاعره.

(ب):- د کرنالوجي د ترتیب په لحاظ سره: څلورمه شاعره.

(ج):- اندازاً زوکړه : ۱۰۹۱ هـ - ق.

(ح) اندازاً مړینه : ؟

(د) زېږنځۍ : تازی.

نازو توخي په تاریخ کښې د نازو انا په نوم یادېږي. کوم چې د سلطان ملخي توخي لور ده، د پښتو مېرمنو په تاریخ کښې ورومبۍ ښځه ده چې د تورې او قلم څښتنه یې بللی شو. د دې پلار سلطان ملخي توخي د سوره غر سره نږدې په یو جنګ کښې مړ شو. نو د نازو ورور او د سلطان ملخي زوی حاجي عادل د خپل پلار بدل اخیستو پسې روان شو. د قلعې د حفاظت ذمه داري د نازو انا سر ته راغله. دغې غیرتي مېرمنې د لوی حوصلې نه کار واخیستو. توره یې پورته کړه. او ځان یې د قلعې ژغورنې ته چمتو کړو، قلعه یې ډېره په مړانه له دښمنانو نه وژغورله. (۹) دې نه پرته دا مېرمن ډېره سخې، زړه سواندې او میلمه پاله ښځه وه، دا مېرمن د کرم خان په

زوی ښالم خان هوتک باندې واده وه. د دهٔ د نوم په وجه داخیل ښالم خیل بللی شي. دې ښالم خیلو په قندهار او اصفهان باندې بادشاهي کوله، د نازو انا څلور زامن وو، مشر حاجی میرخان وچې په تاریخ کښې په میرویس نیکهٔ شهرت لري، نور زامن یې عبدالعزیزخان، یحیی خان او عبدالستار خان وو، یوه ورځ نازو انا خوب کښې شیخ بیټنی نیکهٔ[1] ولیدو، دې نیکهٔ اشان نازو انا ته خوب کښې ووې چې دا زوی میرخان ښه تربیت کړه چې دی لوی شي نو غټ کارونه به ترسره کړي او بیت الله شریف په زیارت به مشرف شي. او په اولاد کښې به یې پیدا شي، بادشاهان نازو انا خپل ټول زامن ښه وروزل او په اودسه به یې ورته شېدې ورکولې (۱). هرکله چې میرخان سړی شونو ریښتیا سره خدای پاک ترینه لوی لوی کارونه واخیستل داهغه سړی وچې قام یې د ظالم سفاک ګورګین د ظلمونو نه خلاص کړو. او په کال ۱۱۱۹ هـ ق کښې یې دا ظالم حکمران قتل کړو. د نازو انا د اشعارو یو دیوان هم وچې دوه زره (۲) اشعار پکښې خوندي وو. ویلی شي چې میرویس نیکه هم ښه شاعر وؤ فی الحال یې صرف دا یو شعر نمونه په واک کښې دی:

عرض مې نه لګی پر ناتمام پاچا
خو به کومه پیادو نه ....

میرویس نیکه.(۱)

د نازو انا صرف یو رباعی چې د زماني د توپانونه ژغورل

شوې او موږه ته را رسیدلې ده هغه داده:

سهرګاه وه د نرګس لیمهٔ لاندهٔ — څاڅکي څاڅکي یې له سترګو څڅیده
ماري خهٔ دی بنګلی ګله ولې ژاړې — دهٔ وی ژوندی دی یو څوله خندیدهٔ

(نازو انا) (۱۲)

د نازو انا د ګل داکیسه د بنګال نوبل انعام یافته شاعر رابندرناتهٔ ټیګور هم په بنه الفاظو کښې یاده کړې ده. دی وایي: „داکوچنیه یږ، غوندې ګل و شکوه وايي خله ځنډ مه کوه هسې نه چې دا ګل مراوږ شي او خاورو سره خاورې شي،، علامه شیخ محمد اقبال هم ګل ته ور ته دا سې قصه اشعار ویلي دي: (۱۳)

شب زار نالید ابر بهار — که این زندګي ګریه پیهم است
درخشید برق سبک سیر ګفت — خطا کرده یی خنده یکدم است
ندانم به ګلشن که برد این خبر — سخن ها میان ګل و شبنم است

(علامه اقبال) (١٤)

د نازو انا وجود د افغانستان په تاریخ کښې یو درخشنده باب دی. د دې په واده سره د افغانستان دوه ستړې او موږې قبیلې هوتک او توخي یو بل کښې و تړل شول. او په دې توګه نازو انا د افغانستان په تاریخ کښې د تورې او قلم څښتنې، د علم و ادب میرمنې او د اتحاد او اتفاق دیو څښتنې په توګه راڅرګنده شوه. (١٥) دې مه بیني د خپل زوی میرویس خان (٦) واده د کامران خان ابدلی لور سره وکړو نو بیا خود ذکر شوي

قبیلې نه علاوه ابدالي قبیله هم په دې اتحاد کښې وتړلې شوه.(۱۷) دافغان اولس وحدت نور هم مضبوط شو.

(۲) حلیمه حافظه

(الف) دکتاب د دریمې خزانې د ترتیب په لحاظ : دویمه شاعره.
(ب) دکرونالوجیکل ترتیب په لحاظ سره : څلورمه شاعره.
(ج) اندازاً زوکړه : ۱۰۶۵ هـ-ق.
(د) اندازاً مړینه : ؟
(ح) زېږنځی : سرای اکوړه.

دا د پښتو ژبې د نامتو شاعر خان علیین مکان خوشحال خان خټک لور او د عبدالقادر خان خټک سکه خور ده. دا ډېره متقي، پرهیزګاره او دین داره ښځه وه. مېړه یې نه دی کړی. د خپل ورور عبدالقادر خان په کور کښې به یې خلقو ته د قرآن پاک درس ورکاوه. قرآن پاک یې یاد و په دې وجه حافظه بللې شي.(۱۸) دا د لاهور د یو مشهور و معروف او مادرزاد ولي حضرت شیخ سعدي بلخاري(رح) مریده وه. او د خپل ورور عبدالقادر خان په لاس یې بیعت کړی و. عبدالقادر خان هم د شیخ دوران خلیفه و. په دې وجه دا د پیر د مشهور بابا حضرت شیخ شعبان بابا(رح) او د اټک د محمد یحیی المعروف اټک حضرت جي(رح) هم مسلکه وه.(۱۹) او ورور یې د دوی پیر

ورورۍ، ځکه چې د دې دواړو اولياؤ هم د شيخ دوران نه بيعت کړی و(۲۰) دا ډېره ښه شاعره ده. او په اشعارو کښې يې مجازي عشق نه ښکاري. ټول عشق يې حقيقي دی. دې پاکې بي بي به مشکلات د مثنوی شريف او مکتوبات د حضرت امام رباني قدس سره حل کول. ځينې خلق دا وايي چې مکتوبات امام رباني د ديارلسمې هجري صدی کتاب دی نو بيا پرې په يولسمې هجري پيړۍ کښې څنګه مشکلات حل کېده؟(۲۱) د دې په خدمت کښې عرض دا دے چې دا کتاب پخوا هم کاتبانو د مکتوبات په نوم ليکلی دے. د اسلاميه کالج په کتابتون کښې د مکتوباتو د دې نسخې شته دوه نسخې تاريخ نه لري البته يوه نسخه واضحه تاريخ لري په دے. ۹ رمضان المبارک ۱۰۸۳ ه ليکلی شوی دی، او باقاعده پرې ليکلی شوی دي "فهرس جلد اول مکتوبات امام رباني" دا نسخه د اسلاميه کالج پېښور د کتابتون د مخطوطاتو په خانه کښې مسلسل نمبر ۹۳۹ لاندې خوندي ده. د پښتو خزانې نه علاوه هم د دې بي بي د ثبوت د پاره يوه بله منبع هم لرو د اکوړې په زوړ کلي کښې اوس هم د بي بي حليمې جوړ کړے جماعت موجود دے چې د دې وروستيو کلونو کښې د نوي سره مرمت شوے دے.

(۳) بي بي نېک بخته

الف: دکتاب د دريمې خزانې د ترتيب په لحاظ سره : دريمه شاعره.
ب: دکرونالوجيکل ترتيب په لحاظ سره : دريمه شاعره.
ج:- اندازاً زوکړه : ۹۳۱ هـ-ق
د:- اندازاً مړينه : ؟
ح: زېږنځی : اشنغر.

دا پاکه بي بي او عارفه د شيخ الله داد لور وه په قوم مومزی ده او تاټوبی يې اشنغر دی. محمد هوتک د شيخ امام الدين غوريا خيل د کتاب «اولياى افغان» په حواله وايي چې شيخ الله داد لوی ولي الله و. او لور يې نيکبخته په حقيقت کښې هم نيکبخته وه. ديني علوم و لوستل يې کړي وه او ټول عمر يې د خدای په عبادت او رياضت کښې تېر کړی و. په ۹۵۱ هـ ق شيخ قدم صيب. (۲۲) ته په نکاح شوه کوم چې د خواجه محمد زاهد خليل متي زي نمسی و. په کال ۹۵٦ هـ ق کښې د دې بي بي له خدای يو زوی ورکړو نوم يې ورله قاسم کېښود کوم چې وروسته لوی غوث الزمان اوګرځيدو (۲۳). دا غوث الزمان په بدونه کښې پيدا شوی و. او په پښتونخوا کښې دا ميا صيب د لوی شهرت څښتن وګرځيدو، د دې بي بي د ذکر د پاره هم بله منبع د پټې خزانې نه علاوه هم لرو، نعمت الله هروي په مخزن افغاني کښې ليکي چې د حضرت شيخ قدم دوه بيبيانې وې چې يوه پکښې د شيخ قاسم موربي بي وه چې بي بي نيکبخته نوميده محمد هوتک زياتوي چې شيخ امام الدين هم د دې عارفانې د اولاد څخه دی، د دې بي بي يو کتاب هم ليکلی دی چې نوم يې ورله «ارشاد الفقراء» ايښی و. په دې کتاب کښې يې په شعر کښې نصيحتونه ويلي دي. دې نه په فقيرانو او عابدانو اشتغال کوله. دا کتاب دې په کال ۹٦۹ هـ کښې بشپړ کړی و. د بي بي نيکبختې يوه لور هم وه چې بي بي رقيه نوميده په وړوکوالي کې وفات شوې وه (۲۴).

(۴) بي بي زينب

(الف) دکتاب د دريمې خزانې دترتيب په لحاظ سره: څلورمه شاعره.
(ب) دکرونالوجيکل ترتيب په لحاظ سره: شپږمه شاعره.
(ج) اندازاً زوکړه : ؟ اندازاً ژوند ۱۰۳۱ هق
(د) اندازاً مړينه : ؟
(ه) زيږنځی : قياساً قندهار.

دا د پښتو د وړومبي رياست د بنسټګر او لوی اتل جناب حاجي ميرويس خان هوتک لور ده. د اسلامي شريعت مطابق يې روزنه وشوه. استاد يې ملا نور محمد غلجی و. هغه ته يې قرآن پاک او احکام اسلامي او دفقې کتابونه ولوستل. زينبې د خپل ورور شاه حسين هوتک د سلطنت په امورو کښې کلکه مرسته او ملګرتيا لرله. پادشاه به يې هم صلاح مشوره اورېده او عمل درامد به يې پرې کولو دا يوه ښه پوهه او زيرکه ښځه وه. دې به د شاعرانو ديوانونه لوستل. هر کله چې د دې ديوبل ورور شاه محمود د ناګهاني مرګ خبر قندهار ته راغی نو دا بي بي د ورور په مرګ ډېره غمجنه شوه، او د غم له درده يې د ورور په ناګهاني مرګ باندې يوه زبردسته مرثيه وويله. (۲۵) او تر اوسه پورې دا وړومبنۍ ښځمنه شاعره ده چې مرثيه يې

لیکلې ده. دا ویرنه د یو رښتني سوي زړه فریاد دی. چونکې د دې روزنه په یو داسې کور کښې شوې ده چې هغه د علم او ادب یو لوی دبستان و، پهٔ دې دبستان کښې د دې بي بي نه د داسې ویرنې توقع څهٔ د تعجب خبره نهٔ ده. د پښتو خزانې نه پرته د زینبې د ژوندانه او د هلو ځلو څرک د هوتکو ناړو (کوم چې د هوتکو د اولسي ادب یو ژانر دی) نه لګي کومې چې وخت پر وخت ویلې دي. لکه یو څو مثالونه یې د رفیع صیب د کتاب «د هوتکو ناړې» نه اخلو (۲٦)

د زینبې په حقله ویلې ناړې:

(۱) زینبو پهٔ ژړا ویستل خپل کې

دې ویل سلیمان رانغی نادر نور شاوس زما پلار ښار یې
(صفحې ۳، ٤، ٤۲)

(۲) زینبې ویل نن مې زړه له غمه پېچ دے

خصین ګل تور شکان کړه. له نادره د پښتون اخیستې فتح دے (ص ۳۰)

(۳) په شاه برج کښې زینبه ګرندۍ شوړي

په خپل قام باندې ژاړي له هر خوا ګولۍ پې اوري ـــ (ص ۳۸)

(٤) کهٔ زوره د خالق له لویه زوره

چالیدلې زینبو وه نن تربان و وځې پښیا نو ته سر ستوره (ص ٤۰)

(۵) زینبو خوري پهٔ څه دې کوټرې زګېروي توي

که ما مړ نادرشاه نه کې، خورې زما به بیا په سر ټاټکری وي (ص ۲۸)

د زینبې خپلې ناړې:

(۱) زه هله وم د خپل ورور مرګې ننتلې

د میان جي مړګي مې وکښې د زړه ولې (ص ۲۵،۲٦)

(۲) د زعفران احسان مې زړه د ګور وړوړ دے

یو مې راوستل وریږونه بل تابوت د شاه محمود پرے راوړے (ص ۲٦،۲۷)

(۳) که بده شاه حسینه وروره سېده

په یو کال نادر مات نه شو باندې وتنې ولے قوم ترا بیده (ص ٤۰)

(٤) کۀ زمرے دے شاه اشرف د جنګ زمری دے

شاه اشرف ته کام رانه غي د نار په اشرف خان ځکه برته دے (ص ۳،۲۷)

د زینبې دویمه ناره ددې ویرې :

«ږغ سو چې ورور تیر له دنیا سونا
قندهار واړه په زړا سو سنا»

سره په تاریخي لحاظ لمره سمون خوري

(۵) زرغونه کاکړه

(الف) دکتاب د دریمې خزانې د ترتیب په لحاظ سره : پنځم شاعره .

(ب) د کرونالوجیکل د ترتیب په لحاظ سره : ورومبنۍ شاعره .

(ج) اندازاً زوکړه : ۸۸٤ هـ ق

(د) اندازاً مړینه : ؟

(ح) زیږنځۍ : پنجوایي ؟

دا په کام کاکړه ده او د ملا دین محمد کاکړ لور ده. په پنجوایي کښې وسیده، ابتدایي علوم یې د خپل پلار نه زده کړل. دا بي بي په سعدالله خان نورزي واده وه. منۀ تو ریالي زامن یې لرل، ټول د علم و فضل بل مشالونه وو.

زرغونې بي بي د شیخ مصلح الدین سعدي شیرازي د فارسي بوستان په پښتو کښې ژباړلی و، او نوم یې ورله «بوستان د پښتو» ایښی و. دا کتاب یې په کال ۹۰۲ هـ کښې بشپړ کړی و (۲۷). د دې نه علاوه یې نور اشعار هم لیکلي دي. د زرغونې په باره کښې د تذکرې وړ خبره دا ده چې تر اوسه پورې دا د پښتو وړومبنۍ معلومه کاتبه او خطاطه ده. دومره ښکلی خط یې و چې کاتبانو به ترې نده کړې کوله. او ملغلرې به یې خط ته عاجزې وې، «بوستان د پښتو» یې هم په خپل ښکلي خط کښې لیکلی و. دا د پښتو ژبې وړومبنۍ مترجمه هم ده.

(۶) رابعه

(الف) د کتاب د دریمې خزانې د ترتیب په لحاظ سره : شپږمه شاعره
(ب) د کرونالوجیکل د ترتیب په لحاظ سره : دویمه شاعره.
(ج) اندازاً زوکړه : ۹۰۰ هـ ق.
(د) اندازاً مړینه : ؟
(ح) زېږنځی : قندهار ؟

د دې شاعرې د ژوند حال محمد هوتک ثبت کړی دی. دا په کابل کښې د ظهیرالدین بابر (۹۱۰-۹۲۷) هق کښې ژوندۍ وه. د قندهار اوسېدونکې وه. روایتاً لیکلي شوي دي، چې ښه اشعار یې لرل. او د دیوان خښتنه وه صرف یوه رباعي یې د زمانې د دست برد نه ژغورلې شوې ده. نور ټول د ژوند حالات او واقعات یې زموږ د نظره تت او پټ دي (۲۸).

اخځلیک

(۱) ظفرکاکاخیل، بهادر شاه «پښتانه د تاریخ په رڼاکښې (پښتو، یونیورسټي بک ایجنسي اشاعت - - ۱۹۶۵، (۲۹ ذی الحجه - ۱۳۸٤ هـ) ص ص -/۱۲، ۱۲۲،

(۲) زلمی هیوادمل په هندکښې د پښتو ژبې او ادبیاتو د- ایجاد او ودې پړاوُنه (پښتو) شرکت پرنټنګ پریس لاهور، دویم چاپ ۱۳۷۳ ص شپږ .

(۳) همدغه ص ص شپږ ؛ اوه .

(٤) همدغه ص ۵ .

(۵) همدغه ص ٦

(٦) سلیمان ماکو «تذکرة الاولیاء (پښتو) سریزه او نښلونې د پوهاند عبدالحئ حبیبي ۱۳٦۱ د افغانستان د علوو اکېډیمۍ د پښتو ژبو او ادبیاتو تحقیقي مرکز پښتو ټولنه د زیري جریده ص ص الف، ب (د حبیبي صیب مقدمه) .

(۷) همیش خلیل، تول پارسنګ (پښتو) وړومبی اشاعت- رجب المرجب ۱٤۱۲ دلو ۱۳۷۰، جنوري ۱۹۹۲، جدون پرنټنګ پریس پېښور ص ۱۱ .

(۸) حبیبي، عبدالحی، امیر علیشیر نوایي (د پښتو د مقالو مجموعه)

د افغانستان د علومو اکېډمي د ژبو او ادبیاتو انستیتوت پښتو ټولنه، ۱۳۶۰ (د بېښ لیکنه د تذکره لیکنې له مخې: د امیرعلي‌شیر نوايي د مجالس النفائس او د محمد هوتک د پټې خزانې پر تلنه) ص ۲۳.

(۹) محمد هوتک بن داود، پټه خزانه (پښتو) سریزه د پوهاند عبدالحی حبیبي، ادبي خدمت قاسم بنوی ۱۹۸۹ ع د پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ بنو ص ۱۴۲.

(۱۰) همدغه ص ۱۴۴.

(۱۱) یون، اسماعیل، د ناز و انا یاد (پښتو فارسي) د مقالو مجموعه اریانا چاپخونه کابل ۱۳۷۰ (د ناز و انا په کوزنۍ کښې د پښتو شاعرۍ غنعنه ... د ګل افضل تکور مقاله) ص ۹۶.

(۱۲) محمد هوتک بن داود، پټه خزانه ... ص ۱۲۵.

(۱۳) یون، اسماعیل، د ناز و انا یاد ... (د ناز و انا ژوند، سخاوت، شجاعت او شاعري، د پوهنمل عبدالخالق رشید مقاله) د ټیکور د کتاب ګیتانجلي څخه ص ۱۸.

(۱۴) همدغه ... د رشید مقاله، د ناز و انا ژوند ... ص ۱۹.

(۱۵) حبیبي، عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ (پښتو) پښتو ټولنه دولتي مطبعه ۱۳۵۶ د نمرې ۱۵ مه ص ۳۶۰.

(۱۶) همدغه ص ۳۵۹ د میرویس نیکه شجره داسې ده.

میرویس خان زوی د شالم خان، زوی د کرم، زوی د مند زوی د عمر، زوی د جلال الدین، زوی د قطب، زوی د

د اسحاق، زوی د حسین، زوی د ملکیار، زوی د هوتک، یا د هوتک نه وړاندې پټې خزانې وړومبی شاعر بابا هوتک په ضمن کښې داسې راغلي دي) زوی د تولر، زوی د بابا غلجي، د هوتک ورور توخي نومیږي په دې توګه نازو انا د هوتک نزله کیږه.

(۱۷) همدغه ص ۳۶۰.

(۱۸) محمد هوتک بن داود، پټه خزانه (پښتو) ۱۴۵، ۱۴۶.

(۱۹) نسیم، سعدالله خان، میا، حضرت شیخ شهباز بابا پبو شریف (پښتو) سن اشاعت نهٔ لري. (څوچونکې ماچاپ ته چمتو کړې وُ په دې وجه یې ما ته سن معلوم دی یعني ۱۹۹۳) ص ص ۶ نه تر ۱۰ پورې.

(۲۰) همدغه ص ۷.

(۲۱) مومند، قلندر، پټه خزانه في المیزان (پښتو) اشاعت اول ۱۹۸۸ء د چاپ ځای کوهاټ روډ پېښور ص ۳۶۶-

(۲۲) هروي، نعمت الله، تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني اردو ترجمه ډاکټر محمد بشیر حسین طبع دوم ستمبر ۱۹۸۶ء اردو سائنس بورډ ص ص ۶۵۵ نه تر ۶۷۵ پورې د ضمیمه ۲ پهٔ رو سره د شیخ قدم بابا شجره څهٔ داسې ده:

شیخ عبدالرزاق، زوی د شیخ امام دین، زوی د شیخ کبیر، زوی د شیخ قاسم، زوی د شیخ قدم، زوی د محمد زاهد، زوی د میرداد، زوی د سلطان، زوی د شیخ کهه

زوی د یوسف ، زوی د شیخ متي ، زوی د شیخ عباس ، زوی
د عمر ، زوی د غوریا ، زوی د کند ، زوی د خرشبون ،
زوی د سړبن ، زوی د قیس عبدالرشید زوی د عیض.

(۲۳) محمد بن داؤد هوتک ، پټه خزانه (پښتو) ص ص ۱۴۷ ،
۱۴۸.

(۲۴) هروي ، نعمت الله ، تاریخ خان جهاني ومخزن افغاني
اردو ترجمه ډاکتر محمد بشیر حسین ص ص ۶۶۱ - ۶۶۲ .

(۲۵) محمد بن داؤد هوتک ، پټه خزانه (پښتو) ص ص ۱۴۹ ، ۱۵۰

(۲۶) رفیع ، حبیب الله ، د هوتکو ناري دولتي مطبع ۱۳۴۹ -
(د هرې ناري مخې ته د صفحې نمبر ورکړ شوی دی)

(۲۷) محمد بن داؤد هوتک ، پټه خزانه (پښتو) ص ص ۱۵۲ ، ۱۵۳

(۲۸) همدغه ص ۱۵۵ .

لیاقت سیماب

پټه خزانه

«پټه خزانه» د محمد هوتک بن داود لیکلی کتاب دی، دا کتاب نامتو څېړونکي او د پښتو ادب ستر استاد ارواښاد عبدالحی حبیبي موندلی او د افغانستان ځینې سنکاري او دولتي علمي او ادبي ادارو د خوا وخت په وخت چاپ شوی او خور شوی دی. پټه خزانه په لومړي ځل په کال ۱۹۴۴ کښې خوره شوه. وایي چې دا کتاب کال ۱۷۲۹ کښې په قندهار کښې لیکلی شوی دی. د دې کتاب راغونډونکی محمد هوتک د اتمې پېړۍ عیسوي نه تر خپل وخت پورې د پښتو شاعرانو او شاعراتو په هکله ځینې معلومات او د هغوی د کلام نمونې په دې کتاب کښې په یو خاص او منظم ترتیب سره جمع کړې دي.

د دې کتاب مؤلف محمد هوتک د قندهار د پادشاه

حسین د دربار یو درباري و، چې د شعر او ادب سره یې تعلق او علاقه لرله.

وایي چې محمد هوتک د شاه حسین د ادبي دربار سکتر وو. او دا کتاب یعنې پټه خزانه ده د بادشاه په خواهش یا حکم تألیف کړې دی.

پټه خزانه په دریو برخو ویشلې شوې ده. وړومبۍ برخه کښې د هغه لیکوالو او شاعرانو په حقله معلومات ورکړي شوي دي کوم چې محمد هوتک د خپل دوره یعنې عصر نه مخکښې گڼي. دویمه برخه په هغه شاعرانو مشتمله ده چې مؤلف یې د خپل عصر گڼي. د کتاب دریمه برخه د پښتو د زنانو شاعرانو ده،

کتاب ډېر زوړ نه دی یعنې د اتلسمې عیسوي پېړۍ د شروع تألیف دی خو چاپ شوی د تألیف نه څه د پاسه دوه سوه کاله پس دی. که چیرې د پښتو ادبیاتو تاریخ ته دا کتاب ورواستي شي نو تر اوسه پورې معلومېږي چې ډېرې خبرې به غلطې ثابتې شي.

ځکه چې د ۱۹٤٤ کال نه پس چې د پښتو ادب په حقله کومه څېړنه شوې ده د هغې اساس هم دا کتاب دی. که موږ امیر کروړ د پښتو وړومبی شاعر گڼو نو موږ سره ثبوت صرف د محمد هوتک «پټه خزانه» ده.

خو د بده مرغه کله نه چې دا کتاب خپور شوی دی-

نو د دې کتاب په اصلیت شک شوی دی، چې ګڼي دا کتاب چا د دروغو لیکلی دی، حتی چې یو منلي شوي پښتون پوهان او دانشور د دې کتاب غلا او جعلي ثابتولو د پاره دې کتاب ته غټ کتاب او لیکلو چې نوم یې پټه خزانه في المیزان دی. د دې تنقیدي کتاب په مقابل کښې بیا یو بل کتاب «تول د پارسنګ» منځ ته راغلو. د دې دواړو کتابونو د پښتو ادب مینان او د نوي کول لیکوال او څېړنکار په دوه کښې حیران کړېدي. خو د واړو غاړو ته انتها پسندي هم شته، یعنې په خپله خپله خبره داسې کلک ولاړ دی چې بس د وی څه وایي نو همدغه اخري خبره ده.

څوک چې د محمد هوتک پټه خزانه یو جعلي کتاب ګڼي نو که چېرې د دوی دا خیال او دا خبره صحیح وي نو بیا پوښتنه دا راولاړېږي چې استاد عبد الحی حبیبي اخر ولې دا جعلي کتاب و لیکلو، ولې دومره خوارۍ وکړه او دومره زیار یې ویستو چې په دې کتاب لیکلو مجبور شو.

دلته دا شک پیدا کېږي چې استاد حبیبي به دا کار ځکه کړی وي چې په دې طریقه د پښتو ژبه او پښتو ادب د دې خاورې د یو بلې ژبې لا نورو ژبو نه نوره لرغوني او قدیم ثابت کړي خو ګومان نه لرم چې د استاد حبیبي غوندې لوی سړي به دومره وړوکی کار کړی وي.

د دې کتاب د اصلیت نه انکار کوونکي پښتون نقاد ولې په

دې موضوع دومره غټ کتاب ولیکلو.

دا هم اورېدلي دي چې ده د نورو لا د پردو د خوشالولو د پاره داکار کړی دی. دا نور د منلو نه دی ځکه چې دې شخصیت د پښتون قام او پښتو ژبې ډېر لوی خدمت کړی، دی او لګیا دی کوی یې د ده نه دا توقع ساتل غلط فهمي کېدی شي،

دا هم ویلی کېږي چې دا کتاب محمد هوتک خپل پادشاه خوشالولو د پاره لیکلی دی. دې خبره کښې زیات شک. نشته ځکه چې د حاکم پادشاه درباریانو نه صرف دوه دوه نیم سوه کاله مخکښې د خپل بادار د خوشالولو د پاره کتابونه لیکلی دي بلکې اوس هم لا دا عمل روان دی. د تاریخ ډېر کتابونه د حاکمانو په خواهش لیکلی شوی دی که چېرې لیکوونکو ته د حاکمانو سرپرستي نهٔ وي حاصله نو نهٔ به دومره غټ غټ کتابونه وو او نه به دومره زیات علم او پوهه د علم ادب او پوهې سرپرستي تل دربارونو کښې شوې ده او اوس هم لګیا دی کېږي په دې سرپرستي کښې چې کله هم کمی راغلی دی نو ادیبانو او پوهانو د دربانو نه غوښتنه او مطالبه کړې ده چې زمونږ سرپرستي دې وشي، نو که دا کار محمد هوتک کړی وی نو څه بد یې نهٔ دي کړي په پښتو ادب او پښتو ژبه یې احسان کړی دی او که چېرې شاه حسین په محمد هوتک دا کتاب لیکلی وی

نو شاه حسین په خپل قام ډېر لوی احسان کړی دی. بله دا چې دې خبره کښې څه شک هم نشته چې داکتاب محمد هوتک د شاه حسین په خواهش لیکلی دی چې محمد هوتک خپله دکتاب په شروع کښې دا لیکي چې داکتاب زه د شاه حسین په خوښه تألیفوم.

څوک چې دا وایي چې داکتاب محمد هوتک لیکلي دی خو جعلي او فرضي یې لیکلي دی. نو نه پوهیږم چې محمد هوتک ته د دروغو لیکلو څه ضرورت و. هو داکیدی شي چې د هغه تحقیق او څیړنه صحیح او په تول پوره نه وي ځکه چې په هغه زمانه کښې خو نه د څیړنې او تحقیق موجوده طریقه یعنی (Research Methodoly) او نه د یو څیړنکار سره دومره وسائل وو نه د ټک راټک ذریعې دومره تیزې او تندې وې چې محمد هوتک دې هغې منطقي او هرې علاقې ته ځان رسولی وی چې هلته نه یې معلومات راغونډ کړي وی. نه د حوالو کتابونه وو چې د محمد هوتک لاس رسونه یې کړي وي، په ځای د دې چې مونږ د محمد هوتک داکتاب فرضي وګڼو باید چې د دې کتاب په رڼا کښې خپل تحقیق په مخکښې بوځو.

که چیرې د امریکې په حقله مونږ شکمن یو نو د تحقیق دروازې بندې نه دي د محمد هوتک دعوی یا څیړنه آخري نه ده او نه مقدسه ده چې په دې نور څه تحقیق

کیدی نهٔ شي.

په کتاب پټه خزانه کښې د یو پنځوس شاعرانو ذکر سره د هغوی د کلام نمونې شوي دی. د هر شاعر د وینا انداز د بل نه بیخي مختلف ښکاري. نه خو محمد هوتک دا توان لري چې دومره مختلف اندازونو کښې شاعري وکړي او نه استاد عبدالحی حبیبي دا کولی شي چې، کهٔ چرې استاد حبیبي یا محمد هوتک دا هنرمندي یا فنکاري کولی شوه نو دا دواړه خو بیا ډېر لوی هنرمندان ځهٔ چې جعلسازان وو. او یو کس چې د ژوند په یو اړخ کښې جعلسازي کولی شي، نو د ژوند نورو اړخونو کښې هم بیا هغه د خپل غرض د پاره جعلسازي کولی شي. نو ځهٔ استاد حبیبي دا قسمه سړی وځهٔ؟

پښتون قام په سیاسي توګه د مخکښې نه ویستی شوی دی. دا د پښتون ملت خوش بختي ده چې په دوی کښې ځهٔ قسم مذهبي جنګ جګړې لا فرقه پرستي نهٔ وه. تقریباً ټول په یوه عقیده او یو مسلک ټینګ ولاړ وو. خو د تیرو څو کالو راسې د افغانستان د حالاتو له کبله پکښې فرقه پرستۍ هم لارې وکړې. دغسې د ژبې او ادب د ترقۍ او پرمختګ د پاره پښتو شاعرانو او لیکوالانو ټول په یوه خوله او یو قدم خپل ملي فرایض تر سره کړي دي. خو د څه مودې راسې د محمد هوتک «پټه خزانه» د دوی ترمنځ د جګړې یو بنیاد جوړ شوی دی، چې د ټول پښتون قام بدبختي ګڼلی شي.

په ځای د دې چې مونږ د جګړو او اختلافاتو ادب تخلیق کړو. وخت په اختلافي مسئلو ضایع کړو او لا ټول عمر پدې کښې تیر کړو، چې پښتو ژبه څومره زړه ده او د ... ژبې نه مخکښې ده. ادبیات چا ته نوې دی نو د دې نه به هیڅ جوړه نه شي او نه به [illegible] قوم ته څه فایده ورسي. که چیرې زمونږ لیکوال خپل قوت د یو داسې ادب په تخلیق کولو کښې ولګي چې د قام ضرورت او وخت غوښتې او تقاضې وې نو دا به د پښتو ژبې او پښتون قام ډېر لوی خدمت وي.

محمد هوتک بن داود که هر څه کړي دي د خپلې ژبې خپل ادب او خپل قوم خدمت یې کړی دی. محمد هوتک بن داود د خپل وخت یو ځلانده ادبي شخصیت وو. او په پښتو ژبه، ادب او پښتون قام یې ډېر لوی احسان دی.

وروستی خبرې

دکال ۱۹۹۳ع د اګست د میاشتې په دېرشمه ورځ د پېښور پوهنتون په ایریا سټډی سنټر کښې د لوی احمدشاه بابا (رح) په یاد کښې چې د «خلیل اولسي ادبي جرګه» له خوا کوم یو ورځنے سیمینار نمانځلے شوے و. او بیا د دغه تقریب په اخر کښې چې محترم استاد همیش خلیل د جرګې په راتلونکی پروګرام کښې د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک د یاد نمانځلو اعلان اوکړو، نو حاضرینو یې ډېر په خوشحالۍ هرکلی اوکړو. خو هر کله چې یو خوا دا یوه تحقیقي موضوع وه بل خو مالي مشکلات هم وو. ځکه نو د محمد هوتک په یاد کښې د اولی سیمینار دا اعلان شوے پروګرام د توقع نه هم زیات وځنډېدو.

خو هر کله چې د جرګې له خوا د کال ۱۹۹۴ع د جون د میاشتې په دېرشمه ورځ د قاضي میر احمدشاه رضواني په یاد کښې د تقریب په موقع چې محترم محمد افضل خان (د کشمیر د امورو وفاقي وزیر) یې مشر مېلمه و، د

تقریب په افتتاح په خپل تقریر کښې جرګې سره د لسو زرو روپو د مالي مرستې اعلان د محمد هوتک د سیمینار مسئله تر ډېره حده هواره کړه. او دغه شان جرګه د دې جوګه شوه چې د محمد هوتک د ذکر شوي پروګرام نمانځنه وکړي.

د کال ۱۹۹۵ء د اپریل د میاشتې په ۲۳مه ورځ د پېښور پوهنتون په پیوټا (PUTA) هال کښې دا یوورځنۍ سیمینار د لرو او برو پښتنو ادیبانو او ادب سره علاقه لرونکو په تعاون سره سرته ورسېد و چې د دغو ټولو مقالو پرته یې د ډېرو تعلیمي ادارو د مشرانو او نورو عالمانو او شاعرانو له خوا پیغامونه او نظمونه هم واورول شول.

د پروګرام په آخر کښې د ایریا سټډی سنټر ډائرېکټر محترم ډاکټر عظمت حیات خان د خپلې ادارې له خوا په ډېر مکلفو چایو د حاضرینو خاطر تواضع وکړه. متأسفانه د ځینو مجبورو له کبله سیمینار کښې اورول شوي پیغامونه او نظمونه مونږ په دغه مجموعه کښې شامل نکړے شول.

یوه خبره په ډېر تأسف سره کوو چې د دغو مقالو په کتابي شکل د چاپ د پاره مونږ سره د پېښور پوهنتون د هغه وخت وائس چانسلر محترم

فرزند علی دُراني صیب وعده کړې وه او دغه سلسله کښې زمونږ مشرانو ورسره څو ځو ځله دهغوئ په دفتر کښې ملاقاتونه هم کړي وو ولې افسوس چې محترم دراني صیب خپله وعده پوره نکړه.

دافغانستان دخوشحال فرهنګي ټولنې دنشراتي ارکان "شمشاد" مجلې چلوونکو او محترم زلمی هیوادمل صیب نه مشکوریم چې د محمد هوتک دسیمینار ټولې مقالې یې په دغه خصوصی نمبر کښې محفوظ کړې.

شیر احمد خلیل

سکتر خلیل اولسي ادبي جرګه

۸ جنوری ۱۹۹۷ ء

شمشاد

دامتیازخاوند : دخوشحال فرهنګي ټولنه

مسوول مدیر : محمد اسمعیل یون

مرستیال : لعل پاچا آزمون

کتونکې ډله :

کاندید اکادمیسین محمد ابراهیم عطایی

سرمحقق زلمی هیوادمل

پوهندوی عبدالخالق رشید

نصرالله حافظ

پوهنمل بریالی باجوړی

محمدآصف صمیم

مننه

دخوشحال فرهنګي ټولنه له دغو لاندې ښاغلیوڅخه دزړه له کومي مننه کوي چې ددې ګڼې دچاپ دلګښتونوپه برابرولو کې یې برخه اخیستې ده :

– استاد سعدالدین شپون ۲۲۱۶ پاکستانی روپی ، محمد معصوم هوتك ۶۰ امریکایي ډالره ، محمدشرین ګردیوال ۲۰۰۰روپی ، محمودحقیقت ۱۵۰۰ روپی صالحه جان ۱۰۰۰ روپی ، دوکتورشیرجمیرخُدران ۱۰۰۰ روپی ، محمدنبي منګل ۵۰ مارکه ، زرین انځور ۱۰۰۰ روپی ، دوکتورودیر ساپي ۱۰۰۰ روپی، مبارزساپی ۵۰۰ روپی ، دوکتورضامن مومند ۵۰۰ روپی ؛

همیش خلیل ۵۰۰ روپی ، سیدصابرشاه صابر ۵۰۰ روپی ، شیراحمد خلیل ۵۰۰ روپی ، دوکتور سهیل انشا ۲۰۰ روپی ، جوهرخلیل ۲۰۰روپی ، اومذکرشاه ۱۰۰ روپی .

SHAMSHAD

Biannually

Vol . 5 No: 8

Khushal Cultural Association

1996